# بې مثاله مضمونونه

دَ بائبل مقدس دَ مطالعې کولو په دوران کښې دَ مددګار کتابونو ډېر زيات ضرورت پيښيږى. دا کتاب "بې مثاله مضمونونه" دَ دې سلسلې يوه کړئ ده چې په ډېرو ملکونو کښې دَ ذاتى اؤ دَ ډلو په شکل کښې مطالعې کولو دَ پاره ډېر فائده مند ثابت شوے دے.

دا په دوؤ جلدونو باندې تر سره شوے دے اؤ په دې کښې دَ علمِ الٰهياتو په سلو خاص مضمونونو باندې خبرې اترې شوى دى. پوهه ليکونکى خپل خيالات ډېر په واضحه طريقې سره پيش کړى دى، خواه کۀ دَ هغۀ دا تفسير دَ لوستونکو خوښيږى اؤ کۀ نه. دغسې هغه يو قارى نوې طريقې سره سوچ کولو دَ پاره رابيداروى.

دَ "بې مثاله مضمونونو" هر يو سبق په يو څو عنوانونو کښې تقسيم شوے دے. دَ هر يو سبق په آخر کښې څه سوالونه ورکړے شوى دى چې لوستونکے دَ دې مضمون په ژور مقصد باندې پوهه وى اؤ په دې باندې غور اؤ فکر کولو ته يې مجبوروى. دغسې "بې مثاله مضمونونه" دَ کتاب مقدس دَ سنجيده طالب علم دَ پاره يوه بې مثاله تحفه ده.

# بې مثاله مضمونونه

## دَ بائبل مقدس دَ سلو خاص مضمونونو مطالعه

په دوؤ جلدونو باندې مشتمله ده

## اول جلد

# پیژندګلو

دَ بائبل مقدس ډیر لوستونکی اکثر دَ خدائ پاک دَ کلام مطالعه ډیر په سر سری انداز سره کوی، عن تر دې چې هغه خلق هم څوک چې په مسیحی خدمت کښې شامل وی، هغوئ په دې کښې دَ پټې خزانې لټون نهٔ کوی. دَ دې یوه نتیجه دا شی چې هغوئ د خدائ پاک دَ ذات په څرګندونه اؤ دَ هغهٔ په منشاء اؤ اراده باندې پوهه حاصلولو نه پاتې شی، اؤ دویمه دا چې په هغوئ کښې هغه پوخوالې نهٔ راځی چې دَ خپل اُمید وجه معلوموونکو ته دَ تسلئ نه ډک جواب ورکړی.

غالباً دَ دې یوه وجه دا ده چې هغوئ سره دَ مدد دَ پاره نور کتابونه نهٔ وی چې هغوئ په پاک کلام کښې دَ پټو اؤ محفوظو صداقتونو په ژور نظر سره مطالعه وکړی. په دې کښې دَ حیرانتیا خبره دا ده چې په مسیحی ادب کښې تر اوسه پورې داسې کتاب نهٔ دے نشر شوې چې هغه د کلام مقدس مضمونونه په تفصیل سره بیانوی. ډیر کتابونه په انګریزئ ژبه کښې دی چې دَ هغې حاصلول دَ هغوئ دَ پاره هسې هم ګرانه وی.

مسیحی اشاعت خانې دا کمے ډیر زیات محسوس کړو. خو زمونږ دَ پاره ګران کار دا وو چې یو پاکستانی لیکونکی هم دې مشکل اؤ دَ محنت نه ډک کار له لاس ور نهٔ وړو، چې مونږ دَ هغې نه فائده اختسې وه. حالانکه په انګریزئ ژبه کښې ښهٔ ښهٔ کتابونه موجود دی، خو هغه دومره ژور مطلب لری اؤ دومره غټ دی چې اول خو دَ هغې ترجمه کول ګران کار دی، اؤ بله دا کهٔ چرې هغه چاپ هم کړے شی نو په هغې به دومره ډیره خرچه راشی چې دَ عام کس دَ اخستلو نه به بهر وی. بهرحال دَ ډیر لټون نه پس آخر مونږ ته یو داسې

کتاب ملاؤ شو چې بالکل زمونږ دَ ضرورت په مطابق وو، کوم چې اوس مونږ لوستونکو له ورکوؤ.

دا کتاب په هغه تعلیماتو باندې مشتمل دے کوم چې لیکوؤنکی په منیلا اؤ فلپائن کښې دَ خپل درس په دوران کښې ورکړی وو، کوم چې بیا وروستو دَ لږ نور تفصیل سره چاپ کړے شول.

لیکونکی په سلو مختلفو موضوګانو باندې رڼا اچولې ده کوم چې په دوؤ جلدونو کښې ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوؤ. په دې کښې داسې موضوګانې هم شاملې دی په کومو چې خلق اکثر ځان ناغرضه کوی، اؤ کومو سره چې مونږ په خپل روزانه ژوند کښې اکثر مخامخ کیږو. مثال په طور دَ ایماندار بغاوت ، په مسیحی ژوند کښې تکلیفونه، په جماعت کښې ادب ښودل، دَ وادۀ ژوند، مسیحی کور، ضمیر، روغه جوړه کول اؤ خاندانی منصوبه بندی وغیره.

زمونږ اُمید دے چې زمونږ دا محنت به بې کاره نۀ ځی، اؤ دا به دَ بائبل مقدس دَ طالب علمانو، مشرانو، اؤ نورو خدمت کوؤنکو دَ پاره څوک چې دَ خپل خلاصوؤنکی په خدمت کښې لګیا دی، ډیر فائده مند ثابتیږی.

نشر کوؤنکی

# دَ مضمونونو فهرست


دَ خدائ پلار په حقله سبقونه ............................. ۱

دَ خدائ وجود ............................. ۱

دَ خدائ پاک ذات ............................. ۸

خدائ يو کامل خدائ دے ............................. ۱۲

دَ تثليث وحدانيت ............................. ۲۴

دَ خدائ نومونه- دَ خدائ پلاروالے- دَ خدائ خاموشی ............................. ۳۱

دَ مالک خدائ ويره ............................. ۳۹

دَ خدائ دَ زوئ په حقله سبقونه ............................. ۴۷

مسيح اؤ دَ هغۀ پيشن ګوياني ............................. ۴۷

دَ عيسیٰ مسيح دَ پيغلې نه پيدا کيدل ............................. ۵۶

دَ عيسیٰ مسيح اُلوهيت ............................. ۶۵

دَ عيسیٰ مسيح دَ اُلوهيت رد شوی دليلونه ............................. ۷۳

دَ زوئ دَ پلار سره تعلق ............................. ۸۰

دَ مسيح بشريت ............................. ۸۷

دَ عيسیٰ مسيح بې ګناهی ............................. ۹۴

دَ عيسیٰ مسيح ژوند ............................. ۱۰۱

دَ عيسیٰ مسيح تعليمات ............................. ۱۰۹

دَ مسيح حکمونه ............................. ۱۱۷

دَ مسيح معجزې ............................. ۱۲۴

دَ عيسیٰ مسيح مرګ ............................. ۱۳۱

دَ عيسیٰ مسيح قيامت ............................. ۱۳۹

دَ مسيح آسمان ته ختل ............................. ۱۴۷

دَ عيسیٰ مسيح دَ شفا خدمت ............................. ۱۵۴

دَ مسيح دوباره راتلل ............................. ۱۶۲

دَ مسيح دَ بيا راتلو نتيجې ............................. ۱۷۱

دَ خدائ روح القدس په حقله سبقونه........................................ ۱۷۸
دَ روح القدس شخصیت........................................ ۱۷۸
دَ روح القدس اُلوهیت اؤ دَ هغهٔ نومونه........................................ ۱۸۲
دَ روح القدس کارونه........................................ ۱۹۴
دَ روح القدس خلاف ګناه........................................ ۲۰۳
دَ روح القدس نه معموره ژوند........................................ ۲۱۰
دَ روح القدس بپتسمه........................................ ۲۱۷
دَ روح القدس میوه اؤ نعمتونه........................................ ۲۲۴
دَ روح القدس په حقله نور تعلیم........................................ ۲۳۲
دَ بائبل مقدس په حقله سبقونه........................................ ۲۴۱
دَ بائبل مقدس الهام........................................ ۲۴۱
بائبل مقدس........................................ ۲۴۹
دَ بائبل مقدس په حقله نوره مطالعه........................................ ۲۵۷
دَ انسان اؤ دَ کائنات دَ تخلیق په حقله سبقونه........................................ ۲۶۶
دَ تخلیق بیان........................................ ۲۶۶
دَ ارتقاء نظریه........................................ ۲۷۳
دَ انسان بغاوت........................................ ۲۸۰
ګناه........................................ ۲۸۷
انسان دَ دریوؤ جزونو هستی ده........................................ ۲۹۵
دَ فرښتو اؤ شیطان په حقله سبقونه........................................ ۳۰۲
فرښتې........................................ ۳۰۲
شیطان........................................ ۳۱۰
بد روحونه........................................ ۳۱۹
په مسیحیانو دَ شیطان حملې........................................ ۳۲۷
دَ خلاصون په حقله سبقونه........................................ ۳۳۷
صادق جوړول........................................ ۳۳۷

دَ نوی سر نه پیدا کیدل یا نوې مخلوق جوړیدل ............................ ۳۴۵
بچی جوړیدل.................................................................... ۳۵۳
ایمان.............................................................................. ۳۶۱
توبه............................................................................... ۳۷۰
معافی.............................................................................. ۳۷۷
په مالک خدائ باندې ایمان راوړلو سره څۀ کیږی؟.......................... ۳۸۵
دَ خلاصون تسلی................................................................. ۳۹۴

# دَ خدائ پلار په حقله سبقونه

## اول سبق

## دَ خدائ وجود

### پيژندګلو

* دَ بائبل مقدس دَ تعليماتو مطالعې کولو دَ پاره دا ضروری ده چې مونږ دَ خدائ پاک نه شروع وکړو.
* دَ خدائ نه منکر اؤ شک کوونکی اکثر مونږ ته وائی چې دا ثابته کړئ چې خدائ پاک موجود دے.
* دَ نفسانی انسان دَ پاره په يو داسې څيز يقين کول ګران دی کوم چې هغه ليدلې، مسح کولې يا محسوسولې نۀ شی. ١- کورنتيان ٢: ١۴-
* دَ بائبل مقدس اولنې آيت دَ يو مسيحی دا مسئله حل کوی. " خدائ پاک په شروع کښې زمکه اؤ آسمانونه پيدا کړل." پيدايښت ١: ١-
* بائبل مقدس يو داسې نصابی کتاب نۀ دے چې دَ خدائ پاک دَ وجود ثابتولو کوشش کوی، بلکه دَ دې شروع دَ دې حقيقت دَ اعلان سره کيږی چې خدائ پاک موجود دے.
* دَ بائبل مقدس دَ بل يو مصنف په ذهن کښې هم دا خيال نۀ دے راغلے چې دا حقيقت ثابت کړی.
* بائبل مقدس صفا صفا وائی چې صرف بې وقوفه دَ خدائ پاک دَ وجود نه انکار کولے شی. زبور ١۴: ١ " بې وقوف په خپل زړۀ کښې وئيلی دی چې يو خدائ هم نشته."

* کۀ چرې په چا کښې لږ شان عقل هم وی نو هغوئ به دا حقيقت قبلوی چې ژوندې خدائ پاک موجود دے.
* دَ پاکو صحيفو نه علاوه دَ خدائ پاک دَ موجودګئ دَ ټولو نه غټ ثبوت دا دے چې مونږ هره ورځ دَ دعا په وسيله هغۀ سره تعلق ساتو.
* ما ته معلومه ده چې خدائ پاک شته، ځکه چې هم نن ما هغۀ سره خبرې اترې کړی دی، اؤ هغۀ زما دَ زړۀ دعا کومه چې ډيره په خاموشئ سره شوې وه، واؤريدله، اؤ دَ هغې جواب يې راکړو.

## ۱- دَ پاک کلام نه ثبوتونه

زبور ۱۹: ۱ " آسمان دَ خدائ جلال ښکاره کوي اؤ فضا دَ هغۀ دَ لاس کار ښائی." دَ آسمانونو ښائست اؤ ښکلا اؤ جلال په چغو چغو وائی چې " خدائ پاک موجود دے."
دَ روميانو ۱: ۲۰ دَ دې اعلان نه هم زيات دے. په دې کښې دا دليل ورکړے شوے دے چې کائنات دَ خدائ پاک دَ ذات دَ ازلی اؤ ابدی قدرت ثبوت دے، "ولې چې دَ هغۀ پټ صفتونه لکه دَ هغۀ دائمی قوت اؤ اُلوهيت، دَ وخته راسې دَ کله نه چې خدائ دا دنيا پيدا کړې ده، په هغه څيزونو کښې ښکاره کوي چې هغۀ پيدا کړی دی هغوئ يې وينی نو ځکه دَ هغوئ دَ دې عمل دَ پاره هيڅ عُذر نشته."
کوم انسان چې پاک کلام قبلوی، نو هغه دَ خدائ پاک وجود هم قبلوی. راځئ چې دَ يو څو نورو دليلونو مطالعه وکړو کوم چې دومره دَ قائل کولو نۀ دی خو بيا هم پاخۀ دليلونه دی.

## ۲- دَ ضمير يا دَ زړۀ دليلونه

په پيدائشی طور باندې انسان دا يقين ساتی چې يو اعلیٰ اؤ غوره هستی موجوده ده. تر نن ورځې پورې يو داسې قبيله نۀ ده معلومه کړے شوې چې په هغې کښې دا خبره نۀ وی موجوده. ټولو ته معلومه ده چې يو هستی شته، چې پيدا کوی اؤ دَ ټولو څيزونو انتظام سمبالوی.

رومیان ۲: **۱۵** "ځکه چې هغوئ دَ هغه شریعت پابندی کوی کوم چې دَ هغوئ په زړونو لیکلې دے. دَ هغوئ زړهٔ دَ هغهٔ ګواهی ورکوی اؤ دَ هغوئ خیالونه په خپل مینځ کښې په یو بل الزامونه لګوی اؤ مدافعت کوی، کله دَ هغوئ په خلاف اؤ کله دَ هغوئ په حق کښې."

اعمال ۱۷: **۲۳** "ځکه هر کله چې ما ستاسو دَ عبادت دَ څیزونو ننداره کوله نو ما دَ نورو څیزونو سره یوه قربان ګاه ولیده چې دا پرې دَ پاسه لیک وو چې، دَ یو نامعلومه خدائ دَ پاره." دَ هغوئ زړونو یا ضمیر به هغوئ ته وئیل چې خدائ موجود دے، خو حالانکه هغوئ په ذاتی طور باندې هغه نهٔ پیژندلو.

دَ خدائ نه منکر ځنې خلق دا دعوه کولے شی چې زمونږ زړهٔ مونږ ته دَ خدائ په باره کښې هیڅ نهٔ وائی. یو خالصه دَ خدائ نه منکر کس به ډیر په ګرانه ملاویږی، ځکه چې په حقیقت کښې هغه داسې انسان دے چې دَ عقیدې نهٔ لرلو په وجه یې خپل ضمیر خاموشه کړے دے، عن تر دې چې دَ هغوئ ضمیر تقریباً مړ شوے دے.

ځنې خلق دومره ړاندهٔ دی چې هغوئ په آسمان کښې دَ ځلیدونکی نمر نه هم انکار کوی. خو دَ هغوئ انکار دا حقیقت باطلولې نهٔ شی چې نمر موجود دے اؤ هره ورځ په خپل مقرر وخت راخیژی اؤ پریوځی.

کوم کس چې دَ کتلو نه انکار وکړی نو دَ هغهٔ نه زیات بل څوک ړوند کیدے شی. هر یو ایمانداره کس ته به دا معلومه وی چې په باطن کښې یو پټ آواز هر وخت وائی چې خدائ موجود دے اؤ نن هم ژوندے دے.

خلق دَ خدائ پاک دَ وجود انکار په دې وجه نهٔ کوی چې هغه لیدلے یا پیژندلے نهٔ شی، بلکه هغوئ ځکه انکار کوی چې هغوئ ویریږی چې دَ مرګ نه پس به مونږ هغهٔ ته مخامخ کیږو اؤ هغهٔ له به دَ خپل ژوند حساب ورکوؤ.

دَ خدائ نه انکار دَ شیطان یوه وسله ده، چې دَ دې په وسیله هغه انسان دَ خلاصون حاصلولو نه بغیر دې دنیا نه رخصتوی.

کهٔ چرې خدائ پاک نشته نو بیا به زهٔ چا له هم جواب نهٔ ورکوم. نو بیا چې زهٔ څنګه غواړم خپل ژوند دې تیر کړم.

خو دَ سوچ اؤ فکر په خاموشه وختونو کښې زړهٔ په پټه پټه وائی چې "خدائ شته." صرف کم عقل خلق دَ هغهٔ نه انکار کولے شی.

په هوا کښې الوتلې جهاز خو ښکاری، خو پائلټ یې نهٔ ښکاری. کهٔ چرې څوک دا ووائی چې جهاز دَ پائلټ نه بغیر په هوا کښې روان دے نو دا به یو دَ خندا خبره وی. نو

دغسې چې آسمان ته وګورې اؤ ووايې چې خدائ پاک نۀ ښکاری اؤ هغه هډو موجود هم نۀ دے، نو دا ډيره دَ خندا خبره ده.
په مونږ کښې به په مشکله سره چا خپل مازغۀ ليدلی وی. خو حالانکه زمونږ په وجود کښې دَ ترتيب يو مرکزی نظام موجود دے نو ځکه مونږ دا يقين لرو چې زمونږ مازغۀ شته. نو چې مونږ ته دا کائنات ښکاری، نو ځکه مونږ دَ خدائ په وجود باندې هم ايمان لرو.

## ٣- وجه اؤ دَ وجې پيدا کوؤنکی دليل

دنيا موجوده ده. دا دَ چرته نه خو راغلې ده. يو کس يا يو څيز به دا په يو نه يو زمانه کښې په وجود کښې راوستلې وی. دا کتاب دے. يو نه يو کس خو به دا ليکلے وی کنه.
کۀ يو چاپ خانه هر څومره نوې وی اؤ په کښې دَ بجلئ نوی نوی مشينونه وی خو بيا هم هغه دَ خپله ځانه يو کتاب نۀ شی ليکلے.
دَ عمارت جوړولو واله هم يو کس موجود دے. داسې يو کس شته چا چې ونې بوټی پيدا کړی دی. اؤ دَ کائنات چلوونکی هم يو هستی موجوده ده.
کۀ چرې دَ ګړئ ټولې پُرزې په يو ډبی کښې واچولے شی اؤ په مزه مزه يې خوځوؤ نو په لکونو کالونو کښې به هم هغه پُرزې په "حادثاتی" طور باندې يو ځائ نۀ شی اؤ نۀ به ترې نه ګړئ جوړه شی.
دَ دې دَ وجود مناسب جواب صرف يو دے چې يو باشعوره ذات موجود دے چا ته چې مونږ خدائ پاک وايو.

## ٤- دَ تخليق دَ مقصد دليل

ګړئ نۀ صرف وجود لری بلکه دَ دې جوړولو واله هم وی. هغۀ دا ګړئ دَ يو خاص مقصد دَ پاره جوړه کړې وه. هغۀ دا دې دَ پاره نۀ وه جوړه کړې چې ماشی دې په کښې اوسيږی. دَ هغۀ مقصد دا وو چې دا مونږ ته صحيح وخت وښائی.
کۀ چرې مونږ په دې لويه دنيا کښې دَ موجودو وړو اؤ غټو څيزونو جائزه واخلو نو دا به معلومه شی چې دَ هر يو څيز شکل دَ څۀ نه څۀ مقصد دَ پاره يو هوښيار ذهن لرونکی جوړ کړے دے.

دَ مرغو رنګونه اؤ دَ ځناورو دَ خپل ځان دَ حفاظت کولو طريقې اتفاقی نۀ دی، بلکه دا دَ خالق دَ اعلیٰ اؤ دَ ښۀ ذهن دَ منصوبې نتيجه ده.

## ۵- دَ اخلاقو دليل

انسان دَ عقل اؤ پوهې اؤ دَ اخلاقی فطرت مالک دے، چې دَ هغې نه دا معلوميږی چې دَ دې خالق يو بې ساه قُوت نۀ دے، بلکه ژوندے، عقل مند اؤ حکمت لرونکې اؤ اخلاقی ذات دے.
پيدايښت ۱: ۲۶ "راځئ چې انسان دَ خپل شکل اؤ صورت په شان جوړ کړو."
پيدايښت ۱: ۲۷ "خدائ پاک انسان په خپل شکل اؤ صورت پيدا کړو. دَ خدائ پاک په شکل اؤ صورت هغه پيدا شو."
دَ دې مطلب دا دے چې انسان دَ خدائ پاک په نمونه پيدا کړے شو.
زبور ۹۴: ۹ "چا چې غوږونه ورکړل نو ولې هغه په خپله نۀ اؤری څۀ؟ چا چې سترګې جوړې کړې نو ولې هغه په خپله نۀ شی ليدلې څۀ؟
خدائ پاک انسان له غوږونه، سترګې، علم، عقل اؤ شعور اؤ دَ ارادې لرلو قوت ورکړے دے. دا ځکه چې دا ټول څيزونه په هغۀ کښې په خپله هم موجود دی.
ضمير انسان ته په نيکئ اؤ بدئ، ښۀ اؤ بد کښې فرق ښائی، ځکه چې خالق يو اخلاقی يعنې پاک ذات دے. هغه ذات صداقت خوښوی اؤ دَ بدئ نه نفرت کوی.

## ٦- دَ ژوند دليل

دَ ژوند نه ژوند راوځی. اولنے ژوندون به دَ يو داسې ذات نه راوتلې وی په چا کښې چې ازلی اؤ ابدی ژوند دے، يعنې دَ انسان دَ ژوند دَ پيدا کيدو نه مخکښې په هغۀ کښې ژوند موجود وو.
داسې ژوندون چرته موندلے کيږی؟ صرف خدائ پاک کښې، ځکه چې صرف هغه ازلی اؤ ابدی ژوندون لری. زبور ۳۶: ۹ "ځکه چې دَ ژوندون چينه تاسره ده."
دَ سيوانو ونه دَ هغه ونې نه ژوندون حاصلوی کومه چې دَ هغې مور پلار وی. ګډورې دَ خپلې مور ګډې نه ژوندون حاصلوی. خو هغې ته ژوندون چرته نه ملاؤ شو؟ نو داسې مونږ اولنی تخليق ته رسو. دَ يوحنا په ۱۱: ۲۵ کښې عيسیٰ مسيح فرمائيلی دی چې

"... ژوندون خو زۀ يم." بيا په ۱۴: ۶ کښې وائی چې "..... ژوندون زۀ يم." اؤ په ۱۰: ۲۸ کښې وائی چې " زۀ هغۀ له دَ تل ژوندون ورکوم."
ټول ژوندونه خدائ پاک ورکوی. په خپله پيدا کيدل ( په خپله په وجود کښې راتللو ) نظريه باطله ثابته شوې ده. دَ بروسې قابل سائنس دا بالکل نۀ قبلوی.
دَ ژوندون شروع ضرور چرته نه چرته نه شوې ده. دَ دې صرف يو منطقی جواب دے، چې دَ ژوندون شروع دَ خدائ پاک نه وشوه.

## ۷- دَ يو شان والی دليل

دَ خدائ نه دَ انکار کولو نظريه دَ يوې مسئلې حل نۀ پيش کوی، بلکه مسئلې نورې هم زياتوی. دا خبره منل چې خدائ پاک خالق دے دَ جادو دَ چابئ په شان ده، چې پاک کلام، مکاشفه، اؤ دَ علم اؤ سائنس په ټولو حقيقتونو باندې برابرېږی.
بې شميره انسانان په دې نۀ رد کيدونکې نظريه باندې کلک قائم ولاړ دی، اؤ دَ دې عقيدې دَ تسلئ په خاطر خپل ژوند ورکولو دَ پاره تيار دی.

### خُلاصه

دَ خدائ نه انکار کول يا دَ صحيح لارې نه اؤړيدل دَ يو لوئ شک يا دَ يقين نۀ کولو په شان دی، اؤ دا مونږ صرف دَ تيارو اؤ نااُميدئ په طرف بوځی. پيدايښت ۱:۱ "خدائ پاک په شروع کښې...." دَ دې قبلولو سره دَ يو رڼتينی لټونکی مخې ته دَ خدائ پاک دَ کاملو مکاشفو لارې پرانستلې کيږی. "خدائ ته راتلونکی ته په دې ايمان راوړل پکار دی چې هغه موجود دے." ( عبرانيان ۱۱: ۶ ).

**نو راځئ چې مونږ دَ ماشومانو په شان ساده ايمان راوړو. داسې ايمان چې په قدرت اؤ پاک کلام کښې دَ خدائ پاک په مکاشفه باندې مشتمل وی. دَ دې ايمان په وسيله مونږ په خدائ پاک کامل يقين ساتلے شو.**

## دوباره کتلو دَ پاره سوالونه

١- آیا خدائ پاک دَ خپل وجود ثابتولو دَ پاره بائبل مقدس دَ یو نصابی کتاب په طور ولیکلو؟ دَ دې وضاحت وکړئ.

٢- دَ خدائ پاک په نظر کښې دَ هغهٔ نه انکار کول څهٔ حیثیت لری؟

٣- دَ خدائ پاک دَ وجود په ثبوت کښې دَ کلام پاک دوه حوالې پیش کړئ.

۴- اعمال دَ رسولانو په ١٧: ٢٣ کښې وئیلې شوی دی چې دَ اتینیا خلقو دَ نامعلومه خدائ دَ پاره قربان ګاه جوړه کړې وه. ولې؟

۵- دَ خدائ پاک دَ وجود نه انکار کولو کښې دَ غیر مذهبه خلقو اصل مقصد څهٔ وی؟

٦- دَ وجې اؤ دَ وجې پیدا کوؤنکی اُصولو نه دَ خدائ پاک دَ وجود په حقله مونږ ته څهٔ دلیل ملاویږی؟

٧- دَ مقصد دَ نظریې نه دَ خدائ پاک دَ وجود په حقله څهٔ دلیل ملاویږی؟

٨- مونږ ته دا څنګه معلومیدے شی چې خدائ پاک یو بې ساه قُوت نهٔ دے؟

٩- دَ ژوندون نه دَ خدائ پاک دَ وجود په حقله څهٔ دلیل ملاویږی؟

١٠- په خدائ پاک دَ ایمان راوړلو دَ پاره بنیادی شرط څهٔ دے؟

## دويم سبق

# دَ خدائ پاک ذات

## پيژندګلو

* دَ زرګونو کلونو راسې فلسفيان ډير په شوق سره دَ خدائ پاک په حقله مطالعه کوی لګيا دی.
* ځنې ناست وی اؤ دَ سوچ اؤ فکر کولو په وسيله دَ خدائ دَ ازلی ذات په حقله دَ هغۀ دَ پټ رازونو معلومولو کوشش کوی.
* دَ خدائ پاک په حقله صحيح علم صرف اؤ دَ بائبل مقدس نه حاصليږی.
* يوحنا ۱: ۱۸ "خدائ چرې هيچا نۀ دے ليدلې، بې له خدائ دَ يو زوئ نه، هغه څوک چې دَ پلار په غيږ کښې دے اؤ هم پلار هغه ښکاره کړے دے."
* ۱ يوحنا ۴: ۱۲ "خدائ کله هم چا نۀ دے ليدلے."
*هجرت ۳۳: ۲۰ خدائ پاک حضرت موسیٰ ته مخاطب شو اؤ ورته يې وفرمائيل "تۀ زما مخ نۀ شې ليدلے ځکه چې انسان زما ليدو سره ژوندے نۀ شی پاتې کيدے."
* هجرت ۳۳: ۲۳ "دَ دې نه پس به زۀ خپل لاس اوچت کړم اؤ تۀ به زما شا وينې خو زما مخ به درته نۀ ښکاری."
* موسیٰ به خدائ پاک سره خبرې کولې خو هغۀ دَ مالک خدائ مخ نۀ وو ليدلے.

* عیسیٰ مسیح چې دَ خدائ زوئ دے، له آسمان نه دې دَ پاره راغلو چې خدائ پلار مونږ ته ښکاره کړی.
* یوحنا ۱۴: ۷- ۱۱ کښې عیسیٰ مسیح فلپوس ته ووئیل چې زهٔ دَ خدائ عکس یا کشف یم.
* بې دینه حکمت وائی چې "اے انسانه، خپل ځان وپیژنه". خو عیسیٰ مسیح وائی چې " اے انسانه، دَ آسمانی پلار په حقله زده کړه وکړه."
*یوحنا ۱۷: ۳ مونږ ته وائی چې خدائ پاک اؤ دَ هغهٔ زوئ مسیح پیژندل ابدی ژوندون دے: " دا تل عمری ژوندون دے چې تا وپیژنی چې تهٔ یواځې رښتینې خدائ یې اؤ عیسیٰ مسیح چې تا را استولې دے."

## ۱- دَ خدائ پاک هستی

دَ شخصیت خوبئ دا دی چې په هغهٔ کښې علم، احساس اؤ دَ ارادې قُوت موجود وی. دَ بُت هیځ قسمه شخصیت نشته ځکه چې په هغهٔ کښې علم، احساس یا دَ ارادې هیځ قسمه قُوت نهٔ وی.
زمونږ خدائ یو منفرد ژوندے ذات دے اؤ دَ هغهٔ دَ ذات خاص صفتونه دی.
خدائ پاک شخصیت دے. هغه صرف یو اثر یا دَ بجلئ په شان نالیدونکې قُوت نهٔ دے.
یرمیاه ۱۰: ۱۰ "خدائ رښتینې دے. هغه ژوندے خدائ......دے."
اعمال ۱۴: ۱۵ "دا باطل څیزونه پرېږدئ اؤ دَ هغه ژوندی خدائ په طرف لاړ شئ."
۱ تسالونکیان ۱: ۹ "..... تاسو دَ بتانو نه راواوړیدئ اؤ خدائ ته راوګرځیدئ، دَ دې دَ پاره چې دَ ژوندی اؤ حقیقی خدائ عبادت وکړئ."
دویم تواریخ ۱۲: ۹ "دَ خدائ سترګې په ټوله زمکه نظر کوی، دَ پاره دَ دې چې هغه دَ هغوئ په اِمداد کښې دَ چا زړونه چې دَ هغهٔ طرف ته دی، خپل قوت ناک کارونه وښائی."

دَ سترګو کتل دَ ژوندون اؤ دَ شخصیت دلیل دے. په بُتانو اؤ دروغژنو خدایانو کښې دا خاصیتونه موجود نۀ وی.
زبور ۹۴: ۱۱ "خدائ دَ انسان خیالونه پیژنی" یعنې هغه علم لری.

## ۲- دَ خدائ ذات

خدائ روح دے. په روح کښې غوښه یا هډوکی یا وینه نۀ وی.
لوقا ۲۴: ۳۹ " زما لاسونو اؤ پښو ته وګورئ چې دا زۀ یم. ما له لاس راؤړئ اؤ وګورئ، دَ پیری غوښه اؤ هډوکی نۀ وی لکه چې تاسو وینئ چې زۀ یې لرم."
یوحنا ۴: ۲۴ "خدائ روح دے اؤ هر څوک چې دَ هغۀ عبادت کوی هغه دې هم په روح اؤ په رښتیا سره دَ هغۀ عبادت وکړی."
۱ تیموتیوس ۱: ۱۷ "اوس دَ ازلی بادشاه، یعنې غیرفانی نالیدلی واحد خدائ عزت اؤ جلال دې تل تر تله وی. آمین!"
۱ تیموتیوس ۲: ۱۲ "هغه یوائې هغه دے چې هیڅ کله نۀ مری اؤ هغه په هغه نُور کښې اوسیږی چې څوک ورته رسیدلے نۀ شی، نۀ هغه چا انسان لیدلے دے اؤ نۀ یې لیدلې شی. دَ هغۀ عزت اؤ بادشاهی دې تل تر تله وی. آمین!"

## ۳- دَ خدائ وحدانیت

دَ بُت پرسته قومونو ډیر خدایان وی. خو دَ هغوئ په مقابله کښې زمونږ مالک خدائ واحد خدائ دے.
استثنا ۶: ۴ "اے اسرائیله واؤره! زمونږ مالک خدائ یو خدائ دے."
یشعیاه ۴۴: ۶ "مالک خدائ دَ اسرائیل بادشاه اؤ دَ هغۀ فدیه ورکوؤنکې رب الافواج داسې فرمائی چې زۀ اول اؤ هم زۀ آخر یم اؤ زما نه علاوه بل یو خدائ هم نشته."
یشعیاه ۴۵: ۲۱ "....... نو زما نه علاوه بل یو خدائ هم نشته. په خپلو خبرو کښې صادق اؤ خلاصون ورکونکے خدائ زما نه علاوه بل یو هم نشته."

## ۴- دَ خدائ صفتونه

دَ صفت مطلب دے څۀ خوبی، یا خاصیت یا دَ نورو نه مختلف کیدل. مونږ وایو چې په خدائ پاک کښې ضرور څۀ بنیادی صفتونه موجود دی. په دې کښې دا صفتونه شامل دی:

### ۱- هغه ازلی اؤ ابدی دے.

دا خبره لازمی ده چې دَ الٰهی ذات نۀ شروع وی اؤ نۀ آخر. بُتانو کښې دا خوبی نۀ وی ځکه چې هغوئ خو چا جوړ کړی وو اؤ دغه شان هغوئ په وجود کښې راغلل.

زبور ۹۰: ۲ "دَ دې نه مخکښې چې غرونه پیدا شول یا زمکه تا دُنیا جوړه کړه. دَ ازل نه تر ابده پورې هم تۀ خدائ یې."

اول تیموتیوس ۱: ۱۷ " اوس دَ ازلی بادشاه، یعنې غیرفانی نالیدلی واحد خدائ عزت اؤ جلال دې تل تر تله وی. آمین!" دې سره دَ زبور دا حوالې شاملې دی ۱۰۲: ۲۴، ۲۷، یشعیاه **۵۷: ۱۵**.

پیدایښت ۱:۱ " خدائ په شروع کښې ......" هغه دَ همیشه نه موجود دے.

### ب- هغه نۀ بدلیدونکے دے.

دَ خدائ پاک په وجود کښې هیڅ قسمه بدلون نۀ شی راتلے.

اول سموئیل **۱۵**: **۲۹** "څوک چې دَ اسرائیل قوت دے، نو نۀ خو هغه دروغ وائی اؤ نۀ پښیمانه کیږی، ځکه چې هغه انسان نۀ دے چې پښیمانه شی."

ملاکی ۳: ۶ "زۀ مالک خدائ نۀ بدلیدونکے خدائ یم."

یعقوب ۱: ۱۷ "هر یو ښۀ بخشش اؤ هر کامل انعام دَ آسمان نه راځی اؤ دَ خدائ نه موندلے کیږی. چې په هغۀ کښې نۀ خو څۀ تبدیلی راځی اؤ نۀ دَ گردش له عمله روښانه کیږی اؤ نۀ تیارۀ کیږی."

### ج- هغه قادرِ مطلق دے.

یعنې دَ ټول طاقت اؤ قدرت مالک دے. کۀ چرې داسې نۀ وی نو هغه خدائ نۀ دے.

پیدایښت ۱:۱ "په شروع کښې خدائ زمکه اؤ آسمانونه پیدا کړل." دَ تخلیق قُدرت.

پیدایښت ۱: ۳ "خدائ ووئیل چې رڼا دې شی نو رڼا شوه." دَ کلام قُدرت.
انسان خو دَ موجودو څیزونو نه نور څیزونه جوړوی، خو خدائ پاک غیر موجود داسې څیزونه تخلیق کوی چې ښۀ اؤ کامل وی. هغه دَ نشت نه شته پیدا کوی.
پیدایښت ۱: ۳۱ "ټول.... ډیر ښۀ دی."
حضرت ایوب خدائ پاک ته فرمائی، ۴۲: ۲ "ما ته معلومه ده چې تۀ هر څۀ کولې شې."
زبور ۳۳: ۹ "هغۀ وفرمائیل اؤ هغه وشول. هغۀ حکم وکړو اؤ هغه وشول."

یرمیاه ۳۲: ۲۷ "زۀ مالک خدائ دَ ټولو انسانانو خدائ یم. آیا زما دَ پاره یو کار هم مشکل شته؟" بالکل نه، ځکه چې هغه هر څۀ کولې شی.
د- هغه هر ځائ موجود دے. هغه په یو وخت باندې هر ځائ کښې موجود وی. اول بادشاهان ۸: ۲۷.

زبور ۱۳۹: ۷- ۱۰ "زۀ ستا دَ روح نه چرته ځان بچ کړم یا ستا دَ حضورئ نه چرته وتښتم؟ کۀ آسمان ته وخیژم نو تۀ هلته هم تۀ موجود یې. کۀ دَ زمکې تل ته لاړ شم نو وګوره، تۀ هلته هم موجود یې. کۀ زۀ دَ سحر وزرې ولګوم اؤ دَ سمندر آخری سر ته لاړ شم نو هلته به هم ستا لاس زما رهنمائی کوی."
یرمیاه ۲۳: ۲۳ "مالک خدائ فرمائی آیا زۀ صرف دَ نزدې خدائ یم، اؤ دَ لرې خدائ نۀ یم؟

افسیان ۱: ۲۳ "جماعت دَ مسیح بدن دے، دا بدن دَ هغۀ نه کامل کیږی چې هغه له ټولو نه په هر څۀ کښې کامل وی."

### ه- هغه دَ هر څۀ علم لرونکے دے.

هغۀ ته دَ هرې خبرې علم دے. دَ خدائ پاک نه یو څیز هم پټ نۀ دے.
اول تواریخ ۲۸: ۹ "تۀ اے زما زویه سلیمانه، دَ خپل پلار خدائ پاک وپیژنه اؤ په پوره زړۀ اؤ روح سره دَ هغۀ عبادت وکړه ځکه چې خدائ پاک ټول زړونه آزمائی اؤ څۀ چې په خیال کښې راځی هغه یې پیژنی."
دویم تواریخ ۱۶: ۹ "دَ خدائ سترګې په ټوله زمکه نظر کوی، دَ پاره دَ دې چې هغه دَ هغوئ په اِمداد کښې دَ چا زړونه چې دَ هغۀ طرف ته دی، خپل قوت ناک کارونه وښائی."

زبور ۹۴: ۱۱ "مالک خدائ دَ انسان خيالونه پيژنی."
دانی ايل ۲: ۲۰ "دَ خدائ نوم دې تل تر تله مبارک وی ځکه چې حکمت اؤ قُدرت هغهٔ لره دے."
ايوب ۴۲: ۲ "ستا يوه اراده هم ودريدے نهٔ شی."
يشعياه ۴۰: ۲۸ "دَ هغهٔ حکمت دَ سوچ نه بهر دے."

## ۵- دَ خدائ اخلاقی صفتونه

ا- خدائ پاک دے (هجرت ۱۵: ۱۱، اول سموئيل ۲:۲، يشعياه ۶: ۳، اول پطروس ۱: ۱۶).

ب- خدائ صادق دے (زبور ۱۱۲: ۵، عزرا ۹: ۱۵، زبور ۱۴۵: ۱۷، يرمياه ۱۲: ۱).

ج- خدائ رحيم دے (زبور ۱۰۳: ۸، استثنا ۴: ۳۱، زبور ۸۶: ۱۵، روميان ۹: ۱۸).

د- خدائ مينه دے (اول يوحنا ۴: ۸- ۱۶، يوحنا ۳: ۱۶، اول يوحنا ۳: ۱۶، يوحنا ۱۶: ۲۷).

ه- خدائ وفادار دے (اول پطروس ۴: ۱۹، دويم تيموتيوس ۲: ۱۳، استثنا ۷: ۹، ۳۲: ۴).

دَ دې نه علاوه:

* خدائ جلالی دے (هجرت ۱۵: ۱۱، زبور ۱۴۵: ۵).
* خدائ مهربان دے (هجرت ۳۴: ۶، زبور ۱۱۲: ۵).
* خدائ صبرناک دے (اول پطروس ۳: ۲۰، ميکاه ۷: ۱۸).
* خدائ ترس کوؤنکې دے (زبور ۱۰۳: ۱۳).
* مونږ هغه نهٔ شو لټولے (ايوب ۱۱: ۷، زبور ۱۴۵: ۳).
* هغه نيک دے (زبور ۲۵: ۸، ۱۱۹: ۶۸).
* هغه نهٔ بدليدونکے دے (زبور ۱۰۲: ۲۶، ۲۷، يعقوب ۱: ۱۷).

* هغه رښتينے دے (يرمياه ۱۰ : ۱۰).
* هغه ابدي دے (روميان ۱ : ۲۳، اول تيموتيوس ۱ : ۱۷، ۲ : ۱۲).
* هغه سوځوونکے اُور دے ( عبرانيان ۱۲ : ۲۹).
* هغه غيرت مند خدائ دے (يشوع ۲۴ : ۱۹، ناحوم ۱ : ۲).
* هغه عظيم دے (دويم تواريخ ۲ : ۵، زبور ۸۴ : ۱۰).
* هغه نالیدونکے دے (ايوب ۲۳ : ۸- ۹، اول تيموتيوس ۱ : ۱۷).
* هغه صادق دے (زبور ۲۵ : ۸، ۹۲ : ۱۵).
* هغه نُور دے (يشعياه ۲۰ : ۱۹، اول يوحنا ۱ : ۵).
* هغه کامل دے (متی ۵ : ۴۸).
* هغه بې مثاله دے (هجرت ۹ : ۱۴، استثنا ۳۳ : ۲۲).

## خُلاصه

هغۀ سره مينه وکړئ. دَ هغۀ عبادت وکړئ. دَ هغۀ خدمت وکړئ. دَ هغۀ تابعداری وکړئ. دَ هغۀ نه وويرېږئ.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۱- دَ خدائ په حقله دَ اعتبار نه ډک معلومات مونږ چرته موندلے شو؟

۱۲- دَ دې څۀ مطلب دے چې خدائ پاک شخصيت لری؟

۱۳- دَ خدائ پاک ذات څۀ دے؟

۱۴- خدائ يو دے اؤ کۀ نۀ ډير خدايان دی؟ يو حواله ورکړئ.

۱۵- دَ لفظ "صفت" څۀ مطلب دے؟

۱۶- دَ خدائ پاک پنځۀ صفتونه بيان کړئ.

۱۷- يو حواله بيان کړئ چې دَ هغې نه دا ثابته شی چې خدائ پاک ازلی اؤ ابدی دے.

۱۸- مونږ ولې دا ايمان لرو چې خدائ قادر مطلق خدائ دے؟

۱۹- خدائ څنګه په یو وخت باندې هر ځائ کښې موجود کیدے شی؟

۲۰- دا ثابته کړئ چې خدائ پاک ټول هر څۀ نه خبر دے.

## دريم سبق

# خدائ يو كامل خدائ دے

### پيژندګلو

* مالک خدائ پاک دے. هغه مينه کوونکے، رحم کوونکے اؤ وفادار دے، خو دې سره سره هغه انصاف کوونکے اؤ صادق هم دے.
* نن سبا ډير خلق دَ خدائ پاک په حقله يو نامناسبه رويه لرى. ځنې خلق دَ هغۀ په مينه باندې دَ حد نه زيات زور اچوى، خو دا خبره هيروى چې هغه انصاف کوؤنکے اؤ قُدوس هم دے.
* دَ مينې په سبب خدائ پاک ګناه بخښى، اؤ په ډيرو توبه کوونکو ګناه ګارانو باندې رحم کوى. دَ خدائ پاک قُدوسيت اؤ انصاف دا غواړى چې دَ شريعت په مطابق دَ ګناه پوره پوره سزا ورکړے شى. روميان ٦: ٢٣ "دَ ګناه بدل مرګ دے." ( هجرت ١٨: ٢٠ ).
* کۀ چرې خدائ پاک انسان وو نو په دې دوؤ صفتونو کښې به هر وخت مشکلات وو. خو خدائ پاک انسان نۀ دے، نو په دې وجه دا دواړه صفتونه په هغۀ کښې په پوره يو والى سره کار کوى، ځکه چې يو صفت دَ بل دَ پاره توازن ورکوى.
* دَ خدائ پاک په حقله يو نامناسبه رويه دا ده چې دوزخ ناممکنه دے ځکه چې داسې کيدے نۀ شى چې يو مينه کوونکے اؤ رحم کوؤنکے خدائ يو کمزورې اؤ بې مددګاره انسان هميشه دَ پاره دوزخ ته وغورځوى.

* دَ دوزخ دَ ويرې اؤ په سولئ باندې دَ تيارې خوريدو په واقعې باندې پوهيدلو دَ پاره دا ضروری ده چې مونږ د خدائ پاک په پاکوالی اؤ په ګناه باندې د هغۀ دَ غضب اؤ قهر په حقله سوچ وکړو. (دويم کورنتيان ۵: ۱۱).
* دَ خدائ پاک پاکوالے دا غوښتنه کوی چې مونږ هم پاک يو. دَ خدائ پاک شريعت دَ خدائ پاک دَ انصاف اؤ عَدل په مطابق ګناه ګار دَ پاره دَ ابدی لعنت اؤ دَ سزا حکم ورکوی.
* زمونږ په زمانه کښې يو لويه عجيبه کارنامه دا ده چې خدائ پاک دَ خلاصون يوه داسې لار پيدا کړه چې هغې سره دَ هغۀ دَ پاکوالی اؤ دَ مينې دواړه غوښتنې پوره کيږی.
* دا حل نۀ صرف دَ شريعت غوښتنه پوره کوی بلکه انسان له هم دَ خودمختاره اوسيدو حق ورکوی. دا دَ هغۀ مرضی ده چې خلاصون غوره کوی، يا لعنت، يا جنت غوره کوی، اؤ کۀ دوزخ.

## ۱- خدائ پاک دے.

مونږ دَ يو داسې خدائ تصور هم نۀ شو کولے چې په پوره طور سره پاک نۀ وی. دَ پاکيدو مطلب دے دَ هر قسمه ګندګئ نه پاک، اؤ خالص جوړيدل. خدائ بالکل پاک اؤ مُقدس دے.

حبقوق ۱: ۱۳ "ستا سترګې داسې پاکې دی چې تۀ بدئ ته کتلې هم نۀ شې، اؤ په بدئ نظر نۀ شې کولے."
خدائ پاک په سولئ باندې دَ خپل زوئ نه هم نظر اړولے وو.
هجرت ۱۵: ۱۱ "څوک دی چې ستا په شان دَ خپل پاکوالی په وجه جلالی.....دی؟"
اول سموئيل ۲:۲ "دَ خدائ پاک په شان هيڅوک هم قُدوس نشته،ځکه چې ستا نه علاوه بل هيڅوک هم نشته."

**يشعياه ۲: ۳ "قدوس قدوس قدوس رب الافواج قدوس دے."**

اول پطروس ۱: **۱۵**، ۱۶ "لکه څنګه چې ستاسو رابلونکے پاک دے هم هغه شان تاسو هم په خپل ټول چال چلن کښې پاک شئ. لکه چې صحيفې وائی چې پاک شئ ځکه چې زۀ پاک يم."

دَ خدائ پاک پاکوالی هغه دَ ګناه ګار انسان نه لرې کړو. افسيان ۲: ۱۳ "خو تاسو چې اول لرې وئ اؤ دَ مسيح په يو والی کښې دَ مسيح دَ وينې په وسيله نزدې شوئ." انسان له دَ خدائ پاک سره ملاويدو دَ پاره صرف يو لار ده. اؤ هغه لار دَ مسيح وينه ده.

خدائ پاک قُدوس دے. هغه دَ ګناه نه نفرت کوی. دا ضروری ده چې دَ هغۀ پاک غضب ګناه له سزا ورکړی. دَ يشعياه **۵۳**: ۲ هم دا مطلب دے، حالانکه خدائ پاک عيسیٰ مسيح دَ سولئ کيدو په وخت پريښودو اؤ زمونږ سزا يې په هغۀ بار کړه.

دَ خدائ پاک چې ګناه ګارو سره کومه مينه ده، مونږ په پوره طور سره اندازه نۀ شو لګولے. دَ دې اندازې لګولو دَ پاره مونږ له پکار دی چې دَ ګناه خلاف دَ خدائ پاک غضب، غُصې اؤ قهر ته وګورو.

دَ خدائ پاک دَ قُدوسيت دا غوښتنه ده چې دَ ګناه سزا دې ورکړے شی. خلاصوؤنکی دا غوښتنه په خپلې مرضئ سره په سولئ باندې پوره کړه، اؤ پلار يې په پوره طور سره مطمئن کړو.

## ۲- خدائ پاک مينه دے

اول يوحنا **۴**: ۸ "خو څوک چې مينه نۀ لری هغه خدائ نۀ پيژنی، ځکه چې خدائ مينه دے." دَ خدائ پاک دَ پاره يو فعل هم نۀ دے استعمال شوے چې هغه مينه کوی بلکه هغۀ دَ پاره اسم استعمال شوے دے چې هغه په خپله مينه دے.

کۀ چرې دَ خلاصون موندلو په وسيله خدائ پاک زما په زړۀ کښې اوسيږی نو بيا دا ضروری ده چې زۀ مينه ولرم، ځکه چې زما په زړۀ کښې مينه اوسيږی.

اول يوحنا ۴: ۷ "خوږو دوستانو راځئ چې دَ يو بل سره مينه ولرو ځكه چې مينه دَ خدائ له طرفه ده، اؤ هر هغه څوک چې مينه لرى هغه له خدائ نه پيدا شوې دے اؤ خدائ پيژنى."

مينه څۀ ده؟ مينه دَ نورو دَ پاره دَ ښُو خواهش دے. مينه دَ نورو سره ښۀ كولو كښې خوشحاله وى. رښتينې مينه خو ګناه ګارو اؤ دښمنانو سره هم مينه كوى" ( متى ۵: ۴۴- ۴۵).

خدائ پاک خپل زوئ اؤ خاص طور باندې ايماندارانو سره مينه كوى.

يوحنا ۱۲: ۲۷ "ځكه چې په پلار تاسو په خپله ګران يئ، ځكه چې زۀ په تاسو ګران وم اؤ ايمان مو راوړے دے چې زۀ دَ خدائ نه راوتلې يم."

خدائ پاک دنيا سره هم مينه كوى ( يوحنا ۳: ۱۲ ). دَ دې مينې په وجه هغۀ دَ خلاصون يو منصوبه جوړه كړه، دَ پاره دَ دې چې انسان له دَ خپل غضب، قهر اؤ بربادئ نه دَ بچ كيدو دَ پاره يو موقعه وركړى.

خدائ پلار دے. هغه خپلو بچو ته دَ خبردارى په وسيله هغوئ ته دَ خپلې مينې څرګندونه كوى ( عبرانيان ۱۲: ۷).

## ۳- خدائ وفادار ( رښتينے ) دے

اول كورنتيان ۱: ۹ "خدائ رښتونې دے چا چې تاسو ..... دَ شراكت دَ پاره رابللى يئ."
استثنا ۷: ۹ "په دې پوهه شه چې مالک خدائ ستا خدائ پاک هم هغه خدائ دے. هغه وفادار خدائ دے."

دَ وفادار" نه څۀ مطلب دے؟ دَ دې نه مطلب هغه ذات دے په چا چې پوره پوره بروسه كيدے شى، اؤ چې دَ اعتبار اؤ اعتماد قابل وى. خدائ پاک وفادار دے ځكه چې هغه ديانتدار دے اؤ كله هم نۀ بدليږى.

دَ خدائ پاک وفادارى څومره عظيمه ده. دا آسمانونو ته رسى. زبور ۳۶: ۵ "اے مالكه خدايه! په آسمان كښې ستا شفقت دے. ستا وفادارى تر آسمانونو پورې ده".

دَ خدائ پاک ټول کارونه دَ وفادارئ دی. زبور ۳۳: ۴ "ځکه چې دَ خدائ پاک کلام رښتينې دے، اؤ دَ هغهٔ ټول کارونه دَ وفا نه ډک دی."
دَ خدائ پاک وفاداری دَ دې خبرې نه ښکاره کيږی چې هغه خپلې وعدې پوره کوی. هغه خپله يوه يوه خبره پوره کوی. خدائ هيڅ کله هم نهٔ بدليدونکے دے، ځکه چې هغه خو نهٔ دروغ وائی اؤ نهٔ پښيمانه کيږی.
خدائ پاک دا وعده کړې ده چې هغه به دَ ضرورت په وخت دَ خپلو بچو مدد ، حفاظت اؤ رهنمائی کوی. هغه به خپله وعده پوره کوی.

دويم تيموتيوس ۲: ۱۳ "کهٔ مونږ بې وفا شو خو هغه به وفادار پاتې شی. ځکه چې هغه دَ خپل ذات نه خلاف هيڅ نهٔ شی کولې."

اول کورنتيان ۱۰: ۱۳ "خدائ رښتونے دے اؤ هغه به تاسو ستاسو دَ طاقت نه په زيات آزميښت کښې نهٔ اچوی، بلکه دَ آزميښت سره به دَ وتلو لار هم پيدا کړی چې تاسو يې وزغملې شئ."

## ۴- خدائ رحيم دے

زبور ۱۰۳: ۸ "مالک خدائ رحيم اؤ کريم دے. په قهر کښې په قلاره اؤ شفقت کښې غنی دے."
استثنا ۴: ۳۱ "مالک خدائ ستا خدائ پاک رحيم دے. هغه به نهٔ تا پريږدی اؤ نهٔ به دې هلاک کړی."

دَ ګناه دَ سزا په طور دَ درد تکليف اؤ دَ مرګ په ځائ باندې خدائ پاک رحم کوی اؤ بې شميره برکتونه ورکوی. هغه وروکو شوؤ اؤ بچ شوؤ دواړو له روغ صحت، دنياوی خوشحالئ اؤ آرام اؤ سکون ورکوی.

متی ۵: ۴۵ "هغه په بدو اؤ په ښُو يو شان خپل نمر راخيژوی اؤ په ديانتدارو اؤ په بد ديانتو يو شان خپل باران وروی."

خدائ پاک ټول اختيار لری. هغه چې په چا غواړی رحم کوی (روميان ۹: ۱۵ ، ۱۸). هغه په زرګونو زرګونو خلقو باندې رحم کولې شی. هجرت ۲۰: ۶ "....په زرګونو باندې څوک چې ما سره مينه لری اؤ زما په حکمونو عمل کوی، رحم کوم."

دَ خدائ پاک رحم څومره عظیم دے؟ زبور ۱۰۳ : ۱۱ ، ۱۷ "څومره چې آسمان دَ زمکې نه اوچت دے نو دغه شان دَ هغهٔ شفقت په هغوئ دے څوک چې دَ هغهٔ نه ویرېږی..... خو دَ خدائ پاک شفقت په هغوئ باندې دَ ازل نه تر ابده پورې دے څوک چې ترې ویرېږی."

څوک چې په خدائ یقین لری نو هغه په هغوئ رحم کوی. زبور ۳۲ : ۱۰ "دَ چا یقین چې په مالک خدائ دے، نو هغوئ به همیشه دَ رحمت لاندې وی."

کله چې یو ډیر ګناه ګار کس معافئ غوښتلو دَ پاره رائی، نو هغه دَ څهٔ خوبئ یا حق په وجه دَ معافئ غوښتنه نهٔ کوی، بلکه دَ خدائ پاک دَ رحم طلب ګار وی.

زبور ۵۱ : ۱ "اے خدایه! دَ خپل شفقت په مطابق په ما رحم وکړه."

## ۵- خدائ انصاف کوؤنکے دے

استثنا ۳۲ : ۴ "هغه وفادار خدائ دے اؤ په هغهٔ کښې هیڅ قسمه بدی نشته. هغه انصاف کوؤنکے اؤ رښتینے دے."
زبور ۱۹ : ۹ "دَ خدائ پاک حکمونه حقیقی اؤ رښتینی دی."

زمونږ خدائ پاک انصاف کوؤنکے اؤ صادق دے. هغه به دَ یو یو کس انصاف کوی.
یشعیاه ۴۵ : ۲۱ "زما نه علاوه بل یو خدائ هم نشته. په خپلو لوظونو پوره کولو کښې صادق اؤ رښتینے خدائ زما نه علاوه بل یو هم نشته."

ځکه چې خدائ پاک انصاف کوؤنکے، صادق اؤ پاک دے، نو په دې وجه دا ضروری ده چې دَ هغهٔ ټول کارونه هم رښتینی، دَ انصاف نه ډک اؤ دَ الزام نه پاک وی.

اول سموئیل ۲ : ۳ "مالک خدائ دَ هرڅهٔ علم لرونکے دے اؤ دَ عملونو تللو واله دے."

پیدایښت ۱۸ : ۲۵ "ولې دَ ټولې دنیا انصاف کوؤنکے به انصاف نهٔ کوی څهٔ؟" هغه به ضرور انصاف کوی.

دَ خدائ پاک ذات یا دَ هغهٔ کردار داسې دے چې هغه همیشه هغه کار کوی چې رښتینی وی.
خدائ پاک انصاف کوؤنکے دے، په دې وجه هغه به دَ ټولو څیزونو آخری انصاف کوؤنکے وی (اول بادشاهان ۸: ۳۲).

**خُلاصه**

دا څنګه کیدے شی چې خدائ پاک په یو وخت باندې مینه هم وکړی اؤ دَ پاکوالی غوښتنه هم وکړی؟ هغه دَ ګناه ګار دَ پاره په یو وخت باندې رحیم اؤ انصاف کوؤنکے څنګه کیدے شی؟

دَ دې جواب صرف په سولئ کښې دے. سولئ دَ ګناه خلاف دَ غضب ښکارنه هم ده، اؤ دَ ګناه ګارانو دَ پاره دَ رحم ښکارنه هم ده.
خدائ مینه دے، خو هغه جذباتی مینه نهٔ دے چې دَ یو ګناه ګار دَ پاره خامخا څرګنده شی. دَ خدائ پاک مینه پاکه اؤ انصاف کوؤنکې ده.

خدائ پاک، اؤ دَ هغهٔ ذات اؤ کردار باندې پوهیدلو دَ پاره دا ضروری ده چې مونږ سولئ ته وګورو. نو بیا به مونږ پوهه شو چې څنګه خدائ پاک دَ ګناه نه نفرت اؤ ګناه ګار سره مینه کولے شی.

دَ کلوری سولئ دَ خدائ پاک دَ پاکوالی اؤ دَ انصاف دواړو غوښتنې پوره کوی. سولئ دَ شریعت ټولې غوښتنې پوره کوی اؤ یو ګناه ګار له په قانونی طور باندې جنت ته دَ تلو حق ورکوی.

راځئ چې مونږ په رښتینی زړهٔ سره دَ خدائ په وړاندې په سجده شو اؤ دَ هغهٔ عبادت وکړو ځکه چې هغه یو کامل ذات دے.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۱- دَ خدائ پاک پنځهٔ اخلاقی صفتونه بیان کړئ.

۲۲- دا صفتونه دَ یو بل خلاف معلومیږی، خو په خدائ پاک کښې دَ دې برخلافو صفتونو په حقله ګډوډی یا پریشانی ولې نهٔ پیدا کیږی؟

۲۳- خدائ پاک مینه دے، آیا دې عقیدې سره دَ دوزخ عقیده باطله جوړیدے شی؟ ولې؟

۲۴- دَ لفظ "پاک" څۀ مطلب دے؟

۲۵- اول پطروس ۱: ۱۵، ۱٦ په مطابق دَ دې عقیدې عملی استعمال څۀ دے؟

۲٦- دَ دریوؤ داسې مختلفو کسانو ذکر وکړئ چا سره چې خدائ پاک مینه کوی.

۲۷- دَ خدائ پاک وفاداری څومره عظیمه ده؟

۲۸- آخر دَ خدائ پاک شفقت ټول خلق ولې جنت ته نۀ بوځی؟

۲۹- کله چې مونږ وایو چې خدائ پاک انصاف کوونکے دے نو زمونږ مقصد څۀ وی؟

۳۰- مونږ ته دَ خدائ پاک په رحم اؤ دَ هغۀ په انصاف کښې چرته برابروالے ښکاری؟ وضاحت وکړئ.

# خلورم سبق

# دَ تثليث وحدانيت

## پيژندګلو

* انسان دَ خدائ تعالىٰ ذات ته نهٔ شی رسيدلے. هغه دَ انسانی عقل اؤ لټون نه اوچت اؤ ډير لرې دے. يشعياه ۵۵: ۸، ۹ کښې خدائ پاک فرمائی: "زما خيالونه ستاسو خيالونه نهٔ دی، اؤ نهٔ ستاسو لارې زما لارې دی. څکه چې څومره آسمان دَ زمکې نه اوچت دے دغه شان زما لارې ستاسو دَ لارو نه اؤ زما خيالونه ستاسو دَ خيالونو نه اوچت دی."

* مونږ دَ خدائ پاک په حقله صرف دومره پوهيدلې شو چې څومره هغه خپل ځان څرګنده وی.

* دَ مقدس کتاب دَ مطالعې نه معلوميږی چې خدائ پاک واحد دے: "اے اسرائيله واؤره! مالک خدائ زمونږ خدائ پاک واحد خدائ دے." (استثنا ٦: ۴).

* اؤ په دې وحدانيت کښې زياتوالے هم شته، اؤ دا زياتوالې تثليثی دے، چې په کښې پلار، زوئ اؤ روح القدس شامل دی: "زهٔ هم هغه يم. زهٔ اول اؤ زهٔ آخر يم.... اؤ اوس مالک خدائ پاک اؤ دَ هغهٔ روح زهٔ (زوئ) راوليږلم." يشعياه ۴۸: ۱۲- ۱٦).

## ۱- دَ تثليث دَ وحدانيت دَ عقيدې بنياد

دَ متی په ۳: ۱۳- ۱۷ کښې دَ عيسیٰ مسيح دَ بپتسمې په موقعه باندې مونږ دَ تثليث درې واړه شکلونه په عملی طور وينو. خدائ پلار دَ آسمان نه وفرمائيل "دا زما محبوب

زوئ دے دَ چا نه چې زۀ رضا يم." خدائ زوئ، زمونږ مالک عيسیٰ مسيح بپتسمه اخستله، اؤ خدائ پاک روح دَ کوترې په شکل کښې په خلاصوؤنکی باندې رانازل شو.

أ- دَ متی په ۲۸: ۱۹ کښې دَ بپتسمې ورکولو په لفظونو کښې تثليث موجود دے. "ځکه تاسو په زمکه خوارۀ شئ اؤ ټول قومونه زما مريدان کړئ اؤ دَ پلار، دَ زوئ اؤ دَ روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ."

ب- ج- دَ برکت خبرې، دويم کورنتيان ۱۳: ۱۴ "دَ مالک عيسیٰ مسيح فضل اؤ دَ خدائ مينه اؤ دَ روح القدس شراکت دې تاسو ټولو سره وی." آمين!

ت- د- دَ انسان دَ تثليث په موقع باندې دَ جمعې صيغې استعمال شوی دی. پيدايښت ۱: ۲۲ "بيا خدائ پاک وفرمائيل چې مونږ به انسان په خپل شکل اؤ صورت جوړ کړو."

## ۲- دَ تثليث دَ وحدانيت مثالونه

أ- دَ دريوؤ پاڼو واله ونه- مقدس پيټرک دَ تثليث دَ وحدانيت دَ وضاحت دَ پاره دَ دريوؤ پاڼو واله دَ ونې مثال ورکړے دے. اګرچه په دې کښې يوه پاڼه وی، خو بيا هم درې ښکاری.

ب- اوبۀ- دا په دريوؤ قسمونو کښې ښکاری، يعنې مائعه شکل کښې، کلک شکل کښې (واؤره)، اؤ دَ بُخاراتو په شکل کښې. خو په اصل کښې خو دا ټول اوبۀ دی.

ت- ج- رڼا- دَ نمر سرې شعاګانې: دا ناليدونکی دی، اؤ دا دَ خدائ مثال دے. دَ رڼا زيړې شعاګانې. دا ليدونکی دی اؤ دا دَ زوئ مثال دے. اؤ آسمانی رنګې کيمياوی شعاګانې. دا صرف دَ خپل اثر په وجه محسوسيږی، اؤ دا دَ روح القدس مثال دے.

ث- د- کاروباری اداره: (طارق اينډ کمپنی- درې ورونه اسلم، رشيد اؤ بشير). اداره يوه ده. اؤ په يو نوم مشهوره ده، خو درې واړه ورونه دَ بيلو بيلو کارونو

مشران دی اؤ بغير دَ څۀ پريشانئ يا ګډوډئ نه کار کوی. درې واړه يو اِکائی ده. دغه شان خدائ پاک هم کار کوی.

ج- ه- انسان: زۀ يو واحد کس يم، خو زما ظاهريدل دَ دريوؤ کسانو په شکل کښې کيدے شی. دَ خپلې مور دَ پاره زۀ زوئ يم. دَ هغې په نظر کښې زۀ بالکل مختلف شخصيت يم، اؤ هغې سره زما تعلق بالکل مختلف دے. دَ خپلو بچو دَ پاره زۀ پلار يم. هغوئ ته په ما کښې دَ پلار صفتونه ښکاری. اؤ زما شاګردان ما ته دَ استاذ په نظر ګوری. هغوئ سره زما تعلق بالکل مختلف دے. زۀ يو کس يم، خو په يو وخت کښې زۀ زوئ، پلار اؤ استاذ يم. خدائ پاک هم يو دے، خو دَ هغۀ ظاهيريدل په دريوؤ مختلفو شکلونو کښې کيږی.

بهرحال مونږ له دا خبره منل پکار دی چې تثليث يو ډير ژور راز دے. صرف يو مثال دَ تثليث پوره وضاحت نۀ شی کولے.

خو زما دا ايمان دے چې مونږ دَ دې مثالونو په وسيله په دې مشکله اؤ ګرانې مسئلې باندې څۀ نه څۀ رڼا ضرور اچولے شو.

حالانکه خدائ پاک روح دے اؤ مونږ جسمانی يو، خدائ پاک لامحدود دے اؤ مونږ محدود يو، نو په دې وجه مونږ له په خدائ پاک پوهيدل ډير ګران دی.

مونږ پوخ ايمان لرو چې خدائ پاک يو دے. هغه دَ ازل نه موجود دے، اؤ په دريوؤ شکلونو کښې خپل ځان څرګندوی، چې مونږ ورته پلار، زوئ اؤ روح القدس وايو.

## ۳- تثليث په يو والی کښې عمل کوی

دَ تثليث په دريوؤ واړو صورتونو کښې يو والے دے. دوئ هميشه په شريکه کار کوی.

### ۱- په تخليق کښې

ـ خدائ پلار کلام وکړو. پيدايښت ۱: ۳ "خدائ پاک وفرمائيل چې رڼا دې شی."

ـ خدائ زوئ کلام وو. يوحنا ۱: ۱-۲ "په ازل کښې کلام وو....اؤ ټول څيزونه دَ هغۀ په وسيله پيدا شول."

ـ خدائ روح القدس به په اوبو ګرځيدو. پيدايښت ۱: ۲، ايوب ۲۲: ۱۲، ۱۳).

## ب- جُسه کيدو کښې

ـ خدائ پلار خپل يک يو زوئ ورکړو. يوحنا ۳: ۱۶

ـ خدائ زوئ په دنيا کښې پيدا شو. لوقا ۲: ۱۱

ـ خدائ روح القدس په مريم رانازل شو چې هغه اُميدواره شی. لوقا ۱: ۳۵).

## ج- په کفاره کښې

ـ خدائ پلار په سولئ باندې قربانی قبوله کړه. (عبرانيان ۹: ۱۴).

ـ خدائ زوئ زمونږ د خاطره خپل ځان قربان کړو. (عبرانيان ۹: ۱۴).

ـ خدائ روح القدس-عيسیٰ مسيح دَ "ازلی روح په وسيله" خپله قربانی پيش کړه. (عبرانيان ۹: ۱۴).

## د- په خلاصون کښې

ـ خدائ پلار دَ لرې وطن نه واپس راتلونکې ورک شوې زوئ قبول کړو (لوقا ۱۵: ۲۲). پلار ګناه ګار ته هرکلے وائی، هغه معاف کوی، هغۀ له جامې ورکوی، اؤ ګوته ور پلاس کوی اؤ دَ هغۀ دَ خاطره لويه ميلمستيا کوی.

ـ خدائ زوئ هغه شپون دے څوک چې ورک شوی لټوی (لوقا ۱۵: ۴).

ـ خدائ روح القدس په نوی ايمان راوړونکو مهر لګوی (افسيان ۱: ۱۳).

## ه- په تعلق کښې

ـ خدائ پلار دَ رفاقت دعوت ورکوی (افسيان ۲: ۱۸).

ـ خدائ زوئ پُخلا کول کوی (دويم کورنتيان ۵: ۱۹).

ـ خدائ روح القدس دا پُخلا کول اؤ رفاقت په عمل کښې راولی (افسيان ۲: ۱۸).

## و- په دعا کښې

ـ خدائ پلار زارئ منتونه اؤ درخواستونه قبلوی (يوحنا ۱۲: ۲۳).

ـ خدائ زوئ هغه ذات دے دَ چا په نوم چې مونږ دعا غواړو (يوحنا ۱۲: ۲۳).

ـ خدائ پاک روح په دعاګانو کښې زمونږ رهنمائی کوی (روميان ۸: ۲۶).

## ز- په جلال کښې

ـ خدائ پلار- په آخر کښې به دَ زرګونو کالو بادشاهی خدائ پلار ته حواله شی (اول کورنتیان **۱۵**: **۲۴**).

ـ خدائ زوئ هغه ذات دے چې زمونږ دَ بدن فانی شکل به بدل کړی اؤ دَ خپل ځان په شان به یې جوړ کړی (فیلپیان **۳**: **۲۱**).

ـ خدائ روح القدس مونږ له دعوت راکوی (مکاشفه **۲۲**: **۱۷**).

## ح- په نوی تخلیق کښې

ـ خدائ پلار په آسمان کښې نوې نوم لیکی (لوقا **۱۰**: **۲۰**).

ـ خدائ زوئ دَ خپلې قیمتی وینې په وسیله ګناه وینځی (افسیان **۱**: **۷**).

ـ خدائ روح القدس دَ نوی پیدا ایښت اؤ بدلون معجزه کوی (یوحنا **۳**: **۳**- **۲**).

## ۴- تثلیث اؤ دَ خدائ صفتونه

| | صفت | خدائ پلار | خدائ زوئ | خدائ روح القدس |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ازلی | زبور ۹۰: ۲ | مکاشفه ۱: ۸، ۱۷ | عبرانیان ۹: ۱۴ |
| ۲ | قادرِ مطلق | متی ۲۲: ۱۴ | دویم کورنتیان ۱۲: ۹ | رومیان ۱۵: ۱۸ |
| ۳ | دَ کُل جهان علم لرونکے | یرمیاه ۱۷: ۱۰ | مکاشفه ۲: ۲۳ | اول کورنتیان ۲: ۱۱ |
| ۴ | هر ځائ موجود | یرمیاه ۲۳: ۲۴ | متی ۲۰: ۱۸ | زبور ۱۳۹: ۷ |
| ۵ | پاکوالې | مکاشفه ۱۵: ۴ | اعمال ۳: ۱۴ | لوقا ۱: ۱۵ |
| ۶ | ربښتینوالی/ صداقت | یوحنا ۷: ۲۸ | مکاشفه ۳: ۷ | اول یوحنا ۵: ۷ |
| ۷ | مهربانه/ رحیم | رومیان ۲: ۴ | عبرانیان۲: ۱۷ | نحمیاه ۹: ۲۰ |
| ۸ | شراکت | اول یوحنا ۱: ۳ | اول یوحنا ۱: ۳ | دویم کورنتیان ۱۳: ۱۴ |

## خُلاصه

کۀ چرې تاسو دَ تثلیث دَ وحدانیت په مشکله اؤ پیچیده مسئله باندې نۀ پوهیږئ نو مۀ حیرانیږئ اؤ مۀ پریشانه کیږئ.

ځوک چې دَ تثلیث په کامل طور سره دَ پیژندلو کوشش کوی، نو هغه به دَ خپلو دماغو نه خلاص شی. خو ځوک چې دَ تثلیث نه انکار کوی، نو هغه به دَ خپل روح نه خلاص شی." لنډسل اؤ وډبرج

دَ تثليث وحدانيت يو راز دے، اؤ تر څو چې مونږ په جلال کښې دَ مالک خدائ سره نۀ يو ملاؤ شوی نو دا به هم داسې راز وی. خو دَ دې مطلب بالکل دا نۀ دے چې مونږ په دې ايمان نۀ شو لرلے. مونږ له پکار دی چې په دې ايمان ولرو.

خدائ پاک زمونږ نه بالکل مختلف دے. هغه روح دے اؤ مونږ انسانان يو.

زما دا ايمان دے چې زمونږ دَ تثليث په وحدانيت باندې ايمان لرلو سره دَ خدائ پاک عزت کيږی اؤ دې سره هغه خوشحاليږی.

انسان هم دَ دريوؤ جزونو واله ذات دے، چې په روح، بدن اؤ ساه باندې مشتمل دے. دا ځکه چې مونږ دَ خدائ پاک په شکل اؤ صورت جوړ کړے شوی يو.

راځئ چې مونږ دې عظيم خدائ پاک ته په سجده شو. دَ هغۀ عبادت وکړو ځکه چې هغه زمونږ نه ډير غوره اؤ افضل دے.

راځئ چې مونږ دَ تثليث دَ هر يو نوم يعنې، دَ پلار، زوئ اؤ روح القدس دَ دې ټولو خبرو دَ پاره شکر وکړو چې هغوئ په ذاتی طور زمونږ دَ پاره کړی دی.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۱- دَ متی ۳: ۱۳- ۱۷ نه دا څنګه ثابتيږی چې خدائ دَ تثليث خدائ دے؟

۳۲- دَ تثليث په ثبوت کښې دوه نورې حوالې پيش کړئ.

۳۳- په کلامِ مقدس کښې دَ تثليث دَ وحدانيت په حقله اولنئ اشاره چرته ملاويږی؟

۳۴- دَ تثليث دَ وحدانيت په حقله درې مثالونه ورکړئ.

۳۵- په تخليق کښې دَ تثليث وحدانيت څنګه کار کولو؟

۳۶- په کفاره کښې دَ تثليث وحدانيت څنګه کار کولو؟

۳۷- په خلاصون کښې دَ تثليث وحدانيت څنګه کار کولو؟

۳۸- په دعا کښې دَ تثليث وحدانيت څنګه کار کوی؟

۳۹- دَ ګناه ګار په نوی پيدايښت کښې دَ تثليث وحدانيت څنګه کار کوی؟

## ۴۰- دَ تثليث په وحدانيت باندې پوره طور سره پوهيدل ولې ممکن نۀ دی؟

## پنځم سبق

# دَ خدائ نومونه- دَ خدائ پلاروالے- دَ خدائ خاموشی

## پیژندګلو

* مونږ دَ خدائ پاک په وجود، دَ هغهٔ په فطرت اؤ دَ هغهٔ په وحدانیت باندې غور کړے دے.
* په بائبل مقدس کښې نومونه خاص اهمیت لری. ډیر قومونه دَ نومونو اهمیت نه ناخبره دی، خاص طور باندې مغربی قومونه.
* دَ خدائ پاک دَ نومونو مطالعې کولو سره مونږ دَ خدائ پاک په باره کښې ډیرې خبرې ازده کولے شو.

## ۱- دَ خدائ نومونه

دَ خدائ نومونه په دریوؤ صورتونو کښې ملاویږی. (۱) واحد یا بنیادی (۲) دَ ایل سره مُرکب (۳) دَ یهواه سره مُرکب.

(۱) واحد یا بنیادی: دَ یو لفظ نومونه: ایل- اِله- الوهیم- یهواه- ادون- ادونائی- خدائ، مالک خدائ.

(۲) ایل سره مُرکب: په عبرانئ کښې چې کوم نومونه ایل سره راځی، نو دَ هغې پښتو ترجمه دا ده. قادرِ مطلق- دَ ټولو نه غوره اؤ افضل خدائ- ازلی اؤ ابدی خدائ.

(۳) دغه شان کوم نومونه چې دَ یهواه سره مرکب دی نو دَ هغې ترجمه دا ده: مالک خدائ- یهواه- غیرفانی خدائ وغیره.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (۱) | اِلوهیم | پیدایښت ۲: ۴ | هغه چې قادر دے | هغه چې تخلیق کوی |
| (۲) | اِیل ایلیون | پیدایښت۱۴: ۲۲ | هغه چې دَ ټولو نه غوره دے | هغه چې مالک دے |
| (۳) | اِدُونائی | پیدایښت ۱۵: ۲ | هغه چې حاکم دے | مالک خدائ زمونږ خدائ |
| (۴) | اِیل اولام | پیدایښت ۲۱: ۳۳ | هغه چې زورور دے | مالک خدائ چې څرګندوی |
| (۵) | یَری | پیدایښت ۲۲: ۱۴ | هغه چې خلاصوی | مالک خدائ چې ورکوی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (۶) | روفی | هجرت ۱۵: ۲۶ | هغه چې شفا ورکوی | مالک خدائ چې شفا ورکوی |
| (۷) | نِسی | هجرت ۱۷: ۱۵ | هغه چې زمونږ دَ پاره جنگ کوی | مالک خدائ زمونږ جَنډه |
| (۸) | یکادیه | هجرت ۳۱: ۱۳ | هغه چې پاکوالے دے | مالک خدائ چې مونږ پاکوی |
| (۹) | شالوم | قاضیان ۶: ۲۴ | هغه چې صُلح ورکوی | مالک خدائ زمونږ جَنډه |
| (۱۰) | سباؤت | ۱ سموئیل ۱: ۳ | هغه چې ملکیت لری | مالک خدائ دَ فوجونو رب |
| (۱۱) | صدقنو | یرمیاه ۲۳: ۶ | هغه چې صادق کوی | مالک خدائ زمونږ صداقت |
| (۱۲) | شامه | حزقی ایل ۴۸: ۳۵ | هغه چې موجود دے | مالک خدائ نزدې دے |
| (۱۳) | ایلیون | زبور ۷: ۱۷ | هغه چې برکت ورکوی | مالک خدائ چې برکت ورکوی |
| (۱۴) | رَؤئی | زبور ۲۳: ۱ | هغه چې خیال ساتی | مالک خدائ زمونږ شپون دے |

## ۲- دَ خدائ پلار والے

"اے په آسمان کښې زمونږ پلاره" (متی ۶: ۹). دا دَ خدائ پاک په حقله زمونږ دَ ټولو نه دَ خوښې اؤ دَ خوشحالئ نه ډک خیال دے.

بُت پرسته مذهبونه داسې خدائ پاک نۀ پیژنی چې مینې کولو واله آسمانی پلار وی.

بُت پرسته مذهبونه مالک خدائ پاک دَ یو داسې ذات په طور پیش کوی چې په قَد قامت شکل و صورت، کښې ډیر غټ، ویرووونکې، ظالم اؤ خطرناک دے چې مونږ له ترې ویریدل پکار دی.

بائبل مقدس دَ خدائ پاک دا تصویر پیش کوی چې هغه مینه کوونکے، همدرد، ملگرے، اؤ تسلی ورکوونکے دے. هغۀ ته رسیدل ممکن دی.

اؤ خلاصوؤنکی داسې دعا کول ښودلی دی چې "اے زمونږ پلاره....." دا دَ خدائ پاک یو نوې مکاشفه ده.

### خدائ پاک په دوؤ طریقو سره پلار څرگند یږی.

ا- هغه زمونږ دَ مالک عیسیٰ مسیح پلار دے (یوحنا ۵: ۱۷، ۱: ۱۴).

ب- هغه دَ هغوئ هم پلار دے څوک چې په مالک عیسیٰ مسیح ایمان راوړی (یوحنا ۱: ۱۲) "خو کومو خلقو چې هغه قبول کړو نو هغوئ ته یې دا حق ورکړو چې دَ خدائ اولاد شی."

یهودیان خدائ پاک قومی لحاظ سره یا دَ شاعرئ لحاظ سره خپل پلار گڼی.

(۱) دَ شاعرئ په انداز کښې: زبور **۶۸: ۵** "مالک خدائ په خپل مقدس کور کښې دَ يتيمانو پلار اؤ دَ کونډو مدد ګار دے."

(۲) قومی لحاظ سره: هجرت **۴: ۲۲** "تهٔ فرعون ته ووايه چې مالک خدائ داسې فرمائی چې اسرائيل زما زوئ بلکه زما مشر زوئ دے."

بنی اسرائيلو ته دَ زوئ والی ذاتی شعور نهٔ وو، لکه چې "خدائ پاک زما پلار دے" کښې معلوميږی.

نوې منطق دا دليل ورکوی چې "خدائ پاک زما پلار دے اؤ زما پلار به ما له نقصان نهٔ راکوی. په دې وجه زهٔ به خپله مرضی کوم. خورم، څښکم اؤ خوشحاله به اوسم اؤ هغه به تر آخره پورې په ما مهربان وی."

يوحنا ۸: **۴۴**- عيسیٰ مسيح يهوديانو ته وفرمائيل "ستاسو پلار ابليس دے اؤ تاسو دَ پلار په خوښه عمل کوئ."

خدائ پاک دَ ټولو خالق خو دے، خو صرف دَ هغه خلقو پلار دے څوک چې دَ هغهٔ دَ کورنئ دی.

دويم کورنتيان ۲: ۱۷، ۱۸ "دَ دې دَ پاره مالک وائی چې دَ هغوئ نه راوځئ اؤ هغوئ پريږدئ اؤ ناپاکو څيزونو ته لاس مهٔ وروړئ، نو زهٔ به تاسو قبول کړم. اؤ زهٔ به ستاسو پلار يم اؤ تاسو به زما زامن اؤ لوڼه يئ. دا دَ مالک قادرِ مطلق وينا ده."

دَ پلار په طور هغه خپلو زامنو له ژوند ورکوی. دَ نوی پيدا ايښت نه بغير دَ هغهٔ زامن جوړيدل ممکن نهٔ دی.

خدائ پاک پلار دے نو په دې وجه هغه دَ خپلو زامنو سره مينه کوی، يعنې هغوئ سره څوک چې دَ خدائ پاک په کورنئ کښې شامل دی.

دا تعلق يعنې دَ پلار اؤ زوئ تعلق، دَ خدمت دَ پاره حقيقی اؤ مثالی بنياد پيش کوی. دا دَ مالک اؤ غلام تعلق نهٔ دے.

هغه دَ يو پلار په حيثيت زمونږ دعاګانې اؤری اؤ دَ هغې جواب راکوی. هغه دَ انسانی پلار په شان زمونږ درخواستونو ته ګوری چې کوم يو قبول کړی اؤ کوم يو قبول نهٔ کړی.

## ۳- دَ خدائ پاک خاموشی

دَ مصيبت په وخت خلق داسې دليلونه ورکوی چې "کۀ چرې خدائ پاک دَ مينې کولو واله پلار دے نو هغه چپ ولې دے؟ هغۀ دا مصيبت ولې راوستلو؟ هغۀ دا مصيبت ولې منع نۀ کړو؟

خدائ پاک دَ تباهئ نه ډکې دهماکې، وژونکې حادثې، طوفانونه، جنګونه اؤ سيلابونه ولې نۀ منع کوی؟

دَ خدائ پاک خاموشئ ته کتلو سره دَ خدائ پاک نه منکر خلق، چې دَ خدائ پاک دَ وجود نه انکار کوی هغوئ دا دليل ورکوی چې خدائ پاک هډو موجود نۀ دے.

ايوب ۲۳: ۳، ۴ "افسوس چې ما ته معلومه وه چې هغه ما ته چرته ملاويدے شی چې زۀ بالکل دَ هغۀ دَ استوګنې ځائ ته رسيدلے وم. ما به خپله معامله دَ هغۀ په حضورئ کښې پيش کړې وه اؤ خپله خُله به مې دَ دليلونو نه ډکه کړې وه."

زبور ۲۸: ۱ "اے مالکه خدايه! زۀ به تا له آواز درکوم. اے زما ګټه! تۀ زما طرف ته خپل غوږونه مۀ بندوه. هسې نه چې داسې وشی چې تۀ ما له جواب نۀ راکوې اؤ زۀ دَ هغوئ په شان جوړ شم څوک چې دوزخ ته ځی."

انسانانو دَ دې پخوانئ مسئلې ډير جوابونه لټولی دی:

(۱) اِلٰه پرستی: خدائ يو ښۀ خدائ دے، خو هغۀ سره دومره وخت نشته چې دَ ژوند دَ تفصيلونو خيال وساتی. خدائ پاک دَ ژوندون دَ معاملو صرف يو تماشه کوؤنکے دے.

(۲) دَ خدائ نه انکار: خاموشی دا ظاهروی چې خدائ پاک صرف يو خيالی څيز يا يو پيری په شان ذات دے. ژوندے خدائ خو ضرور خبرې کوی.

(۳) ماده پرستی: هيڅ قسمه ذاتی خدائ نشته. په دنيا باندې دَ اُصولو اؤ قانون حکمرانی ده. دَ دنياوی څيزونو د عبادت کوونکو تعليم دا دے چې مونږ دَ يو ړَندې حادثې په رحم اؤ کرم باندې يو. دَ خدائ پاک اؤ بائبل مقدس رد

کولو یا دَ دې نه انکار کولو سره انسان صرف په تیارو کښې غورزیږی، نو بیا خدائ پاک چپ ولې دے؟ ډیر منفی جوابونه زمونږ مخې ته راځی.

هغه پرواه نهٔ کوی. **عیسیٰ مسیح په سولئ باندې دَ ډیر درد اؤ تکلیف په دوران کښې وائی، "اے زما خدایه! اے زما خدایه!" خدائ پاک زمونږ دومره خیال وساتلو چې زمونږ سزا یې هغهٔ له ورکړه.**

هغه نهٔ ګوری. **دا دَ هغه تصور اؤ خیال خلاف خبره ده چې خدائ پاک هر ځائ کښې موجود دے.**

هغه مینه نهٔ کوی. **کوم پلار چې خپل اولاد سره ربښتینې مینه کوی، نو هغه ورله سزا هم ورکوی. عبرانیان ۱۲: ۷، ۸.**

دَ هغهٔ اراده نهٔ وی. **هغه خو انجام ته دَ اول نه وګوری، اؤ زمونږ دَ ټول ژوند دَ پاره منصوبه جوړه کړی. کهٔ چرې دا څلور واړه منفی جوابونه غلط وی نو بیا صحیح جواب څهٔ دے؟**

(۱) دَ عام پوهې نظریه: ډیر مشکلات زمونږ دَ هغه ګناهونو نتیجه ده کوم چې مونږ ته معلوم وی. دَ دې ټوله ذمه واری دَ انسان په بې پرواهئ، ځان ناغرضه کولو اؤ په بې وقوفئ باندې ده، مثال په طور حادثې. ګلتیان ۶: ۷ "څوک چې سرے څهٔ کری نو هغه به ریبی."

(۲) دَ تعظیم نظریه: آیا دا مناسب ده چې زما ورکوټې شان ذهن دَ قادرِ مطلق خدائ پاک په باره کښې پوره وضاحت وکړی؟ یشعیاه **۵۵**: ۸، ۹. په دې کښې هیڅ شک نشته چې خدائ پاک زما دَ ژوند دَ پاره کومه عظیمه منصوبه جوړه کړې ده نو په هغې کښې خفګان، غم، درد اؤ تکلیف هم شامل دی.

(۳) دَ فلسفي نظريه: انسان ته چې دَ كار كولو آزادی ملاؤ ده نو په دې كښې هغهٔ دَ كارونو نتيجه هم شامله ده. دَ انسانی آزادئ مطلب دے انسانی ذمه وارى. دَ حرامكارئ نه به جسمانى بيمارئ پيدا كيږى.

(۴) دَ مينې كولو نظريه: خدائ پاک يو غيرت مند مينه كوونكې خدائ دے. هجرت ۲۰: ۵ "زهٔ مالک خدائ ستا غيرت مند خدائ يم." هغه غواړى چې مونږ ټولې خبرې پريږدو اؤ صرف هغهٔ پسې شو.

(۵) دَ زمانې (دور) نظريه: دا زمانه دَ انسان زمانه ده. دَ ګناه زمانه ده. دَ فضل دور دے، چې په كښې خدائ پاک انسان له بلنه وركوى چې "واپس راوګرځه". خو دَ عدالت ورځ راروانه ده. هغه وخت به دَ خدائ پاک خاموشی په يو اوچت آواز سره ختمه شى. خدائ پاک به دَ انسان نه حساب اخلى. هغه به دَ دې خبرې جائزه اخلى چې انسان سره اؤ خدائ پاک سره زمونږ تعلق څنګه وو.

(٦) دَ ايمان نظريه: يوحنا ۱۳: ۷ "عيسىٰ جواب وركړو، څهٔ چې زهٔ اوس كوم، تهٔ اوس په دې نهٔ پوهيږې خو وروستو به پوهه شې." مالک خدائ پاک فرمائى چې زهٔ په صبر سره انتظار وكړم.

(۷) زما دَ ايمان آزميښت: اول پطروس ۱: ۷ "اؤ دا ځكه دے چې ستاسو آزمائيلې شوې ايمان خالص شى، كوم ايمان چې په اُور آزمائيلې شوؤ فانى سرو زرو نه هم زيات قيمتى دے، اؤ چې دَ عيسىٰ مسيح دَ ښكاره كيدو په وخت دَ ستاينې اؤ جلال اؤ دَ عزت سبب وګرځى."

(۸) دَ خدائ پاک زورور كارونه: يوحنا ۹: ۳ "عيسىٰ جواب وركړو، خبره دا نهٔ ده چې ګنى دهٔ يا دَ دهٔ مور پلار ګناه كړې ده، هغه ړوند ځكه پيدا شوې وو چې دَ خدائ قُدرت پرې ښكاره كړے شى." دا دَ هغه سړى قيصه ده چې پيدائشى ړوند وو. كيدے شى چې زما درد اؤ تكليف زما دَ ګناه په وجه نهٔ وى، بلكه دَ دې مقصد بل څه له بركت وركول وى! صرف هغه خلق نورو له تسلى اؤ حوصله وركوى څوک چې په خپله دَ غمونو اؤ تكليفونو نه تير شوى وى.

## خُلاصه

کۀ چرې خدائ پاک چپ هم وی نو بیا هم دَ هغۀ حضوری یادوئ اؤ دې سره خپل ژوند تیروئ.

ښۀ سوچ کول ازده کړئ. زۀ خدائ پاک پيژنم. ما نن هغۀ سره خبرې کړې دی. هغۀ دَ خپل قیمتی کلام په وسیله ما سره خبرې وکړې. هغۀ ما له زما دَ دعاګانو جواب راکړو اؤ ماسره يې خبرې وکړې.

کوم علم چې مونږ له راکړې شوې دے نو دَ هغې په مطابق خپل ژوند تير کړئ. خبردارے: رومیان ۱: ۲۱ "هغوئ خدائ پيژندلو خو بیا هم دَ خدائ دَ تمجید نه يې انکار کولو اؤ شکر ګزار کيدل نه." دَ دې نه وروستو آيتونه يعني دَ ۲۴ نه تر ۳۲ پورې ولولئ.

دَ متی ۱۱: ۲۷ آیت دا ښودنه کوی چې دَ پلار ښکاره کول دَ زوئ کار دے. زمونږ دَ هغۀ په حضورئ کښې دَ سوچ اؤ فکر کولو وخت هغه موقعه وی چې په کښې مونږ مالک خدائ پاک سره خپله پيژندګلو اؤ تعلق نور هم مضبوطولے شو.

زبور ۴۶: ۱۰ "چپ شه اؤ په دې پوهه شه چې زۀ خدائ يم."

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۱- دَ خدائ پاک درې نومونه اؤ دَ هغې معنې بیان کړئ.

۴۲- دَ خدائ پاک په حقله زمونږ دَ ټولو نه ښۀ تصور یا خیال څۀ دے؟

۴۳- خدائ پاک دَ پلار په طور پيژندلو اؤ هغۀ سره دَ يو ښۀ تعلق قائمولو دَ پاره قیمت څۀ دے؟

۴۴- کۀ چرې خدائ پاک په ظاهره چپ وی نو آیا دَ دې مطلب دے چې هغه هډو موجود نۀ دے؟ یا هغه دَ انسانی معاملو نه ناخبره دے؟ دَ خپل جواب وجه بیان کړئ.

۴۵- دَ اِله پرستئ نظریه څۀ ده؟

۴۶- دَ خدائ پاک دَ خاموشئ په حقله دَ انسان درې غلط جوابونه بیان کړئ.

۴۷- دَ خدائ پاک دَ خاموشئ په حقله دَ ماده پرستئ تعلیم څۀ دے؟

۴۸- دَ خدائ پاک دَ خاموشئ ممکن وجې بیان کړئ.

۴۹- په ما کښې څنګه دَ خدائ پاک یو ژور احساس پیدا کیدے شی؟

۵۰- خدائ پاک سره خپل تعلق نور هم مضبوطولو دَ پاره کوم وخت ډیر مناسب وی.

## شپږم سبق

# دَ مالک خدائ ویره

## پیژندګلو

* معلومیږی چې ویره دوه قسمه ده. غلطه ویره اؤ صحیح ویره.
* دَ بائبل مقدس یو قیمتی پیغام دا دے چې "ویره مۀ کوه." دا لفظونه تقریباً پنځوس ځله استعمال شوی دی. مثلاً پیدایښت ۱۵: ۱، ۲۶: ۲۴، هجرت ۱۴: ۱۳، یشعیاه ۴۳: ۱، لوقا ۲: ۱۰، ۱۲: ۳۲، اعمال ۲۷: ۲۴، مکاشفه ۱: ۱۷، وغیره.
* ځنې وخت هم دَ دې مطلب ورکوؤنکی ځنې بدل شان لفظونه استعمال شوی دی، مثلاً دَ عیسیٰ مسیح لفظونه " زۀ یم. ویره مۀ کوئ". یوحنا ٦: ۲۰.
* خو دا سبق دَ بل قسم ویرې په حقله دے، یعنې دَ خدائ پاک دَ ویرې په حقله. په مونږ ټولو کښې دا ویره پکار ده.
* ایوب ۲۸:۲۸ "هغۀ انسان ته وفرمائیل ګوره دَ مالک ویره حکمت دے."
* زبور ۱۹: ۹ "دَ مالک خدائ ویره پاکه ده. هغه به تر ابده پورې قائمه وی."
* دویم سموئیل ۲۳: ۳ "یو دے چې په صداقت سره په خلقو حکومت کوی. ځوک چې دَ خدائ پاک ویرې سره حکومت کوی."
* په چا کښې چې دا ویره نۀ وی نو بیا صرف ګناه پیدا کیږی. بیا په آخر کښې حقیقت ښکاره شی اؤ نتیجه یې ویرونکې وی.

* پیدایښت ۲۰: ۱۱ ابراهیم ګناه وکړه ځکه چې هغهٔ وفرمائیل "زما خیال وو چې دَ خدائ ویره به په دې ځائ کښې بالکل نهٔ وی". هغهٔ سوچ وکړو چې زهٔ دَ خدائ پاک دَ ویرې نه ډیر لرې یم اؤ دَ خدائ دَ ویرې نه آزاد یم.

* رومیان ۳: ۱۸ "دَ خدائ ویره دَ هغوئ په خیال کښې نهٔ راځی." دا بالکل دَ بدعمله انسانانو تصویر دے.

## ۱- "دَ مالک خدائ دَ ویرې مطلب"

مثالونه ۱۴: ۲۲-۲۷

آیا دَ دې نه مطلب جسمانی ویره ده، چې تهٔ دَ قادرِ مطلق خدائ په وړاندې ولاړ یې اؤ دَ ویرې نه رپیږې؟

چا دَ دې مطلب داسې بیان کړے دے "دَ خدائ پاک عزت کول اؤ په هغهٔ بروسه کول اؤ دَ بدئ نه د نفرت کولو نوم دَ خدائ پاک نه ویره ده."

دَ مالک خدائ دَ ویرې نه مطلب دے پرهیزګاری اؤ تقویٰ. اؤ دَ دې نه دَ خدائ پاک په حقله زمونږ دَ مذهبی فرض یا ذمه واریٔ بیان کیږی.

استثنا ۴: ۱۰ "قوم زما په حضوریٔ کښې راجمع کړئ اؤ زهٔ به هغوئ ته خپلې خبرې وکړم دَ پاره دَ دې چې هغوئ دا زده کړی چې تر څو پورې په دې زمکه ژوندی وی نو زما ویره دې په هغوئ کښې وی."

دَ دې نه دا معلومیږی چې دا ویره اګرچه ضروری ده خو په وراثت کښې مونږ ته نهٔ ده ملاؤ شوې. دا ضروری ده چې دا ویره اولاد ته اؤ قوم ته وښودلې شی چې نسل درنسل دَ خدائ پاک نه ویریدل زده کړی.

استثنا ۶: ۱۳ "تهٔ دَ مالک خدائ خپل خدائ نه ویریږه اؤ دَ هغهٔ عبادت کوه."

واعظ ۱۲: ۱۳ "کلام دا دے چې دَ خدائ نه ویریږه اؤ دَ هغهٔ په حکمونو عمل کوه...."

## ۲- هغه خبرې یا څیزونه کومو نه چې مونږ له ویره نهٔ ده پکار.

مونږ له دَ بُتانو یا غیر معبودانو اؤ دیوی یا دیوتاګانو نه ویره نهٔ ده پکار. دویم بادشاهان ۱۷: ۳۸ "هغه لوظ کوم چې ما تاسو سره کړے دے هغه مهٔ هیروئ اؤ مهٔ تاسو دَ غیرو معبودانو نه ویره کوئ."
مونږ له دَ نورو انسانانو نه ویره نهٔ ده پکار. اول سموئیل ۱۵: ۲۴، دَ ساول غلطی "زهٔ دَ خلقو نه وویریدم."
مثالونه ۲۹: ۲۵ "دَ انسان ویره پانسی ده." مونږ له صرف دَ خدائ پاک نه ویره پکار ده.
مونږ له دَ دنیاوی آفتونو نه هم ویره نهٔ ده پکار، ځکه چې دَ دې نه دا څرګندیږی چې دَ خلاصوؤنکی بیا راتلل نزدې دی. لوقا ۲۱: ۲۵- ۲۸ "په خلقو کښې به په زمکه دَ پیښیدونکو واقعاتو دَ ویرې له کبله په انسان کښې ساه نهٔ پاتې کیږی..... خپل سرونه اوچت کړئ...."
حقیقی اؤ رښتینے ایماندار دَ راتلونکی عدالت نه نهٔ ویریږی. عبرانیان ۱۰: ۲۷ "خو دَ عدالت یو ویروونکې انتظار اؤ غضبناک اور پاتې دے کوم به چې دَ خدائ مخالفان وسیزی."
مونږ له "دَ ویرې" نه هم ویریدل نهٔ دی پکار. ایوب ۱۵: ۲۴ "مصیبت اؤ سخت تکلیف هغه (چا چې خلاصون نهٔ وی موندلې) ویروی." خو ایماندار خپله ټوله دنیاوی ویره په خدائ پاک سپاری.
اول پطروس ۵: ۷ "خپل ټول فکر په هغهٔ واچوئ........"
صرف یوه ویره باقی پاتې کیږی، اؤ هغه دَ مالک خدائ پاک ویره ده.

## ۳- دَ خدائ پاک دَ ویرې حکم

استثنا ۱۳: ۴ "تهٔ دَ مالک خدائ خپل خدائ پاک پیروی کوه اؤ دَ هغهٔ نه ویریږه اؤ دَ هغهٔ په حکمونو عمل کوه اؤ دَ هغهٔ خبره اؤره. تهٔ هم دَ هغهٔ عبادت کوه اؤ هم هغهٔ پسې روان یه."
اول پطروس ۲: ۱۷ "دَ ټولو عزت کوئ، دَ ایماندارانو سره مینه لرئ، دَ خدائ نه ویریږئ اؤ دَ بادشاه عزت کوئ."

زبور ۲۲: ۲۳ "اے دَ مالک خدائ نه ویریدونکو! دَ هغۀ عبادت کوئ."
دَ مالک عیسیٰ مسیح مریدانو یوه ډیره ښۀ نمونه پیش کړه اعمال ۹: ۳۱ جماعت "دَ مالک خدائ په ویره ..... چلیږی اؤ وده کوی."
کُرنیلس داسې کس وو چې دَ خدائ نه به ویریدو. اعمال ۱۰: ۲ "هغه دینداره وو اؤ سره دَ خپلې ټولې کورنئ دَ خدائ پاک نه ویریدو." نو په دې کښې دَ حیرانتیا څۀ خبره ده چې خدائ پاک هغۀ له زیرے راولیږلو.
دویم کورنتیان ۷: ۱ دَ مالک خدائ ویره مونږ له دَ خیال اؤ باخبره ژوند تیرولو تعلیم راکوی. "نو راځئ چې مونږ خپل ځانونه دَ هر قسمه جسمانی اؤ روحانی ناپاکو نه پاک کړو. اؤ دَ خدائ دَ ویرې نه خپل پاکوالې کمال ته ورسوؤ." دَ خدائ پاک ویره زمونږ په ژوندونو کښې یو زبردست حرکت ثابتیږی.

## ۴- دَ خدائ پاک دَ ویرې بیان

(۱) دا دَ بدئ نه نفرت دے. مثالونه ۸: ۱۳ "دَ خدائ ویره دَ بدئ نه نفرت دے."

(۲) دا حکمت دے. زبور ۱۱۱: ۱۰ "دَ خدائ ویره دَ حکمت شروع ده."

(۳) دا خزانه ده. مثالونه ۱۵: ۱٦ "لږ چې دَ خدائ دَ ویرې سره وی نو دَ هغه ډیر هر څۀ نه غوره دی چې دَ خفګان سره وی." یشعیاه ۳۳: ٦ "دَ خدائ ویره دَ هغۀ (ایماندار) خزانه ده."

(۴) دا دَ ژوندون سرچینه ده. مثالونه ۱۴: ۲۷ "دَ مالک خدائ ویره دَ ژوندون چینه ده."

(۵) دا پاکه ده. زبور ۱۹: ۹ "دَ مالک خدائ ویره پاکه ده." هغه مونږ پاکوی.

(٦) دا تر ابده پورې قائمه وی. زبور ۱۹: ۹ "دَ مالک خدائ ویره پاکه ده. دا تل تر تله قائمه وی."

(۷) دا زړۀ سواندې ده. عبرانیان ۱۲: ۲۸ " نو ځکه دې مونږ دَ هغۀ فضل ونیسو، نو مونږ دې دَ خدائ په ویرې اؤ زړۀ سواندی سره دَ خدائ عبادت وکړو ځکه چې دا هغه خوښوی." په زړۀ سواندئ اؤ ویره کښې ډیر فرق دے.

## ۵- دَ خدائ دَ ویرې وجې

(۱) دَ خدائ پاک دَ پاکوالی په وجه مونږ دَ هغهٔ نه ویریږو. مکاشفه ۱۵: ۴ "اے مالکه خدایه څوک به ویره ونهٔ کړی اؤ ستا دَ نوم لوئی به ونهٔ کړی؟ ځکه چې تهٔ یواځې پاک یې."

(۲) دَ خدائ دَ لویئ په وجه مونږ دَ هغهٔ نه ویریږو. استثنا ۱۰: ۱۲- ۱۷ "بیا اے اسرائیلو ! ستاسو نه ستاسو مالک خدائ نور څهٔ غواړی چې تاسو دَ هغهٔ نه وویریږئ....."

(۳) دَ خدائ پاک دَ مهربانئ په وجه مونږ دَ هغهٔ نه ویریږو. اول سموئیل ۱۲: ۲۴ "صرف دومره دې وی چې تاسو دَ مالک خدائ نه وویریږئ اؤ په پوره زړهٔ اؤ رښتینوالئ سره دَ هغهٔ عبادت وکړئ، ځکه چې سوچ وکړئ هغهٔ ستاسو دَ پاره څومره لوئ لوئ کارونه کړی دی."

(۴) دَ خدائ پاک دَ معافئ په وجه مونږ دَ هغهٔ نه ویریږو. زبور ۱۳: ۴ "خو بخښنه ستا په لاس کښې ده، چې خلق ستا نه وویریږی."

(۵) دَ خدائ پاک دَ عجیبه کارونو په وجه مونږ دَ هغهٔ نه ویریږو. یشوع ۴: ۲۳، ۲۴. یشوع دَ دې ټولو کارونو جائزه اخلی.

(٦) دَ راتلونکی عدالت په وجه مونږ دَ خدائ پاک نه ویریږو. مکاشفه ۱۴: ۷ "هغهٔ په زوره چغې کړې چې، دَ خدائ نه ویریږئ اؤ دَ هغهٔ ثنا وایئ ځکه چې هغه وخت راغلے دے چې هغه عدالت کوی."

## ٦- دَ خدائ پاک ویره ضروری ده

(۱) دَ سجدې کولو دَ پاره. زبور ۵: ۷ "زهٔ به ستا رُعب منلو سره...... سجده کوم." وګورئ زبور ۸۹: ۷.

(۲) دَ عبادت کولو دَ پاره. زبور ۲: ۱۱ "په ويرې سره دَ مالک خدائ عبادت کوئ. په رپيدو سره خوشحالئ کوئ."

(۳) دَ ګناه نه بچ کيدو دَ پاره. هجرت ۲۰:۲۰ "تاسو ويريږئ مه ځکه چې خدائ پاک دې له راغلې دے چې ستاسو امتحان واخلی اؤ تاسو کښې دَ هغۀ ويره وی چې تاسو ګناه ونۀ کړئ."

(۴) دَ ښۀ حکومت دَ پاره. دويم سموئيل ۲۳: ۳ "يو دے چې په صداقت سره په خلقو حکومت کوی. چې دَ خدائ ويرې سره حکومت کوی." دَ نن سبا په حکومتونو کښې دا ويره نشته.

(۵) دَ عدالت کولو دَ پاره. ( دويم تواريخ ۱۹: ٦- ۹ ).

(٦) په خپل مسيحی ژوند کښې دَ پاکوالی پوره کيدو دَ پاره. ( دويم کورنتيان ۷: ۱ ).

## ۷- دَ مالک خدائ دَ ويرې نتيجې

(۱) دې سره مالک خدائ خوشحاليږی. زبور ۱۴۷: ۱۱ "مالک خدائ دَ هغوئ نه خوشحاليږی څوک چې دَ هغۀ نه ويريږی، اؤ دَ هغوئ نه چې دَ هغۀ دَ شفقت اُميدوار دی." راځئ چې مونږ مالک خدائ له داسې خوشحالی ورکړو.

(۲) دې سره دَ خدائ په بچی باندې دَ هغۀ په ترس اؤ رحم کښې اضافه کيږی. زبور ۱۰۳: ۱۳ "لکه څنګه چې پلار په زامنو ترس کوی نو دغه شان مالک خدائ په هغوئ ترس کوی څوک چې دَ هغۀ نه ويريږی."

(۳) دې سره مونږ دَ خدائ په حضور کښې قبليږو. اعمال ۱۰: ۳۵ "خو په هر قوم کښې څوک چې دَ خدائ نه ويريږی، نو هغه د خدائ خوښيږی." په دې وجه پطروس کرنيليس اؤ دَ هغۀ ملګرو خواته وليږلې شو.

(۴) دې سره دَ خدائ پاک شفقت حاصليږی. زبور ۱۰۳: ۱۷ "دَ خدائ شفقت په هغوئ باندې دَ ازل نه تر ابده پورې دے څوک چې دَ هغۀ نه ويريږی." اے مالکه خدايه! په ما کښې خپله ويره پيدا کړه. لوقا ۱: ۵۰!

(۵) دې سره برکت ملاويږی. زبور ۱۱۲: ۱ "بختور دے هغه کس چې دَ مالک خدائ نه ويريږی."

(٦) دې سره اعتماد حاصليږی. مثالونه ۱۴: ۲٦ "دَ مالک خدائ په ويره کښې پوخ اُميد دے."

(۷) دې سره دَ بدئ نه دَ بچ کيدو توفيق ملاويږی. مثالونه ۱٦: ٦ "خلق دَ مالک خدائ دَ ويرې په وجه دَ بدئ نه منع کيږی." نن سبا دَ خدائ پاک ويره کمه اؤ بدی زياته ده.

(۸) دې سره مسيحی تعلق پيدا کيږی. ملاکی ۳: ۱٦ "بيا زړۀ سواندو په خپلو کښې خبرې وکړې اؤ خدائ پاک په غور سره واؤريدې."

(۹) دې سره دَ انسان په ويره غلبه حاصليږی. يشعياه ۸: ۱۳- ۱۳ "دَ چا نه چې هغوئ ويريږی تاسو مۀ ويريږئ اؤ مۀ ګبراويږئ. تاسو صرف رب الافواج پاک وګڼئ اؤ دَ هغۀ نه ويريږئ."

(۱۰) دې سره دَ دعاګانو جواب ملاويږی. زبور ۱۴۵: ۱۹ "څوک چې دَ هغۀ نه ويريږی نو هغه به دَ هغوئ مُرادونه پوره کوی. هغه به دَ هغوئ فرياد اؤری اؤ هغوئ به بچ کوی."

(۱۱) دې سره عمر زياتيږی. مثالونه ۱۰: ۲۷ "دَ رب ويره عمر زياتوی."

## خُلاصه

راځئ چې دعا وغواړو چې خدائ پاک په مونږ کښې خپله ويره راولی. زبور ۸۲: ۱۱ "اے مالکه خدايه! ما له دَ خپلې لارې تعليم راکړه. زۀ به ستا په صداقت کښې روان يم.

زما په زړۀ کښې يو والے راوله چې زۀ په خپل ژوند کښې ستا دَ نوم ویره راولم." وګورئ مثالونه **۱۵: ۱۲، ۱۹: ۲۳**.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۵۱- "دَ مالک خدائ دَ ویرې" مطلب څۀ دے؟

۵۲- دَ استثنا ۴: ۱۰ نه مونږ دَ خدائ پاک دَ ویرې په حقله څۀ ازده کوؤ.

۵۳- دَ واعظ ۱۲: ۱۳ په مطابق دَ انسان دَ ژوند دوه مقصدونه څۀ دی؟

۵۴- څلور داسې څیزونه بیان کړئ چې دَ هغې نه مونږ له ویره نۀ ده پکار.

۵۵- دَ نوې اؤ زړې لوظنامې نه یوه یوه حواله ورکړئ چې دَ هغې نه دا ثابتیږی چې مونږ له دَ خدائ پاک ویره قبلول پکار دی.

۵۶- دَ مالک خدائ پاک دَ ویرې په حقله اوؤۀ خبرې بیان کړئ.

۵۷- اوؤۀ وجې بیان کړئ چې مونږ له دَ خدائ پاک ویره منل پکار دی.

۵۸- دَ مالک خدائ ویره منل ولې ضروری دی؟

۵۹- دَ مالک خدائ دَ ویرې لس نتیجې بیان کړئ.

۶۰- دَ زبور ۸۶: ۱۱ نه مونږ څۀ سبق زده کوؤ؟

# دَ خدائ دَ زوئ په حقله سبقونه

## اوؤم سبق

## مسیح اؤ دَ هغهٔ پیشن ګویانې

### پیژندګلو

* دَ مسیح دَ پیدایښت نه ډیره موده مخکښې دَ دې پیشن ګویانې شوې وې. پیدایښت ۳: ۱۵.
* عیسیٰ مسیح دَ خبر نه بغیر دنیا ته نهٔ دے راغلے. هغه په هغه وخت کښې راغلو کله چې وخت "پوره شو." (ګلتیان ۴:۴).
* کله چې مونږ په پوره طور سره دَ دې پیشن ګویو مطالعه کوؤ، نو په خدائ پاک زمونږ ایمان مضبوطیږی، چې هغه نهٔ صرف یو بنیادی منصوبه جوړوی، بلکه دَ هغې وارهٔ وارهٔ تفصیلونه هم دَ مخکښې نه تیاروی.
* اؤ کله چې مونږ دا ګورو چې دا وضاحتونه دَ پیشن ګویانو په مطابق په مکمل طور سره پوره شوی دی، نو زمونږ دا ایمان نور هم مضبوطیږی چې پاک کلام الهامی کلام دے، اؤ بائبل مقدس صرف دَ نورو کتابونو مجموعه نهٔ دے کوم چې مختلفو لیکونکو لیکلی وی، بلکه دَ دې لیکونکې یو دے یعنې مالک خدائ پاک.
* دا ناممکنه ده چې ټولې خبرې په حادثاتی طور باندې په وجود کښې راغلې وی. دومره غټه حادثه یا اتفاقی واقعه خو دَ ارتقا دَ نظریې لرونکی په خیال خاطر کښې هم نهٔ راځی.

* روح القدس دَ خدائ اؤلاد له حوصله ورکوی اؤ هغوئ رابيداروی، اؤ هغوئ په خوشحالئ سره پاک کلام قبول کړی اؤ دَ توما رسول سره يوځائ دا آواز کوی "اے زما خدايه! اے زما خدايه!"
* کله چې مونږ په دې پيشن ګويانو نظر اچوؤ کومې چې پوره شوی دی، نو زمونږ ايمان دومره مضبوطيږی چې هغه کله هم تيندک نۀ شی خوړلے.

## ۱- دَ مسيح په حقله پيشن ګويانې چې هغه به دَ کومو خلقو نه، اؤ څنګه راځی

(۱) مسيح به دَ اسرائيل نه راځی. شمير ۲۴: ۱۷- ۱۹ "دَ يعقوب نه به يو ستورے راوځی اؤ دَ اسرائيل نه به يوه امسا ودريږی." مسيح يهودی وو. دَ ابراهيم، اسحاق، يعقوب اؤ دَ داؤد دَ نسل نه وو. (متی ۱:۱- ۱۷).

(۲) عيسیٰ مسيح به دَ داؤد دَ کورنئ اؤ دَ يهوداه دَ قبيلې نه راځی. پيدايښت ۴۹: ۱۰ "دَ يهوداه نه به بادشاهت نۀ شی اغستلے....تر څو چې شيلوه را نۀ شی."
يشعياه ۱۱: ۱ "دَ يسی دَ تنې نه به يوه غوټئ راوځی اؤ دَ هغۀ دَ جرړو نه به يوه ميوه داره څانګه پيدا کيږی."
دا پيشن ګويانې زمونږ په مالک عيسیٰ مسيح کښې پوره شوې
( لوقا ۱: ۳۱- ۳۳ ).

(۳) عيسیٰ مسيح به په بيت لحم کښې پيدا کيږی. ميکاه ۵: ۲ "اے بيت لحم افراتاه! اګرچه تۀ دَ يهوداه په زرګونو کښې شامليدو دَ پاره ورکوټې يې خو بيا هم ستا نه به يو کس راځی اؤ زما په حضور کښې به دَ اسرائيلو بادشاه وی اؤ دَ هغۀ تعلق به دَ تيرې شوې زمانې يعنې پخوانی وخت سره وی."
عيسیٰ مسيح په بيت لحم کښې پيدا شو ( لوقا ۲: ۴- ۷ ).

(۴) عيسیٰ مسيح به دَ پيغلې نه پيدا کيږی. يشعياه ۷: ۱۴ " يوه پيغله به اُميدواره شی اؤ يو زوئ به يې وشی، اؤ هغه به دَ هغۀ نوم عمانوايل کيږدی."

عيسیٰ مسيح دَ يوې پيغلې نه پيدا شو ( متی ۱: ۱۸، ۲۲، ۲۳ ).

(۵) دَ عيسیٰ مسيح دَ راتلو وخت مقرر کړے شو. دانی ايل ۹: ۲۴- ۲۶ "ستا خلقو اؤ ستا مُقدس ښار دَ پاره اؤيا هفتې مقرر کړے شوې چې دَ قصورونو اؤ ګناهونو خاتمه وشی.... اؤ دوه شپيتۀ هفتې وروستو به هغه مسح کړے شوې ووژلې شی."

مسح کړے شوې يعنې عيسیٰ مسيح دَ بيت المقدس دَ دوباره آبادولو نه لس کم پنځۀ سوه کاله پس ووژلې شو. عيسیٰ مسيح بالکل په مقرر کړې شوی وخت په سولئ کړے شو.

(٦) دَ عيسیٰ مسيح دَ راتلو خبر يو وعظ کوؤنکی ورکړو. يشعياه ۴۰: ۳ "په بيابان کښې دَ نعرې وهونکی آواز دے! دَ مالک لار نيغه کړئ. په بيابان کښې زمونږ دَ مالک خدائ دَ پاره لاره هواره کړئ."

دا پيشن ګوئی يحيیٰ بپتسمه ورکوونکی سره پوره شوه ( متی ۳:۳ ).

(۷) عيسیٰ مسيح ( مسيح وعده کړې شوې ) به خدائ وی. د يشعياه ۹: ٦ حيرانوونکې آيت " ......خدائ قادر مطلق..."

مونږ به دَ عيسیٰ مسيح دَ اُلوهيت په سبق کښې زده کوؤ چې مسيح الٰهی ذات دے (يوحنا ۱: ۱۴).

## ۲- دَ عيسیٰ مسيح دَ ژوندون په حقله پيشن گوياني

(۱) هغه به دَ ماشوموالی څهٔ حصه په مصر کښې تيروی. هوسيع ۱۱: ۱ "کله چې اسرائيل لا ماشوم وو نو ما ورسره مينه وکړه اؤ خپل زوئ مې دَ مصر نه راوبللو."

(۲) هغه به تکليفونه تير کړی اؤ دَ گناه کفاره به ورکړی. يشعياه ۵۳: ۴- ٦ دا خبرې عيسیٰ مسيح له پوره کول وو.

دويم کورنتيان ۵: ۲۱ کښې دَ دې پيشن گويئ دَ پوره کيدو بيان ليکلے شوے دے "هغه چا چې گناه نهٔ پيژنده خو خدائ هم هغه زمونږ دَ پاره گناه وگڼلو چې مونږ په هغهٔ کښې دَ خدائ صداقت شو."

(۳) هغه به په خر سُور بيت المقدس ته راځی. ذکرياه ۹:۹ "..... ستا بادشاه ستا خواته راروان دے. هغه صادق دے. اؤ خلاصون دَ هغهٔ په لاس کښې دے. هغه حليم دے اؤ په خر سُور، بلکه په کوچی سُور دے."

دَ متی په ۲۱: ۲- ۵ کښې دَ دې دَ پوره کيدو تفصيل ورکړے شوے دے، اؤ دَ دې يادگيرنه مونږ دَ کجورو دَ اتوار په طور کوؤ.

(۴) په سولئ باندې دَ خپل ژوند ورکولو په دوران به هغهٔ له سرکه ورکړے شی.

زبور ۲۹: ۲۱ "هغوئ دَ خوړلو دَ پاره ما له دَ تريخو سره گډ کړی شراب راکړل اؤ زما دَ تندې ختمولو دَ پاره يې ما له سرکه راکړه." دَ رومی سپاهيانو په وسيله دا پيشن گوئی هم پوره شوه. دَ تفصيل دَ پاره وگورئ متی ۲۷: ۳۴.

(۵) دَ روميانو دَ صليب ورکولو دَ دستور خلاف کار به وشی، يعنې دَ هغهٔ هډوکی به مات نهٔ کړے شی. زبور ۳۴: ۲۰ "هغه دَ هغهٔ ټول هډوکی محفوظ ساتی. دَ هغهٔ يو هډوکې هم مات نهٔ کړے شی."

دَ فسح دَ ګډوری به هم یو هډوکې نهٔ ماتولے کیدو ( هجرت ۱۲: ۴۶ ). په هغه وخت کښې دا رواج وو چې څوک به په سولئ کړې شول نو دَ هغوئ پښې به يې ماتولې، دَ پاره دَ دې چې هغوئ ونهٔ تښتی. خو دَ مسیح په معامله کښې په دې رواج عمل ونهٔ کړے شو. نهٔ دَ هغهٔ پښې اؤ نهٔ يې نور هډوکی مات کړے شول

( یوحنا ۱۹: ۳۳- ۳۶ ).

(٦) خلق به دَ هغهٔ په جامو پچه واچوی. زبور ۲۲: ۱۸ "هغوئ به زما جامې په خپلو کښې ویشی اؤ زما په جامو به پچه اچوی."

دا پیشن ګوئی هم لفظ په لفظ پوره شوه ( متی ۲۷: ۳۵ ).

(۷) دَ ځان ورکولو اؤ مرګ په تکلیف کښې به عیسیٰ مسیح یو څو خبرې کوی. زبور ۲۲: ۱ "اے زما خدایه! اے زما خدایه! تا زهٔ ولې پریښودم؟"

په سولئ باندې په څلورمه خبره کښې دا پیشن ګوئی پوره شوه

( مرقوس ۱۵: ۳۴ ).

(۸) هغه به دَ مړو نه بیا راژوندے شی. زبور ١٦: ۱۰ "تهٔ به زما بدن په قبر کښې نهٔ پریږدې اؤ نهٔ به خپل مقدس خرابیدو ته پریږدې."

اعمال ۲: ۳ کښې پطروس تصدیق کوی چې دا پیشن ګوئی هم لفظ په لفظ پوره شوه.

## ۳- دَ عیسیٰ مسیح ژوند

(۱) دَ جُسه کیدو نه مخکښې دَ هغهٔ وجود. هغه خدائ دے اؤ له ازل نه موجود دے. هغه دَ ټولو څیزونو نه اول دے.

(۲) دَ عیسیٰ مسیح دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو تفصیل دَ متی اؤ لوقا په انجیلونو کښې وركړے شوے دے.

(۳) عیسیٰ مسیح چې کله دَ اتو ورځو شو نو هغه سُنت کړے شو ( لوقا ۲: ۲۱).

(۴) عیسیٰ مسیح دَ دولس کالو په عمر کښې په بیت المقدس کښې دَ خدائ کور ته بوتلے شو ( لوقا ۲: ۴۱- ۴۸ ).

(۵) عیسیٰ مسیح دَ خپل ژوند شروع په ناصرت کښې دَ یو ترکاڼ په طور وکړه ( مرقوس ٦: ۳ ).

(٦) عیسیٰ مسیح دَ خپل خدمت شروع دَ یهودیه، سامریه اؤ گلیل نه وکړه. دا اولنے دُور تر شپږو میاشتو پورې وو.

(۷) عیسیٰ مسیح اولنۍ معجزه دَ گلیل په قانا نومې ځائ کښې وښودله ( یوحنا ۲: ۱ ) اؤ دویمه معجزه یې په کفرنحوم کښې وښودله ( یوحنا ۴: ٤٦- ٥٤ ) اؤ دَ بادشاه دَ نوکر زوئ له یې شفا ورکړه.

(۸) دَ عیسیٰ مسیح دَ خدمت دویم دُور تقریباً دَ اتو میاشتو وو. دا خدمت په کفرنحوم اؤ دَ گلیل په علاقه کښې وکړې شو. هغهٔ ډیرې معجزې وکړې. رنځورانو له یې شفا ورکړه، اؤ دَ زیری وعظ یې کولو.

(۹) دَ خدمت دریم دُور په گلیل اؤ خوا وشا کښې دَ خدمت دُور دے، کوم چې تقریباً تر یو کاله پورې وو. گڼه به دَ هغهٔ پسې وه. هغهٔ په غر باندې وعظ وکړو. وغیره ( متی بابونه ۵، ٦ اؤ ۷ ).

(۱۰) دَ خدمت په آخری مرحلو کښې فریسیان به دَ هغهٔ دَ وژلو په کوشش کښې وو. عیسیٰ مسیح کفرنحوم، فینیکې، بیت صیدا، قیصریه، فلپی وغیره ته لاړو، اؤ په آخر کښې بیا بیت المقدس ته راغلو.

(۱۱) آخرى شپږ مياشتې يې هم په تعليم ورکولو، وعظ کولو اؤ مختلفو ځايونو ته تلو
کښې تيرې شوې.
(۱۲) دَ ژوند دَ آخرى هفتې په دوران کښې دَ کجورو اتوار، آخرى فسح
( عشاء ربانى )، ګتسمنى، مُقدمه اؤ په سولئ مرګ واقعه شو.
(۱۳) دَ پيشن ګويانو په مطابق عيسىٰ مسيح درې ورځې پس دَ مړو نه بيا راژوندے
شو.
(۱۴) دَ دې نه څلويښت ورځې پس هغه خلقو وليدلو چې په جسمانى طور آسمان
ته اوچت کړے شو ( اعمال ۱: ۱۰- ۱۱).

## ۴- دَ عيسىٰ مسيح معجزې

دَ معجزې مطلب داسې واقعه ده چې دَ هغې سره ورکوټې اُصول ختم کړے شى اؤ لوئ اُصول په استعمال کښې راوستلې شى. دَ ورکوټى اُصول نه مراد دَ فطرت اُصول دى. صرف خدائ پاک دَ دې اُصولو خلاف کار کولې شى.

کهٔ چرې مالک عيسىٰ مسيح واقعى په خپل طاقت سره معجزې کړې دى، نو دا خو خدائ دے ځکه چې يو انسان هم په خپل طاقت سره معجزه نهٔ شى کولے.

مالک عيسىٰ مسيح به "خلقو ته دَ ځان ښودلو " يا دَ خلقو دَ خوشحالولو دَ پاره معجزې نهٔ کولې، بلکه هغهٔ به دَ خپل اُلوهيت ثابتولو دَ پاره معجزې کولې، چې خلق په هغهٔ ايمان راوړى اؤ دَ هغهٔ په پيغام اؤ دَ هغهٔ په ذات يقين وکړى ( يوحنا ۲: ۱۱، ۲۰: ۳۱ ).

عيسىٰ مسيح دَ قدرت نه زياتې معجزې وښودلې چې دَ هغې نه دا ثابتيږى چې قدرت هم دَ هغهٔ په اختيار کښې وو. هغهٔ طوفان په قلار کړو، اؤ اوبهٔ اؤ هوا يې ودرول. هغه په اوبو هم وګرځيدو ( متى ۸: ۲۲، ۲۷، ۱۴: ۲۵ ).

عيسىٰ مسيح په پيريانو باندې هم دَ اختيار نه ډکې معجزې وښودلې ( مرقوس ۵: ۱۲، ۱۳، متى ۸: ۲۸- ۳۲ وغيره ).

عيسىٰ مسيح په بيماريانو باندې هم دَ اختيار نه ډکې معجزې وښودلې. جزاميان يې پاک کړل، شل يې روغ کړل، ړاندهٔ يې بينا کړل، کاڼهٔ يې روغ کړل اؤ تبه يې لرې کړه ( متى ۸: ۳، ۱۲: ۱۰- ۱۳ وغيره ).

عيسىٰ مسيح په مرګ باندې دَ احتيار لرلو معجزې وکړې. انسانى أُصول وائى چې مړى کله هم نهٔ ژوندى کيږى، خو عيسىٰ مسيح دَ دې أُصولو خلاف کار وکړو اؤ مړى يې ژوندى کړل ( يوحنا ١١: ۴۴، متى ۹: ۲۳- ۲۵، لوقا ۷: ۱۲- ۱۵ ).
زمونږ دَ مالک عيسىٰ مسيح معجزې ډيرې په اختياط سره وښودلې شوې اؤ هغه په مکمل طور دَ يقين قابل دے.
هغهٔ دَ ډيرو ګواهانو په وړاندې په ښکاره معجزې وکړې. دا الٰهى طور سره وليکلې شوې دَ پاره دَ دې چې مونږ دا ولولو اؤ ايمان راوړو.

**خُلاصه**

دَ عيسىٰ مسيح دَ دنياوى ژوند خُلاصه اعمال دَ رسولانو په ۱۰: ۳۸ کښې پيش کړې شوې ده، چې "هغهٔ ټولو سره ښهٔ کول اؤ څوک چې دَ ابليس په قبضه کښې وو هغه به يې جوړول ځکه چې خدائ دَ هغهٔ سره وو."
مالک عيسىٰ مسيح زمونږ دَ پاره يو نمونه پريښودې ده، چې مونږ دَ هغهٔ پيروى وکړو. اول پطروس ۲: ۲۱ "تاسو دَ دې دَ پاره رابللې شوى يئ، ځکه چې مسيح هم ستاسو دَ پاره مصيبت وزغمو اؤ تاسو ته يې يوه نمونه درکړې ده چې دَ هغهٔ په قدم روان شئ."
مونږ له هم دَ عيسىٰ مسيح په شان تلل دى. ( اول يوحنا ۲: ۶ ). عيسىٰ مسيح دَ خدائ پاک مرضئ پوره کولو دَ پاره راغلې وو. مونږ له هم داسې کول پکار دى. ( يوحنا ۸: ۲۹، عبرانيان ۱۰: ۷ ).

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

٦١-دَ عيسىٰ مسيح دنيا ته راتلل دَ حيرانتيا خبره ولې نهٔ وه؟

٦٢-خلاصوؤنکے به دَ کوم يو قوم اؤ کومې قبيلې نه راتلو؟

٦٣-عيسىٰ مسيح له په کومه زمانه کښې راتلل وو؟

٦۴-آيا دا صرف يو اتفاق دے چې په سولئ باندې عيسىٰ مسيح له دَ تريخى سره شراب اؤ سرکه ورکړې شوه؟ ولې؟

٦٥-دَ يوحنا ١٩: ٣۴ څهٔ اهميت دے؟

٦٦-دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راژوندی کیدو په حقله په زړه لوظنامه کښې څۀ پیشن ګویئ ورکړې شوی دی؟

٦٧-دَ عیسیٰ مسیح اولنئ دوه معجزې کومې وې؟

٦٨-دَ یوحنا بابونه ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵ اؤ ۱٦ دَ عیسیٰ مسیح دَ ژوند کوم دُور سره تعلق لری؟

٦٩-معجزه څۀ وی؟ عیسیٰ مسیح ولې معجزې وښودلې؟

۷۰-درې آیتونه بیان کړئ چې دَ هغې نه دا څرګنده شی چې عیسیٰ مسیح په دې دنیا کښې څنګه ژوند تیر کړو.

## اتم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح دَ پیغلې نه پیدا کیدل

## پیژندګلو

* په تیر شوی سبق کښې مونږ دَ مسیح دَ الٰهی ذات په باره کښې خبرې وکړې.
* مونږ دَ لوئې ورځې په واقعه کښې وکتل چې هغه انسان جوړ شو. هغهٔ دَ انسان شکل اؤ صورت اختیار کړو ( فیلیپیان ۲: ۵- ۸ ).
* مونږ دا ایمان لرو چې حضرت آدم ګناه وکړه نو دَ هغې نه پس چې څومره هم خلق پیدا شوی دی نو هغوئ ته دَ خپل مور اؤ پلار نه په وراثت کښې دَ ګناه نه ډک فطرت ملاویږی، نو بیا مسیح څنګه دَ ګناه دَ فطرت نه بغیر پیدا شو؟
* زبور ۵۱: ۵ "ګوره زهٔ په بدئ کښې جوړ شوم اؤ دَ ګناه په حالت کښې دَ مور په خیټه شوم."
* زبور ۵۸: ۳ "بدعمله دَ پیدایښت راسې په غلطه لار روانیږی. هغه پیدا کیدو سره دروغ وائی اؤ ګمراه کیږی."
* کهٔ چرې عیسیٰ مسیح ته دَ ګناه فطرت په میراث کښې ملاؤ شوې وو نو هغه به ګناه ګار وو اؤ دَ خپلې ګناه په وجه به مړ کیدو. کهٔ هغهٔ یو بې ګناه اؤ بې داغه ژوند هم تیر کړے وو خو بیا به یې هم انسان نهٔ وو بچ کړے.
* کهٔ چرې عیسیٰ مسیح دَ بې ګناه فطرت سره پیدا شوې وی نو بیا دا څنګه ممکنه ده؟

* خدائ پلار دا ګرانه مسئله داسې حل کړه چې هغۀ عيسیٰ مسيح دَ پيغلې نه پيدا کړو.

* مونږ له دَ "پيغلې نه دَ پيدا کيدو" په راز باندې ايمان لرل پکار دی. مونږ له دَ دې قدر اؤ عزت کول اؤ دا قبلول پکار دی، نو بيا هله مونږ مسيحيان جوړيدے شو.

* دَ دې صرف يو منطقی جواب ممکن دے چې دَ ګناه فطرت دَ پلار نه اولاد ته منتقل کيږی. دَ مور نه نۀ منتقل کيږی.

دَ عيسیٰ مسيح دنياوی پلار نۀ وو. هغه دَ روح القدس په قدرت سره دَ بی بی مريم نه پيدا شوې وو. په دې وجه په هغۀ کښې دَ ګناه فطرت منتقل نۀ شو.

* دَ خدائ پاک څومره رحم دے اؤ دَ هغۀ دا څومره عجيبه کار دے چې هغۀ دا ګرانه مسئله حل کړه، دَ دې دَ پاره چې مونږ ته يو داسې خلاصوؤنکې ملاؤ شی چې دَ کلوری په سولئ باندې زمونږ دَ ګناهونو کفاره ورکړے شی.

## ۱- په زړه لوظنامه کښې دَ پيغلې نه دَ پيدا کيدو پيشن ګويانې

دَ پيدايښت په **۳**: **۱۵** کښې مونږ ته دَ خلاصوؤنکی اولنئ وعده ملاويږی. دَ انسان دَ ګناه کولو نه پس دا اولنئ وعده ده چې ورسره وکړے شوه.

پيدايښت **۱۲**: **۱- ۳**، خدائ پاک حضرت ابراهيم راوبللو چې دَ يو غوره شوی قوم يعنې دَ اسرائيل پلار جوړ شی.

پيدايښت **۴۹**: **۱۰**، دا برکت دَ يهوداه دَ قبيلې په وسيله ورکولے کيدو.

دويم سموئيل **۷**: **۸- ۱۲**، خلاصوؤنکې به دَ حضرت داؤد دَ کورنئ نه راځی. هغه به دَ "داؤد زوئ" وی.

يشعياه **۷**: **۱۴**، اصل پيشن ګوئی "ګورئ يوه پيغله به اُميدواره شی اؤ زوئ به يې وشی اؤ هغه به پرې عمانوايل نوم کيږدی." دا خبره دَ متی په **۱**: **۲۳** کښې بيا شوې ده.

یشعیاه ۹: ۶، دا نبوت وضاحت کوی چې انسان عیسیٰ مسیح خو به "پیدا شی" خو الهی "زوئ به راولیږلې شی". ځکه چې عیسیٰ مسیح ازلی خدائ دے نو په دې وجه هغه نۀ شو پیدا کیدے.

## ۲- دَ پیشن ګویئ تاریخی پوره کیدل

دَ متی په ۱: ۱۸- **۲۵** اؤ دَ لوقا په ۲: ۴- ۷ دواړو حوالو کښې دا واقعه ورکړې شوې ده.

عیسیٰ مسیح دَ یوې پیغلې نه پیدا شو، خو دَ دې پیغلې کوژدن دَ یوسف نومې سړی سره شوې وه، دَ پاره دَ دې چې دَ هغې دَ پاک نوم حفاظت وکړے شی.
بی بی مریم یقیناً چې دَ روح القدس په قُدرت سره اُمیداواره شوې وه، نۀ چې دَ خپل چنغل یوسف یا دَ یو بل سړی نه. خدائ پاک دَ دې خبرې ضمانت ورکړے دے، دَ پاره دَ دې چې مونږ له یو کامل خلاصوؤنکے راکړی.

مالک خدائ یوسف ته وفرمائیل چې بی بی مریم سره وادۀ وکړه، چې دَ هغې ملګرې اؤ مرستیال وی اؤ هغه دَ شریعت (احبار ۲۰: ۱۰) دَ قبضې نه بچ کړی.
دَ متی په ۱: **۲۵** کښې په وضاحت سره بیان شوے دے چې بی بی مریم اؤ یوسف خو وادۀ وکړو، خو زمونږ دَ خلاصوؤنکی تر پیدا کیدو پورې هغوئ دَ ښځې اؤ خاوند په طور نۀ اوسیدل.

خدائ پاک په ډیر احتیاط اؤ خاص مقصد سره دا تفصیل ورکړے دے، دَ دې دَ پاره چې مونږ ته واضحه شی چې پیدا کیدونکے ماشوم په یو حال کښې هم دَ انسانی پلار په وسیله نۀ دے پیدا شوې.

## ۳- په پاکو صحیفو کښې دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو تعلیم

ځنې خلق دا دعویٰ کوی چې پولوس رسول دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو تعلیم نۀ دے ورکړے. دا خبره ربښتیا ده چې پولوس رسول بالکل هم دا لفظونه نۀ دی استعمال کړی، خو هغۀ راژوندے شوے (ژوندے) مسیح پیژندلو (اول کورنتیان **۱۵**: **۸**) اؤ دا یې منل چې هغۀ سره دَ یشعیاه ۷: **۱۴** آیت دا پیشن ګوئی پوره شوه.
دَ کولوسیانو په ۱: **۱۵**- **۱۷** کښې پولس رسول دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ لویئ اؤ دَ پاکوالی تصویر پیش کوی.

یشعیاه نبی دَ خلاصوؤنکی دَ پیدا کیدو نه اووۀ سوه اؤ څلویښت کاله مخکښې دَ دې پیشن ګوئی کړې وه. متی په واضحه طور باندې دا بیانوی چې عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په وسیله دَ مور په خیټه شو اؤ دَ پیغلې نه پیدا شو (متی ۱: ۱۸، ۲۰، ۲۳).
لوقا یو طبیب وو. نو په دې وجه هغۀ په دې ناآشنا مظهر کښې دلچسپی اخستله. دَ هر ماشوم دَ پاره دا ضروری ده چې دَ هغۀ پلار وی. نو دَ دې ماشوم عیسیٰ مسیح پلار به څوک وی؟ کۀ چرې پلار یې څوک انسان وو نو دَ هغۀ فطرت به دَ ګناه فطرت وو اؤ مونږ به لاتر اوسه پورې په خپلو ګناهونو کښې پراتۀ وو. لوقا دَ دې خاص اُمیدوارئ بیان ډیر په احتیاط سره کوی (لوقا ۱: ۲۷، ۳۱، ۳۴، ۳۵).
لوقا ۱: **۳۴**ـ بی بی مریم دَ فرښتې نه یو ډیر مناسب تپوس وکړو، چې زما وادۀ نۀ دے شوے نو زما ماشوم څنګه پیدا کیدے شی؟ دَ دې نه دا نتیجه راوځی چې هغه یو کامله اؤ پاکه پیغله وه اؤ دَ حرامکارئ نه یې نفرت کولو.
لوقا ۱: **۳۵**ـ فرښتې ورته صفا ووئیل چې روح القدس به دَ هغه ماشوم پلار وی.

## ۴- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو مقصد

(۱) دَ خدائ پاک ظاهرول. یوحنا ۱: ۱۸: عیسیٰ مسیح دې له راغے چې خدائ پاک انسانانو ته ښکاره کړی.

(۲) دَ خدائ پاک اؤ دَ انسان په مینځ کښې دَ مات شوی پُل بحال کولو دَ پاره.
اول تیموتیوس ۲: ۵ "ځکه چې خدائ یو دے اؤ دَ خدائ اؤ انسان په مینځ کښې مینځګړے هم یو، یعنې مسیح عیسیٰ چې انسان دے."

(۳) دَ انسان بچ کول. عبرانیان ۲: ۱۴، ۱٦ دَ عیسیٰ مسیح دنیا ته دَ راتلو بنیادی مقصد هم دا وو.

(۴) دَ ټول مخلوق مُخلصی. رومیان ۸: ۱۹- ۲۳ "دا مخلوقات ډیر په بې صبرئ سره دَ خدائ دَ بچو دَ ظهور منتظر دی.......اؤ د مخلصئ په انتظار کښې دی."

## ۵- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو دَ عقیدې اهمیت

دَ نوې نظریو منونکی اؤ دَ آزاد خیال عالمان په دې عقیده اؤ دَ انسانی فطرت دَ کامل ورانیدو په عقیده باندې هم ډیر سخت اعتراضونه کوی. هغوئ دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت اؤ دَ پاکو صحیفو په الهامی کیدو باندې هم اعتراضونه کوی.
کۀ چرې انسان بالکل وران شوې دے نو دَ خلاصون دَ پاره انسان ته دَ یو خلاصوؤنکی ضرورت دے. دا ضروری ده چې هغه خلاصوؤنکے پاک اؤ بې گناه وی اؤ دَ خلاصون ورکولو صلاحیت اؤ قُدرت لری. صرف مالک عیسیٰ مسیح دَ دنیا خلاصوؤنکے کیدے شی. دَ بې گناه فطرت سره دَ انسان جوړیدو صرف یو طریقه وه چې عیسیٰ مسیح دَ پیغلې نه پیدا شی.
پیغله هغه ښځه وی چې یو سړی سره یې دَ وادۀ تعلق نۀ وی ساتلې. بی بی مریم دَ عیسیٰ مسیح تر پیدا ایښت پورې پیغله وه. دَ دې نه پس بی بی مریم اؤ یوسف دَ ښځې اؤ خاوند په طور اوسیدل شروع کړل.
دَ خلاصون دې عقیدې سره ډیر ژور تعلق دے. کۀ چرې عیسیٰ مسیح دَ پیغلې نه نۀ وو پیدا شوے نو زۀ اؤ تاسو به لاتر اوسه پورې بې لارې شوی گناه گار وو.

(۱) دا یو داسې حقیقت دے چې رد کیدے نۀ شی. په بائبل مقدس کښې دَ دې واضحه تعلیم موجود دے. مونږ دا یقین لرو چې پاکې صحیفې الهامی دی. مونږ دا ایمان لرو چې دا تعلیم بالکل رښتینے اؤ صحیح دے.

(۲) دا یو نۀ بدلیدونکے حقیقت دے. دا عقیده دَ پاکو صحیفو په وجه قائمه ده. دَ وخت بدلیدو سره اؤ دَ انسانانو دَ خیالونو اؤ دَ نوؤ نوؤ نظریو په باؤجود په دې کښې هیڅ قسمه بدلون ممکن نۀ دے ( عبرانیان ۱۳: ۸ ).

(۳) دا یو ضروری حقیقت دے. دَ خلاصون دَ منصوبې دَ پاره دا عقیده یو لازمی حیثیت لری. دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو نه بغیر دَ یو کس هم خلاصون ممکن نۀ وو.

(۴) دا دَ عقل اؤ پوهې نه بهر حقیقت دے. دا په خدائ پاک کښې پټ یو راز دے. په یو لحاظ سره هر قسمه ژوند اؤ هر قسمه پیدایښت یو راز دے. ونه په خپل تُخم کښې څنګه ژوند اچوی؟
۱ کورنتیان ۴: ۱ کښې مونږ مسیحیانو له "دَ خدائ پاک دَ رازونو" ښۀ مختاران جوړیدل پکار دی.

(۵) دا یو بې شرطه حقیقت دے. زما ایمان دے چې دا حقیقت دَ ټولو نه ښۀ اؤ غوره حقیقت قبلول پکار دی. رومیان ۱۰: ۹. مونږ له دا اقرار کول دی چې عیسیٰ مسیح خدائ دے. کۀ چرې هغه دَ پیغلې نه نۀ وې پیدا شوے نو بیا خلاصوؤنکے نۀ شی جوړیدے، څکه چې بیا خو هغه دَ پاک کلام دَ پیشن ګویانو ماتوونکے جوړیږی.

(٦) دا فائده مند حقیقت دے، څکه چې اوس قادر مطلق خدائ دَ انسان په شکل کښې دې دنیا ته راغلے دے. خو دا انسان بې ګناه دے، بلکه دَ ګناه دَ فطرت نه پاک دے. دا کامل انسان نورو له خلاصون ورکولے شی. دَ "عمانوایل" مطلب دے "خدائ زمونږ مل دے". اوس دا خبره حقیقت جوړ شوې دے څکه چې خدائ پاک دې زمکې ته دَ اوسیدو دَ پاره راغلې دے.

(۷) دا یو نۀ هیرونکے حقیقت دے. مونږ په هره لویه ورځ باندې دې حقیقت ته مخامخ کیږو. دَ پیدایښت دا قیصه بیا بیا بیانوؤ، اؤ زمونږ فرض دی چې ټولې دنیا ته دا قیصه پرله پسې واؤرؤو.

## ٦- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو دَ عقیدې حقیقت

عیسیٰ مسیح یو خیالی هستی نۀ ده. هغه یو حقیقی انسانی هستی ده. حقیقی انسان، زمونږ دَ هډوکو نه هډوکے اؤ غوښې نه غوښه دے. (فیلیپیان ۲: ۷) هغه زمونږ "مشر ورور" جوړ شو.

عیسیٰ مسیح خدائ وو، اؤ دَ روح القدس په وسیله دَ بی بی مریم په خیټه کښې دَ پیدا کیدو په وسیله خدائ وو.

عیسیٰ مسیح بې ګناه دے، ځکه چې هغه دَ پیغلې نه پیدا شو. هغۀ ته په وراثت کښې دَ ګناه نه ډک فطرت ملاؤ نۀ شو. اؤ نۀ هغۀ ته دَ وران شوی اؤ بې لارې شوی فطرت نه حصه ملاؤ شوه. هغه دَ وراثت دَ ګناه نه بالکل پاک دے.

## ٧- په دې عقیده باندې اعتراضونه

(۱) دا عقیده په پاک کلام کښې صرف یو څو ځایونو کښې موندلے کیږی.
حواله خو یوه هم کافی وی، خو درې لیکونکی یشعیاه، متی اؤ لوقا دَ دې تصدیق کوی.

(۲) عیسیٰ مسیح په خپله کله هم دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو دعوه نۀ ده کړې. دَ یوحنا په ۲: ۱۵ کښې عیسیٰ مسیح دې طرف ته اشاره کړې ده.

(۳) سائنسدانان دا نۀ منی ځکه چې دَ علمِ حیاتیات په نظر کښې داسې کار هډو ممکن نۀ دے. عیسیٰ مسیح دَ جسمانی حمل په وسیله نه، بلکه دَ معجزانه حمل سره پیدا شوې وو.

(۴) ځنې خلق دَ هغۀ دَ معجزانه کیدو په وجه هغۀ نه انکار کوی. ټول ژوند یو معجزه، یو حیرانیدونکے اؤ راز دے.

(۵) دَ اُلهیاتو دَ علم دَ نوی دور ماهران هم دا نۀ منی. دَ چا نۀ منلو سره حقیقت خو بدلیدلې نۀ شی. په پاک کلام، پیشن ګویو اؤ تاریخ کښې دا حقیقت موجود دے.

## خُلاصه

خپلو بچو ته دا دَ حیرانتیا نه ډک حقیقت وښایئ. دَ دې دَ تعلیم دَ پاره لویه ورځ ډیره ښۀ موقعه ده. مونږ دَ خدائ پاک شکر کوؤ چې هغۀ دا طریقه راوویستله چې دنیا ته یو داسې خلاصوؤنکے راولیږی څوک چې په وراثت کښې دَ ملاؤ شوې ګناه نه پاک وی.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۷۱- عیسیٰ مسیح ته دَ ګناه نه ډک فطرت ولې په وراثت کښې ملاؤ نۀ شو؟ زبور ۵۱: ۵.

۷۲- په بائبل مقدس کښې دَ خلاصوؤنکی اولنئ وعده کومه یو ده؟

۷۳- په زړه لوظنامه کښې دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو په باره کښې پیشن ګوئی بیان کړئ. حواله یې ووایئ.

۷۴- دا پیشن ګوئی څنګه پوره شوه؟

۷۵- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو څلور مقصدونه بیان کړئ.

۷۶- دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت اؤ دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو نه دَ انکار کولو انجام به څۀ وی؟

۷۷- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو په دې راز باندې مونږ ولې په پوره طور سره نۀ پوهیږو؟

۷۸- دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت اؤ دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو په مینځ کښې کومه اهم کړئ موجوده ده؟

۷۹- په موجوده وخت کښې دا عقیده زمونږ دَ پاره څۀ عملی اهمیت لری؟

۸۰- دِ نوؤ نظریو منونکی د دې عقیدې نه ولې انکار کوی؟

# نهم سبق (اوله حصه)

# دَ عیسیٰ مسیح اُلوهیت

## پیژندګلو

* ډیر خلق په دې بنیادی عقیدې باندې بیا بیا حملې کوی. دَ خلاصون دَ پاره دَ عیسیٰ مسیح اُلوهیت منل ضروری دی. رومیان ۱۰: ۹ "کۀ چرې تۀ په خپله ژبه دا اقرار کوې چې عیسیٰ مالک دے". صرف دا اقرار کول کافی نۀ دی چې هغه یو نیک انسان وو.
* کۀ چرې مونږ په بائبل مقدس کښې دَ هغه خلقو مطالعه وکړو چا چې ایمان راوړلو نو مونږ ته به معلومه شی چې هغوئ اکثر په هغه وخت کښې بدل شول کله چې هغوئ عیسیٰ مسیح خپل مالک قبول کړو. اعمال ۹: ۵ کښې پولس اؤ دَ یوحنا په ۹: ۳۸ کښې یو بې نومه سړے.
* کۀ چرې مونږ دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت نه انکار کوؤ نو بیا خو دَ انسان یو خلاصوؤنکے هم نشته، اؤ هغه به د ابدی هلاکت طرف ته لاړ شی.
* په دې سبق کښې مونږ دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت پنځلس ثبوتونه وړاندې کوؤ.

## ۱- په زبور ۱۱۰: ۱ کښې عیسیٰ مسیح ته مالک وئیلې شوی دی

زبور ۱۱۰: ۱ "یهواه زما مالک ته وفرمائیل، تۀ زما ښی لاس ته کښېنه، ترڅو چې زۀ ستا دښمنان ستا دَ پښو لاندې نۀ کړم." ( یهواه- خدائ پلار زما مالک یعنې **خلاصوؤنکی ته وفرمائیل**....")

دَ متی په **۲۲: ۴۱- ۴۶**، مرقوس ۱۲: **۳۵- ۳۶**، لوقا ۲۰: **۳۹- ۴۴** کښې دَ عیسیٰ مسیح دَ دې حیثیت بیان موجود دے.

پطروس دَ پنتکُست په موقعه باندې دَ دې خبرې حواله ورکړه ( اعمال ۲ : ۳۴ ). دا ډیره اهم خبره ده.
پیشن ګوئی دا وه چې یهواه مالک به په خپله خلاصوؤنکے عیسیٰ مسیح وی.

## ۲- دَ پیغلې نه دَ پیدا کیدو مطلب دے خدائ پاک په خپله انسان سره اوسیدو دَ پاره راغلو

یشعیاه ۷: ۱۴ "........هغه به پرې عمانوایل نوم کیږدی." دا هغه خلاصوؤنکے دے چې راتلونکے وو.
دَ متی په ۱: ۲۳ کښې بیان شوی دی چې دَ عمانوایل مطلب دے "خدائ زمونږ مل دے". دا خبره په بیت لحم کښې پوره شوه. دَ جُسه کیدو په وخت دَ عیسیٰ مسیح ذات کښې مالک خدائ انسانانو سره دَ اوسیدو دَ پاره راغلو.

## ۳- په پیشن ګویانو کښې مالک عیسیٰ مسیح له الٰهی نومونه ورکړے شوی دی

یشعیاه ۹: ۲، ۷ "زمونږ دَ پاره یو هلک پیدا شو اؤ مونږ ته یو زوئ وبخښلے شو...... دَ هغهٔ نوم عجیبه، صلاح کار، قادرِ مطلق خدائ، دَ ابدیت پلار، اؤ دَ سلامتئ شهزاده دے." دا نومونه په خپله مالک خدائ کښې پوره کیدے شی.
عجیبه- صرف خدائ پاک په حقیقی طور سره عجیبه دے ( وګورئ لوقا ۱۸: ۱۹ ). دَ مالک خدائ نه علاوه بل هیڅوک هم نیک نشته.

صلاح کار- صرف خدائ پاک علم اؤ حکمت لرونکے دے. په دې وجه صرف هغه یو کامل مُشیر کیدے شی ( زبور ۱۲: ۷ ).

قادرِ مطلق خدائ- دَ چا په باره کښې چې پیشن ګوئی وشوه چی هغه به مسیح وی هغه خدائ په خپله دے.

دَ ابدیت پلار- یوحنا ۱۰: ۳۰ عیسیٰ مسیح وفرمائیل "زهٔ اؤ پلار یو یُو." دَ دې حوالې په مطابق انسان عیسیٰ مسیح خو پیدا شو، خو په حقیقت کښې خدائ عیسیٰ مسیح راولیږلے شو. (خدائ له ازل نه تر ابده پورې موجود دے).

## ۴- دَ کوم عیسیٰ مسیح دَ راتلو پیشن گویانې چې وکړې شوې نو هغه "ازلی" دے

میکاه ۵: ۲ "خو اے بیت لحمه..... ستا نه به یو کس پیدا کیږی.... دَ هغهٔ تعلق دَ تیر شوی وخت آؤ دَ پخوانی وخت سره دے."
خلاصوؤنکے عیسیٰ مسیح په خپله ازلی خدائ دے چې هرځائ موجود دے.

## ۵- خدائ اؤ مسیح دواړو خپل ذاتی نوم "زهٔ یم" ووئیلو

هجرت ۳: ۱۴ "خدائ پاک حضرت موسیٰ ته وفرمائیل زهٔ یم چې هم هغه زهٔ یم. تهٔ به خامخا اسرائیلو ته داسې ووایې: زهٔ هغهٔ تاسو ته رالیږلې یم چې هغه په خپله خپل ځان ته وائی، زهٔ یم."
یوحنا ۸: ۵۸ "عیسیٰ مسیح هغوئ ته وفرمائیل.... چې ابراهیم لا پیدا هم نهٔ وو چې زهٔ یم."

یهودیان دَ عیسیٰ مسیح په خبره ډیر ښهٔ پوهیدل. نو هغوئ دې نتیجې ته ورسیدل چې هغهٔ دَ خدائ نوم خپل ځان سره وتړلو اؤ دا یې کفر ووئیلو، نو هغوئ دا کوشش وکړو چې هغه سنگسار کړی. دَ شریعت په مطابق دَ هغه خاص گناه سزا سنگسار کول وو. (احبار ۲۴: ۱۲- ۱۶).
خو عیسیٰ مسیح هیڅ گناه نهٔ وه کړې ځکه چې هغه په رښتیا خدائ دے. هغه په خپله عظیم "زهٔ یم" دے.

## ٦- عیسیٰ مسیح گناهونه وبخښل

مرقوس ۲: ۵ ".... زما زویه ستا گناهونه معاف شول" صرف خدائ پاک گناهونه معاف کولے شی.

مرقوس ۲: ۷ "دا سړے داسې خبرې ولې کوی؟ دا خو کفر دے! دَ خدائ نه بغیر هم لا څوک دَ چا ګناهونه بخښلې شی څۀ؟"

یهودیانو بالکل صحیح خبره کوله. صرف خدائ پاک دَ ګناه دَ بخښلو اختیار لری. ګناه دَ شریعت ماتول دی، نو ګناه ګار صرف هغه کس بخښلې شی دَ چا خلاف چې هغۀ ګناه کړې وی.

دَ ګناه بخښلو سره عیسیٰ مسیح خو یا کُفر ووئیلو، اؤ یا هغه خدائ دے. عیسیٰ مسیح خدائ دے اؤ هغه ګناه بخښلې شی.

## ۷- عیسیٰ مسیح دَ خدائ پاک اؤ دَ روح القدس سره دَ برابریدو دعوه وکړه

دَ متی په ۲۸: ۱۹ کښې دَ بپتسمې لفظونه اؤ دَ کورنتیانو په دویم خط ۱۳: ۱۴ کښې دَ برکت دَ خبرو نه دا خبره بالکل واضحه ده. په دې دواړو ځایونو کښې دَ خدائ پلار، دَ زوئ اؤ دَ روح القدس ذکر په یو ځائ شوې دے.

## ۸- عیسیٰ مسیح دا دعوه وکړه چې زۀ هر ځائ موجود یم

په هر ځائ کښې موجودګی صرف دَ خدائ پاک صفت دے، دا دَ فرښتو یا دَ انسانانو صفت نۀ دے.

دَ متی په ۱۸: ۲ کښې عیسیٰ مسیح په هر ځائ کښې دَ موجودګئ وعده کړې ده.

## ۹- عیسیٰ مسیح دا دعوه کړې ده چې هغه دَ ټول هر څۀ علم لری اؤ هر څۀ نه خبر دے

دَ ټول هر څۀ په باره کښې دَ خبریدو نه مراد دے چې هغۀ ته دَ ټولو خبرو پته ده. دا صرف دَ خدائ پاک صفت دے. دَ مرقوس په ۱۱: ۲- ۶ کښې لیکلې شوې واقعه دَ عیسیٰ مسیح دَ عقل مند کیدو اؤ دَ ټول هر څۀ په باره کښې دَ علم لرلو ثبوت دے. په بیت المقدس کښې

**په فتح مندئ سره داخلیدو دَ پاره هغهٔ دَ کوچی په باره کښې په تفصیل سره معلومات ورکړل. عیسیٰ مسیح به دَ نبوت خبرې هم کولې**
**(متی ۱۲: ۴۰، ۲۴: ۳- ۲۱).**

## ۱۰- عیسیٰ مسیح دعوه کړې ده چې هغه قادر مطلق دے

قادرِ مطلق جوړیدل هم صرف دَ خدائ پاک صفت دے. متی ۲۸: ۱۸ "دَ آسمان اؤ زمکې ټول اختیار ما له راکړے شوے دے."
دا دعوه په انسان، روحونو، فرښتو، شیطان، په آسمانی مخلوقاتو باندې غوره والے اؤ فضیلت لری.

## ۱۱- عیسیٰ مسیح دَ تخلیقی قدرت دعوه کړې وه

تخلیق کول، یعنې دَ نشت نه شتهٔ کول صرف خدائ پاک کولے شی. دَ کائناتو په تخلیق کښې عیسیٰ مسیح کار کولو اؤ اوس هم هغه دا سمبالوی. یوحنا ۱:۱- ۳، عبرانیان ۱: ۳.
په ځنې معجزو کښې عیسیٰ مسیح تخلیقی قدرت استعمال کړو، مثال په طور دَ اوبو نه مئ جوړول اؤ پنځهٔ زره کسانو له خوراک ورکول.

## ۱۲- عیسیٰ مسیح څوک چې الٰهی ذات دے هغه په فطرت باندې هم اختیار لری

مرقوس ۴: ۳۹. عیسیٰ مسیح په سمندر کښې طوفان قلار کړو. دا قدرت انسان ته نهٔ دے حاصل بلکه صرف خدائ پاک ته حاصل دے.
متی ۱۴: ۲۵، ۲۲. عیسیٰ مسیح په اوبو ګرځیدو. دا دَ عام انسان دَ وس کار نهٔ دے.

## ۱۳- عیسیٰ مسیح عبادت قبول کړو چې صرف دَ خدائ پاک دَ پاره دا روا دے.

یوحنا ۹: ۳۸. عیسیٰ مسیح یو ړوند سړے بینا کړو. کله چې هغهٔ خلاصوؤنکے وپیژندلو نو وې وئیل چې "اے مالکه زما پرې ایمان دے، اؤ هغهٔ ته په سجده شو." اؤ عیسیٰ مسیح په جائز طور دا سجده قبوله کړه ځکه چې هغه واقعی یو الٰهی ذات دے.

لوقا ۴: ۸. دَ آزمیښت په وخت عیسیٰ مسیح ابلیس ته وفرمائیل "صحیفې وائی چې تهٔ صرف مالک خدائ ته سجده کوه اؤ یواځې دَ هغهٔ عبادت کوه." دَ خدائ پاک نه علاوه دَ بل چا عبادت کول ډیره لویه ګناه ده.

کله چې عیسیٰ مسیح عبادت قبول کړو نو هغهٔ دنیا ته په واضحه طور وئیل چې "زهٔ مالک خدائ یم".

## ۱۴- عیسیٰ مسیح دَ توما ګواهی قبوله کړه

یوحنا ۲۰: ۲۸ "توما ووئیل زما مالکه! اؤ زما خدایه!"

کهٔ چرې دَ توما دا خبرې غلطې وې نو عیسیٰ مسیح به ضرور هغه داسې وئیلو نه منع کړے وو. دَ توما خبره بالکل صحیح وه، ځکه چې عیسیٰ مسیح مالک دے، چې ازلی اؤ تل تر تله قائم پاتې کیدونکے ذات دے.

## ۱۵- دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راژوندی کیدو حقیقت

دا دَ عیسیٰ مسیح دَ الٰهی ذات دَ پاره یو غټ دلیل دے. رومیان ۱: ۴ "خو دَ قدوسیت دَ روح په مطابق له مړو نه دَ بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت سره دَ خدائ زوئ اظهار شو."

دا آیت صفا مونږ ته وائی چې دَ عیسیٰ مسیح قیامت په واضحه طور سره دا اعلان کوی چې هغه دَ خدائ زوئ دے.

کۀ چرې عیسیٰ مسیح دوکه باز، دروغژن، فریبی، عام کس، یا یو غوره انسان وو نو خدائ پاک به دَ هغۀ لاش تر قیامته پورې په قبر کښې پرېښودې وو، اؤ په آخر کښې به یې دوزخ ته غورزولې وو.

دَ رومیانو دَ ۱: ۴ په مطابق خدائ پلار په خپله عیسیٰ مسیح دَ مړو نه بیا راژوندے کړو. دغه شان خدائ پلار دنیا له دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت آخری ثبوت ورکړو.

## خُلاصه

مونږ دې نتیجې ته رسو چې عیسیٰ مسیح یو الٰهی ذات دے، ځکه چې په هغۀ کښې هغه لس صفتونه موجود دی کوم چې صرف دَ خدائ پاک دَ پاره دی:

(۱) ازلی- میکاه ۵: ۲ "...... دَ پخوانو وختونو نه...." یوحنا ۸: ۵۸، کولوسیان ۱: ۱۷، مکاشفه ۱: ۸.

(۲) نۀ بدلیدونکې- عبرانیان ۱۳: ۸ "عیسیٰ مسیح پرون، نن اؤ تل تر تله په یو شان دے."

(۳) قادر مطلق- لوقا ۸: ۲۴ عیسیٰ مسیح په سمندر کښې طوفان قلار کړو. متی ۲۸: ۱۸.

(۴) هرځائ موجود- متی ۱۸: ۲۰، یوحنا ۱: ۴۸، ۳: ۱۳، متی ۲۸: ۲۰.

(۵) دَ هرڅۀ علم لرونکے- مرقوس ۱۱: ۲- ۶، یوحنا ۲: ۲۴، ۲۵، لوقا ۵: ۲۲، متی ۲۴: ۳: ۳۱.

(۶) پاک- مرقوس ۱: ۲۴ "...دَ خدائ قدوس..." بې ګناه. اول پطروس ۲: ۲۲، یوحنا ۱۹: ۴.

(۷) انصاف کوؤنکې- یوحنا ۲: ۱۴- ۱۷، دَ خدائ پاک دَ کور پاکول. اعمال ۱۷: ۳۱، انصاف کوؤنکے.

(۸) مینه ناک- یوحنا ۱۵: ۱۳ "دَ دې نه زیاته مینه بل هیڅوک هم نۀ شی ښودلے.... " یوحنا ۱۱: ۳۶.

(۹) رحیم- تیطوس ۳: ۵ "هغۀ مونږ له خلاصون راکړو....د خپل رحمت په مطابق...." هغه زمونږ دَ خاطره مړ شو.

(۱۰) وفادار- دَ تیموتیوس په نوم دویم خط ۲: ۱۳ "کۀ مونږ بې وفاه هم شو خو بیا هم هغه به وفادار وی."

دَ خدائ پاک پنځۀ کارونه عیسیٰ مسیح سره تړلی دی. تخلیق، دَ کائناتو سمبالول، دَ ګناهونو بخښل، دَ مړو ژوندی کول، عدالت کول. یوحنا ۱: ۳، عبرانیان ۱: ۳، لوقا ۷: ۴۸، یوحنا ۲: ۳۹، یوحنا ۵: ۲۲.

## دَ دوباره کتلو دَ پاره سوالونه

۸۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت عقیده دومره اهم ولې ده؟

۸۲- تۀ به دَ زبور ۱۱۰: ۱ تشریح څنګه کوې؟

۸۳- دَ یشعیاه ۷: ۱۴ اؤ دَ متی ۱: ۲۳ نه دا واضحه کړئ چې څنګه خدائ پاک دَ انسان سره کیدے شی؟

۸۴- دَ یشعیاه په ۹: ۶، ۷ کښې خلاصوؤنکی له کوم پنځۀ نومونه ورکړې شوی دی؟

۸۵- یوه پیشن ګوئی بیان کړئ چې دَ خلاصوؤنکی دَ پاره ازلی کیدل ولې ضروری وو.

۸۶- دَ یوحنا ۸: ۵۸- ۵۹ اهمیت واضحه کړئ.

۸۷- دَ مرقوس ۲: ۵ نه دا څنګه ثابتیږی چې عیسیٰ مسیح خدائ دے؟

۸۸- دا ثابته کړئ چې عیسیٰ مسیح دَ خدائ پاک دَ پنځو صفتونو مالک دے.

۸۹- دَ لوقا ۸: ۲۴ نه څنګه دَ عیسیٰ مسیح اُلوهیت ثابتیږی؟

۹۰- دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت آخری اؤ غټ ثبوت کوم یو دے؟

## نهم سبق (دویمه حصه)

## دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت رد شوی دلیلونه

### پیژندګلو

* دا سبق دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت په باره کښې یو اضافی سبق دے.

* په دې عقیده باندې ډیر زیات اعتراضونه کیږی، په دې وجه دَ مخالفو دلیلونه اؤ دَ هغه حوالو علم به ډیر زیات فائده مند وی کومې چې هغوئ استعمالوی.

اعتراض ۱- ځکه چې خدائ روح دے اؤ دَ روح غوښه اؤ هډوکی نهٔ وی، نو په دې وجه عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې هغهٔ غوښه اؤ هډوکی لرل. یوحنا ۴: ۲۴؛ لوقا ۲۴: ۳۹.

جواب: دَ انسان په حیثیت دَ عیسیٰ مسیح غوښه اؤ هډوکی شته، خو دَ الٰهی ذات په حیثیت هغه روح دے. دا مسئله په دې وجه پیدا شوه ځکه چې خلاصوؤنکے دَ دوؤ فطرتونو مالک دے.

دَ نالیدونکی خدائ دَ لیدونکی خدائ جوړیدو دَ پاره دا ضروری وه چې دَ هغهٔ غوښه اؤ هډوکی وی. اول تیموتیوس ۲: ۵- دَ عیسیٰ مسیح دوه شخصیتونه. "..... عیسیٰ مسیح چې انسان دے....." (انسان اؤ خدائ).

اول تیموتیوس ۳: ۱۶ "هغه (خدائ) چې دَ انسان په شکل کښې ښکاره شو" یعنې دَ عیسیٰ مسیح په هستئ کښې.

اعتراض ۲- دَ خدائ پاک هیڅ قسمه شروع نشته. په دې وجه عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے، ځکه چې دَ هغهٔ شروع شته (یوحنا ۸: ۴۲؛ زبور ۹۰: ۲).

جواب: دَ انسان په حیثیت دَ عیسیٰ مسیح شروع شته، کله چې هغه دَ روح القدس په قُدرت سره دَ بی بی مریم په خیټه شو. خو دَ خدائ په

حیثیت دَ هغهٔ نهٔ شروع شته اؤ نهٔ آخر ( یوحنا ۸: ۵۶- ۵۹ ؛ کولوسیان ۱: ۱۷ ؛ اول پطروس ۱: ۲۰ ؛ یشعیاه ۹: ٦ ).

اعتراض ۳- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې دَ هوسیع په ۱۱: ۹ کښې وئیلې شوی دی چې خدائ انسان نهٔ دے، اؤ دَ حزقی ایل په ۲۸: ۲ کښې وئیلې شوی دی چې انسان خدائ نهٔ دے.

جواب: هوسیع دا نهٔ وائی چې خدائ پاک دَ غوښې نه دَ جوړ شوی انسان شکل اؤ صورت نهٔ شی اختیارولے. دَ خدائ پاک دَ پاره یو کار هم ناممکنه نهٔ دے. دَ یرمیاه په ۳۲: ۱۷ ؛ ۱۸ په مطابق، هغه په انسانی شکل کښې ښرګندیدے شی.

اعتراض ۴- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې دَ متی په ۲۷: ۴٦ کښې اؤ دَ یوحنا په ۲۰: ۱۷ کښې هغه خدائ پاک ته خپل خدائ وائی.

جواب: دَ عبرانیانو په ۱: ۸ کښې خدائ پاک عیسیٰ مسیح ته "خدائ" وائی. خو داسې دَ خدائ پاک په اُلوهیت کښې هیڅ قسمه کمے نهٔ راځی.

اعتراض ۵- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې پلار هغه دنیا ته را واستولو ( یوحنا ۸: ۴۲ ).

جواب: خدائ پاک زوئ دنیا ته را واستولو ( عیسیٰ مسیح په خپله مرضئ راغلو ) خو دې سره دَ هغهٔ قادر مطلق خدائ په جوړیدو کښې هیڅ کمے نهٔ راځی ( لوقا ۱۹: ۱۰ ؛ اول تیموتیوس ۱: ۱۵ ؛ ګلتیان ۴: ۴- ۵ ).

اعتراض ٦- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې هغه په انسانی طور یعنې جسم کښې ظاهر شو ( اول یوحنا ۴: ۲ ، ۳ ؛ دویم یوحنا ۷ ). ځکه چې عیسیٰ مسیح غوښه، هډوکی اؤ وینه لری، نو په دې وجه هغه صرف انسان دے، نور هیڅ هم نه.

جواب: عیسیٰ مسیح صرف دَ جُسه کیدو دَ پاره غوښۀ، هډوکی اؤ وینه لرل. دَ خدائ په حیثیت هغه یو ازلی روح دے. دا زمونږ دَ خلاصوؤنکی جوړیدو دَ پاره ضروری وو، چې هغه مونږ سره په ابنیت کښې شریک شی.

اعتراض ۷- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط دَ ۱۱: ۳ په مطابق خدائ دَ هغۀ سر دے.

جواب: په تثلیث کښې دا ضروری ده چې یو مشر وی. خو دَ دې بالکل دا مطلب نۀ دے چې هغه دَ نورو دوؤ نه لوئ دے. پلار، زوئ اؤ روح القدس یو برابر دی، خو دَ انتظام دَ مقصدونو دَ پاره پلار دَ یو مشر په طور کار کوی.

اعتراض ۸- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې دَ یوحنا په ۸: ۴۰ اؤ اول تیموتیوس په ۲: ۵ کښې هغۀ ته انسان وئیلے شوے دے.

جواب: عیسیٰ مسیح یو کامل خدائ اؤ کامل انسان دے. خو دَ هغۀ په هستئ کښې دا دواړه فطرتونه ګډوډ نۀ دی. دَ عمانوایل مطلب دے "خدائ زمونږ مل دے".

اعتراض ۹- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے بلکه دَ خدائ یو "زوئ" دے لکه څنګه چې مونږ هم دَ هغۀ زامن جوړیدے شو.

جواب: مونږ ایمان راوړلو سره دَ "خدائ اولاد" ( یوحنا ۱: ۱۲ ) جوړیږو. خو عیسیٰ مسیح دَ "خدائ یکی یو زوئ دے". ( یوحنا ۳: ۱۶ ). دا یو بې مثاله اؤ خاص حیثیت دے.

اعتراض ۱۰- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې دَ متی ۲۸: ۱۸ په مطابق پلار هغۀ له اختیار ورکړې وو.

جواب: دَ فیلیپیانو د ۲: ۵- ۹ په مطابق زویٔ دا اختیار پلار ته سپاری. اؤ دَ بیا راژوندی کیدو نه پس پلار هم دا اختیار واپس زویٔ له ورکوی. اختیار خو له ازل نه دَ زویٔ وو. هغهٔ په خپله مرضئ دا پریښودې وو.

اعتراض ۱۱- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې اعمال دَ رسولانو دَ ۲: ۳٦ په مطابق خدائ پاک هغه مالک جوړ کړې وو.

جواب: دَ دې دا مطلب نهٔ دے چې دَ هغهٔ درجه ( مقام ) زیات کړې شو. ځکه چې هغه له ازل نه خدائ دے، نو پلار دا مناسب وګڼل چې په دې موقعه باندې دَ بنی نوع انسان په وړاندې دَ دې حقیقت اعلان وکړی.

اعتراض ۱۲- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط اؤ ۱۵: ۲۸ په مطابق هغه دَ خدائ تابعدار دے.

جواب: دا خبره دَ عیسیٰ مسیح دَ ذات په باره کښې نه، بلکه دَ هغهٔ دَ حیثیت په باره کښې وئیلې شوې ده. عیسیٰ مسیح تابعداره کیدل په خپله مرضئ خوښ کړل. هغه مجبوره نهٔ کړے شو.

اعتراض ۱۳- عیسیٰ مسیح خدائ نهٔ دے ځکه چې هغه مړ شوے وو. خدائ پاک غیر فانی دے، نو په دې وجه خدائ مړ کیدے نهٔ شی ( اول تیموتیوس ۱: ۱۷؛ لوقا ۲۳: ۴٦؛ اعمال ۲: ۳۲ ).

جواب: عیسیٰ مسیح دَ انسان په طور مړ شوے وو، خو دَ خدائ په طور هغه نهٔ مړ کیدے شو اؤ نهٔ مړ شوے دے ( عبرانیان ۲: ۹، ۱۴ ). وجود مړی، خو روح هیڅ کله هم نهٔ مړی. ځکه چې هغه خدائ له واپس ځی.

اعتراض ۱۴- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې هغه دَ روح القدس په قُدرت سره دَ مور په خيټه شو. متی ۱: ۱۸- ۲۰. هغه دَ روح القدس تخليق دے، نو په دې وجه هغه نۀ خدائ دے اؤ نۀ خالق دے.

جواب: دَ روح القدس په وسيله عيسیٰ مسيح دَ يو انسان په طور دَ مور په خيټه شوے وو. دَ هغۀ اُلوهيت خو له ازل نه موجود دے ( يوحنا ۱:۱، ۲ ). عيسیٰ مسيح خو دَ پيغلې بی بی مريم نه ډير مخکښې راسې موجود وو.

اعتراض ۱۵- عيسیٰ مسيح خدائ نۀ شی کيدے ځکه چې دَ يوحنا په ۲۰: ۱۷ کښې هغۀ وفرمائيل چې "زۀ خپل پلار ته اؤ ستاسو پلار ته، خپل خدائ ته اؤ ستاسو خدائ ته پاس ځم". نو په دې وجه دا دواړه بالکل مختلف ذاتونه دی.

جواب: پلار اؤ زوئ دوه شخصيتونه، خو يو خدائ دے. "زۀ اؤ پلار يو يُو". ( يوحنا ۱۰: ۳۰. اؤ دې نه علاوه وګورئ يوحنا ۱۷: ۱۱، ۲۱، ۲۲ ).

اعتراض ۱٦- عيسیٰ مسيح خدائ نۀ دے ځکه چې هغه دَ پلار نه دعا غوښتله، اؤ هغۀ ته يې "واحد رښتينې خدائ " وئيلو ( يوحنا ۱۷: ۳؛ اول کورنتيان ۸: ٦ ).

جواب: دا اعتراض په دې حقيقت ځان ناغرضه کوی چې پلار اؤ زوئ يو بدن دی. هغوئ يو دی. هغوئ په خپل ذات ( ازلی روح ) کښې يو دی، خو په ذمه وارو کښې جدا جدا دی. پلار اؤ زوئ دواړه يو دی ( متی ۱۱: ۲۷؛ لوقا ۱۰: ۲۲؛ يوحنا ۱۲: ۴۵ ).

اعتراض ۱۷- عيسیٰ مسيح خدائ نۀ دے کۀ چرې هغه خدائ وو نو بيا به دَ يو نه زيات خدايان وو.

جواب: دَ دې اعتراض جواب په څلورم سبق کښې ورکړے شوے دے ( صفحه نمبر ۲۳ ) "دَ تثلیث وحدانیت" موضوع وګورئ.

اعتراض ۱۸- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې هغه دَ خدائ پاک صرف "خیال" "مرضی" یا "اراده" ده. په شروع کښې دَ هغۀ څۀ قسمه جسمانی وجود یا جسمانی شکل نۀ وو.

جواب: دا اعتراض دَ یوحنا ۱:۱، ۲ دَ لفظونو په وران انداز سره دَ پیش کولو یو انداز دے ځکه چې ړومبې آیت دَ دې آخری اؤ فیصله کوؤنکې جواب ورکوی چې "کلام ( مسیح ) خدائ وو".

اعتراض ۱۹- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې دَ یوحنا په ۱۴: ۲۸ کښې هغه فرمائی چې "پلار له ما نه لوئ دے".

جواب: دا خبره دَ هغۀ رُتبې سره تعلق لری. دا دَ هغۀ ذات یا شخصیت سره بالکل تعلق نۀ لری. دَ رُتبې ( مقام ) په طور عیسیٰ مسیح دَ خدائ پلار دَ تابعدارئ کولو مقام خوښ کړے دے.

اعتراض ۲۰- عیسیٰ مسیح خدائ نۀ دے ځکه چې هغه صرف په تعلیم اؤ عدالت کښې یو دے، په الٰهی ذات کښې یو نۀ دے.

جواب: پلار اؤ زوئ یو خدائ دے. دواړه دَ یهواه خدائ په طور یو بدن دی. پلار دَ زړې لوظنامې یهواه دے ( زبور ۲۳: ۱ ) اؤ عیسیٰ مسیح دَ نوې لوظنامې یهواه دے ( یوحنا ۱۰: ۱۱؛ عبرانیان ۱۳: ۲۰؛ اول پطروس ۲: ۲۵؛ مکاشفه ۷: ۱۷ ).

## خُلاصه

عیسیٰ مسیح خدایٔ دے. هغه یهواه دے. مالک عیسیٰ مسیح قادرِ مطلق خدایٔ دے. مونږ دَ ټولو سوالونو تسلی بخش جوابونه خو نۀ شو ورکولے، خو دا ایمان لرو چې عیسیٰ مسیح خدایٔ دے.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

دا څنګه ممکنه وه چې عیسیٰ مسیح خدایٔ وی اؤ غوښه اؤ هډوکی لری؟ (یوحنا ۴: ۲۴؛ لوقا ۲۴: ۳۹).

عیسیٰ مسیح څنګه خدایٔ کیدے شی، حالانکه هغه په یو خاص ورځ پیدا شو؟ (زبور ۲: ۷؛ ۹۰: ۲).

دَ هوسیع په ۱۱: ۹ کښې وئیلې شوی دی چې خدایٔ انسان نۀ دے، نو عیسیٰ مسیح څنګه خدایٔ کیدے شی؟

دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط په ۱۱: ۳ کښې صفا وئیلې شوی دی چې خدایٔ دَ عیسیٰ مسیح سر دے، نو دا څنګه ممکنه ده چې په یو وخت باندې عیسیٰ مسیح خدایٔ هم دے، اؤ دَ خدایٔ دَ اختیار لاندې هم دے؟

دَ نوی پیدایښت په وسیله مونږ ټول دَ خدایٔ اولاد یو. خو داسې مونږ خدایان خو نۀ شو جوړیدے. نو بیا چې عیسیٰ مسیح "دَ خدایٔ زویٔ" دے نو هغه څنګه خدایٔ جوړیدے شی؟

چې په یو خاص ورځ عیسیٰ مسیح مالک وګرځولے شو نو هغه څنګه خدایٔ کیدے شی؟ (اعمال ۲: ۳۶).

خدایٔ پاک غیر فانی دے، خو عیسیٰ مسیح په سولیٔ مړ شو. نو بیا هغه څنګه خدایٔ کیدے شی؟ (۱ تیموتیوس ۱: ۱۷؛ لوقا ۲۳: ۴۶).

آیا دَ یوحنا ۱۷: ۳ اؤ دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط ۸: ۶ آیتونه دَ دې ثبوت دے چې خدایٔ پلار واحد رښتینے خدایٔ دے؟

کۀ چرې دَ یوحنا ۱:۱ په مطابق عیسیٰ مسیح صرف "کلام" دے نو بیا یو بې ساه خیال (تصور) څنګه خدایٔ کیدے شی؟

# لسم سبق

# دَ زوئ دَ پلار سره تعلق

## پيژندګلو

* دا په ډيرو فرقو کښې چې دَ عيسىٰ مسيح دَ اُلوهيت نه انکار کوى يوه ډيره سخته مسئله ده.
* هغوئ وائى چې عيسىٰ مسيح خدائ نهٔ دے، بلکه زمونږ په شان دَ خدائ زوئ دے. هغوئ وائى چې هغه صرف يو زوئ دے څوک چې دَ خدائ پاک تابعدار يا دَ هغهٔ دَ اختيار لاندې دے. دَ دې ثبوت دَ پاره هغوئ حوالې هم پيش کوى.
* مونږ صحيح عقيده لرونکى يا دَ انجيل شريف مسيحيان څنګه دَ هغوئ دَ دليلونو جواب ورکولے شو کوم چې په ظاهره باندې دَ رد کيدلو قابل نهٔ ښکارى؟
* زما ايمان دے چې دَ دې لنډ جواب دا دے چې دَ جُسه کيدو نه مخکښې عيسىٰ مسيح خدائ پلار سره يو وو، يو دے، اؤ تل تر تله به يو وى. خو دَ جُسه کيدو په حالت کښې هغه واقعى چې دَ پلار په اختيار کښې دے.
* دَ جُسه کيدو نه مخکښې مطالعې کولو سره به مونږ ته په دې پيژندلو کښې مدد ملاؤ شى چې زوئ خپل ځان دَ کومو څيزونو نه خالى کړو ( يعنې کوم څيزونه يې پريښودل ) دَ دې دَ پاره چې زمونږ خلاصوؤنکے جوړ شى ( فيليپيان ۲: ۵- ۸ ).

## ۱- دَ خدائ په طور عیسیٰ مسیح دَ پلار برابر دے

## ( اول یوحنا ۲: ۲۳ ).

یوحنا **۵**: ۱۸ "په دې یهودیان نور هم دَ هغهٔ په مرګ پسې شول ځکه چې یواځې دا نه چې هغهٔ دَ سبت حکم ماتولو بلکه دا هم چې هغهٔ خدائ ته خپل پلار وئیلو اؤ دَ هغهٔ سره یې دَ برابرئ دعوه کوله." یهودیانو دَ استثنا په **۶**: **۴** باندې پوخ ایمان لرلو، اؤ دَ عیسیٰ مسیح دَ خبرې په مطلب ښهٔ پوهیدل.

یهودیانو صرف یو خدائ منلو "مالک خدائ زمونږ خدائ پاک یو دے". دَ عیسیٰ مسیح دعوه هغوئ کفر ګڼله، اؤ دَ دې سزا سنګسار کول وو ( احبار **۲۴**: ۱۲ ).

یوحنا ۱۰: **۳۰** "زهٔ اؤ پلار یو یُو". دا دَ دې خبرې پوخ ثبوت دے چې عیسیٰ مسیح اؤ خدائ یو برابر دی.

یوحنا **۱۴**: **۹** "هر چا چې زهٔ لیدلے یم نو پلار یې هم لیدلے دے. نو بیا تهٔ ( فیلپوسه ) څنګه وایې چې مونږ ته پلار وښایه؟"

هغوئ یو دی اؤ جدا کیدے نهٔ شی. هغوئ تقسیم کیدے نهٔ شی.

کولوسیان ۱: **۱۵** " هغه دَ نالیدونکی خدائ عکس........دے". خدائ روح دے نو په دې وجه نالیدونکے دے. عیسیٰ مسیح دَ نالیدونکی خدائ لیدونکے عکس دے.

یوحنا ۱۰: **۳۳** "مونږ تا دَ څهٔ ښهٔ کار په سبب نهٔ سنګسار کوؤ خو دَ کفر په سبب، ځکه چې تهٔ خو تش انسان یې اؤ دَ خدائ دعوه کوې."

عیسیٰ مسیح هغوئ ته دا ثابتول غوښتل چې زهٔ خدائ یم. خو هغوئ دې منلو دَ پاره بالکل تیار نهٔ وو.

فیلیپیان ۲: **۵**، **۶** "عیسیٰ مسیح ...اګر کهٔ دَ خدائ په صورت وو دَ خدائ سره برابریدل یې په قبضه کښې دَ ساتلو څیز ونهٔ ګڼلو." عیسیٰ مسیح په حقیقت کښې دَ خدائ پلار سره برابر وو ( اؤ اوس هم دے ).

یوحنا ۱۷: **۵** "اؤ اے پلاره! اوس تهٔ ما ته په خپل حضور کښې جلال راکړه، هغه جلال کوم چې ما تا سره دَ دنیا دَ پیدا ایښت نه اول لرلو." عیسیٰ مسیح دَ هغه جلال خبره کوله کوم چې هغهٔ سره دَ جُسه کیدو نه مخکښې وو.

يوحنا ۱:۱ "په ازل کښې کلام (مسيح) وو اؤ کلام دَ خدائ څخه وو اؤ کلام خدائ وو." دا يو ډير مضبوط اؤ ښۀ بيان دے، دَ کوم سره چې دَ يوحنا انجيل شريف شروع کيږي. اول يوحنا ۵: ۲۰ "......چې هغه وپيژنو چې رښتينے دے. مونږ بې شکه په هغۀ کښې يو چې رښتينے دے. ځکه چې مونږ دَ هغۀ په زوئ عيسیٰ مسيح کښې يو. هغه رښتينې خدائ اؤ دَ تل ژوندون دے." يوحنا په خپل انجيل شريف اؤ خپلو خطونو کښې بيا بيا په دې حقيقت زور اچوی چې عيسیٰ مسيح خدائ دے.

په دې ګواهئ کښې تيطوس هم دَ يوحنا په شان خبره کوی. تيطوس ۲: ۱۳ "اؤ دَ هغه مبارک اُميد، يعنې دَ خپل لوئ خدائ اؤ خلاصوؤنکی عيسیٰ مسيح دَ جلال دَ ظاهريدو په انتظار شو."

دَ کوم ذات چې مونږ په انتظار يو، هغه خلاصوؤنکے خدائ دے، چې په اول ځل بيت لحم ته راغلے وو. دَ عبرانيانو دَ خط ليکونکے هم دا ګواهي ورکوی. عبرانيان ۱: ۸ "خو دَ خپل زوئ په حقله وائی چې، اے خدايه! ستا تخت به تل تر تله وی." خدائ پلار خپل زوئ ته "خدائ" وائی.

يهوداه په خپلو برکتناکو خبرو کښې هغۀ ته "واحد اؤ خلاصوؤنکے خدائ" وائی. يهوداه ۲۵ "دَ يکی يو خدائ چې زمونږ خلاصوؤنکے دے.....". دا لفظونه صرف دَ يو ذات، يعنې زمونږ دَ مالک عيسیٰ مسيح دَ پاره دی.

يو آيت چې په هغې پوهيدل ډير ګران دی هغه دَ کولوسيانو دَ ۲: ۹ آيت دے "دَ اُلوهيت ټوله معمورتيا په هغۀ کښې ده". دَ فانی انسان دَ پاره دا آيت ډير زيات ژور دے. عيسیٰ مسيح په اُلوهيت کښې مکمل اؤ کامل دے، اؤ په هغۀ کښې يو رتئ قدرې کمے هم نشته.

دا وئيل چې هغه صرف دَ خدائ "يو" زوئ دے، دَ کفر اؤ دَ خلاصوؤنکی دَ بې عزتئ کولو نه کم نۀ دی. دَ متی په ۱۷: ۲ کښې دَ عيسیٰ مسيح دَ شکل بدليدو بيان دے. په دې کښې مونږ ته دَ عيسیٰ مسيح دَ جُسه کيدو نه مخکښې دَ جلال يو ښکارنه ښکاری. "دَ هغۀ مخ دَ نمر په شان ځليدو".

څوک چې عيسیٰ مسيح خدائ نۀ منی، نو هغه عيسیٰ مسيح دَ پلار برابر هم نۀ منی. اؤ هغه دَ خدائ دَ کلام نه دَ انکار کولو لويه ګناه کوی.

دَ عيسیٰ مسيح دَ ازلی وجود اؤ دَ جُسه کيدو نه مخکښې دَ جلال نه انکار کول يا په هغۀ اعتراض کولو سره په دې حقيقت هيڅ فرق نۀ پريوځی چې عيسیٰ مسيح خدائ دے اؤ دَ ازل نه تر ابده پورې خدائ دے.

ځوک چې دَ دې حقيقتونو نه انکار کوی، نو هغه دَ خلاصوئنکی دَ بې عزتئ کولو په لويه ګناه کښې راګيريږی.

مونږ له دې حقيقت سره خوشحاليدل پکار دی اؤ هغهٔ له جلال ورکول پکار دی، چې کهٔ هغه دَ ربنتينی خدائ اؤ دَ پلار برابر هم دے، خو بيا هم هغهٔ زمونږ په خاطر دَ اُلوهيت جلالی لباس لرې کړو اؤ خپل ځان يې بالکل خالی کړو.

راځئ چې مونږ دَ هغهٔ په وړاندې په سجده شو، اؤ دَ دومره لويې قربانئ دَ پاره دَ هغهٔ ثنا صفت اؤ ستاينه وکړو.

## ۲- دَ انسان په طور عيسیٰ مسيح دَ پلار تابعدار دے

کله چې عيسیٰ مسيح انسان جوړ شو نو هغهٔ په خپله مرضئ کمه مرتبه قبوله کړه، يعنې دَ خدائ پلار دَ تابعدارئ اؤ دَ عاجزئ مرتبه.

يوحنا **۱۴ : ۲۸** "تاسو واؤريدل چې ما ووئيل، زهٔ درنه روان يم اؤ بيا به تاسو ته بيرته راځم. کهٔ چرې تاسو ما سره مينه کولے نو تاسو به په دې آؤريدو سره خوشحاله شوی وئ چې زهٔ پلار له روان يم ځکه چې پلار له ما نه لوئ دے." دلته کښې انسان عيسیٰ مسيح دَ ازلی خدائ پاک خبره کوی. کله چې عيسیٰ مسيح دَ روح القدس په وسيله دَ مور په خيټه شو نو دَ عيسیٰ مسيح خدائ پاک سره يوه نوې رشته شروع شوه (عبرانيان ۱ : **۵**).

هيڅ کله هم خدائ يوې فرښتې ته دا نهٔ دی وئيلې چې، " تهٔ زما زوئ يې، ما نن اظهار کړې." دا خبره دَ لوقا په ۱ : **۳۵** کښې پيښه شوې وه.

يوحنا **۳** : **۱۲** کښې عيسیٰ مسيح ته "يکی يو زوئ" وئيلے شوی دی. دَ دې پيشن ګويئ په زبور **۲** : **۷** کښې شوې وه.

آيا دَ زوئ دَ پيدا کيدو دَ دې بيان نه دَ ازلی خدائ، دَ مالک عيسیٰ مسيح شروع کيدل اؤ دَ اصل بيانول مطلب دے؟

بالکل نه. ځکه چې دَ خدائ په طور هغه کله هم نهٔ دے پيدا شوې. هغه له ازل نه دے. (يشعياه **۹** : **۶** ، **۷**).

دَ پيدا کيدو نه مطلب هغه واقعه ده کومه چې دَ لوقا په ۱ : **۳۵** کښې پيښه شوې ده.

کله چې روح القدس په پيغلې بی بی مريم رانازل شو، اؤ انسان عيسیٰ مسيح دَ هغې په خيټه شو (لوقا ۱ : **۳۵**).

## ا- زویٔ څنګه دَ پلار تابعدار وو؟

(۱) دَ عیسیٰ مسیح دنیاوی ژوند دَ پلار په وجه وو. یوحنا ٦: ۵۷ "ژوندی پلار زهٔ راواستولم اؤ زهٔ دَ پلار په وجه ژوندے یم." پلار زویٔ قائم ساتی.

(۲) عیسیٰ مسیح دَ پلار نه بغیر په خپله هیڅ هم نهٔ شو کولے. یوحنا ۵: ۱۹ "زویٔ په خپله هیڅ هم نهٔ شی کولے بې له هغه کار نه چې وینی چې پلار یې کوی. څهٔ چې پلار کوی هغه زویٔ هم کوی."

(۳) عیسیٰ مسیح پلار دنیا ته راواستولو. یوحنا ٦: ۲۹ "دَ خدائ کار دا دے چې په هغه چا ایمان راوړئ چې هغه یې را استولے دے." نور وګورئ یوحنا ۸: ۲۹، ۴۲.

(۴) پلار زویٔ له اختیار ورکړو اؤ هدایات یې ورکول. یوحنا ۱۰: ۱۸ "زهٔ دا په خپله مرضئ قربانوم. دا زما اختیار دے چې ځان قربان کړم اؤ دا مې هم اختیار دے چې بیا یې وموم. دا اختیار ما ته خپل پلار راکړے دے."
( نور وګورئ یوحنا ۱۳: ۳ ).

(۵) عیسیٰ مسیح ته به دَ پلار له اړخ نه کلام ملاویدو. یوحنا ۸: ۲٦ "څهٔ چې ما دَ هغهٔ ( پلار ) نه آؤریدلی دی هغه زهٔ دنیا ته وایم."

(٦) پلار خلاصوؤنکی له ځنې کارونه دَ پوره کولو دَ پاره ورکړی وو. یوحنا ۵: ۳٦ "هغه کارونه چې زما پلار ما ته حواله کړی وو چې زهٔ یې وکړم اؤ سر ته یې ورسوم، دا کارونه زما دا ګواهی ورکوی چې پلار زهٔ را استولے یم."
( نور وګورئ یوحنا ۱۷: ۴ ).

(۷) پلار دَ زویٔ دَ پاره یو بادشاهی مقرر کړه. لوقا ۲۲: ۲۹ "زهٔ هغه بادشاهی ستاسو دَ پاره مقرروم چې زما پلار زما دَ پاره مقرره کړې ده."

(۸) د جماعت په موجوده دور کښې عيسىٰ مسيح دَ پلار دَ مشرئ تابعدار دے. اول کورنتيان ۱۱: ۳ "دَ ښځې سر سړے اؤ دَ مسيح سر خدائ دے."

(۹) عيسىٰ مسيح هغه لار جوړه شوه چې دَ هغې په وسيله انسان خدائ ته رسيدلے شی. عبرانيان ۷: ۲۵ "دَ دې دَ پاره چې څوک دَ دهٔ په وسيله خدائ ته راځی هغه هغوئ ته پوره پوره خلاصون ورکولے شی، ځکه چې هغه دَ هغوئ دَ شفاعت دَ پاره هميشه ژوندے دے."

(۱۰) عيسىٰ مسيح خدائ ته دَ رسيدلو يعنې خلاصون ته دَ رسيدلو لاره جوړه شوه. صرف هغه لار ده. (يوحنا ۱۴: ٦ ).

(۱۱)عيسىٰ مسيح خدائ ته "خپل خدائ" وئيل. يوحنا ۲۰: ۱۷ "عيسىٰ مسيح هغې (مريم ) ته وفرمائيل....زهٔ خپل پلار......اؤ خپل خدائ له.......پاس ځم." دَ متى په ۲۷: ۴٦ کښې دَ عيسىٰ مسيح څلورمه خبره وګورئ.

## ب- دَ تابعدار حد څهٔ دے؟ تر کومې پورې به وی؟

دَ لوقا په **۲۲ : ۲۹** کښې يو بيان دے چې پلار دَ زوئ دَ پاره يو بادشاهی مقرر کړې ده. زوئ به دا بادشاهی پلار ته حواله کړی. اول کورنتيان **۱۵ : ۲۴** "بيا به آخرت راشی. کله چې به هغه ټول حکومتونه اؤ ټول اختيارونه.... بادشاهی به خدائ ، يعنې خدائ پلار ته په حواله کړی."

دَ تابعدارئ دا وخت دَ دې نه هم زيات دے. دَ دې زمانې دَ ختميدو نه پس هم. بلکه دَ لوئ سپين تخت دَ عدالت نه هم مخکښې پورې به وی.

اول کورنتيان **۱۵ : ۲۷- ۲۸** "خدائ ټول څيزونه دَ هغهٔ دَ پښو لاندې کړی دی. اؤ هر کله چې ټول څيزونه يې دَ هغهٔ دَ لاندې کړی دی نو زوئ به هم دَ خدائ دَ لاندې کړے شی چا چې ټول څيزونه دَ هغهٔ دَ لاندې کړل اؤ دغه شان به خدائ په ټولو کښې هر څهٔ وی."

## خُلاصه

کۀ چرې مونږ په کلامِ پاک باندې صحيح طريقې سره پوهه شو نو دلته کښې هيڅ قسمه تضاد نشته. دَ جُسه کيدو نه مخکښې عيسیٰ مسيح دَ هميشه راسې دَ قادرِ مطلق خدائ برابر وو، اؤ اوس هم دے. جُسه شوی عيسیٰ مسيح خپله مرتبه پريښوده، اؤ حليمی يې اختيار کړه اؤ دَ پلار تابعدار شو، لکه څنګه چې ماشوم دَ خپل پلار تابعدار وی.

مونږ چې دَ عيسیٰ مسيح دَ حليمئ ( فيليپيان ۲: ۵- ۸ ) په حقله څومره هم مطالعه کوؤ، نو هغه هومره به دَ هغۀ زبردسته مينه زياته څرګنديږی، کومه چې هغۀ مونږ سره کړې ده. کله چې مونږ لاګناه ګار وو اؤ دَ مينې قابل نۀ وو.
دا زمونږ ذمه واری ده چې دَ مينې دا ډک پيغام زر تر زره ټوله دنيا کښې خور کړو.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۹۱- دَ فيليپيانو دَ ۲: ۵- ۷ په مطابق هغه کوم پنځۀ قدمونه دی چې عيسیٰ مسيح زمونږ په خاطر دې دنيا ته راتلو دَ پاره واخستل؟

۹۲- دَ يوحنا ۵: ۱۸ خلاف دَ يهوديانو جواب دومره سخت ولې وو؟

۹۳- تاسو به دَ يوحنا ۱۰: ۳۰ تشريخ څنګه کوئ؟

۹۴- دَ يوحنا ۱: ۱ اهميت واضحه کړئ.

۹۵- دَ نوې لوظنامې دَ څلورو ليکونکو نومونه واخلئ څوک چې وائی عيسیٰ مسيح خدائ دے؟

۹۶- عيسیٰ مسيح څنګه دَ پلار تابعدار دے؟

۹۷- دَ يوحنا ۱۴: ۲۸ "پلار زما نه لوئ دے" دَ دې تشريح وکړئ.

۹۸- عيسیٰ مسيح کله پيدا شو؟ ( زبور ۲: ۷ اؤ يوحنا ۳: ۱۶ ).

۹۹- اوؤۀ خبرې بيان کړئ چې دَ هغې په مطابق زوئ دَ پلار تابعدار دے.

۱۰۰- دَ تابعدارئ موده تر کومې پورې ده؟

## يوولسم سبق

## دَ مسيح بشريت

### پيژندګلو

* زمونږ دَ خلاصوؤنکی دَ پاره دا ضروری وه چې هغه نهٔ صرف الٰهی ذات وی اؤ دَ پيغلې نه پيدا شی بلکه دا هم ضروری وه چې هغه يو کامل انسان وی. هغه په نورو ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وو، خو صرف دَ ګناه نه دَ پاک والی په سبب زمونږ نه مختلف وو.
* اول تيموتيوس ۲: ۵ "ځکه چې يو خدائ دے، اؤ دَ خدائ اؤ انسان په مينځ کښې مينځګړې هم يو، يعنې عيسیٰ مسيح چې انسان دے."
* عيسیٰ مسيح زمونږ په شان جوړ شو چې "په هغه خبرو کښې چې خدائ سره يې تعلق لرلو، يو رحم کوؤنکے اؤ ديانتدار مشر کاهن وی." ( عبرانيان ۲: ۱۷ ).
* عيسیٰ مسيح دَ شريعت په مطابق پيدا شو، چې مونږ دَ شريعت نه آزاد کړی ( ګلتيان ۴: ۴- ۵ ).
* اولنی آدم سره مرګ راغلو. دويم آدم يعنې مسيح سره دَ مړو قيامت راغلو ( اول کورنتيان ۱۵: ۲۱ ).
* په دې سبق کښې به مونږ دَ مسيح دَ بشريت يو څو ثبوتونه پيش کوؤ.

### ۱- عيسیٰ مسيح له انسانی نومونه ورکړے شول

متی ۱: ۲۱ "تهٔ پرې عيسیٰ نوم کيږده." دَ متی په ۱: **۲۵** کښې دا خبره پوره شوه.

اول تيموتيوس ۲: ۵ "ځکه چې يو خدائ دے، اؤ دَ خدائ اؤ انسان په مينځ کښې مينځګړے هم يو، يعنې عيسىٰ مسيح چې انسان دے." په دې کښې عيسىٰ مسيح ته په صفا طور انسان وئيلے شوی دی.

"دَ ابن آدم" حواله اوؤۀ اؤيا ځله استعمال شوې ده. دا حواله دَ هغۀ په انسان جوړيدو باندې زور اچوی. (لوقا ۱۹: ۱۰).

دَ خپل مرګ نه لږ ساعت مخکښې ستفانوس عيسىٰ مسيح وليدو اؤ هغۀ ته يې "ابن آدم" ووئيل (اعمال ۷: ۵۶).

## ۲- دَ عيسىٰ مسيح انسانی نسب نامه

دَ پيشو دَ بچی حاصلولو دَ پاره دا ضروری دی چې دَ هغې مور پلار نر اؤ ښځه وی. نو دغه شان دَ عيسىٰ مسيح انسان جوړيدو دَ پاره دا ضروری وو چې دَ انسانی نسل نه پيدا شی. دَ خپلې مور بی بی مريم له طرف نه هغه دَ انسانی نسل نه وو.

لوقا ۲: ۷ "دَ هغې (مريم) مشر زوئ پيدا شو."

ګلتيان ۴:۴ "خو هر کله چې نيټه پوره شوه نو خدائ خپل زوئ راوليږلو چې دَ ښځې نه وزيږيدو اؤ دَ شريعت دَ لاندې پيدا شو."

عيسىٰ مسيح دَ حضرت داؤد دَ نسل نه پيدا شو. اعمال ۱۳: ۲۳ "دَ دۀ (داؤد) دَ نسل نه خدائ دَ خپل قول په مطابق دَ اسرائيلو خلاصوؤنکے راوليږلو."

متی ۱:۱ -۱۶ کښې دَ عيسىٰ مسيح نه تر حضرت ابراهيم پورې نسب نامه پيش کړے شوې ده.

عبرانيان ۷: ۱۴ "يعنې ظاهره ده چې زمونږ مالک له يهوداه دَ قبيلې نه پيدا شو اؤ دَ دې قبيلې په باب کښې حضرت موسىٰ دَ کاهن توب هيڅ ذکر نۀ دے کړے."

## ۳- دَ عيسىٰ مسيح جسمانی فطرت

يوحنا ۱: ۱۴ "اؤ کلام جُسه شو (جسمانی شکل يې اختيار کړو) اؤ.... هغه زمونږ سره اوسيدو."

عبرانيان ۲: ۱۴ "بيا لکه چې دَ هغۀ بچی انسانان دی، دغه شان عيسىٰ هم انسان شو."

دا خبره نۀ منل چې عيسیٰ مسيح انسان دے، دَ عيسیٰ مسيح دَ مخالف جوړيدو نخښنه ده. اول يوحنا ۴: ۲، ۳ "چې کۀ څوک دا اقرار کوی چې عيسیٰ مسيح په جسم کښې راغلے دے، هغه دَ خدائ له طرفه دے. اؤ هر هغه څوک چې دَ عيسیٰ مسيح اقرار نۀ کوی،.... هغه دَ خردجال روح دے."

کۀ چرې تاسو يو پيريانو نيولے کس آزمايئ نو دَ هغۀ نه دا تپوس وکړئ " آيا عيسیٰ مسيح په جسم کښې راغلے دے؟" نو هغه به په زوره جواب درکوی چې "نه".

## ۴- عيسیٰ مسيح دَ پالنې دَ پاره دَ انسانی اصولو تابعدار وو

(۱) هغه لوئ شو. لوقا ۲: ۴۰ "هلک لوئيدو، حکمت اؤ طاقت يې موندو اؤ دَ خدائ فضل ورسره وو."

(۲) هغۀ به سوالونه کول. لوقا ۲: ۴۶ "په دريمه ورځ يې هغه دَ خدائ په کور کښې ناست وموندلو چې اُستاذان ترې راتاؤ وو اؤ دَ هغوئ خبرې يې آؤريدې اؤ تپوسونه يې ترې کول."

(۳) هغه په حکمت اؤ هوښيارتيا کښې لوئيدو. لوقا ۲: ۵۲ "اؤ دَ عيسیٰ حکمت اؤ ونه لوئ شول."

(۴) هغۀ فرمانبرداری زده کړه. عبرانيان ۵: ۸ "اؤ سره دَ زوئ والی هغۀ تکليفونه زغملو سره فرمانبرداری ازده کړه."

(۵) هغۀ تکليفونه وزغمل. عبرانيان ۲: ۱۸ "ځکه چې هغه په خپله و آزمائيلے شو نو هغه دَ هغوئ مدد کولے شی څوک چې آزمائيلے کيږی."

عبرانيان ۲: ۱۰ "ځکه چې ټول څيزونه دَ خدائ دَ پاره دی اؤ چې دَ خدائ په وسيله ټول څيزونه دی نو هغۀ له هم دا مناسب وو چې هر کله چې ډير زامن په جلال کښې داخل کړی نو دَ هغوئ دَ خلاصون بانی، يعنې عيسیٰ، دَ تکليفونو په وسيله کامل کړی."

(۶) تر ديرشو کالو عمر پورې هغۀ دَ ترکاڼئ کار کولو. مرقوس ٦: ۳ " دا هغه ترکاڼ نۀ دے، دَ مريمې زوئ، دَ يعقوب اؤ....شمعون ورور نۀ دے؟"

دَ لوقا په **۳: ۲۳** کښې دَ عیسیٰ مسیح عمر هم ورکړے شوے دے.
عیسیٰ مسیح تر دومره حده پورې انسان وو چې خلقو به هغه په غلطئ سره یو معمولی ترکاڼ ګڼلو.

(۷) هغه وآزمائیلے شو. دَ آزمیښت دا بیان دَ متی په ۴: ۱- ۱۱ کښې ورکړے شوے دے.

## ۵- دَ عیسیٰ مسیح جسمانی انسانی خوبئ

(۱) هغه به وږے کیدو. متی ۴: ۲ " هغهٔ څلویښت ورځې اؤ څلویښت شپې روژه ونیوله اؤ په آخر کښې هغه وږے شو." ( نور دَ متی ۲۱: ۱۸ وګورئ ).

(۲) هغه به تږے کیدو. یوحنا ۴: ۷ " یو سامری ښځه دَ اوبو وړلو دَ پاره راغله. عیسیٰ مسیح هغې ته ووئیل ما له اوبهٔ راکړه."

په سولئ باندې پنځمه خبره دا ده، " زهٔ تږے یم" (یوحنا **۱۹: ۲۸** ).

(۳) هغه به ستړے کیدو. یوحنا ۴: ٦ " اؤ هغه چینه چې دَ یعقوب کوهے ورته وائی. دا دَ غرمې وخت وو چې عیسیٰ په سفر ستړې شوې وو اؤ هغه دَ کوهی سره کښیناستو."

(۴) هغهٔ له به خوب ورتلو. متی ۸: ۲۴ " ناڅاپی په دریاب کښې یو لوئ طوفان راغے، اؤ چپې داسې اوچتیدې چې په کشتئ را اؤړیدې، خو هغه اودهٔ وو."

(۵) هغهٔ به خلقو سره مینه کوله. مرقوس ۱۰: ۲۱ " بیا عیسیٰ هغهٔ ته نیغ وکتل، په هغهٔ یې مینه راغله."

یوحنا ۱۱: **۳۲** " یهودیانو ووئیل، چې دَ هغهٔ به دَ دهٔ سره څومره مینه وه." عیسیٰ مسیح لعزر سره مینه کوله.

(٦) دَ هغهٔ به په خلقو زړهٔ سوځیدو. متی ۹: ۳٦ " دَ هغه خلقو په لیدو یې زړهٔ وسوځیدو ځکه چې هغوئ...... پریشانه شوو."

متی ۲۳: ۳۷ " اے بيت المقدسه! اے دَ بيت المقدس ښاريې! ..... ما څو ځله دا کوشش وکړو چې ستا بچی راغونډ کړم، داسې لکه چې چرګه خپل بچی تر وزرو لاندې کوی،خو تا دا نهٔ غوښتل."

(۷) هغهٔ له به غُصه هم ور تله ، اؤ خفه کيدو به هم. مرقوس ۳: ۴ " بيا يې هغوئ ته مخ ور واړووؤ اؤ وې وئيل، چې دَ سبت په ورځ ښهٔ کول روا دی کهٔ بد کول، دَ چا بچ کول روا دی کهٔ وژل؟" يوحنا ۲: ۱۶ " دَ خدائ په کور صفا کولو کښې عيسیٰ مسيح له ډيره سخته غُصه ورغلې وه.

(۸) هغهٔ به اعتماد کولو. عبرانيان ۵: ۷ " څهٔ وخت چې عيسیٰ په زمکه ژوند تيرولو نو هغهٔ په زوره زوره چغې کړې اؤ اوښکې يې بهيدلې، خدائ ته يې دعاګانې اؤ زارئ وکړې چا چې هغه له مرګ نه بچ کولے شو، اؤ خدائ ترسئ اؤ ځان وقف کولو په وجه خدائ دَ هغهٔ واؤريدل."

(۹) هغه ډير زيات غمژن شو. يوحنا ۱۱: ۳۵ " کله چې عيسیٰ هغه په ژړا وليده اؤ ور سره يې هغه يهوديان ملګری هم وليدل چې ژاړی نو هغهٔ يو سوړ اسويلے وکړو اؤ ډير زهير شو."

(۱۰) هغهٔ به ژړل. يوحنا ۱۱: ۳۵ " عيسیٰ په ژړا شو." دا هم ممکنه ده چې دَ ګتسمنې په باغ کښې هم هغهٔ ژړلی وی ( متی ۲۶: ۳۸، لوقا ۱۹: ۴۱ ). عيسیٰ مسيح دَ بيت المقدس په ښار وژړل.

دَ عبرانيانو په ۵: ۷ کښې په چغو چغو اؤ اوښکو بهيدلو سره دَ زارئ کولو ذکر شوے دے.

(۱۱) هغهٔ به دعا ګانې غوښتلې. متی ۱۴: ۲۳ " اؤ خلق يې رخصت کړل اؤ دَ دعا کولو دَ پاره يواځې غر ته وختلو."

## ٦- عیسیٰ مسیح بدن، ساه اؤ روح لرل

(۱) دَ عیسیٰ مسیح بدن وو (یوحنا ۱: ۱۴، عبرانیان ۲: ۱۴، متی ۲٦: ۱۲ ). دَ عیسیٰ مسیح بدن ښخ کړے شو ( لوقا ۲۳: ۵۲- ۵٦ ).

(۲) په عیسیٰ مسیح کښې ساه وه. متی ۲٦: ۳۸ " زما زړۀ دَ غمه چوی". دَ مرګ نه پس دَ عیسیٰ مسیح روح جنت ته لاړو ( لوقا ۲۳: ۴۳ ).

(۳) په عیسیٰ مسیح کښې روح وو چې دَ مرګ په وخت پلار له واپس لاړو. لوقا ۲۳: ۴٦ " اے پلاره! زۀ خپل روح ستا په لاس کښې سپارم."

## ۷- عیسیٰ مسیح مړ شوے وو

دَ ژوند دَ ختمیدو نوم مرګ دے. انسان دَ مړ کیدو دَ پاره پیدا کیږی. عبرانیان ۹: ۲۷ " اؤ لکه څنګه چې دَ بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل..... مقرر دی." نو عیسیٰ مسیح له هم دَ دې اصولو پابندی کول ضروری وو.

عیسیٰ مسیح په ځوانئ کښې دَ کلوری په غر باندې دَ سولئ په مرګ مړ شو.

لوقا ۲۳: ۳۳ " اؤ کله چې هغوئ کپرئ نومې ځائ ته ورسیدل نو هغه یې هلته په سولئ کړو، اؤ بد معاشان هم ورسره چې یو یې په ښی لاس اؤ بل یې په ګس لاس وو."

عبرانیان ۲: ۹ " البته عیسیٰ ګورو کوم چې له فرښتو نه څۀ لږ کم کړے شو، چې دَ مرګ تکلیف دَ زغملو په سبب ورته دَ جلال اؤ عزت تاج په سر کړے شو چې دَ خدائ په فضل سره مسیح دَ هر یو سړی دَ پاره مړ شی."

عیسیٰ مسیح دې دنیا ته دې له راغلے وو چې خپل ځان ورکړی. اؤ مرګ دَ هغۀ دَ انسان جوړیدو یو لوئ ثبوت دے.

### خُلاصه

عیسیٰ مسیح دَ خپل بیا راژوندی کیدو نه پس هم بدن لرلو. لوقا ۲۴: ۳۹ " زما لاسونو اؤ پښو ته وګورئ چې دا زۀ یم. ما له لاس راوړئ اؤ وګورئ، دَ پیری غوښه اؤ هډوکی نۀ وی لکه چې تاسو وینئ چې زۀ یې لرم."

یوحنا ۲۰: ۲۷ " خپلې ګوتې دلته کیږدئ اؤ زما لاسونه ووینئ....."

اعمال ۷: ۵۵، ۵۲ کښې ستفانوس دَ خپل شهادت په وخت عیسیٰ مسیح دَ خدائ ښی لاس ته ولاړ ولیدو.

عیسیٰ مسیح دَ دوؤ خبرو نه علاوه زمونږ په شان انسان وو. (۱) هغهٔ ته په وراثت کښې ګناه نهٔ وه ملاؤ شوې اؤ نهٔ دَ هغهٔ په فطرت کښې ګناه وه. (۲) هغه بې ګناه وو ځکه چې هغهٔ هیڅ کله هم ګناه نهٔ وه کړې.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۰۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ انسان جوړیدو شپږ غټ ثبوتونه کوم کوم دی؟

۱۰۲- دَ بائبل مقدس کومه یو حواله دَ عیسیٰ مسیح په انسان جوړیدو باندې زور اچوی؟

۱۰۳- دَ کومې خبرې په بنیاد باندې یو نوې پیدا شوې ماشوم انسان جوړیږی؟ آیا دا خبره دَ عیسیٰ مسیح دَ پاره استعمالیږی؟

۱۰۴- دَ فیلیپیانو په ۲: ۷ کښې دَ انسان په شان جوړیدو نه څهٔ مطلب دے؟

۱۰۵- دَ انسانی ودې اووهٔ اصول بیان کړئ کوم چې دَ عیسیٰ مسیح په ژوند کښې وو.

۱۰۶- دَ انسان اووهٔ خوبئ بیان کړئ چې په عیسیٰ مسیح کښې هم موجودې وې.

۱۰۷- کهٔ چرې عیسیٰ مسیح صرف خدائ وو نو آیا هغه بیا مړ کیدے شو؟ ولې؟

۱۰۸- آیا عیسیٰ مسیح اوس هم بدن لری؟ ثبوت ور کړئ؟

۱۰۹- دَ عیسیٰ مسیح اؤ زمونږ په مینځ کښې کوم دوه لوئ فرق موجود دی؟

۱۱۰- عیسیٰ مسیح ولې انسان جوړ شو؟ ( درې وجې بیان کړئ ).

دولسم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح بې ګناهی

## پېژندګلو

* مونږ وکتل چې عیسیٰ مسیح دَ ګناه دَ میراث اؤ فطرت نه پاک وو. دَ دې وجه دا ده چې هغه دَ انسانی پلار نه بغیر دَ یوې پېغلې نه پیدا شو.
* په دې سبق کښې به مونږ یو قدم نور مخ په وړاندې ځو اؤ ګورو به چې هغهٔ په خپل ټول ژوند کښې هیڅ ګناه نهٔ وه کړې. هغه تر مرګه پورې دَ ګناه دَ وړوکی شان داغ نه هم پاک وو.
* دا خبره بالکل صحیح ده چې عیسیٰ مسیح دَ نیم نسل نه نهٔ وو، یعنې نیم انسان اؤ نیم خدائ نهٔ وو. هغه یو کامل خدائ اؤ کامل انسان وو اؤ دِ هغهٔ دا دواړه فطرتونه جدا جدا وو.
* هغه لکه زمونږ په شان انسان وو. هغه یو مثالی انسان وو. هغه جسمانی خو یو کامل انسان وو.
* عیسیٰ مسیح دَ بې ګناه اؤ بې داغه ژوند تیرولو په سبب واحد اؤ بې مثاله ذات دے.

## ۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ مفهوم

دَ خدائ پاک ارادې یا مرضئ سره یو والے نهٔ لرل ګناه ده، یعنې دَ خدائ پاک مرضئ سره په پوره طور یو والے لرل بې ګناهی ده.
عبرانیان ۱۰: ۷ " اے خدایه! زهٔ راغلے یم چې ستا مرضی پوره کړم."
یوحنا ۱۷: ۴ " ما په هغه کار پوره کولو ستا جلال په دې دنیا کښې ښکاره کړو، کوم چې تا ما ته حواله کړې وو."

دَ خدائ پاک دَ مرضئ مخالفت کول اؤ دَ بدئ په لاره تللو ته ګناه وئیلے شی. ګناه ظاهری هم ده لکه مثال په طور دروغ وئیل، غلا کول اؤ قتل کول. اؤ ګناه باطنی هم ده. دَ متی ۱۵: ۱۹ په مطابق دَ زړۀ دَ خیالونو نه بد کارونه پیدا کیږی.

عیسیٰ مسیح دَ ظاهری اؤ باطنی دواړو قسمه ګناهونو نه پاک وو. کومې خبرې چې همیشه بالکل پاکې اؤ نیکې دی، نو عیسیٰ مسیح بالکل هم هغې سره یو شان والے لرلو.

دَ عبرانیانو په ۷: ۲۶ کښې دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ بیان داسې شوې دے چې "هغه پاک اؤ بې ریا اؤ بې داغه دے، اؤ له ګناه ګارانو نه جدا دے." دَ پاک مطلب دے دَ هر قسمه ګندګئ نه پاک.

پطروس رسول دَ بې ګناهئ بیان څۀ په دې طریقه کوی چې" عیسیٰ مسیح یو بې عیبه اؤ بې داغه ګډورے دے". (۱پطروس ۱: ۱۹). عبرانیان ۹: ۱۴ کښې هم دا خبرې لیکلے شوی دی.

## ۲- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ حقیقت

اعمال دَ رسولانو په کتاب کښې په ۴: ۲۷، ۳۰ کښې دوه ځله دَ "پاک خدمت ګار عیسیٰ" لفظونه راغلی دی. دَ دې لفظونو اهمیت دا دے چې هغه دَ پیدایښت راسې مقدس، پاک، بې ګناه وو اؤ دَ هر قسم بدئ نه پاک وو. پیریانو به هم عیسیٰ مسیح پیژندلو اؤ هغۀ ته به یې دَ خدائ قدوس (مرقوس ۱: ۲۴) وئیلو. دَ لوقا په ۴: ۳۴ کښې ناپاکه روح چغې کړې چې " ما ته معلومه ده چې تۀ څوک یې. تۀ دَ خدائ قُدوس یې."

دَ پیریانو ګواهی دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ دَ ټولو نه لوئ ثبوت نۀ دے، بلکه دَ خدائ پاک خالص اؤ الهامی کلام دَ دې یو لوئ ثبوت دے. مونږ دا ایمان لرو چې دَ خدائ پاک کلام رښتینے دے.

اول پطروس ۲: ۲۲ " نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه، اؤ نۀ دَ هغۀ دَ خلې نه دَ څۀ فریب خبره ووتله."
اول یوحنا ۳: ۵ " تاسو خبر یئ چې مسیح ځکه ښکاره شو چې ګناهونه لرې کړی، اؤ په هغۀ کښې هیڅ ګناه نشته." زمونږ په خلاصوؤنکی کښې دَ ګناه لږ شان اثر قدرې هم نشته.

دویم کورنتیان **۵**: **۲۱** " هغه چا چې ګناه نۀ پیژنده خو خدائ هم هغه زمونږ دَ پاره ګناه وګڼلو " یعني عیسیٰ مسیح اؤ ګناه دَ یو بل دَ پاره بالکل ناآشنا وو.

عبرانیان **۴**: **۱۵** " ځکه چې زمونږ داسې مشر کاهن نۀ دے چې زمونږ په کمزورتیاؤ کښې همدرد کیدے نۀ شی بلکه هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائیلے شو خو بیا هم بې ګناه پاتې شو."

اول یوحنا **۳**:**۳** " څوک چې هم دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راتلو اُمید لری نو هغه خپل ځان داسې پاکوی لکه څنګه چې هغه پاک دے. " عیسیٰ مسیح بالکل پاک دے.

## ۳- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ شهادتونه

دَ عیسیٰ مسیح خپله ګواهی. هغه په نورو خلقو کښې ګناه ګوری. په خپله هغۀ کښې هیڅ قسمه ګناه نشته. یوحنا ۸: **۴۶** " په تاسو کښې کوم یو سړے دے چې په ما ګناه ثابتولے شی؟" هغه دَ ګناه نه پاک دے. دَ حضرت آدم په ګناه کښې دَ غورزیدلو نه پس عیسیٰ مسیح هغه واحد ذات دے څوک چې داسې قسمه دعوه کولے شی. عیسیٰ مسیح خو نۀ چرې دَ څۀ قسمه غلطئ اعتراف کړے دے اؤ نۀ یې چرې دَ ګناهونو معافی غوښتلې ده. دَ هغۀ په پاک ذهن کښې کله هم بد خیال نۀ دے راغلے.

پنطوس پیلاطوس دَ عیسیٰ مسیح انصاف کوؤنکے وو. پیلاطوس دَ هغۀ نه تپوسونه وکړل اؤ بیا یې فتویٰ ورکړه " زۀ په دۀ کښې هیڅ جرم نۀ وینم" ( یوحنا **۱۸**: **۳۸**). دَ یو اختیار مند اؤ ذمه وار انصاف کوؤنکی له خُلې نه دا څومره واضحه اؤ صفا ګواهی ده!

دَ پیلاطوس ښځه، یوه ښځه، دَ انصاف کوؤنکی ښځه، دَ عیسیٰ مسیح خلاف یا په حق کښې دَ هغې هیڅ قسمه ذاتی دلچسپی نۀ وه. هغې خوب ولیدو اؤ خپل خاوند له یې دا پیغام واستولو " چې دې بې ګناه سړی ته ګورې هیڅ ونۀ وایې". بې ګناه یعنې پاک، مقدس ( متی **۲۷**: **۱۹** ).

په سولئ باندې ځوړند مجرم دَ عیسیٰ مسیح په حقله ګواهی ورکړه. لوقا **۲۳**: **۴۱** " دۀ هیڅ غلط کار نۀ دے کړے". دا دَ یو داسې مجرم اؤ قاتل ګواهی ده څوک چې دَ خپلې ګناه په وجه په سولئ مړ کیدو.

په دې دنیا کښې دَ خدمت په دوران کښې زمونږ دَ مالک عیسیٰ مسیح یو شاګرد وو چې نوم یې یهوداه اسکریوتی وو. کۀ چرې یو کس دَ عیسیٰ مسیح څۀ قسمه قصور، کمزوری یا ګناه معلوملے شوه نو هغه دَ هغۀ شاګردان وو، څوک چې ورځ اؤ

شپه هغهٔ سره وو، اؤ هغهٔ سره به يې ناسته پاسته کوله، هغهٔ سره به يې خوړل څښکل اؤ دَ هغهٔ سره به يې خبرې اترې کولې. يهوداه معجزې وليدلې، دَ هغهٔ تعليم يې واؤريدو، اؤ هغه يې ډير نزدې نه وليدو. خو په آخر کښې دَ سپينو زرو ديرشو سکو دَ پاره يې دوکه وکړه. کله چې عیسیٰ مسیح له دَ سزا حکم ورکړے شو نو هغه يهوداه ګواهی ورکړه. متی ۲۷: ۴ " ما ګناه کړې ده چې يو بې ګناه سړې مې تر مرګه را رسولے دے". عیسیٰ مسیح دَ ګناه نه پاک وو.

دَ لوقا په ۲۳: ۴۷ کښې رومی صوبيدار ووئيل " بې شکه چې دا سړے صادق وو". دا دَ يو سخت زړيه رومی سپاهی ګواهی ده.

## ۴- دَ خلاصوؤنکی دَ بې ګناهئ خلاف دليلونه

(۱) ځنې خلق وائی چې بې ګناهی ناممکنه ده. دَ ګناه نه پاک پاتې کيدل دَ پوهې خلاف خبره ده. خو دَ کلام پاک دَ واضحه ګواهئ په وړاندې داسې بيانونه هيڅ حقيقت نهٔ لری. هغه بې ګناه دے.

(۲) ځنې خلق دا سوچ کوی چې هغه وآزمائيلے شو نو په دې وجه وخت په وخت دَ هغهٔ ذهن دَ ګناه دَ پاره کولاؤ وو.

آزميښت په خپله ګناه نهٔ ده بلکه په آزميښت کښې پريوتل ګناه ده. شيطان، دنيا اؤ حالاتو عیسیٰ مسیح په آزميښت کښې واچولو چې هغه ګناه وکړی، خو هغهٔ ګناه ونهٔ کړه بلکه په دې يې فتح وموندله.

(۳) دَ ځنې خلقو دَ متی ۴: ۱- ۱۱ کښې دَ عیسیٰ مسیح دَ آزميښت په حقله دا خيال دے چې کهٔ چرې عیسیٰ مسیح کامل وو نو بيا خو آزميښت بې حقيقته پاتې کيږی. يو کامل سړے څنګه آزمائيلے کيدے شی؟

حضرت آدم اؤ بی بی حوا ته په ميراث کښې ګناه نهٔ وه ملاؤ شوې. هغوئ کامل وو. خو بيا هم کله چې هغوئ وآزمائيلے شول نو هغوئ په ګناه کښې پريوتل. دَ دې نه دا ثابتيږی چې دَ يو کامل سړی آزميښت هم حقيقی وی.

(۴) ځنې خلق وائی چې چرته نۀ دَ ګناه څۀ امکان وی، اؤ نۀ دَ ګناه دَ پاره څۀ کمزوری وی نو هلته ګناه څنګه راتلے شی؟

حضرت آدم اؤ بی بی حوا ځکه ګناه وکړه چې هغوئ دَ خدائ پاک په شان جوړیدل غوښتل. دَ هغوئ په ذهن کښې دَ ترقئ کولو خیال وو. دَ هغوئ آزمیښت حقیقی وو، اؤ هغوئ ګناه وکړه. مونږ دا ایمان لرو چې کۀ چرې عیسیٰ مسیح غوښتل نو ګناه یې کولے شوه. هغه کامل انسان وو. هغه څۀ الٰهی انسان (یا ګډوډ ذات) نۀ وو.

دَ عیسیٰ مسیح فتح بې شکه اؤ کامله وه. هغۀ یو ځل هم ګناه له موقعه ور نۀ کړه.

## ۵- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ نه دَ انکار کولو نتیجې

- کۀ چرې عیسیٰ مسیح کښې ګناه وه نو هغه به بیا په سولئ باندې صرف دَ خپلې ګناه دَ پاره مړ کیدو. نو په داسې حال کښې به مونږ تر اوسه پورې په خپلو ګناهونو کښې پراتۀ وو.
- کۀ چرې عیسیٰ مسیح کښې ګناه وه نو هغه به نۀ دَ خدائ زوئ وو، نۀ به ابن آدم اؤ نۀ خلاصوؤنکے.
- کۀ چرې عیسیٰ مسیح کښې ګناه وه نو هغه بیا په سولئ باندې دَ ګناه دَ پاره قربانی نۀ شوه جوړیدے.
- کۀ چرې عیسیٰ مسیح کښې ګناه وه نو دَ جماعت بنیاد به دَ شګې جوړ وو اؤ زر به را غورزیدلے وو.
- کله چې مونږ دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ نه انکار کوؤ نو مونږ انسان دَ خلاصون اؤ دَ خلاصوؤنکی نه محرومه کوؤ.
- دَ خدائ پاک حمد اؤ تعریف وکړئ چې بائبل مقدس وائی چې هغه بې ګناه دے. نو ځکه نن مونږ ته خلاصون ملاؤ شوے دے.

## ٦- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ دَ ښرګندولو دوه اړخونه

خراب اړخ _ هغهٔ نهٔ چرې په عملی طور ګناه وکړه، نهٔ یې دَ ګناه په حقله سوچ وکړو اؤ نهٔ یې دروغ ووئیل.

ښهٔ اړخ _ هغهٔ به همیشه هغه کارونه کول کوم چې به په خیال، خبره اؤ عمل کښې دَ خدائ پاک خوښ وو.

دَ پاکوالی دوه اړخونه دی (۱) صداقت سره مینه (۲) دَ بدئ نه نفرت. عیسیٰ مسیح دَ کاملې بې ګناهئ هر اړخ پوره کړو.

## ۷- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ نتیجې

(۱) دَ بې ګناهئ په سبب هغه دَ انسان دَ پاره دَ خدائ پاک یو کامل مظهر دے.

(۲) دَ انسان اؤ بې ګناهئ په سبب هغه یو کامل مینځګړے دے. دَ دې نه ښرګندیږی چې هغه بالکل انسانی صورت ته راغلے وو. هغه وآزمائیلے شو خو هغهٔ مقابله وکړه اؤ کامیاب شو.

(۳) دَ انسان اؤ بې ګناهئ په سبب هغهٔ زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره داسې قربانی پیش کړه چې خدائ پاک قبوله کړه.

(۴) هغهٔ مونږ له پاره یو کامله نمونه راکړه (اول پطروس ۲: ۲۱- ۲۲).

(۵) دا ټولې خبرې دَ آسمانی وطن لار ښائی. یو بې ګناه خلاصوؤنکی زمونږ دَ پاره دا لار پرانستله.

## خُلاصه

راځئ چې مونږ دَ خدائ پاک حمد وثنا وکړو چې عیسیٰ مسیح ته میراث کښې ګناه ملاؤ نۀ شوه اؤ هغه دې دنیا ته راغلو، اؤ یو کامل اخلاقی ژوند یې تیر کړو اؤ بې ګناه آسمان ته واپس لاړو. دَ دې کاملې فتح دَ پاره مونږ له پکار دی چې هغۀ ته سجده وکړو، دَ هغۀ حمد وثنا وکړو اؤ هغۀ له جلال ورکړو.

مونږ سره دَ هغه خلقو دَ پاره ښومره ښکلې پیغام دے چې څوک په ګناه، شهوت پرستئ، خرابو عادتونو اؤ دَ خرابو خواهشونو په زنځیرونو کښې تړلی دی. دَ کامل فتح مند خلاصوؤنکی په وسیله آزادی اؤ فتح ملاویږی.

## دَ دوباره کتلو دَ پاره سوالونه

۱۱۱- دَ عیسیٰ مسیح انسانی مور وه اؤ اِلٰهی پلار، نو آیا هغۀ دوه نسلونه لرل؟ وضاحت وکړئ.

۱۱۲- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ څۀ مطلب دے؟

۱۱۳- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ په حقله په کلام مقدس کښې دَ ټولو نه اهم حواله کومه یو ده؟

۱۱۴- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ پنځۀ ګواهان اؤ دَ هغوئ مختصر ګواهئ پیش کړئ.

۱۱۵- آیا دا ممکنه وه چې دَ متی په ۴: ۱- ۱۱ آزمیښت کښې عیسیٰ مسیح ګناه کړې وه؟ ولې؟

۱۱۶- آیا عیسیٰ مسیح واحد کامل ذات وو څوک چې وآزمائیلے شو؟ نور څوک وو؟

۱۱۷- کۀ چرې په عیسیٰ مسیح کښې ګناه وه نو دَ هغې څلور نتیجې بیان کړئ.

۱۱۸- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ دَ څرګندونې دوه اړخونه کوم کوم دی؟

۱۱۹- دَ عیسیٰ مسیح دَ بې ګناهئ درې نتیجې بیان کړئ.

۱۲۰- آیا دا زمونږ دَ عقیدې اهم نُکته ده یا غیر اهمه ده؟

# دیارلسم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح ژوند

## پیژندګلو

* په دې سبق کښې دَ دې وئیلو کوشش به کوؤ چې په حقیقت کښې عیسیٰ مسیح څنګه شخصیت وو.
* مونږ اکثر دا وایو "زۀ دَ عیسیٰ مسیح په شان جوړیدل غواړم". دَ دې نه زمونږ څۀ مطلب دے؟
* دا خواهش یو ډیر ښۀ خواهش دے. خو هغه یو نه بلکه ډیرو طریقو سره زمونږ دَ پاره یو مثال دے. ( اول پطروس ۲: ۲۱ ). هغه صرف په عمل کښې نه بلکه شکل اؤ صورت اؤ کردار کښې هم زمونږ دَ پاره مثال دے ( رومیان ۸: ۲۹ ). دَ هغۀ په شان صورت لرلو مطلب دے چې مونږ په کردار کښې دَ هغۀ په شان شو.

## ۱- عیسیٰ مسیح پاک وو

په دې موضوع باندې "دَ عیسیٰ مسیح بې ګناهی" سبق کښې په تفصیل سره خبرې اترې شوی دی. عیسیٰ مسیح پاک وو. بلکه هغه بالکل پاکوالے وو. ځکه چې هغه دَ پیدایښت راسې دَ ګناه نه پاک وو.

دَ دې نه علاوه هغۀ هیڅ کله هم ګناه نۀ وه کړې، اؤ همیشه به یې صحیح، نیک اؤ پاک کارونه کول.

اعمال ۳: ۱۴ کښې پطروس عیسیٰ مسیح ته "پاک اؤ صادق" وائی.

هغۀ صداقت سره مینه اؤ دَ بدئ نه نفرت کولو. دَ خدائ پاک دَ کور پاکولو اؤ دَ ریاکارئ اؤ دَ ګناه مُذمت کولو سره هم دَ هغۀ دَ پاکوالی اظهار کیږی.

عیسیٰ مسیح دَ ګناه نه دومره نفرت کولو چې هغه ګناه له دَ ماتی ورکولو اؤ ایماندارانو له صداقت ورکولو دَ پاره په سولئ دَ مړ کیدو دَ پاره تیار شو.

دَ ګلتیانو په ۳: ۱۳ کښې لیکلی دی چې عیسیٰ مسیح مونږ دَ شریعت نه آزاد کړو اؤ په خپله لعنتی شو، اؤ دَ رومیانو په ۴: ۲ کښې لیکلی دی چې څوک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوؤنکے قبلوی نو خدائ پاک دَ هغوئ دا ایمان هغوئ دَ پاره په صداقت حسابوی. دَ مکاشفې ۱۹: ۸ وګورئ.

## ۲- عیسیٰ مسیح خلقو سره مینه کوله

دَ خلاصوؤنکی مینه په دوؤ طریقو سره څرګنده شوه. (۱) دَ خپل آسمانی پلار سره مینه (۲) دَ بنی نوع انسان سره مینه.

یوحنا ۱۴: ۳۱ "خو دنیا ته به دا خامخا څرګنده شی چې زهٔ پلار سره مینه کوم".

عیسیٰ مسیح دَ پلار تابعدارئ کولو سره دا مینه څرګنده کړه. یوحنا ۲: ۳۸ " زهٔ دَ آسمان نه دَ خپلې رضا کولو دَ پاره نهٔ یم راکوز شوے بلکه دَ هغهٔ دَ رضا دَ پاره چا چې زهٔ را استولے یم". نور وګورئ یوحنا ۱۴: ۳۱.

عیسیٰ مسیح هغه کار پوره کړو کوم چې پلار هغهٔ له ورکړې وو (یوحنا ۱۷: ۴ اؤ ۱۹: ۳۰).

- عیسیٰ مسیح جماعت سره خاص مینه لرله. افسیان ۵: ۲۵ " عیسیٰ مسیح هم جماعت سره مینه وکړه.....".
- عیسیٰ مسیح "خپلو" سره خاص مینه لری. یوحنا ۱۳: ۱ " اؤ هغهٔ دَ خپلو سره چې په دې دنیا کښې وو.....مینه وکړله".
- عیسیٰ مسیح ګناه ګارانو سره هم مینه کوله. لوقا ۱۹: ۱۰ " اؤ ابن آدم دې له راغلے دے چې ورک شوی ولټوی اؤ بچ یې کړی".
- دَ متی په ۹: ۱۳ کښې ښودلې شوی دی چې هغه په متی ۵: ۴۴ کښې دَ خپل تعلیم په مطابق دَ خپلو دښمنانو سره هم مینه کوله، اؤ دَ متی په ۱۹: ۱۳-۱۵ کښې ماشومانو سره هم دَ هغهٔ دَ مینې بیان ورکړے شوے دے. بائبل مقدس دَ مرقوس په ۱۰: ۱۳- ۱۲ آیتونو کښې دا مینه په ډیر ښکلی انداز سره پیش کوی.

هغهٔ دا مینه په دې طریقه هم وښودله چې هغه غریب جوړ شو دَ دې دَ پاره چې مونږ غنیان جوړ شو. دویم کورنتیان ۸: ۹ " ځکه چې تاسو زمونږ دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ فضل نه خبر یئ چې سره دَ دې چې هغه غنی وو خو ستاسو دَ پاره غریب جوړ شو، دَ دې دَ پاره چې تاسو دَ هغه غریب په سبب غنیان شئ."

دَ هغهٔ دَ مینې لوئ ثبوت دا دے چې هغه زمونږ دَ پاره مرګ ته تیار شو. یوحنا ۱۵: ۱۳ " دَ دې نه زیاته نوره مینه نشته چې یو سړے دې دَ خپل دوست دَ پاره خپل ځان ورکړی".

دَ عیسیٰ مسیح مینه دَ دې نه هم څرګندیږی چې هغه هره ورځ زمونږ فکر کوی اؤ زمونږ خیال ساتی. متی ۶: ۳۳.

## ۳- عیسیٰ مسیح دَ خلقو دَ بچ کولو زبردست خواهش لرلو

کوم خلق چې په ګناهونو کښې ورک شوی دی نو خلاصوؤنکے هغوئ پسې ګرځی. دَ هغوئ دَ پاره دَ هغهٔ مینه هیڅ کله هم نهٔ ختمیږی.

هغه دَ یو ښهٔ شپون په طور راغلے، دَ دې دَ پاره چې ورکې شوې ګډې ولټوی کهٔ هغه یهودیان وی اؤ کهٔ غیر یهودیان. یوحنا ۱۰: ۱۶ "اؤ زما نورې ګډې هم شته چې هغه دَ دې شپول نهٔ دی، خو دَ هغوئ راوستل ضروری دی اؤ هغوئ به هم زما آواز آؤری، نو بیا به رمه یوه شی اؤ شپونکے به یې هم یو وی".

عیسیٰ مسیح ټولو انسانانو سره مینه لری. هغه دَ دنیا.....ټولو انسانانو.....د خاطره مړ کیدو دَ پاره راغلو (یوحنا ۳: ۱۶). دَ هغهٔ خدمت دا وو چې هر یو کس ته ځان ورسوی اؤ هغوئ خپلې بادشاهئ ته راولی.

دَ یوحنا په اولنی باب کښې ذکر شوے دے چې عیسیٰ مسیح دَ یحیٰی بپتسمه ورکوؤنکی دوؤ مریدانو سره څنګه پیش شو. دا دوه مریدان اندریاس اؤ دَ هغهٔ ملګری وو (آیات ۳۷- ۴۰). پطروس آیت ۴۲، فیلیپوس آیت ۴۳، نتن ایل آیت ۴۷.

دَ یوحنا په دریم باب کښې دَ نیکودیمس اؤ څلورم باب کښې دَ سامری ښځې سره اؤ په نهم باب کښې دَ پیدائشی ړوند سره دَ عیسیٰ مسیح دَ ښهٔ سلوک کولو ذکر شوے دے. مونږ له هم دَ دې په حقله فکر مند کیدل نهٔ دی پکار چې مونږ یو کس سره په ګینټو وخت تیروؤ.

دَ لوقا په ۱۵: ۴ کښې هغهٔ دَ خپل زړهٔ خبرې څرګندې کړې. په دې کښې دا څرګند شوی دی چې هغهٔ دَ ورکو شوؤ دَ لټون دَ پاره څومره زیات خواهش لرلو." کهٔ چرې په تاسو کښې دَ یو تن سره سل ګډې وی اؤ یوه ترې ورکه شی نو ولې هغه به دغه نورې یو کم سل صرف تر هغې په ورشو کښې خوشې پرې نهٔ ږدی تر څو چې یې هغه یوه موندلې نهٔ وی؟"

عیسیٰ مسیح دَ ورک شوی ګناه ګار دَ موندلو په خوشحالئ کښې شریکیږی (لوقا ۱۵: ۵- ۷). بیا دَ لوقا په ۱۵: ۲۴ کښې عیسیٰ مسیح وفرمائیل چې کله ورک شوې زوئ کور ته واپس راغلو نو هغوئ "خوشحالی وکړه".
نو دغه شان هغه دَ هغه هر یو روح دَ پاره غمژن دے څوک چې دَ هغهٔ نه انکار کوی. لوقا ۱۹: ۴۱- ۴۲ کښې عیسیٰ مسیح دَ بیت المقدس په بربادئ باندې وژړل. دا ژړل دَ ښار دَ پاره نهٔ وو بلکه دَ هغه ښار اوسیدونکو دَ پاره وو.
راځئ چې مونږ دعا وکړو چې مونږ هم دَ یو یو کس په مینه کښې دې حد ته ورسو.

## ۴- عیسیٰ مسیح به دَ خلقو همدرد وو

عیسیٰ مسیح همدرد وو. دَ هغهٔ به په خلقو زړهٔ سوځیدو. دَ بائبل مقدس یو ورکوټے شان آیت وائی چې "دَ عیسیٰ مسیح سترګو نه اوښکې راغلې." (یوحنا ۱۱: ۳۵).

- دَ عیسیٰ مسیح په ګنې زړهٔ وسوځیدو. مرقوس ۶: ۳۴ " هغه چې غاړې ته ورسیدو نو ډیره ګڼه یې ولیده اؤ زړهٔ یې پرې وسوځیدلو ځکه چې هغوئ دَ داسې ګډو په مثال وو چې شپون یې نهٔ وی اؤ هغهٔ هغوئ ته ډیر تعلیم ورکړو." افسوس چې مونږ هم په خلقو داسې زړهٔ وسوځوؤ.
- دَ عیسیٰ مسیح به په خلقو زړهٔ سوځیدو نو ځکه به یې دَ خلقو دَ جسمانی ضرورتونو فکر کولو (یوحنا ۶: ۵).
- دَ عیسیٰ مسیح په ړندو زړهٔ وسوځیدو نو هغوئ له یې شفا ورکړه (یوحنا ۹: ۱- ۳۸، متی ۲۰: ۳۴).
- دَ هغهٔ به په هغه خلقو زړهٔ سوځیدو څوک چې پیریانو نیولی وو (مرقوس ۹: ۲۲، ۲۵؛ مرقوس ۵: ۱- ۱۳؛ لوقا ۴: ۴۱).

- دَ عیسیٰ مسیح به په بې وسه جزامیانو باندې زړهٔ سوځیدو (مرقوس ۱: ۴۰، ۴۱؛ لوقا ۵: ۱۲-۱۵).

مونږ خو اکثر وایو چې زمونږ په خلقو زړهٔ سوځی، خو عیسیٰ مسیح به دَ خپلو کارونو په وسیله دا ظاهرول. هغه دَ ورکو شوؤ ګډو شپون جوړ شو. هغه دَ هلاکیدونکو خلقو خلاصوؤنکے جوړ شو. هغهٔ رنځورانو له شفا ورکړه، اؤ پیریان یې وویستل. نو راځئ چې مونږ په ژبه اؤ خپل کردار دواړو سره دَ مینې اظهار وکړو.

## ۵- عیسیٰ مسیح به دعا کوله

څلور واړه انجیلونه مونږ ته دَ عیسیٰ مسیح دَ دعا نه دَ ډک ژوندون تصویر ښائی. خو دَ ټولو نه اثر ناک بیان دَ عبرانیانو په ۵: ۷ کښې دے چې "څهٔ وخت چې عیسیٰ مسیح په زمکه ژوند تیرولو نو هغهٔ په زوره زوره چغې کړې اؤ اوښکې یې بهیدلې، خدائ ته یې دعاګانې اؤ زارئ وکړې....".

- عیسیٰ مسیح به اکثر ټوله شپه دعاګانې غوښتلې (لوقا ۶: ۱۲؛ مرقوس ۱: ۳۵).
- عیسیٰ مسیح به دَ ژوند دَ هرې فیصلې نه مخکښې دعا غوښتله. مثال په طور دَ خپلې بپتسمې اخستلو نه مخکښې، دَ آزمیښت نه مخکښې، وغیره (لوقا ۳: ۲۱؛ یوحنا ۶: ۱۵).
- هغهٔ به پلار نه په اوچت آواز دعا غوښتله اؤ دَ معجزو خواست به یې کولو (متی ۱۴: ۱۹؛ یوحنا ۱۱: ۴۱، ۴۲).
- دَ عیسیٰ مسیح دنیاوی ژوند هم دَ پلار نه دعا غوښتلو سره ختم شو (لوقا ۲۳: ۴۶).
- اکثر به عیسیٰ مسیح یواځې، یو خوشی ځائ یا غر ته دَ دعا کولو دَ پاره تلو.
- کله کله به هغهٔ بالکل یواځې دعا غوښتله (متی ۱۴: ۲۳) اؤ کله به دَ مریدانو سره دعا غوښتلو له تلو (لوقا ۹: ۲۸؛ لوقا ۲۲: ۳۹- ۴۶).
- عیسیٰ مسیح به دَ خلقو دَ پاره دعا غوښتله. لوقا ۲۲: ۳۱، ۳۲ کښې دَ پطروس دَ پاره اؤ په یوحنا ۱۷: ۹، ۲۰ کښې دَ "خپلو" دَ پاره.

- عیسیٰ مسیح دَ گتسمني په باغ کښې دَ دعا کولو په وخت خپل ځان دَ خدائ مرضئ ته وسپارلو (متی ۲۶: ۴۲).
- عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو ته دعا غوښتل وښودل، اؤ هغه مونږ ته هم دَ دعا غوښتلو دَ پاره وائی (متی ۶: ۹- ۱۳).
- دَ دعا په وسیله عیسیٰ مسیح په آزمیښت فتح وموندله، معجزې یې وکړې، په مرګ یې فتح وموندہ، اؤ خدائ له یې جلال ورکړو.

## ٦- عیسیٰ مسیح حلیم وو

- حلیمی یو ذهنی حالت دے چې دَ سختې رویې اؤ دَ جنګ جګړو دَ رویې خلاف ده.
- نورو سره دَ نرمئ کولو په وسیله حلیمی څرګندیږی.
- عیسیٰ مسیح په خپله وائی چې زهٔ حلیم یم. متی ۱۱: ۲۹ " زما جغ په غاړه کړئ اؤ له ما نه زده کړئ، ولې چې زهٔ حلیم یم اؤ په زړهٔ کښې غریب....".

هم دا خبره دَ متی په ۱۲: ۲۰ کښې وئیلې شوې ده.
پولوس رسول دَ کورنتیانو دَ جماعت نه دا تپوس وکړو. اول کورنتیان ۴: ۲۱ " نو تاسو څهٔ غواړئ چې زهٔ کوتک په لاس درشم یا په مینه اؤ نرمئ؟"

دَ یو مسیحی په حیثیت مونږ له نرمی اؤ حلیمی زده کول پکار دی. دَ ګلتیانو د ۶: ۱ په مطابق قصور وار په " عاجزئ سره په ځائ کړئ، اؤ خپل خیال هم ساته چې تهٔ په آزمیښت کښې پرې نهٔ وځې".
دویم تیموتیوس ۲: ۲۴، ۲۵ " اؤ دا مناسب نهٔ دی چې دَ مالک خادم دې جګړې کوی، بلکه هغه دې دَ ټولو سره نرمی کوی اؤ دَ تعلیم ورکولو لائق اؤ صبرناک دې وی. اؤ مخالفت کوونکے دې په نرمئ سمولے کیدے شی....."

دَ عیسیٰ مسیح دَ حلیمئ ثبوت دا دے چې هغه به چاودلې دُرمه قدرې هم نهٔ ماتوی، اؤ نهٔ به لوګے کیدونکې لیتکې مړ کوی. متی ۱۲: ۲۰ هغه مایوسه زړونو سره په نرمئ پیش کیږی اؤ ختمه شوې جذبه به راپیدا روی.

## ۷- عیسیٰ مسیح دَ زړۀ غریب وو

دَ متی ۱۱: ۲۹ په مطابق عیسیٰ مسیح حلیم اؤ دَ "زړۀ غریب" دے.

هغه دَ زړۀ غریب دے ځکه چې هغه خپله لوئی نه، بلکه دَ پلار لوئی غواړی (یوحنا ۸: ۵۰). زمونږ خلاصوؤنکی به خپل ځان دَ مشهوریدو نه بچ کولو ځکه چې دې سره تکبر پیدا کیږی.

هغۀ دَ زړۀ دَ غریبئ په سبب دَ محصول اخستونکو اؤ ګناه ګارانو سره تعلق ساتلو (لوقا ۱۵: ۱، ۲).

په عیسیٰ مسیح باندې ډیر لوئ لوئ الزامونه ولګولے شول خو دَ زړۀ دَ غریبئ په سبب هغه چپ پاتې شو (یشعیاه ۵۳: ۷؛ اول پطروس ۲: ۲۳).

عیسیٰ مسیح دَ خپلو مریدانو پښې ووینځلې اؤ دا یې څرګند کړل چې هغه په زړۀ غریب دے (یوحنا ۱۳: ۴، ۵).

فیلپیان ۲: ۸ " اؤ په انسانی جُسه کښې ښکاره شو، خپل ځان یې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولئ مرګ یې وزغملو."

### خُلاصه

فیلیپیان ۲: ۵ " هم هغه شان خوئ لرئ لکه څنګه چې دَ مسیح عیسیٰ وو". مونږ له صرف دَ عیسیٰ مسیح دَ خوبو نقل کول نۀ دی پکار، بلکه مونږ له پکار دی چې دَ خپل خلاصوؤنکی مالک عیسیٰ مسیح پاک والے، مینه، زړۀ سواندې، حلیمی، اؤ غریبی په حقیقی طور خپل ځان کښې راولو اؤ په دې عمل وکړو.

مونږ له پکار دی چې په ظاهری طور نه بلکه په باطنی طور دَ عیسیٰ مسیح په شان پاک، رښتینی اؤ دعا کوؤنکی جوړ شو.

کۀ چرې مونږ خپل ځانونه هغۀ ته وسپارو، نو هغه په مونږ کښې دَ خپلو خوبیانو نه ډک ژوندون تیرول غواړی.

رومیان ۲: ۱۹"......خپل ځانونه دَ صداقت دَ پاره غلامان کړئ چې مُقدس شئ". راځئ چې مونږ خپل ځانونه مالک عیسیٰ مسیح ته حواله کړو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۲۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ کردار یا ژوند اوؤۀ خوبئ بیان کړئ.

۱۲۲- عیسیٰ مسیح په کومو دوؤ طریقو خپله مینه ښرګنده کړه؟

۱۲۳- دَ پنځۀ مختلف قسمه خلقو بیان وکړئ چا سره چې عیسیٰ مسیح مینه کوله.

۱۲۴- دَ یوحنا دَ ۱۰: ۱۶ آیت څۀ اهمیت دے؟

۱۲۵- آیا عیسیٰ مسیح به عام طور باندې دَ خلقو غټو غټو ډلو له تعلیم ورکولو یا به زیات تر خلقو سره په ذاتی طور خبرو دَ پاره ملاویدو؟

۱۲۶- ستا په خیال عیسیٰ مسیح دَ دعا په موضوع باندې مونږ ته کوم یو لوئ سبق وښودلو؟

۱۲۷- دَ اوؤۀ قسمه خلقو ذکر وکړئ په چا چې به دَ عیسیٰ مسیح زړۀ سوځیدو.

۱۲۸- دَ لفظ "حلیم" مفهوم څۀ دے؟

۱۲۹- دا ثابته کړئ چې عیسیٰ مسیح حلیم وو.

۱۳۰- عیسیٰ مسیح ښنګه دَ دې اظهار وکړو چې هغه په زړۀ غریب دے؟ ( پنځۀ طریقې )

# څوارلسم سبق

# دَ عيسیٰ مسيح تعليمات

## پيژندګلو

* په دې سبق کښې به مونږ دَ هغه تعليماتو خُلاصه پيش کوؤ کوم چې عيسیٰ مسيح په خپل دنياوی ژوندون کښې ورکړل. په دې دنيا کښې دَ ژوند تيرولو په دوران کښې عيسیٰ مسيح درې لوئ وعظونه وکړل. (۱) په غرۀ باندې وعظ، متی پنځم نه تر اوؤم بابه پورې (۲) دَ ښونانو په غرۀ باندې وعظ، متی پنځۀ ويشتم اؤ شپږيشتم بابه پورې، اؤ (۳) په بالاخانه کښې خبرې اترې، يوحنا ديارلسم باب نه تر شپاړسم بابه پورې اؤ کيدے شی اوؤلسم باب هم. دَ دې نه علاوه واړۀ واړۀ پيغامونه يې هم ورکړل.

* يو کس وئيلی دی چې په غرۀ باندې وعظ کښې عيسیٰ مسيح دَ اتلسو موضوګانو ذکر کړے دے.

* متی ۷: ۲۸، ۲۹ "څۀ وخت چې عيسیٰ دا خبرې بس کړې نو خلق دَ هغۀ په تعليم حق حيران شول. ځکه چې هغۀ دَ هغوئ دَ استاذانو په شان نه، بلکه دَ اختيار دَ خاوند په شان يې تعليم ورکولو".

* لوقا ۴: ۳۲ "اؤ هغوئ دَ دۀ په تعليم حيران شول ځکه چې هغۀ په پوره اختيار خبرې کولې".

* لوقا ۴: ۲۲ "هلته ټولو خلقو په جمع دَ هغۀ شاهدی وکړه اؤ په دې حيران شول چې داسې دَ فضل خبرې دَ هغۀ دَ شونډو نه راووتلې. هغوئ تپوس وکړو....."

* یو لحاظ سره دَ هغهٔ تعلیم نوې، بدلون راوستونکے اؤ دَ انسان دَ پوهې نه خلاف وو.

## ۱- دَ خلاصون په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

نیکودیموس سره دَ خبرو اترو په دوران کښې هغهٔ ورته وفرمائیل چې تا له دَ نوی سر نه بیا پیدا کیدل ضروری دی (یوحنا ۳: ۱- ۱۵).
سامری ښځې سره دَ خبرو په دوران کښې هغهٔ دَ ژوندون دَ اوبو دَ پاره تندا پیدا کړه.
دَ یوحنا په شپږم باب کښې هغهٔ واضحه کړل چې دَ ژوندون ډوډئ زهٔ یم. زهٔ دَ روح حقیقی لوږه ختمولے شم.
دَ لوقا په ۷: ۴۷، ۴۸ آیتونو کښې هغهٔ وئیلی دی چې زهٔ دَ ګناه معاف کولو قدرت لرم.
دَ یوحنا په لسم باب کښې دَ ښهٔ شپون په حقله دَ خبرو اترو کولو په دوران کښې عیسیٰ مسیح ووئیل چې دَ خلاصون دروازه صرف زهٔ یم. هیڅوک هم زما دَ وسیلې نه بغیر خلاصون نهٔ شی موندلے.
دَ متی په ۱۱: ۲۸- ۳۰ کښې عیسیٰ مسیح خواری کوؤنکو اؤ دَ بوج اوچتوؤنکو خلقو له بلنه ورکړه چې دَ خلاصون اؤ دَ روح دَ آرام اؤ سکون دَ پاره ما له راشئ.
دَ لوقا په ۱۴: ۱۲- ۲۴ کښې دَ خلاصون دا زبردست دعوت نور هم زیاتیږی. په دې کښې هغه خلق هم شاملولے شی څوک چې په لارو اؤ پټو کښې دی. په دې کښې خواران، مسکینان، شل ګوډ اؤ ړاندهٔ شامل دی.
دَ خلاصون په قیصو کښې دَ ټولو نه ښکلې قیصه دَ ورک شوی زوئ قیصه ده چې واپس راشی اؤ دا دَ لوقا په پنځلسم باب کښې ورکړې شوې ده.

## ۲- دَ هرې ورځې مسیحی ژوند په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

دَ متی په ۵: ۳۳- ۴۸ کښې دا تعلیم ورکړے شوے دے چې (۱) قَسم مهٔ خورئ (۲) څوک چې په یو مخ څپیړه درکړی نو بل مخ هم ورته وړاندې کړه (۳) خپلو دښمنانو سره هم مینه کوئ.

دَ متی په ۶: ۱- ۱۴؛ ۱۹: ۲۱ کښې دَ خیرات په حقله تعلیم ورکړے شوے دے چې (۱) ډنډوره مهٔ کوئ (۲) دا دَ تل ګټه ده.

عیسیٰ مسیح دَ دعا په حقله ډیر څهٔ وښودل (متی ۶: ۵- ۱۳؛ لوقا ۱۱: ۱- ۱۳؛ یوحنا ۱۴: ۱۳، ۱۴؛ ۱۶: ۲۳- ۲۴) کښې وئیلې شوی دی چې دعا (۱) په پړده کښې کوئ (۲) هر وخت دعا کوئ (۳) دَ دې رسیدل، اثر اؤ قوت ډیر زیات دے.

عیسیٰ مسیح مونږ ته دا وښودل چې مونږ دې نور خلق معاف کړو نو خدائ پاک به مونږ معاف کړی (متی ۶: ۱۴، ۱۵؛ ۵: ۲۳، ۲۴).

عیسیٰ مسیح په خپله روژه ونیوله اؤ دَ دې په حقله یې تعلیم هم ورکړو (متی ۶: ۱۶- ۱۸؛ لوقا ۴: ۲). هغهٔ دَ آزمیښت نه مخکښې روژه ونیوله.

عیسیٰ مسیح مونږ له خبردارے راکوی چې مونږ دې دَ ژوند دَ ضرورتونو په حقله فکرمند نهٔ شو. کهٔ چرې مونږ دَ ټول هر څهٔ نه اول دَ خدائ پاک دَ بادشاهئ لټون وکړو نو مالک خدائ به دا څیزونه (خوراک، کور اؤ جامې) مونږ له راکوی (متی ۶: ۲۵- ۳۴).

عیسیٰ مسیح مونږ ته دا وښودل چې دا ضروری ده چې مونږ دا اقرار وکړو چې عیسیٰ مالک دے (متی ۱۰: ۳۲، ۳۳؛ یوحنا ۹: ۳۸).

عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو ته وفرمائیل چې خپلو کورونو ته لاړ شئ اؤ دَ ټولو نه اول خپلو خلقو ته زما ګواهی ورکړئ (مرقوس ۵: ۱۹).

دَ عیسیٰ مسیح په تعلیم کښې مونږ ته دا یقین ملاویږی چې ایمان راوړونکی به خلاصون مومی (یوحنا ۳: ۱۶، ۱۸، ۳۶؛ ۵: ۲۴).

په بالاخانه کښې خبرو اترو کښې دا تعلیم شامل وو چې روح القدس په مونږ کښې استوګنه کوی. هغه رهنمائی کوی، مدد کوی، ژوند ورکوی اؤ ایماندار له طاقت ورکوی (یوحنا ۱۴: ۱۶- ۲۶).

عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو سره دا وعده نهٔ ده کړې چې ستاسو ژوند به په آرام اؤ سکون سره تیریږی بلکه صفا صفا یې وئیلې دی چې تاسو به وربړولے شئ. البته دا وعده یې کړې ده چې دَ هر مشکل اؤ مصیبت په وخت کښې به تاسو ته دَ خدائ پاک له طرف نه فضل اؤ مدد ملاویږی (یوحنا ۱۶: ۱- ۶؛ لوقا ۱۲: ۱۱، ۱۲).

## ۳- دَ فریسیانو اؤ دَ دروغژنو استاذانو په حقله تعلیم

عیسیٰ مسیح دَ منافقانو اؤ دَ دروغژنو استاذانو ډیر مُذمت وکړو. دَ متی په ۲۳: ۱۳- ۳۶ کښې هغۀ اتۀ ځله وئیلی دی "اے دَ شرعې عالمانو، فریسیانو! منافقانو! په تاسو افسوس!" (آیتونه ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹). هغوئ ته ړاندۀ لار ښودونکی اؤ ړاندۀ کم عقل وئیلے شوی دی.

دَ یوحنا په ۸: ۴۴ کښې عیسیٰ مسیح هغوئ ته وفرمائیل چې "ستاسو پلار ابلیس دے". دا څومره سخته خبره ده!

دَ متی په ۱۶: ۶ کښې عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو ته وئیلې دی چې دَ "فریسیانو اؤ صدوقیانو دَ خمبیرې نه" ځان ساتئ، ځکه چې هغوئ غلط تعلیم ورکوی، بلکه صدوقیان خو دَ قیامت نه هم انکار کوی.

عیسیٰ مسیح وښودل چې دا دَ جماعت دروغژن استاذان دی. هغوئ دَ مریدانو جوړولو سخت کوشش کوی، خو خپل مریدان دَ خپل ځان نه هم "دوه چنده زیات دوزخی" جوړوی (متی ۲۳: ۱۵).

دَ متی په ۷: ۱۵- ۲۰ کښې خلاصوؤنکی دَ دروغژنو نبیانو نه دَ خبردار اوسیدو په حقله وئیلی دی

چې دوئ دَ ګډو په جامو کښې داړونکی شرمخان دی.

دَ لوقا په ۲۰: ۴۵- ۴۷ کښې دَ شرعې عالمانو نه دَ خبرداره اوسیدو په حقله وئیلے شوی دی.

## ۴- دَ اختیار په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

دَ لوقا په ۱۲: ۱۲- ۳۴ کښې عیسیٰ مسیح دَ مال دولت اؤ دَ پیسو دَ صحیح استعمال په حقله تعلیم ورکړے دے. خزانه دَ مالدار سړی دَ خپل ذاتی استعمال دَ پاره نۀ وه. حقیقی خزانه (آیتونه ۳۳، ۳۴) هغه ده کومه چې دَ مخکښې نه خدائ پاک له ولیږلې شی.

دَ مرقوس په ۱۲: ۴۱- ۴۴ کښې چې کله ښځې دَ خدائ دَ کور په خزانه کښې دوه دمړی واچول نو عیسیٰ مسیح دَ هغې ډیر زیات تعریف وکړو، ځکه چې هغې دَ خپل مال دَ زیاتوالی په سبب نه بلکه په خپلې محتاجئ کښې یې ورکړل.

دَ متی په ۲۵: ۱۴- ۳۰ کښې عیسیٰ مسیح وښودل چې مونږ هغه نعمتونه یعنې خوبئ دَ خدائ پاک دَ جلال دَ پاره استعمال کړو کوم چې هغۀ مونږ له راکړی دی.
دَ لوقا په ۱۹: ۱۱- ۲۷ کښې عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو له حکم ورکړو چې "زما واپس راتلو پورې سوداګری کوئ" یعنې هغه اشرفئ (خوبئ) کوم چې مالک خدائ پاک ورکړی دی هغه دَ خدائ پاک دَ جلال دَ پاره اؤ دَ هغۀ دَ بادشاهئ خورولو دَ پاره استعمالوئ.
عیسایان دَ خپلو پیسو، وخت، خوبو، نعمتونو اؤ دَ موقعو اختیار مند دی.

## ۵- دَ جنت اؤ دوزخ په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

په انجیلونو کښې زمونږ مالک دَ دوزخ اؤ دَ تل سزا په حقله کم از کم اؤیا ځله ذکر کړے دے.
متی ۲۵: ۴۱ "اے لعنتیانو! زما دَ سترګو نه پناه شئ اؤ هغه تل عمری اُور ته لاړ شئ چې دَ شیطان اؤ دَ هغۀ فرښتو دَ پاره تیار شوے دے".
عیسیٰ مسیح دَ لوقا په ۱۲: ۱۹- ۳۱ کښې دَ دوزخ دَ عذاب ډیر واضحه تصویر پیش کړے دے. دَ مرقوس په ۹: ۴۲- ۴۸ کښې یو ډیر سخت خبردارے دے چې مونږ دې دَ دوزخ نه بچ شو چرته چې رغړیدونکی چینجی چرې نۀ مری اؤ اُور یې تل تر تله لمبې وهی (آیتونه ۴۴، ۴۲ اؤ ۴۸).
په بالاخانه کښې دَ خبرو اترو په دوران کښې یې دا یقین ورکړو چې زۀ به دَ لږ وخت دَ پاره ستاسو نه جدا شم. زۀ ځم چې ستاسو دَ پاره کور تیار کړم اؤ بیا به راشم اؤ تاسو به ځان سره بوځم (یوحنا ۱۴: ۱- ۳).
په سولئ باندې دَ مړ کیدو په وخت عیسیٰ مسیح هغه مجرم ته وفرمائیل "نن به تۀ ما سره په جنت الفردوس کښې یې".
عیسیٰ مسیح دَ جنت دا تصویر پیش کړے دے چې مونږ به دَ خپل خدائ پلار سره په خپل وطن (کور) کښې یو (متی ۲: ۹ اؤ لوقا ۱۱: ۲).
عیسیٰ مسیح دَ آسمان نه دې له راغے چې دَ مرګ تکلیف وزغمی اؤ زامن آسمانی وطن ته بوځی (عبرانیان ۲: ۱۰).

## ٦- دَ میوه دار جوړیدو په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

په بالاخانه کښې دَ یوحنا دَ **۱۵**: ۱- ۱۷ په خبرو اترو کښې مرکزی نقطه دَ انګورو ونه اؤ دَ هغې څانګې دی. دَ دې خواهش اظهار دا دے چې مونږ "میوه دار" شو. "ډیره میوه ونیسو" اؤ "ډیره میوه راؤړو".

دَ لوقا په ۱۳: ۶- ۹ کښې دَ بې میوې انځیر په مثال کښې چې کومه ونه میوه نۀ نیسی نو دا ضروری ده چې هغه پرې کړے شی، ختمه کړے شی اؤ په اور کښې وسوځولے شی.

دَ متی په ۷: ۱۶- ۲۰ کښې عیسیٰ مسیح وښودل چې "تاسو به هغوئ په خپله میوه پیژنئ".

دَ متی په ۱۳: ۱- ۲۳ کښې دَ کروندې په مثال کښې عیسیٰ مسیح دَ دې خواهش اظهار کوی چې هر یو عیسائی دې میوه دار شی. څوک یو په دیرش، څوک یو په شپیتۀ اؤ څوک یو په سل.

دا ضروری ده چې مونږ عیسایان دې پاک کړے شو دَ دې دَ پاره چې زیاته میوه ونیسو (یوحنا **۱۵**: ۲). پاکول "دَ ځائ جوړولو اؤ سرې ورکولو" ( لوقا ۱۳: ۸ ) په نسبت ډیره سخته خو ضروری تجربه ده.

دَ لوقا د ۲: ۴۳- ۴۶ په مطابق مونږ عیسایانو دَ پاره دا ضروری دی چې دَ روح میوه پیدا کړو اؤ دَ مالک خدائ دَ پاره خلق وګټو.

## ۷- دَ نبوت په حقله دَ عیسیٰ مسیح تعلیم

دَ متی په څلیریشتم اؤ پنځۀ ویشتم باب کښې دَ ښونانو په غر باندې دَ خبرو اترو موضوع دَ نبوت موضوع ده. دَ متی په ۲۴: ۱- ۳ کښې دَ بیت المقدس دَ تباهئ اؤ بربادئ نبوت دے کوم چې په سن ۷۰ کښې پوره شو.

دَ متی په ۲۴: ۴- ۱۴ کښې زمونږ دَ وخت دَ خرابو حالاتو بیان دے.

دَ متی په ۲۴: ۱۵- ۲۲ کښې دَ لوئ مصیبت دَ ورځو ذکر دے.

دَ متی په ۲۴: ۲۷- ۳۱ کښې دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راتلو ذکر دے. دَ دې نور تفصیل دَ انځیر دَ ونې په مثال (آیتونه ۳۲- ۵۱) کښې اؤ دَ لسو پیغلو په مثال (متی **۲۵**: ۱- ۱۳) کښې ورکړے شوے دے.

دَ متی په **۲۵**: **۳۱**- **۴۶** کښې دَ قومونو دَ آخری عدالت اؤ دَ ګډو دَ بیزو نه دَ جدا کیدو بیان ورکړے شوے دے.

دَ متی په **۱۳**: ۱- **۵۲** کښې اوؤۀ رازونه په اصل کښې دَ آسمان دَ بادشاهۍ اوؤۀ مختلف نظارې دی.

## خُلاصه

زما په خیال دَ عیسیٰ مسیح ټول تعلیم په مختصر طور صرف په یو لفظ کښې بیانولے شو. مینه.

مضبوط ایمان لرونکو اؤ کټر یهودیانو تقریباً شپږ سوه حکمونه منل. عیسیٰ مسیح دَ دې خلاصه په دوؤ حکمونو کښې بیان کړې ده (۱) دَ خدائ سره مینه کوئ اؤ (۲) انسانانو سره مینه کوئ (متی **۲۲**: **۳۷**- **۳۹**).

مینه دَ یو عیسائی دَ پاره یو جُدا نخښه جوړه شوې ده. یوحنا ۱۳: **۳۵** "کۀ تاسو یو بل سره مینه کوئ نو بیا به ټول په دې پوهه شی چې تاسو زما مریدان یئ".

یوحنا **۱۵**: **۱۳** کښې عیسیٰ مسیح په سولئ دَ خپل مرګ طرف ته اشارې کولو سره وفرمائیل چې زۀ داسې مینه په عملی طور ښایم چې دَ دې نه زیاته مینه بل یو کس هم نۀ شی کولے.

دَ یوحنا په اوؤلسم باب کښې دَ عیسیٰ مسیح دَ اتفاق اؤ یو والی دَ پاره خواست دے. دا آیتونه وګورئ ۱۱، ۲۱، ۲۲، **۲۳**. دا یو جسمانی یو والے نۀ دے بلکه دَ ورکو شوؤ خلقو دَ بچ کولو دَ پاره دَ مقصد یو والے دے.

عیسیٰ مسیح جماعت په دې زمکه ځکه قائم کړو چې دَ هغۀ ګواهی ورکړی (متی **۲۸**: **۱۹**؛ مرقوس ۱۶: **۱۵**).

دَ عیسیٰ مسیح تعلیم دا دے چې صرف ښۀ خلقو سره نه، بلکه ټولو خلقو سره مینه کوئ، بلکه خپلو دښمنانو سره هم، ځکه چې عیسیٰ مسیح په خپله هغوئ سره مینه کوی (متی **۵**: **۴۴**؛ اول یوحنا **۴**: **۱۹**؛ رومیان **۵**: **۸**).

# دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۳۱- عیسیٰ مسیح په خپل خدمت کښې کوم درې لوئ وعظونه پیش کړل؟

۱۳۲- دَ خلاصون په حقله دَ عیسیٰ مسیح دَ تعلیم دَ دریوؤ اهم خبرو خُلاصه پیش کړئ.

۱۳۳- دَ کومو شپږو خبرو په وجه تاسو وئیلے شئ چې دَ عیسیٰ مسیح تعلیم نوې اؤ بدلون راوستونکے دے؟

۱۳۴- دَ بالاخانې په خبرو اترو کښې عیسیٰ مسیح زیاتې خبرې دَ چا په حقله کړې دی؟

۱۳۵- په کومه حواله کښې په فریسیانو اؤ دَ شرعې عالمانو باندې اتهٔ ځله افسوس شوے دے؟

۱۳۶- آیا عیسایان صرف دَ پیسو اختیار مند دی؟ وضاحت وکړئ.

۱۳۷- آیا دا خبره صحیح ده چې عیسیٰ مسیح صرف دَ خدائ پاک دَ غضب نه، بلکه دَ هغهٔ دَ مینې تعلیم هم ورکړے دے؟

۱۳۸- درې حوالې بیان کړئ په کومو کښې چې دَ "میوې نیولو" ذکر شوے وی.

۱۳۹- دَ عیسیٰ مسیح کوم یو وعظ دَ نبوت په حقله دے؟

۱۴۰- تاسو دَ "مینې" لفظ استعمالولو سره څنګه دَ حکمونو خُلاصه پیش کولے شئ؟

# پنځلسم سبق

# دَ مسيح حکمونه

## پيژندګلو

* يو کس په نوې لوظنامه کښې دَ عيسیٰ مسيح يو سل اؤ درې اؤيا حکمونه شميرلی دی.
* په دې اوسنی وخت کښې څوک دَ قانون دومره خيال نۀ ساتی. دَ ډيرو خلقو دا خيال دے چې عيسیٰ مسيح شريعت منسوخ کړو يا زمونږ دَ پاره يې دا پوره کړو. اوس هغۀ مونږ دَ پاره صرف يو داسې حکم پريښودے دے چې مطلب يې دا دے چې مينه کوئ.

## ۱- دَ توبې حکم

دَ توبې دوه اړخونه دی. دَ ګناه نه اؤړيدل اؤ خدائ ته رجوع کول.
متی ۴: ۱۷ "توبه ګار شئ ځکه چې دَ آسمان بادشاهی نزدې ده".
لوقا ۱۳: ۲۴ "زور ولګوئ چې له تنګې دروازې نه ور دننه شئ ځکه چې.... ډير به داخل.... نۀ شی".
متی ۶: ۳۳ "دَ ټولو نه اول تاسو دَ هغۀ دَ بادشاهئ اؤ دَ صداقت لټون وکړئ...."

## ۲- دَ ايمان حکم

مونږ له په انجيل شريف، په عيسیٰ مسيح اؤ په خدائ پاک باندې ايمان لرل پکار دی.
مرقوس ۱: ۱۵ "توبه وکړئ اؤ په زيری ايمان راوړئ". دا دَ عيسیٰ مسيح خبرې دی، دَ يوحنا خبرې نۀ دی.
يوحنا ۱۴: ۱ "په خدائ يقين لرئ هم په ما يقين لرئ". دا يو ډير کلک اؤ واضحه حکم دے.

یوحنا ۲: ۲۹ "دَ خدائ کار دا دے چې په هغه چا ایمان راوړئ چې هغه يې را استولے دے".

## ۳- نوے پیدایښت

نوے پیدایښت دَ روح القدس یو راز دے. دې سره انسان بدلیږی.
یوحنا ۳: ۷ "نو چې زهٔ تاسو ته دا وایم چې تاسو له بیا پیدا کیدل پکار دی نو په دې حیرانیږئ مه".
لوقا ۱۰: ۲۰ "په دې خوشحالیږئ چې ستاسو نومونه په آسمان کښې ولیکلے شول".
متی ۱۲: ۳۳ "یا خو ونه اؤ دَ هغې میوه ښه وګڼئ اؤ یا ونه اؤ دَ هغې میوه بده وګڼئ، ځکه چې تاسو ونه دَ هغې په میوه پیژندے شئ". صرف نوے پیدایښت واحد حل دے.

## ۴- روح القدس حاصلول

دا ضروری ده چې په هر یو عیسائی کښې روح القدس استوګنه کوی. اؤ هغه ترې نه طاقت حاصلوی.
یوحنا ۲۰: ۲۲ "بیا يې په هغوئ وپوکل اؤ وې وئیل، روح القدس واخلئ!"
لوقا ۲۴: ۴۹ "دلته په دې ښار کښې تر هغې پاتې شئ تر څو چې په تاسو آسمانی قوت نازل شی".

## ۵- دَ عیسیٰ مسیح پیروی کول

هر یو ایماندار له پوره یقین سره بغیر دَ څهٔ شک نه عیسیٰ مسیح پسې تلل پکار دی.
یوحنا ۱۲: ۲۶ "کهٔ څوک زما خدمت کوی هغه دې ما پسې راځی".
لوقا ۹: ۲۳ "کهٔ څوک زما مریدی خوښوی نو هغه دې خپل خواهشات شاته وغورزوی اؤ هره ورځ دې خپله سولئ پورته کوی اؤ ما پسې دې راځی".
یوحنا ۲۱: ۲۲ "تهٔ په ما پسې راځه". لوقا ۵: ۲۷ کښې عیسیٰ مسیح متی ته وفرمائیل "ما پسې راځه".

## ٦- دعا

دعا دَ هر يو عيسائی دَ ژوند يو خاص صفت دے.
لوقا ۲۱: ۳۶ "هر وخت بيدار اوسئ اؤ دعا کوئ".
لوقا ۲۲: ۴۰ "دعا کوئ چې په آزميښت کښې پرې نۀ وزئ".
لوقا ۱۰: ۲ "تاسو دَ فصل خاوند ته سوال وکړئ چې دَ خپل فصل دَ پاره مزدوران را وليږی".
لوقا ۶: ۲۸ "دَ هغوئ دَ پاره دعا کوئ څوک چې په تاسو تُهمتُونه لګوی".

## ۷- ايمان

دَ خدائ پاک قُدوس په دې وجه عظيم دے ځکه چې هغه په عظيم خدائ باندې ايمان لری.
مرقوس ۱۱: ۲۲ "په خدائ ايمان لرئ". دا ډير ضروری دی.
يوحنا ۲۰: ۲۷ "شک مۀ کوه خو يقين وکړه". شک پريښودل ضروری دی.
متی ۱۴: ۲۷ "مۀ ويريږئ! دا زۀ يم چې ويره ونۀ کړئ".

## ۸- دَ کلام مقدس لوستنه

دَ ايماندار په ژوند کښې دا دَ روزانه ضرورت دے.
يوحنا ۱۵: ۲۰ "کومې خبرې چې ما درته کړې دی هغه يادې ساتئ". ولولئ، مطالعه وکړئ اؤ ياد وساتئ. دا دَ هر يو عيسائی دَ پاره يو ساده حُکم دے.

## ۹- خپله رڼا خوره کړئ

دَ هر يو عيسائی دَ پاره دا فرض دی چې هغه روزانه خپله رڼا په تيزئ سره خوره کړی.
متی ۵: ۱۶ "تاسو هم دغه رنګ دَ خلقو دَ وړاندې رڼا خوره کړئ دَ دې دَ پاره چې هر کله چې هغوئ ستاسو نيک کارونه ووينی...."
يوحنا ۱۵: ۱۶ "لاړ شئ ميوه ونيسئ، هغه ميوه چې دَ تل ده".
مرقوس ۵: ۱۹ "کور ته لاړ شه اؤ خپلو خلقو ته ووايه چې مالک په خپل رحم ستا دَ پاره څۀ وکړل".

## ۱۰- خدائ پاک سره کامله مينه

دَ عيسايانو دَ پاره دا فرض دی چې خدائ پاک سره کامله مينه وکړی اؤ صرف دَ هغۀ عبادت وکړی.
مرقوس ۱۲: ۳۰ "تۀ دَ مالک دَ خپل خدائ سره دَ ټول زړۀ سره، دَ خپل ټول روح، دَ خپل ټول عقل اؤ دَ خپل ټول طاقت سره مينه کوه". دَ ټولو نه اول حکم دا دے.
متی ۴: ۱۰ "تۀ به خپل مالک خدائ ته سجده کوې اؤ تش دَ هغۀ بندګی به کوې".

## ۱۱- دَ حکومت تابعداری

دَ عيسايانو دَ پاره دا فرض دی چې دَ حکمرانانو سره مينه وکړی اؤ دَ هغوئ حکم ومنی.
مرقوس ۱۲: ۱۷ "څۀ چې دَ قيصر وی هغه قيصر له ورکړئ اؤ څۀ چې دَ خدائ وی هغه خدائ له ورکړئ".

## ۱۲- دَ خپلو ګاونډيانو دَ پاره زمونږ فرض

هر يو حاجت مند زمونږ ګاونډی دے.
متی ۱۹:۱۹ "خپل ګاونډی سره دَ ځان په شان مينه کوه".
لوقا ۶: ۳۱ "دَ خلقو سره داسې سلوک کوئ لکه چې تاسو غواړئ چې هغوئ دې دَ تاسو سره وکړی".

## ۱۳- حِرص

زمونږ دَ ژوند مرکز زمکه نه، بلکه آسمان پکار دے.
لوقا ۱۲: ۱۵ "خبردار شئ! دَ هر قسم حرص نه ځان ساتئ". دا نصيحت نۀ دے بلکه خبردارے دے.
متی ۵: ۴۲ "چې څوک درنه څۀ وغواړی هغه ورکړه اؤ دَ داسې سړی نه مخ مۀ اړوه څوک چې درنه قرض غواړی". دَ دومره ډيرو سوال ګرو په موجودګئ کښې دا ډير ګران کار دے.
متی ۶: ۱۹ "دَ خپل ځان دَ پاره په زمکه خزانې مۀ جمع کوئ".

## ۱۴- منافقت

دَ مذهبی منافقت نه ځان بچ ساتئ.
لوقا ۱۲: ۱ "دَ فريسيانو دَ خمبيرې نه ځان ساتئ! زما مطلب دَ هغوئ دَ منافقت نه دے".
متی ۲۳: ۲، ۳ "دَ شرعې دَ عالمانو اؤ فريسيانو په شان کارونه مۀ کوئ".

## ۱۵- حليمی

مونږ له په حليمئ، عاجزئ اؤ دَ زړۀ په غريبئ کښې دَ عيسیٰ مسيح په شان جوړيدل پکار دی.
متی ۱۱: ۲۹ "زما جغ په غاړه کړئ اؤ له ما نه زده کړئ، ولې چې زۀ حليم يم اؤ په زړۀ کښې غريب".
مرقوس ۱۰: ۴۴ "څوک چې په تاسو کښې اول کيدل غواړی هغه دې دَ ټولو غلام شی".
لوقا ۱۷: ۱۰ "... مونږ دَ شاباش لائق نۀ يو ځکه چې مونږ خو تش خپل فرض پوره کړے دے".

## ۱٦- ورونړو سره زمونږ مينه

مونږ له مينه کول، معاف کول اؤ هر قسمه بد رد برداشت کول دی.
يوحنا ۱۵: ۱۲ "دَ يو بل سره مينه کوئ لکه چې ما تاسو سره مينه کړې ده". (يعنې نورو ايماندارانو سره).
متی ۱۸: ۱۰ "خبردار! په دې وړو کښې يو ته هم سپک مۀ ګورئ".
متی ۵: ۲۴ "...اول خپل ورور پخلا کړه". جنګ جګړې اؤ غُصه تر ډير وخته پورې مۀ ساتئ.
لوقا ۱۷: ۴ "کۀ هغه په ورځ کښې اووۀ ځله ستا خلاف ګناه وکړی.... تۀ يې معاف کړه".
لوقا ۲: ۳۷ "بل څوک مۀ مجرموئ....تاسو به هم مجرم ونۀ ګڼلے شئ".

## ۱۷- کامل کيدل

عيسیٰ مسيح دَ ايماندارانو دَ پاره دَ دې نه کمه درجه نۀ شی مقرر کولے.

متی **۵**: **۴۸** "تاسو کامل شئ لکه څنګه چې ستاسو آسمانی پلار کامل دے".
لوقا **۶**: **۳۶** "څنګه چې ستاسو آسمانی پلار رحيم دے داسې تاسو هم رحم کوؤنکی جوړ شئ".

## ۱۸- حکمت

دا دنياوی حکمت نۀ دے بلکه هغه حکمت دے کوم چې دَ خدائ له طرف نه ملاويږی.
متی ۱۰: **۱۶** "دَ مارانو په شان هوښيار اؤ دَ کوترو په شان بې زرره جوړ شئ".
متی ۷: **۶** "پاک څيزونه سپو له مۀ ورکوئ، خپلې مرغلرې خنزيرانو ته مۀ غورزوئ". په داسې موقعه مونږ ته دَ حکمت اؤ دَ هوښيارتيا ضرورت وی چې راته معلومه شی چې کله خبرې کول دی اؤ څۀ وئيل دی.

## ۱۹- دَ زيری وعظ کول

دَ هر ايماندار دَ پاره دا فرض دی چې هغه هر چرته وی نو زيرے دې خلقو ته واؤروی.
مرقوس ۱۶: **۱۵** "دَ تمامې دنيا هرې سيمې ته لاړ شئ اؤ زما دَ زيری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ".
لوقا **۲۴**: **۴۷** "اؤ دَ هغۀ په نامه به ټولو قومونو ته دَ ګناهونو نه دَ توبې اؤ دَ معافئ وعظ کولے شی. تاسو دَ بيت المقدس نه شروع شئ".
يوحنا **۲۱**: **۱۵**، **۱۶**، **۱۷** ".....زما ګډې څروه....زما ګډې سمبالې کړه.....زما ګډې څروه".

## ۲۰- دَ عيسیٰ مسيح بيا راتګ

مونږ له هر وخت دَ دې واقعې دَ پاره تيار اوسيدل پکار دی.
لوقا ۱۲: **۴۰** "ځان تيار ساتئ چې ابن آدم به په داسې وخت کښې راځی چې ستاسو په ګمان کښې به هم نۀ وی".

## ۲۱- خپل ژوند ورکولو پورې وفادار

په جلالی نتيجه کښې حقيقی جلال دے.

متی ۲۴: ۱۳ "کوم سړے چې تر آخره ټينګ پاتې شی هغه به بچ کړے شی".

**خُلاصه**

يوحنا ۱۴: ۲۳ "هغه څوک چې زما سره مينه کوی هغه به زما په کلام عمل کوی". دَ حکمونو دَ پوره کولو دَ پاره په حرکت کښې راوستونکے څيز صرف مينه پکار ده. دا حکمونه مخې ته کيږدئ اؤ دَ خدائ په وړاندې دَ خپل موجوده ژوند اندازه واخلئ. عيسیٰ مسيح دا حکمونه ځکه ورکړی دی چې په تنګه دروازه داخليدو کښې زمونږ رهنمائی وکړی.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۴۱- يو کس په نوې لوظنامه کښې دَ عيسیٰ مسيح څومره حکمونه شميرلی دی؟

۱۴۲- دَ دې حکمونو مقصدونه څهٔ دی؟

۱۴۳- عيسیٰ مسيح په کومو دريوؤ خبرو ايمان لرلو دَ پاره وائی؟

۱۴۴- پنځهٔ طريقې بيان کړئ دَ کومو په وسيله چې مونږ عيسیٰ مسيح پسې تلے شو.

۱۴۵- دَ متی ۵: ۱۶ په مطابق مونږ له کوم "نيک کارونه" دنيا ته ښودل دی؟

۱۴۶- ما له څنګه خدائ پاک سره مينه ساتل پکار دی؟

۱۴۷- "غوره اُصول" بيان کړئ.

۱۴۸- دَ لوقا ۱۲: ۱۵ تشريح وکړئ "کهٔ دَ يو سړی سره زيات مال هم وی خو دولت دَ هغهٔ ژوند نهٔ شی زياتولے".

۱۴۹- مونږه کمزورو اؤ نامکملو انسانانو ته عيسیٰ مسيح دَ متی په ۵: ۴۸ کښې ولې وئيلی دی چې کاملان شئ؟

۱۵۰- مونږ چا ته زيرے آؤرولے شو؟

## شپاړسم سبق

## دَ مسيح معجزې

### پيژندګلو

* دا موضوع دَ پخوا راسې دَ جنګ ميدان جوړ دے. دَ شلمې صدئ سائنسدانانو دَ دې مسئلې دَ فيصلې کولو کوشش وکړو. نن په دې موضوع باندې دوه خيالونه موجود دی. يو دَ عيسیٰ مسيح معجزې قبلوی اؤ دا منی، اؤ دويم دَ دې نه انکار کوی.
* سائنس دَ معجزو نه انکار کوی ځکه چې سائنس نۀ خو په دې پوهيږی اؤ نۀ دا ثابتولے شی. په انجيل شريف ايمان لرونکی خلق دا منی، ځکه چې هغوئ دَ معجزو کولو واله خدائ باندې ايمان لری.
* راځئ چې مونږ دَ معجزې دَ تعريف کولو سره شروع وکړو.

### ۱- دَ لفظ "معجزې" تعريف

دَ دې ساده تعريف دا دے چې کله يو لوئ اصول وړوکے اصول ختم کړی نو دې ته معجزه وئيلے شی. دَ لوئ اصول مطلب دَ خدائ پاک شريعت دے چې په دنياوی شريعتونو باندې فضيلت لری. مثال په طور کۀ چرې سيؤ دَ ښکته را غورزيدو په ځائ په بره لاړ شی نو دا به يو معجزه وی. دَ خدائ پاک قدرت به دَ زمکې راښکونکی اُصول ختم کړی اؤ په دې به غوره والے اؤ برتری حاصله کړی.

علمی لحاظ سره به دَ معجزې تعريف څۀ په دې رنګ وی "په فطرت کښې يو داسې عمل کوم چې دَ فطرت قوی يعنې پخو اُصولو سره منسوب نۀ کړے شی، اؤ نۀ هغه انسانی کار وګڼلے شی، بلکه کوم چې دَ اعلیٰ قدرت مظهر اؤ دَ هغې ثبوت وی، دې ته معجزه وائی".

اعمال ۴: ۸، ۱۲ کښې دَ يهوديانو کونسل اؤ روح القدس دواړه دې شفا ته معجزه وائی. عام طور باندې دَ ځلوېښتو کالو شل سړے چې په خپل ټول ژوند کښې يې يو قدم قدرې هم نۀ وی اخستې، هغه سمدستی نۀ شی ګرځيدلے.

## ۲- دَ عيسیٰ مسيح دَ معجزو بې مثاله کيدل

دَ مالک عيسیٰ معجزې دَ هغۀ دَ اُلوهيت ثبوت دے اؤ دَ هغۀ دَ پيغام تصديق کوی.
يوحنا ۲: ۱۱ "دَ ګليل په قانا نومې ځائ کښې دَ عيسیٰ دا وړومبۍ معجزه وه چې عيسیٰ پرې خپله لوئی ښکاره کړه اؤ دَ هغۀ مريدانو په هغۀ ايمان راوړو".
نبيانو اؤ رسولانو (موسیٰ، هارون، الياس، پطروس، پولس) دَ خدائ پاک ورکړے شوی طاقت سره معجزې وکړې. دا طاقت هغوئ له دَ يو خاص کار دَ پاره ورکړے شوے وو. خو عيسیٰ مسيح دَ خپل اُلوهيت ثبوت ورکولو دَ پاره په خپل قدرت سره معجزې کولې. په انجيلونو کښې دَ عيسیٰ مسيح تقريباً پنځۀ ديرشو نه تر ځلوېښتو معجزو پورې ذکر شوے دے. ځکه چې "ټول اختيار" دَ هغۀ دے، څنګه چې ورته مناسب ښکاری استعمال دې کړی (متی ۲۸: ۱۸).
دَ آزميښت په دوران (لوقا ۴: ۳، ۴) دَ ابليس په حکم يا ځلوېښت ورځې اؤ شپې روژې نيولو نه پس دَ خپلې لوږې ختمولو دَ پاره هغۀ دَ معجزې کولو نه انکار وکړو.

## ۳- دَ عيسیٰ مسيح دَ معجزو حد

ا- په قُدرت اختيار. متی ۸: ۲۶- ۲۷ "څۀ وخت چې هغه پاڅيدو اؤ باد اؤ اوبۀ يې ورټلې نو قلاره قلاری شوه. خلق په دې ننداره ډير حيران شول اؤ دوئ ووئيل چې دا لاڅۀ رنګ سړے دے چې باد اؤ اوبۀ يې حکم منی؟"
ب- په پيريانو اختيار. عيسیٰ مسيح پيريان وويستل. مرقوس ۵: ۱۲- ۱۳ (پيريان خنزيرانو کښې ننوتل)؛ متی ۸: ۲۸- ۳۲؛ ۹: ۳۲، ۳۳؛ ۱۵: ۲۴- ۲۸؛ ۱۷: ۱۴- ۱۸ اؤ مرقوس ۱: ۲۳- ۲۷ هم وګورئ.
ت- په بيمارو اختيار. فالج متی ۸: ۱۳، ۹ : ۲. معذوره سړے يوحنا ۵: ۹. وُچ شوی لاس والا سړے (متی ۱۲: ۱۳. دَ ټيټې ښځې روغول لوقا ۱۳: ۱۲. هغه ښځه روغول چې وينه يې بهيدله متی ۹: ۲۲. دَ جهوله مرض لوقا ۱۴: ۲. دَ تبې نه شفا

ورکول متی ۸: **۱۵**. چاړه سړے روغول متی ۹: **۳۳**. ړوند له بينائی ورکول يوحنا ۹: ۱- ۳۸. کوڼ سړے روغول متی ۱۱: **۵**. دَ جزام نه شفا ورکول متی ۸: ۳، لوقا ۱۷: ۱۹. عيسیٰ مسيح کم از کم لس مختلف قسمه ناروغو له شفا ورکړه.

ث- په مرګ قُدرت لرل. لعزر يې دَ مړو نه بيا راژوندے کړو، يوحنا ۱۱: **۴۳**، **۴۴**؛ متی **۹**: ۱۸- ۲۲. دَ يائير لور را ژوندئ کول متی **۹**: ۱۸- ۲۲. دَ نائن دَ کونډې ښځې زوئ را ژوندے کول لوقا **۷**: ۱۲- **۱۵**.

ج- مختلف معجزې. دَ اوبو نه مئ جوړول يوحنا **۲**: ۱- ۱۱، پنځۀ زره خلقو له ډوډئ ورکول يوحنا ۶: ۱- ۱۴. څلور زرو خلقو له ډوډئ ورکول متی **۱۵**: ۳۲- **۳۹**. په اوبو ګرځيدل يوحنا ۶: **۱۵**- ۲۱. دَ انځير ونه وچول، متی ۲۱ ۱۸- ۲۲. دَ مهی دَ خُلې نه سکه را ويستل، متی ۱۷: **۲۷**. ډير کبان نيول، لوقا **۵**: ۱- ۱۱ اؤ دوباره يوحنا ۲۱: ۶.

ح- دَ هغۀ په خپله دَ مړو نه راژوندی کيدل دَ ټولو نه لويه معجزه ده. اول کورنتيان **۱۵**: **۴**؛ روميان ۱: **۴**.

## ۴- دَ عيسیٰ مسيح دَ معجزو صداقت

دَ عيسیٰ مسيح معجزې بائبل مقدس سره تړلی دی اؤ دا مونږ دَ بائبل مقدس نه نۀ شو جدا کولے. دا معجزې نۀ دَ هَلې ګُلې په طور اؤ نۀ په ښکلو لفظونو کښې بيان شوی دی. دا معجزې څرګندې دَ بې شميره خلقو په موجودګئ کښې شوی دی، دَ دې دَ پاره چې دَ دې دَ صداقت تصديق وی.

سائنسدانانو اؤ ډاکټرانو دَ شفا ورکولو معجزې کله هم غلطې ثابتې نۀ کړې. دَ عيسیٰ مسيح معجزې بې مثاله اؤ لاثانی وې. بل هيڅوک هم داسې معجزې نۀ شی کولے.

عيسیٰ مسيح هيڅ کله هم يو معجزه دَ نامناسبه يا غيراخلاقی مقصد سره نۀ ده کړې. دَ هغۀ مقصدونه به هميشه صحيح وو.

دَ عيسیٰ مسيح معجزې به سمدستی په حقيقت کښې بدليدلې. شفا به سمدستی ملاويده.

کله چې يحيىٰ بپتسمه ورکوؤنکی دَ هغۀ په حقله تپوس وکړو نو عيسىٰ مسيح دَ خپلو معجزو طرف ته اشاره وکړه اؤ هغۀ ته يې ووئيل چې زۀ وعده کړے شوے مسيح يم. متى ۱۱: ۳- ۲.

دا معجزې دَ فطرتی عمل نتيجې ګڼل دَ عيسىٰ مسيح دَ قدرت اؤ دَ صداقت بې عزتی کول دی.

دا معجزې په حقيقت کښې پيښې شوې دی، اؤ مونږ ډير په خوشحالئ سره دا اقرار کوؤ چې مونږ دَ خدائ پاک په کلام کښې ليکلے شوؤ خبرو باندې پوره ايمان لرو.

## ۵- دَ عيسىٰ مسيح په معجزو باندې اعتراضونه

(۱) ځنې خلق وائی چې عيسىٰ مسيح دَ يو ډير مضبوط شخصيت مالک وو، اؤ دَ هغۀ زبردست اثر سره به ځنې دَ اعصابو ناروغئ لرې کيدې. دا خبره بالکل دَ تسلئ نۀ ده.

(۲) دَ معجزو په لړ کښې اکثر ډيرې دَ بې وقوفئ خبرې کيږی. مثال په طور سمندر وچ وو اؤ عيسىٰ مسيح په حقيقت کښې په زمکه روان وو. کله چې هلک ډوډئ اؤ کبان ورکړل نو نورو خلقو هم په خوشحالئ سره خپله خپله ډوډئ را واخسته، اؤ نور کسان يې ځان سره شريک کړل. مړۀ شوی کسان په اصل کښې مړۀ نۀ وو بلکه هغوئ اودۀ وو. وغيره.

(۳) ماده پرستی الٰهی قدرت نۀ منی. هغوئ صرف مادی قوتونه منی، اؤ دَ معجزو نه انکار کوی.

(۴) ځنې خلق صرف دَ فطرت اُصول منی اؤ معجزې ناممکنه ګرځوی.

(۵) دَ خدائ نه لا پرواه خلق هم معجزې نۀ منی ځکه چې هغوئ دَ معجزو ذريعه يعنې دَ خدائ پاک دَ وجود نه انکار کوی.

(٦) ځنې خلق وائی چې دَ فطرت په يو والی اؤ رشته کښې دَ معجزو هيڅ قسمه گُنجائش نشته.

(٧) فلسفه دا دليل ورکوی چې معجزو سره دَ فکر اؤ خيالونو رشته ختميږی نو په دې وجه دا خبره دَ قبليدو قابله نۀ ده.

(٨) ځنې خلق صرف دې وئيلو سره دَ معجزو نه انکار کوی چې "دَ معجزو دَ پاره گواهئ کافی نۀ دی".

زمونږ په نزد پاکې صحيفې دومره قوی دی چې مونږ بغير دَ څۀ شک نه دَ کلام پاک خبره قبلوؤ.

## ٦- دَ عيسیٰ مسيح دَ معجزو اهميت

زمونږ دَ پاره معجزې يو سَند دے چې عيسیٰ زمونږ خلاصوؤنکے دے.
عيسیٰ مسيح دې معجزو سره دَ خپل ذات اؤ دَ خپل اُلوهيت ثبوت ورکړو.
معجزې دَ ټولو نه دَ اعلی انسان دَ قدرت ثبوت دے. دويم تسالونکيان ٢: ٩ (دَ نافرمانئ دَ نمائنده قوت دَ ابليس نه دے).

عيسیٰ مسيح ته دا غير انسانی قوت دَ چرته نه ملاؤ شوے دے؟ دَ خدائ نه. معجزې خلاصون نۀ شی ورکولے (يوحنا ١٢: ٣٧) بلکه دَ ايمان طرف ته زمونږ رهنمائی کوی. دَ متی ٨: ٢٧ معجزو دَ هغه خلقو ايمان مضبوط کړو چا چې مخکښې ايمان راؤړے وو. په ذاتی طور باندې زۀ ډير زيات خوشحاله يم چې عيسیٰ مسيح معجزې وکړې، ځکه چې دې سره زما هر قسمه دَ عقيدې اؤ ايمان کمزوری ختميږی. معجزې ما ته ښودنه کوی چې په پوره زړۀ اؤ په پوره روح سره په هغۀ دا ايمان ولرم چې هغه دا قدرت اؤ طاقت لری چې دَ خلاصون کار پوره کړی. فيليپيان ١: ٦.

## ۷- په موجوده زمانه کښې دَ معجزو امکان

په زړه لوظنامه کښې حضرت موسیٰ، حضرت الیاس اؤ دَ حضرت الیشع په شان سړو معجزې وښودلې. دَ څلورو انجیلونو په وخت کښې عیسیٰ مسیح بې شمیره معجزې وښودلې.

دَ عیسیٰ مسیح دَ پیدا ایښت نه پس پطروس، پولس اؤ نورو رسولانو معجزې وښودلې. خدائ پاک هیڅ کله هم نۀ بدلیږی. په موجوده زمانه کښې هم معجزې ممکنې دی. عبرانیان ۱۳: ۸. بهرحال یو خبره بدله شوې ده. معجزې اکثر دې دَ پاره ښودلے شوی دی چې دَ پیغمبرانو تصدیق وکړے شی. نن دَ دې ضرورت ډیر کم شوے دے.
بائبل مقدس دَ الهامی کتاب په طور باندې وائی چې عیسیٰ مسیح خدائ دے نو په دې وجه مونږ ته دَ دې دَ تصدیق دَ پاره دَ معجزو ضرورت نشته.

### خُلاصه

راځئ چې مونږ معجزې بغیر دَ څۀ اعتراض نه داسې قبولې کړو لکه څنګه چې دا په کلامِ پاک کښې ورکړے شوی دی، اؤ دې سره دَ خدائ نوم له جلال ورکړو.
مونږ له دَ خدائ پاک په بیانونو باندې دَ خپل کم عقل سره اعتراضونه کول نۀ دی پکار. داسې کولو سره مونږ دَ هغۀ بې عزتی کوؤ.
بلکه مونږ له دَ هغه ښځې په شان جوړیدل پکار دی چا چې وئیلی وو چې "زۀ دا منم چې کب حضرت یونس لواړ تیر کړے وو، ځکه چې بائبل مقدس هم دا خبره کوی. کۀ چرې بائبل مقدس وئیل چې حضرت یونس هغه غټ کب لواړ تیر کړے وو نو ما به دا خبره هم خامخا منله".

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۵۱- سائنسدانان دَ معجزو نه ولې انکار کوی؟

۱۵۲- کومو واقعو ته چې مونږ په عامو خبرو اترو کښې معجزې وایو، نو آیا په هغې کښې هره یو واقعه په حقیقت کښې معجزه ده؟

۱۵۳- معجزه څۀ ته وائی؟

۱۵۴- درې دليلونه ورکړئ چې دَ عيسیٰ مسيح معجزې بې مثاله اؤ لاثانی دی.

۱۵۵- دَ اوؤۀ قسمه معجزو ذکر وکړئ کومې چې عيسیٰ مسيح وښودلې.

۱۵۶- اتۀ ناروغئ اؤ جسمانی معذورئ بيان کړئ کومو له چې عيسیٰ مسيح شفا ورکړه.

۱۵۷- مونږ له دَ عيسیٰ مسيح معجزې ولې منل پکار دی؟

۱۵۸- دَ کومو پنځو خبرو په وجه ځنې خلق دَ معجزو نه انکار کوی؟

۱۵۹- دَ عيسیٰ مسيح دَ معجزو دَ اهميت درې اهم خبرې بيان کړئ؟

۱۶۰- آيا په موجوده وخت کښې معجزې کيدے شی؟

## اوۆلسم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح مرګ

### پیژندګلو

* په کومو دوۆ تعلیمونو باندې چې انسان دَ ټولو نه زیات اعتراض کوی نو هغه دَ عیسیٰ مسیح جُسه کیدل اۆ کفاره ورکول دی. دا دواړه تعلیمونه دَ یو ګناه ګار انسان سره دَ خدائ پاک دَ حیرانوۆنکې اۆ بې پایانه مینې یو ثبوت دے.
* خو دَ اعمالو دَ کتاب په مطابق دَ پطروس، پولوس، یعقوب اۆ دَ فیلپوس اهم تعلیم دَ عیسیٰ مسیح دَ کفارې ورکولو مرګ دے.
* " دَ کفارې ورکولو مرګ نه علاوه دَ بنی نوع انسان دَ پاره دَ اُمید لړه شان رڼا هم موجوده نۀ وه" (ډی- ایل موډی)
* په دې دنیا کښې چې مالک عیسیٰ مسیح دَ ټولو نه لوئ کار وکړو نو هغه دَ هغۀ مرګ دے. مونږ دنیا ته دَ ژوندی اوسیدو دَ پاره راځو، خو مرګ زمونږ ټول کار ختم کړی.
* عیسیٰ مسیح دې دنیا ته دَ مړ کیدو دَ پاره راغلو. په بله یوه طریقه هم دَ هغۀ مقصد نۀ شو پوره کیدے.
* دَ ګناه سزا مرګ دے. اۆ دا ضروری ده چې ګناه ګار په خپله یا دَ هغۀ په ځائ بل څوک دا سزا وزغمی. دَ خدائ پاک دَ عدالت نه دَ خلاصون یو لار هم نشته.
* کفاره دَ عیسائیت مرکز دے. کفاره دَ ګناه مسئله حل کوی.

* دا وئیلے کیږی چې "دَ انسانانو سلطان" سی- ایچ سپُر جن به یو حواله واخسته اؤ نیغ به د کلوری غرۀ ته ورسیدو. دَ ګناه اؤ کفارې وینه د بائبل مقدس بنیادی تعلیم دے.

* په بائبل مقدس کښې دَ پیدایښت دَ سیپارې نه دَ مکاشفې تر سیپارې پورې دَ وینې سره نخښه موجوده ده.

## ۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ تعلیم

### ا- خدائ پاک دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ پیشن ګوئی کړې وه

یشعیاه ۵۳: ۸ "هغه به دَ ژوندو دَ زمکې نه ختم کړے شی".
دانی ایل ۹: ۲۲ "اؤ دَ دوه شپیتو هفتو نه پس به هغه مسح کړے شوے ووژلے شی".
ذکریا ۱۳: ۷ "شپون به مړ کړے شی اؤ رمه به خواره وره کړے شی".

### ب- دَ هغۀ مرګ دَ خدائ له طرف نه مقرر وو

یشعیاه ۵۳: ۶ "خدائ پاک زمونږ دَ ټولو بدی دَ هغۀ په غاړه کړه".
یشعیاه ۵۳: ۱۰ "دَ خدائ پاک دا خوښه شوه چې هغه مړ کړی. هغۀ هغه غمژن کړو. کله چې به هغه دَ ګناه دَ قربانئ دَ پاره ورکړے شی...."
اعمال ۲: ۲۳ "اؤ کله چې خدائ دَ خپلې منشا اؤ دَ علم په مطابق هغه ستاسو په لاس کښې درکړو نو تاسو هغه دَ بې شرعې خلقو په وسیله په سولئ وخیژولو اؤ مړ مو کړو".

### ج- دَ هغۀ دَ مرګ مطلب

(۱) کفاره. دَ کوم لفظ ترجمه چې کفاره شوې ده نو په اصلی ژبه کښې دَ هغې معنیٰ ده "پټول". په بائبل مقدس کښې دا لفظ اوؤۀ اؤیا ځله استعمال شوے دے. په اُردو ژبه کښې دَ حوالې په مطابق دَ دې ترجمه "پټول، کفاره، پخلا کول" وغیره شوې ده.

(۲) فدیه. په دې کښې دَ رحم مطلب موجود دے. متی ۲۰: ۲۸ " خپل ځان یې دَ ډیرو دَ پاره قربان کړو". اول تیموتیوس ۲: ٦ "چا چې خپل ځان دَ ټولو دَ پاره قربان کړو".

(۳) په بدل کښې ورکول. دَ دې نه مونږ دا مطلب اخلو چې دَ یو کس په ځائ بل کس راشی. دَ ګناه ګار په ځائ بې ګناه سزا وزغمی. یوحنا ۱۰: ۱۱ "ښهٔ شپون دَ ګډو دَ پاره خپل ځان ورکوی".

(۴) مخلصه. خدائ پاک خاص قیمت ورکولو سره ګناه ګار دَ غلامئ نه خلاصوی. اول پطروس ۱: ۱۸، ۱۹ "ستاسو خلاصون دَ فانی څیزونو، یعنې سرو یا سپینو زرو په وسیله ونهٔ شو بلکه..... دَ مسیح دَ قیمتی وینې په وسیله".

(۵) پخلا کیدل. دَ خدائ پاک اؤ انسان په مینځ کښې دښمنی وه، خو اوس روغه اؤ ملګرتیا ده. رومیان ۵: ۱۰، ۱۱ "ځکه چې سره دَ دې چې مونږ دَ خدائ دښمنان وو نو مونږ دَ هغهٔ دَ زوئ دَ مرګ په وسیله ورسره پخلا شو....." په سولئ باندې دَ عیسیٰ مسیح مرګ مونږ خدائ سره پخلا کړو.

(٦) دَ خلاصون قیمت. په فدیه ورکولو کښې دویم مطلب هم موجود دے، یعنې دَ قیدی ( څوک چې ګناه په خپل قید کښې ساتلے وی) دَ خلاصیدو قیمت. متی ۲۰: ۲۸ "ابن آدم دې له نهٔ دے راغلے چې دَ هغهٔ خدمت دې وکړے شی بلکه دَ نورو خدمت دې وکړی اؤ خپل ژوند دې دَ ډیرو دَ پاره قربان کړی".

## د- دَ هغهٔ دَ مرګ طریقه

هغه په سولئ مړ شو. متی ۲۷: **۳۵**؛ مرقوس ۱۵: **۲۴**؛ لوقا **۲۳**: **۳۳**.

په زړه لوظنامه کښې دَ هغهٔ تصویر دَ مخکښې نه ورکړے شوے وو یعنې هغه به په سولئ کړے شی. شمیر ۲۱: ۸؛ یوحنا ۳: ۱۴.

دا ډیر دَ بې عزتئ مرګ وو. عبرانیان ۱۲: ۲ "..... دَ شرمندګئ پرواه یې ونهٔ کړه خو دَ سولئ تکلیف یې وزغمو".

دا یو ډیر لعنتی مرګ وو. ګلتیان ۳: ۱۳ "مسیح مونږ په بیعه واخستو اؤ دَ شریعت دَ لعنت نه یې راخلاص کړلو ځکه چې هغه زمونږ دَ پاره لعنتی شو، ځکه چې په صحیفه کښې لیکلی دی، څوک چې په لرګی ځوړند کړے شو هغه لعنتی دے".

## ه- دَ هغهٔ دَ مرګ دَ خپلې مرضئ په مطابق وو

هغهٔ په خپله مرضئ زمونږ دَ پاره خپل ځان مرګ له ورکړو. هغه هیچا هم مرګ ته نهٔ وو مجبوره کړے.

یوحنا ۱۰: ۱۸ "دا زما نه څوک په زور نهٔ اخلی، زهٔ دا په خپله مرضئ قربانوم".

## و- دَ هغهٔ دَ مرګ وجه

مالک عیسیٰ مسیح یعنې یو بې ګناه ذات ولې مړ شو.

مونږ خو په دې خبره پوهیږو چې یو ګناه ګار سړے مړ کیږی. ځکه چې دَ ګناه انجام هم دا دے. عیسیٰ مسیح زمونږ ګناه په خپل ځان واخسته. داسې کولو سره هغهٔ دَ قُدوس خدائ پاک انصاف پوره کولو دَ پاره دَ مرګ تکلیف وزغملو.

دَ انصاف دا تقاضا وه چې دَ ګناه قیمت ورکړے شی. دَ ګناه سزا مرګ دے. صرف مالک عیسیٰ مسیح دا قیمت په پوره طور سره ورکولے شو.

دَ خلاصون یقینی کولو دَ پاره دا ضروری ده چې دَ خدائ پاک یو صفت ته هم نقصان ونهٔ رسی.

دَ خدائ پاک مینې تر هغه وخته پورې ګناه نهٔ معاف کوله تر څو چې دَ هغهٔ دَ انصاف دَ صفت تقاضا نهٔ وه پوره شوې.

په سولئ باندې دَ خدائ پاک دَ ټولو صفتونو تقاضا پوره شوه.

## ز- دَ هغهٔ دَ مرګ نتیجه

څوک چې هغه په خپل ځائ ګڼی دَ هغوئ خلاصون.

اول تیموتیوس ۴: ۱۰ "چې دَ ټولو خلقو اؤ خاص طور باندې دَ ایماندارانو خلاصوؤنکے دے".

## ۲- دَ عیسیٰ مسیح په مرګ باندې اعتراضونه

(۱) ولې انسان دَ خپلو ګناهونو سزا نۀ شی زغملے؟ آؤ، زغملے شی. خو دَ دې پوره سزا دَ تل مرګ دے. دَ پوره قرض ورکولو دَ پاره ابدیت هم کافی وخت نۀ دے.

(۲) آیا انسان دَ خپلې ګناه دَ پاره فدیه ورکولے شی؟ نه. تر تله پورې تکلیف زغمل کافی نۀ دی. عبرانیان ۹: ۲۲ "ټول څیزونه دَ شریعت په مطابق په وینه پاکولے شی اؤ دَ وینې نه بغیر معافی نۀ کیږی". صرف مرګ دَ خدائ پاک غوښتنې پوره کولے شی. اؤ روح په دوزخ کښې مړ کیدو کښې کله هم کامیابیدے نۀ شی (یو کس دَ دوزخ په حقله داسې وئیلی دی چې دَ تل دَ پاره مړ کیدل اؤ کله هم نۀ مړ کیدل ).

(۳) آیا دَ کفارې تعلیم پولوس رسول ورکړے دے؟ بالکل نه. دَ دې تعلیم زمونږ مالک عیسیٰ مسیح په خپله ورکړے دے. متی ۱٦: ۲۱ "دَ هغه وخت نه عیسیٰ خپلو شاګردانو ته دا خبره څرګنده کړه چې ضروری دی چې زۀ به بیت المقدس ته ځم..... ډیر به آزارولے شم اؤ ووژلے به شم اؤ په دریمه ورځ به بیا پاڅولے شم". (متی ۲۰: ۲۸ هم وګورئ).

یوحنا ۱۲: ۲۴ "دَ غنمو یوه دانه تر هغې یوه دانه وی تر څو چې هغه په خاؤرو کښې پرې نۀ وځی اؤ خاؤرې نۀ شی، خو کۀ هغه خاؤرې شی نو دَ هغې نه ډیرې دانې راوټوکیږی". عیسیٰ مسیح دَ غنمو هغه دانه ده کومه چې خاؤرې کیده.

(۴) آیا دې عقیدې سره به دَ انسان حالت نور هم خراب شی اؤ هغه به نور هم زیات په ګناه کښې پریوځی؟ نه، ځکه چې سولئ دا ښودنه کوی چې خدائ پاک دَ ګناه نه ډیر نفرت کوی. دَ رومیانو ٦: ۱- ۲ وګورئ.

(۵) ولې دا بې انصافی نۀ ده څۀ چې يو بې ګناه کس دَ خپلې مرضۍ خلاف زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره تکليف وزغمی؟ کۀ چرې عيسیٰ مسيح دې ته مجبوره کړے شوے وو چې هغه دَ خپلې مرضۍ خلاف زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره تکليف وزغمی نو دا به بې انصافی وه. خو عيسیٰ مسيح په خپله مرضۍ خپل ځان زمونږ په خاطر مړ کولو دَ پاره ورکړو. دا هغۀ په خپله مرضۍ وکړل.

(٦) ولې مالک خدائ په سولۍ باندې دَ دومره خطرناک مرګ نه بغير دغه شان زمونږ ګناهونه نۀ شو بخښلے څۀ؟ دَ خدائ پاک خلاف ګناه شوې وه. ولې هغۀ دا دغه شان نۀ شوه لرې کولے؟ هغۀ داسې نۀ شو کولے، ځکه چې دا ضروری دی چې دَ خدائ پاک دَ شريعت غوښتنه پوره شی.

پيدايښت ۲: ۱۷ "په کومه ورځ چې تا وخوړه نو تۀ به مړ شې".

خزقی ايل ۱۸: ۴ "څوک چې ګناه کوی هغه به مری".

روميان ٦: ۲۳ "دَ ګناه سزا مرګ دے".

توبې کولو سره هم دَ ګناه دَ سزا ضرورت نۀ ختميږی. دَ ګناه شروع شوې ده اؤ دَ دې فيصله دَ خدائ پاک دَ اُصولو اؤ شريعت په مطابق کول ضروری دی. دَ خدائ پاک انصاف اؤ دَ هغۀ عزت دواړو ته خطره ده. دا ضرروری ده چې دواړه قائم وساتلے شی. دَ خدائ پاک پاکوالے دَ ګناه دَ پاره دَ مرګ دَ سزا غوښتنه کوی.

(۷) آيا دَ يو قصور وار جرم په بې قصور وار باندې اچول ناممکنه نۀ دی؟

انسانی عدالتونه صرف مجرم له سزا ورکوی خو کۀ چرې هغوئ وغواړی نو دَ مجرم په بدل کښې بل کس له سزا ورکولے شی، خو په دې شرط چې هغه بل کس په خپله مرضۍ دَ بل کس قصور په خپل ځان واخلی.

يشعياه ۵۳: ۴ "هغۀ زمونږ تکليفونه په خپل ځان واخستل اؤ زمونږ غمونه يې

وزغمل".

یشعیاه ۵۳: ۵ "هغه زمونږ دَ قصورونو په سبب زخمی کړے شو اؤ زمونږ دَ بدئ په سبب چخنی کړے شو. زمونږ دَ سلامتئ دَ پاره په هغهٔ سیاست وکړے شو دَ دې دَ پاره چې دَ هغهٔ په وهلو مونږ ته شفا ملاؤ شی".

اول پطروس ۲: ۲۴ "هغهٔ زمونږ ګناهونه سولئ ته دَ خپل ځان سره یوړل دَ دې دَ پاره چې مونږ ګناهونو ته مړهٔ شو اؤ دَ صداقت دَ پاره ژوند تیروؤ، اؤ دَ هغهٔ په زخمونو تاسو شفا وموندله".

(۸) کهٔ چرې دَ هرې ګناه دَ پاره سزا مرګ وی نو بیا عیسیٰ مسیح په سولئ باندې په یو څو ګینټو کښې څنګه بې شمیره ځله مړ شو؟

سوال دَ تکلیف مقدار نهٔ دے بلکه دَ خدائ پاک دَ انصاف تقاضا پوره کول وو. ځکه چې یو پاک اؤ بې ګناه ذات تکلیف تیر کړو، دې سره ټوله مسئله حل شوه.

کوم ذات چې سزا وزغمله هغه تش انسان نهٔ وو بلکه هغه خدائ هم وو اؤ انسان هم. اول تیموتیوس ۲: ۵.

یشعیاه ۵۲: ۱۴ "دَ هغهٔ مخ دَ هر یو بنده نه زیات اؤ دَ هغهٔ بدن دَ بنی آدم نه زیات خراب شوے وو". دَ دې آیت نه دا څرګندیږی چې مرګ دومره ویروؤنکے وو چې خدائ پاک په سولئ باندې دَ تیارو پرده را ښکته کړه چې انسان دَ هغهٔ خراب شوے مخ ونهٔ وینی. لوقا ۲۳: ۴۴.

**خُلاصه**

دَ عیسیٰ مسیح مرګ دَ ټولو ګناه ګارانو دَ پاره کافی دے. هغه دَ ټولې دنیا دَ ګناهونو دَ پاره مړ شو. هغه ستاسو ګناهونو دَ پاره اؤ خاص طور باندې زما دَ ګناهونو دَ پاره مړ شو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۶۱- په دې دنیا کښې خپل مقصد پوره کولو دَ پاره عیسیٰ مسیح له څۀ کول پکار وو؟

۱۶۲- دَ سوال نمبر ۱۶۱ دَ جواب په ثبوت کښې دَ زړې لوظنامې نه درې پیشن ګویانې پیش کړئ.

۱۶۳- دوه حوالې بیان کړئ چې دَ هغې نه دا څرګند شی چې دا دَ خدائ مرضی وه چې عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راشی.

۱۶۴- دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ پنځۀ مطلبونه بیان کړئ، اؤ دَ هر یو وضاحت وکړئ.

۱۶۵- آیا په خپله انسان خپله فدیه ورکولے شی؟ ولې؟

۱۶۶- عیسیٰ مسیح په سولئ ولې مړ شو؟

۱۶۷- دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ څۀ نتیجه راووتله؟

۱۶۸- ولې خدائ پاک دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ نه بغیر ګناه نۀ شوه معاف کولے؟ ولې؟

۱۶۹- آیا دَ مجرم قصور په بې قصوره باندې منتقل کیدے شی؟

۱۷۰- کۀ چرې دَ هرې یوې ګناه سزا مرګ وی نو عیسیٰ مسیح څنګه بې شمیره ځله مړ کیدے شی؟

# اتلسم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح قیامت

## پیژندګلو

* دَ عیسیٰ مسیح دَ قیامت تعلیم دَ نوې لوظنامې بنیادی تعلیم دے.
* په نوې لوظنامه کښې دَ قیامت ذکر ۱۰۴ ځله راغلے دے.
* عیسائیت واحد مذهب دے چې بانی یې ژوندے دے. دَ نورو ټولو مذهبونو بنیاد کیښودونکی مثلاً بدمت، برهما (هندومت)، کارل مارکس (شراکت) وغیره کښې یو کس هم ژوندے نۀ دے.
* خالی قبر دَ عیسائیت شان اؤ فخر دے. عیسیٰ مسیح بیا راژوندے شوے دے.
* په سولئ باندې عیسیٰ مسیح وفرمائیل "پوره شو" اؤ پلار زوئ دَ مړو نه راژوندے کړو اؤ په دې یې "آمین" ووئیل.
* کۀ چرې عیسیٰ مسیح دَ قبر نه نۀ وی راژوندے شوے نو بیا مونږ دَ ټولو نه بد نصیبه خلق یو ځکه چې مونږ لا تر اوسه پورې په خپله ګناه کښې یو، اؤ دَ تباهئ زامن یو. اول کورنتیان ۱۵: ۱۶- ۱۹.
* عیسیٰ مسیح وئیلی وو چې زۀ به مړ کیږم اؤ په دریمه ورځ به بیا راژوندے کیږم (متی ۱۶: ۲۱).
* کۀ چرې دَ عیسیٰ مسیح قیامت حقیقت دے نو هغه واقعی دَ خدائ زوئ دے.

* دَ عیسیٰ مسیح قیامت یو معجزه ده په کومه چې نورې ټولې معجزې بنیاد لری.

* کۀ چرې دا معجزه، کومه چې دَ ټولو نه لویه معجزه ده حقیقت وی نو نورو ټولو معجزو باندې ایمان لرل هم آسان دی.

## ۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ قیامت ګواهئ

أ- خالی قبر. متی ۲۸: ٦ "هغه دلته نشته، هغه بیا پورته کړے شوے دے لکه څنګه چې هغۀ وئیلی وو. راشئ، هغه ځائ وګورئ چرته چې هغه پروت وو".

لوقا ۲۴: ۳ "خو چې دننه لاړو نو دَ مالک لاش په قبر کښې نۀ وو".

ب- د فرښتو ګواهی. متی ۲۸: ٦ (ړومبئ حواله وګورئ)، لوقا ۲۴: ۵، ٦ "ژوندے په مړو کښې څۀ له لټوئ؟ هغه دلته نشته، هغه پاڅیدلے دے. تاسو رایادې کړئ هغه خبرې چې په ګلیل کښې یې درته کړې وې. چې ابن آدم به څنګه د ګناه ګارو سړو په لاس حواله کیږی اؤ په سولئ به شی اؤ په دریمه ورځ به بیا ژوندے پاځی".

ت- هغه خلق چا چې دَ بیا ژوندی کیدو نه پس هغۀ سره خبرې وکړې. پطروس، مریم، کلیوپاس اؤ توما.

ث- عیسیٰ مسیح دَ بیا ژوندی کیدو نه پس. خوړل څښکل وکړل اؤ خپلو ملګرو ته یې خپل زخمونه وښودل.

ج- په يو موقعه هغه پنځهٔ سوه کسانو ته ښکاره شو. اول کورنتيان ۱۵: ۶ "اؤ بيا ورونړو ته چې دَ پنځو سوؤ نه زيات وو چې يو ځل ښکاره شو چې په هغوئ کښې زيات کسان تر اوسه ژوندی دی اؤ ځنې مړهٔ".

ح- دَ ستفانوس دَ ګواهئ په موقعه هغهٔ ته ښکاره شو. اعمال ۷: ۵۶ "ګورئ! آسمان پرانستے دے اؤ زهٔ ابن آدم دَ خدائ په ښی لاس ولاړ وينم".

خ- د دمشق په لاره پولوس ته را ښکاره شو. اعمال ۹: ۵ "هغهٔ تپوس وکړو، مالکه تهٔ څوک يې؟ جواب راغے، زهٔ عيسیٰ يم چې تهٔ يې ربړوې".

د- د هغه لکونو خلقو ګواهی چا چې دَ دې خبرې تجربه وکړه چې هغه ژوندے خلاصوؤنکے دے.

ذ- ډير زيات نهٔ رد کيدونکی ثبوتونه. اعمال ۱: ۳.

## ۲- دَ عيسیٰ مسيح دَ قيامت په حقله نظريې

أ- دَ فريب نظريه: "دا ټوله قيصه دَ دروغو ده. قصداً غلطه وينا شوې ده". تاريخ اؤ کلامِ پاک په واضحه طور دَ دې سپکې اؤ دروغژنې نظريې نه انکار کوی.

ب- دَ بې هوشئ نظريه. "عيسیٰ مسيح بې هوشه شوې وو ځکه چې سپاهيانو هغه مړ کړے نهٔ وو. دَ قبر دَ يخ والی اؤ مصالو سره هغه په هوش کښې راغلو اؤ دَ قبر نه بهر را ووتلو". خو دَ دې برعکس هغه

مصالحې خو زهریله وې. فرض کړئ کۀ چرې هغه ژوندے هم وو خو مصالحو به هغه وژلے وو.

ت- پہ فریب سره کتونکي نظریه. "شاګردانو عیسیٰ مسیح ژوندے لیدل غوښتل. هغوئ سوچ کولو چې هغه به بیا راژوندے کیږی. نو دغه شان هغوئ دا خیال وکړو چې هغوئ هغه لیدلے دے". خو دَ دې خلاف کلام مقدس وائی چې دَ هغوئ عقیده ډیره کمزورې کیده. دَ هغۀ لیدو سره به هم دَ هغوئ یقین نۀ راتلو. توما خو چې تر اوسه هغۀ له لاس نۀ وو وړے، نو هغه دې منلو دَ پاره تیار هم نۀ وو. دَ مریدانو خو بالکل په دې یقین نۀ راتلو، بلکه دې خبرې دَ پاره عیسیٰ مسیح هغوئ ورټل. لوقا ۲۴: ۲۵.

ث- دَ روح لیدلو نظریه. "شاګردانو صرف دَ هغۀ روح ولیدو اؤ دا یې ګنل چې دا عیسیٰ دے". خو دَ روح غوښه اؤ هډوکی نۀ وی اؤ نۀ روح خوراک څښاک کوی. لوقا ۲۴: ۳۹، ۴۳.

ج- دَ خیالی قیصې نظریه (دَ افسانې نظریه. "دا یو پخوانئ خیالی قیصه ده چې په کښې لږ شان حقیقت هم نشته". دَ کلامِ پاک عامې فتوې دَ دې نظریې نه انکار کوی.

ح- صحیح تفسیر. عیسیٰ مسیح دَ خپلې وینا په مطابق دَ مړو نه راژوندے شو اؤ دَ قبر نه بهر راغلو. اعمال ۲: ۲۴ "خو خدائ هغه بیا راژوندے کړو اؤ دَ مرګ دَ تکلیفونو نه یې خلاص کړو ځکه چې دا ناممکنه وه چې هغه دَ مرګ په قبضه کښې پاتې شوے وو".

## ۳- دَ هغهٔ راژوندے شوے بدن

په هغې کښې غوښه اؤ هډوکی دی. لوقا ۲۴: ۳۹ "زما لاسونو اؤ پښو ته وګورئ چې دا زهٔ یم. ماله لاس راؤړئ اؤ وګورئ، دَ پیری غوښه اؤ هډوکی نهٔ وی لکه چې تاسو وینئ چې زهٔ یې لرم".

دا جلالی بدن دے. فیلیپیان ۳: ۲۱ "هغه...به زمونږ دَ بدن فانی شکل بدل کړی اؤ دَ خپل دَ جلال صورت په شان به یې جوړ کړی".

دا غیر فانی بدن دے. یعنې هیڅ کله به هم نهٔ مری. رومیان ۶: ۹ "مونږ ته دا معلومه ده چې مسیح یوځل دَ مړو نه ژوندے شوے دے، نو بیا هیڅ کله مړ کیدے نهٔ شی اؤ مرګ په هغهٔ باندې نور هیڅ واک اختیار نهٔ لری".

دا روحانی بدن دے. اول کورنتیان ۱۵: ۴۴ "جسمانی وجود ښخولے شی اؤ روحانی وجود راژوندے کیږی".

روحانی بدن دا خوبی لری چې هغه دَ غټو غټو دیوالونو نه هم تیرېدے شی. یوحنا ۲۰: ۱۹ "هم دَ هغه اتوار په ورځ ماښام چې مریدانو دَ یهودیانو له ویرې نه دروازې بندې کړې وې ناست وو، چې عیسیٰ راغے اؤ دَ هغوئ په مینځ کښې ودریدو اؤ ورته یې ووئیل، په تاسو دې سلامتیا وی!"

## ۴- عیسیٰ مسیح دَ مړو نه څنګه راژوندے شو

دَ پلار قدرت سره. اعمال ۲: ۲۳- ۲۴ "تاسو هغه دَ بې شرعې خلقو په وسیله په سولئ وخیژو اؤ مړ مو کړو. خو خدائ هغه بیا راژوندے کړو اؤ دَ مرګ دَ تکلیفونو نه یې خلاص کړو...." (اعمال ۳: ۱۵، ۵: ۳۰ هم وګورئ).

دَ عیسیٰ مسیح خپل قدرت سره. یوحنا ۲: ۱۹ "عیسیٰ جواب ورکړو چې دا دَ خدائ کور ونړوئ اؤ زهٔ به یې درته په دریوؤ ورځو کښې بیا ودان کړم". (یوحنا ۱۰: ۱۸ هم وګورئ).

دَ روح القدس قدرت سره. اول پطروس ۳: ۱۸ "هغه په جسمانی طور مړ کړے شو خو په روحانی طور ژوندے کړے شو".

## ۵- دَ عیسیٰ مسیح دَ قیامت نتیجې

دې نه دَ خدائ دَ وجود ثبوت ملاویږی. کۀ چرې خدائ پاک نۀ وی نو بیا مسیح دَ مړو نه څنګه راژوندے شو؟ هغه ځکه راژوندے شو چې ژوندی خدائ پاک هغه راژوندے کړو.

دې نه دَ مسیح اُلوهیت ثابتیږی. رومیان ۱: ۴ "خو دَ قدوسیت دَ روح په مطابق له مړو نه دَ بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت سره دَ خدائ زوئ اظهار شو".

دَ دې مطلب دے چې خلاصون پوره شوے دے. کله چې عیسیٰ مسیح په سولئ مړ کیدو نو هغۀ وئیلی وو چې دَ خلاصون کار پوره شو. دَ هغۀ قیامت دَ دې حقیقت تصدیق وکړو.

دَ عیسیٰ مسیح قیامت دَ دې خبرې ثبوت دے چې نور خلق به هم راژوندی کیږی. (۱) صادقان دَ تل ژوندون دَ پاره. (۲) ناراسته (غیر ایماندار) خلق به دَ انصاف کوؤنکی وړاندې حاضر شی اؤ دَ تل سزا به زغمی.

قیامت، عیسیٰ مسیح دَ خپلې بلې وعدې پوره کولو دَ پاره تیاروی چې "زۀ به بیا واپس راځم".

دَ هغۀ دَ "بیا راژوندی کیدو قدرت" (فیلیپیان ۳: ۱۰) یو داسې تجربه ده چې مونږ ترې اوس هم فائده اخستے شو. دَ دې مطلب دے نوې ژوند تیرول. دا نوې ژوند دَ راژوندی شوی مسیح نه ملاویږی، ځکه چې هغه زمونږ په بدن کښې نوې ژوند تیروی.

### خُلاصه

قیامت په دنیا کښې دَ ټولو نه لوئ قدرت دے.

- **قیصه**: یو کس چې دَ خدائ پاک نه منکر وی هغه مړ شی. دَ هغۀ دا یقین دے چې زۀ به بیا کله هم نۀ ژوندے کیږم. په دې وجه هغه په خپل وصیت نامه کښې لیکی چې زما بدن وسوځوئ اؤ دَ دې ایره په اوؤ سمندرونو کښې وغورزوئ. کله چې دَ قیامت په ورځ بګل وغږیږی نو

دَ دې غیر ایماندار کس بدن به پوره شی اؤ دَ عیسیٰ مسیح په حضورئ کښې به ودرېږی.

- خدائ پاک دې وکړی چې دَ قیامت لوئ قدرت زما په بدن کښې راشی اؤ ما دَ ګناه نه بچ وساتی.

- قیامت، دَ مسیح بنیاد دے.

- قیامت، دَ مسیحی ګواهو ملګرتیا کوی اؤ دَ بې دینئ، اؤ دَ خدائ نه دَ انکار کولو خلاف دے.

- عیسیٰ مسیح راژوندے شوے دے نو په دې وجه دا ضروری ده چې ماده پرستی، شراکت اؤ دَ خدائ نهٔ منونکی مرګ ته ولیږلے شی.

- په هره زمانه کښې مرګ فتح موندلې ده. دا په ټوله دنیا باندې حمله کوی. دا هر طرف ته کندهې کنی اؤ هغه دَ لاشونو نه ډکوی.

- خو قیامت یو ډیر لوئ طاقت دے ځکه چې دا دَ قبر طاقت ختموی.

- نن مونږ دَ مسیح په فتح کښې شریکیږو اؤ فخر سره وایو "اے مرګه ستا هغه فتح څهٔ شوه؟ اے مرګه ستا دَ طاقت هغه لشه څهٔ شوه؟" اول کورنتیان ۱۵: **۵۵**.

- مونږ دَ ژوندی خلاصوؤنکی عبادت کوؤ. هغه نن هم په دې دنیا کښې دے. فتح زمونږ ده ځکه چې مونږ دَ فتح مند مسیح سره مخ په وړاندې ځو. هغه دَ جهاد کوؤنکی جماعت سردار دے.

- افسوس چې دَ دې حقیقت په وجه چې مسیح په مونږ کښې اوسی، نورو خلقو ته هم دا معلومه شی چې هغه ژوندے دے.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۷۱- دَ عيسائيت جدا اؤ بيلې بيلې خوبئ څۀ دى؟

۱۷۲- دَ قيامت (دَ مسيح دَ بيا راژوندى کيدو) شپږ ثبوتونه بيان کړئ.

۱۷۳- دَ قيامت په حقله دَ بې هوشئ نظريه څۀ ده؟ آيا دا نظريه صحيح ده؟ ولې؟

۱۷۴- مونږ څنګه وئيلے شو چې دَ فريب کتلو نظريه غلطه ده؟

۱۷۵- دَ عيسىٰ مسيح دَ قيامت صحيح تشريح څۀ ده؟

۱۷۶- دَ عيسىٰ مسيح دَ بيا راژوندى شوى بدن خوبئ بيان کړئ.

۱۷۷- عيسىٰ مسيح څنګه له مړو نه بيا راژوندے شو؟

۱۷۸- دَ عيسىٰ مسيح قيامت څنګه دَ خدائ وجود ثابتوى؟

۱۷۹- ډير خلق دَ عيسىٰ مسيح قيامت نه ولې انکار کوى؟

۱۸۰- ستاسو په خيال په دنيا کښې دَ ټولو نه لوئ طاقت کوم يو دے؟

# نولسم سبق

# دَ مسيح آسمان ته ختل

## پيژندګلو

* دا وئيلے کيږی چې دَ عيسىٰ مسيح ژوند په اصل کښې څلورو لويو معجزو باندې تر سره شوے دے: جُسه کيدل، قيامت، آسمان ته ختل اؤ بيا راتګ. نن به مونږ په دې کښې دَ دريمې معجزې مطالعه کوؤ.
* آسمان ته ختل هغه واقعه ده په کومه کښې چې عيسىٰ مسيح په ليدونکې طريقه دَ خپلو شاګردانو نه جدا شو اؤ آسمان ته واپس لاړو.
* هغه دَ يو غريب ماشوم په شکل کښې دې دنيا ته راغلو اؤ دَ جلال اؤ فتح مندئ په شکل کښې دې دنيا نه واپس لاړو.
* کله چې په دې دنيا کښې دَ هغۀ خدمت پوره شو نو هغه آسمانی خدمت دَ پاره لاړو، دَ دې دَ پاره چې مونږ له هلته ځائ تيار کړی اؤ دَ مشر کاهن ( امام ) په طور دَ بخښنې خدمت پوره کړی.

## ۱- آسمان ته دَ ختلو واقعه

اعمال ۱: ۹- ۱۱ "کله چې هغۀ دا ووئيل اَؤ هغوئ لاورته کتل چې هغه پورته کړے شو اَؤ يوه وريځ راغله اَؤ هغه ئې دَ هغوئ دَ سترګو نه پناه کړو. اَؤ څنګه چې هغه روان وُو اَؤ هغوئ آسمان پلو ځير ځير کتل نو سمدستی دوه سړی په سپينو جامو کښې دَ هغوئ په خوا کښې ودريدل .اَؤ وئ وئيل چې "اے ګليليانو !تاسو دلته څۀ له آسمان پلو ځير ځير ګورئ؟ دغه عيسىٰ څوک چې ستاسو نه آسمان ته بوتلے شو، هم په دغه لار به بيا راځی په کُومه چې تاسو دَ تلو په وخت وليدلو."

دا بيان په مختصر طور داسې پيش کيدے شی. هغه په جسمانی اؤ ليدونکی طور سره آسمان ته پورته کړے شو.

## ۲- په پاکو صحیفو کښې آسمان ته دَ ختلو پیشن ګویانې اؤ تعلیم موجود دے

زبور ۶۸: ۱۸ "تهٔ اوچت آسمان ته لاړې. تا قیدیان دَ ځان سره بوتلل".
زبور ۱۱۰: ۱ "یهواه زما مالک خدائ ته وفرمائیل تهٔ زما ښی لاس ته کښېنه تر څو چې زهٔ ستا ټول دښمنان ستا دَ پښو لاندې نهٔ کړم". آسمان ته ختلو نه پس هغه دَ پلار ښی لاس ته کښیناستلو.

لوقا ۹: ۵۱ "هر کله چې هغه وخت رانزدې شو چې عیسیٰ پاس آسمان ته بوتلونکے وو نو هغهٔ بیت المقدس ته په پخه اراده مخه وکړه".
دَ عیسیٰ مسیح آسمان ته بوتلل دَ خدائ پاک په منصوبه کښې شامل وو.
یوحنا ۶: ۶۲ "دا څهٔ خبره ده کهٔ تاسو ابن آدم هغه ځائ ته په ختو وینئ چرته چې هغه وړومبے وو".

یوحنا ۱۴: ۲۸ "......زهٔ درنه روان یم......زهٔ پلار له روان یم......ځکه چې پلار له مانه لوئ دے".
یوحنا ۲۰: ۱۷ "عیسیٰ ووئیل، ما ته لاس مهٔ راوړه ځکه چې زهٔ لا پلار ته نهٔ یم تلے خو زما ورونو ته لاړ شه اؤ هغوئ تهووایه چې زهٔ اوس خپل پلار ته اؤ ستاسو پلار ته، خپل خدائ ته اؤ ستاسو خدائ ته پاس ځم".

زړې لوظنامې دَ عیسیٰ آسمان ته دَ ختلو ذکر کړے دے اؤ عیسیٰ مسیح آسمان ته دَ ختلو په حقله تعلیم ورکړو. داسې ښکاری لکه څنګه چې شاګردان دَ دې نه مخکښې دَ هغهٔ په مرګ، ښخیدو اؤ بیا راژوندی کیدو باندې نهٔ پوهیدل، نو دغه شان په دې خبره هم نهٔ پوهیدل.

## ۳- آسمان ته دَ ختلو واقعه دَ بیا راژوندی کیدو نه څلویښت ورځې وروستو پیښه شوه

عیسیٰ مسیح پلار ته تلو کښې لږ شان ایسار شو. دَ دې یو څو وجې دی.

دَ دې دَ پاره چې په دې ثبوت کښې دَ شک لږ شان ګنجائش هم پاتې نۀ شی چې زۀ دَ مړو نه بیا راژوندے شوے یم. دَ ایماندارانو ایمان مضبوطولو دَ پاره دا خبره ډیره ضروری وه.

دَ دې دَ پاره چې شاګردانو له دَ مسیحی ایمان نور تعلیم ورکړے شی. دَ بیا راژوندی کیدو نه پس عیسیٰ مسیح دَ خپل اولنی تعلیم وضاحت دَ هغه واقعو په رڼا کښې وکړو کومې چې راپیښې شوې وې. مثال په طور دَ خپل مرګ، ښخیدو او دَ بیا راژوندی کیدو مقصدونه یې واضحه کړل. اعمال ۱ : ۳ "هغۀ دَ خپل مرګ نه پس په هغو ځان څرګند کړو او دَ دې پوره ثبوت یې ورکړو چې هغه ژوندے دے او پوره څلویښت ورځې هغه په هغوئ پیښیدو او هغوئ ته یې دَ خدائ دَ بادشاهئ په حقله تعلیم ورکولو".

## ۴- آسمان ته دَ ختلو انداز

لوقا **۲۴** : **۵۱** "او داسې وشو چې په برکت ورکولو هغه دَ هغوئ نه جدا شو او آسمان ته پورته کړے شو".

اوس مالک عیسیٰ مسیح دَ پلار ښی لاس ته ناست دے. افسیان ۱ : ۲۰ "دا هم هغه قوت دے چې دَ کوم په وسیله چې خدائ مسیح له مړو نه بیا راژوندے کړو او خپل ښی لاس ته یې په آسمان کښې کښینولو".

ځنې خلق وائی چې "دَ خدائ ښی لاس ته" دا مثالی لفظونه دی چې مطلب یې دے قُدرت. خو زۀ دا په لفظی طور سره اخلم. زما دا ایمان دا دے چې حقیقی مقام دے ځکه چې ستفانوس عیسیٰ مسیح په دې مقام باندې لیدلے وو.

اعمال ۷ : **۵۶** "ګورئ! آسمان پرانستے دے او زۀ ابن آدم دَ خدائ په ښی لاس ولاړ وینم!"

آسمان ته ختل پټ نۀ وو بلکه څرګند وو. رسولانو هغه په خپلو سترګو آسمان ته په ختلو ولیدو او دَ دې ګواهی یې ورکړه.

عیسیٰ مسیح په ذاتی طور، په لیدلو سره، په بدنی طور دَ هغوئ نه جدا شو او دَ بیا راتلو په وخت به هم داسې په لیدونکی او بدنی طور سره دې دنیا ته واپس راځی.

## ۵- آسمان ته دَ ختلو ضرورت

آسمان دَ عيسیٰ مسيح وطن دے. بهرحال دا دَ راز نه ډکه خبره ده چې کله دَ هغهٔ کار پوره شو نو هغه خپل وطن ته واپس لاړو. يوحنا ۱۴: ۲۸ "زهٔ پلار له روان يم".
دَ پيشن ګويئ پوره کيدل ضروری وو. هغهٔ وئيلی وو چې زهٔ به پلار له ځم، اؤ هغه لاړو. يوحنا باب ۱۶.

الٰهی منصوبه دا وه چې تر څو پورې عيسیٰ مسيح آسمان ته لاړ نهٔ شی نو روح القدس به په ايماندارانو کښې اوسيدو دَ پاره نهٔ راځی. نو دَ پينتکست نه مخکښې آسمان ته تلل ضروری وو.
يوحنا ۱۶: ۷ "دا ستاسو دَ بهترئ دَ پاره ده چې زهٔ ستاسو نه جدا کيږم. کهٔ چرې زهٔ ستاسو نه لاړ نهٔ شم نو مدد ګار به را نهٔ شی اؤ کهٔ چرې زهٔ لاړ شم نو هغه به زهٔ تاسو ته را واستوم".
دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته تلل ضروری وو دَ دې دَ پاره چې هغه راتلونکے کار يعنې دَ ځائ تيارولو کار پوره کړی.

يوحنا ۱۴: ۲، ۳"زهٔ ځم چې ستاسو دَ پاره هلته ځائ تيار کړم. اؤ کهٔ هلته زهٔ لاړ شم اؤ ستاسو دَ پاره ځائ تيار کړم نو په خپله به بيا راشم اؤ تاسو به دَ ځان سره بوځم".
دا به ډيره ښهٔ وه کهٔ چرې دَ بيا راژوندی کيدو نه پس عيسیٰ مسيح په هغه قدرت کښې دَ هميشه دَ پاره په دې دنيا کښې وو. خو دا دَ جماعت دَ پاره دَ خدائ پاک دَ منصوبې په مطابق نهٔ وو.
عيسیٰ مسيح دې دَ پاره آسمان ته لاړو چې دَ مخلصئ خاص کارونه پوره کړی. يوحنا ۲۰: ۱۶، ۱۷.

دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته تلو سره دا ممکنه شوه چې دَ هغهٔ منونکی هغه لوئ کار وکړی دَ کوم چې هغهٔ وعده کړې وه. يوحنا ۱۴: ۱۲.
عيسیٰ مسيح دې دَ پاره آسمان ته لاړو چې دَ خدائ دَ تخت په وړاندې دَ بخښنې کار شروع کړی.

دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته تلو سره دَ هغهٔ دَ خدمت کار په ټوله دنيا کښې خور شو. دا صرف په فلسطين کښې پاتې نهٔ شو.
آسمان ته تلل دَ هغهٔ دَ راژوندی شوی بدن يو زبردست ثبوت اؤ وضاحت دے.

## ٦- آسمان ته دَ تلو مقصد

عیسیٰ مسیح پلار له جلال ورکولو دَ پاره آسمان ته لاړو. یوحنا ۱۷: ۱ "پلاره! وخت راغے، خپل زوئ له جلال ورکړه دَ دې دَ پاره چې ستا زوئ تا له جلال درکړی".
عیسیٰ مسیح ځکه آسمان ته لاړو چې هغه زمونږ مالک اؤ خلاصوؤنکی وی. اعمال ۵: ۳۱ "خدائ په خپل ښی لاس کښینولے دے اؤ سردار اؤ خلاصوؤنکے یې ګرځولے دے دَ دې دَ پاره...... چې دَ ګناهونو معافی ورله ورکړی".
عیسیٰ مسیح زمونږ نه مخکښې آسمان ته لاړو. نو داسې یې زمونږ دَ پاره لار کولاؤ کړه. عبرانیان ۲: ۲۰ "چرته چې عیسیٰ دَ تل دَ پاره دَ ملک صدق دَ طریقې په مطابق دَ مشر کاهن جوړیدو سره زمونږ نه مخکښې اؤ زمونږ دَ خاطره لاړو".
عیسیٰ مسیح دې دَ پاره آسمان ته لاړو چې مونږ له هلته ځائ تیار کړی. یوحنا ۱۴: ۲. زمونږ مشر کاهن (امام) جوړ شو، عبرانیان ۹: ۲۱- ۲۴ اؤ خپل مقام یې حاصل کړو. عبرانیان ۱۰: ۱۲، ۱۳.

## ۷- آسمان ته دَ تلو نتیجې

هغهٔ خلقو له تحفې ورکړلې. افسیان ۴: ۸ "هر کله چې هغه دَ آسمان نه پورته وختلو نو قیدیان یې دَ ځان سره بوتلل اؤ خلقو له یې تحفې ورکړې". کومې تحفې؟ یوولسم آیت وائی چې رسولان اؤ نبیان یې جوړ کړل.
هغه آسمان ته لاړو نو ځکه روح القدس راغے. یوحنا ۱۲: ۷ اؤ اعمال ۲: ۳۳. کښیناستو سره هغهٔ ووئیل چې ګناهونه ووینځلے شول. کښیناستل دَ کار پوره کول ظاهروی.
عبرانیان ۱: ۳ "هغهٔ ګناهونه پاک کړل اؤ په آسمان کښې دَ قادر مطلق خدائ په ښی لاس کښیناستو".
دَ هغهٔ آسمان ته دَ تلو په وجه اوس مونږ په دعا کښې زړهٔ ورتیا سره مالک خدائ له راتلے شو. عبرانیان ۴: ۱۴- ۱۲.
دَ خپل آسمان ته دَ تلو په وجه هغه پوره پوره خلاصون ورکولے شی. عبرانیان ۷: ۲۵. هغه ګناه ګار دَ ګناه دَ کندې نه ویستلې شی اؤ په آسمان کښې دَ ټولو نه اوچت ځائ ته یې خپل ځان خواته بوتلے شی.

دَ هغهٔ آسمان ته دَ تلو په وجه مونږ "ربښتینی زړونو اؤ مضبوط ایمان سره ضمیر دَ ګناه دَ احساس نه پاک کړو اؤ خپل بدونونه په صفا اوبو سره ووینځو" اؤ خدائ پاک له لاړ شو. عبرانیان ۱۰: ۲۲.
هغه دَ آسمان په دروازو کښې ولاړ دے اؤ مونږ له حوصله راکوی دَ عیسیٰ مسیح لارې ته ګورو. عبرانیان ۱۲: ۲ هغه دَ لارې په آخر کښې خپل منزل کښې ولاړ دے.
دَ مرتبې لحاظ سره مونږ نن هم هغهٔ سره په آسمانی ځایونو کښې ناست یو. افسیان ۲: ۶ "اؤ خدائ مونږ دَ عیسیٰ مسیح سره راژوندی کړو اؤ په آسمان کښې یې دَ هغهٔ سره کښېنولو".

هغه آسمان ته تلے دے چې ټول څیزونه معمور کړی. افسیان ۴: ۱۰ "اؤ دا راکوز شوے هغه دے څوک چې دَ ټولو آسمانونو نه هم پورته ختلے دے، دَ دې دَ پاره چې ټول کائنات معمور کړی".

دَ هغهٔ آسمان ته دَ تلو نه پس فرښتې اؤ اختیارات اؤ قُدرتونه دَ هغهٔ تابع دی.
اول پطروس ۳: ۲۲ "چې عیسیٰ آسمان ته ختلے دے اؤ دَ خدائ ښی لاس ته ناست دے، اؤ فرښتې اؤ اختیارات اؤ قُدرتونه دَ هغهٔ تابع کړے شوی دی". دَ هغهٔ آسمان ته ختل یو تاج په سر کول دی.
آسمان ته ختل دَ دینداریٔ په شپږو رازونو کښې یو راز دے. اول تیموتیوس ۳: ۱۶.

## خُلاصه

عیسیٰ مسیح جلال حاصل کړو نو په دې وجه هغه ورځ راروانه ده چې هر یو کس به هغهٔ ته په سجده شی اؤ دَ خدائ پلار دَ جلال دَ پاره به هره ژبه دا اقرار کوی چې عیسیٰ مالک دے.
فیلیپیان ۲: ۹- ۱۱ "په دغه وجه خو خدائ هم هغه ډیر سر بلند کړو اؤ هغهٔ ته یې هغه نوم وبخښلو چې دَ ټولو نومونو نه اعلیٰ دے....." مونږ له مالک خدائ له جلال ورکولو دَ پاره دَ هغه ورځې انتظار کول نهٔ دی پکار.

راځئ چې مونږ دَ هغه مسیح عبادت وکړو اؤ دَ هغهٔ خدمت وکړو چا چې دَ زمکې دَ کشش اُصول مات کړل اؤ په جسمانی طور آسمان ته لاړو. راځئ چې مونږ هغهٔ ته دَ استقبال وئیلو دَ پاره تیاری وکړو ځکه چې هغه ډیر زر په لیدونکې اؤ جسمانی طور دوباره راتلونکے دے.

## دَ بيا كتلو دَ پاره سوالونه

۱۸۱- دَ عيسیٰ مسيح دَ ژوند څلور لويې معجزې کومې کومې دی؟

۱۸۲- دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته دَ ختلو واقعه چرته ليکلے شوې ده؟

۱۸۳- دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته ختلو په حقله څۀ پيشن ګوئی شوې وه؟

۱۸۴- دوه وجې بيان کړئ چې عيسیٰ مسيح دَ بيا راژوندی کيدو نه پس سمدستی ولې آسمان ته لا نۀ رو؟

۱۸۵- آسمان ته دَ ختلو واقعه بيان کړئ.

۱۸۶- پنځۀ وجې بيان کړئ چې دَ عيسیٰ مسيح آسمان ته تلل ضروری وو.

۱۸۷- آسمان ته دَ ختلو څلور مقصدونه بيان کړئ.

۱۸۸- آسمان ته دَ ختلو اوؤۀ نتيجې بيان کړئ.

۱۸۹- اول پطروس ۳: ۲۲ کښې آسمان ته دَ ختلو په حقله څۀ معلومات ورکړے شوی دی؟

۱۹۰- دَ افسيانو ۴: ۱۰ دَ متی ۱۸: ۲۰ سره موازنه کولو نه تاسو کوم يو سبق زده کوئ؟

# شلم سبق

# دَ عیسیٰ مسیح دَ شفا خدمت

## پیژندګلو

* نن سبا عیسیٰ مسیح څهٔ کوی؟ آیا هغه هر وخت دَ خلاصون موندونکو خلقو دَ پاره ځائ تیارولو کښې لګیا دے؟ دَ دې نه علاوه دَ هغهٔ یو بل اهم کار دے.

* یوحنا ۱۴: ۲ "زما دَ پلار په کور کښې دَ اوسیدو ډیر ځایونه دی. کهٔ چرې داسې نهٔ وے نو بیا به ما تاسو ته وئیلی وو. ځکه زهٔ ځم چې ستاسو دَ پاره هلته ځائ تیار کړم".

* دَ دې خدمت نه علاوه عیسیٰ مسیح دَ بخښنې خدمت کولو کښې لګیا دے.

* عبرانیان ۷: ۲۵ "هغه دَ هغوئ دَ شفاعت دَ پاره همیشه ژوندے دے".

* عبرانیان ۹: ۲۴ "ځکه چې مسیح هغه په لاس جوړ شوی پاک مقام کښې نهٔ وو داخل شوے چې دَ حقیقی مقام نمونونه ده، بلکه په آسمان کښې داخل شو چې اوس دَ خدائ په مخکښې زمونږ دَ خاطره حاضر وی".

* کاهن ( امام ) مینځګړے وی، چې دَ انصاف کوؤنکی خدائ په حضور کښې دَ قصوروارو اؤ ګناه ګارو انسانانو شفاعت کوی.

* احبار ۴: ۱٦- ۱۸. کاهن ( امام ) دَ جُرم دَ قربانئ یا دَ قربانئ وینه اخلی اؤ دَ مالک خدائ حضورئ ته ورځی.

* حضرت ایوب دَ یو مینځګړی خواهش کوی. ایوب ۹: ۳۳ "زمونږ په مینځ کښې یو مینځګړے هم نشته چې په مونږ دواړو خپل لاس کیږدی".

* مونږ اکثر دَ بیت الحم اؤ سولئ دَ پاره دَ خدائ پاک شکر کوؤ. مونږ له دې خبرې دَ پاره هم شکر کول پکار دی چې هغه زمونږ شفاعت کولو دَ پاره دَ خدائ ښی لاس ته حاضر دے.
* زمونږ لوئ کاهن هره ورځ دَ خدائ پلار په مخکښې زمونږ شفاعت کوی.

## ۱- په دې دنیا کښې دَ مسیح دَ کفارې کار پوره شو

په سولئ عیسیٰ مسیح ووئیل "پوره شو" یوحنا ۱۹: ۳۰. اوس خلاصون بالکل مکمل دے. په سولئ باندې دَ ګناه پوره پوره حساب ورکړے شو. اوس به عیسیٰ مسیح دَ ګناه دَ پاره بیا کله هم نۀ مړ کیږی.

عبرانیان ۹: ۲۴- ۲۸ رومن کیتهولک دَ جماعت دَ دې غلطئ وضاحت کوی چې هغوئ هره ورځ قربانئ (mass) پیش کوی. په حقیقت کښې هغوئ دَ سولئ واقعه هره ورځ رایادوی. خو مونږ په دې غلطه پوهه حاصلوؤ ځکه چې داسې دَ پاکو صحیفو خلاف ورزی اؤ بې عزتی کیږی.

## ۲- عیسیٰ مسیح دَ کاهن ( امام ) جوړیدو ټول شرطونه پوره کوی

هغه په خلقو کښې منتحب کړے شو. عبرانیان ۵: ۱ "هر مشر کاهن دَ خلقو چوڼ کړے شی اؤ دَ خلقو دَ پاره دَ هغه خبرو دَ پاره مقررولے شی کومې چې دَ خدائ سره تعلق لری چې دَ ګناهونو دَ پاره نذرانې اؤ قربانئ پیش کړی".

هغه دَ دې خدمت دَ پاره مقرر اؤ غوره کړے شو. عبرانیان ۳: ۲ "خدائ هغه مقرر کړو اؤ هغه دَ خدائ وفادار پاتې شو".

خدائ پاک هغه دَ دې خدمت دَ پاره را بللے وو. عبرانیان ۵: ۴، ۵.

هغۀ په هغه خبرو کښې خدمت وکړو کومو چې خدائ پاک سره تعلق ساتلو. عبرانیان ۲: ۱۷ "هغه دَ خدائ په خدمت کولو کښې داسې لوئ کاهن شی چې زړۀ سواندے اؤ وفادار وی، اؤ دَ خلقو دَ ګناهونو کفاره ورکړی".

لوئ کاهن دَ ګناه دَ کفارې ورکولو دَ پاره نذرانې اؤ قربانئ پیش کوی. عبرانیان ۵: ۱. عیسیٰ مسیح خپل ځان قربان کړو.

## ۳- عیسیٰ مسیح دَ هارون په شان کاهن وو

عیسیٰ مسیح په زمکه باندې کله هم دَ عیبو خبرو کولو خدمت نۀ وو کړے.
هغه کله هم پاک ترین مقام ته نۀ دے داخل شوے.
هارون اؤ عیسیٰ مسیح دواړو به دَ قوم په وړاندې قربانۍ پیش کولې. عیسیٰ مسیح په سولۍ باندې خپل ځان دَ خلقو په وړاندې قربان کړو.
دواړه به دَ قوم دَ خاطره دَ خدائ په وړاندې حاضریدل.
دواړه به بهر راتلل اؤ خلقو له به یې برکت ورکولو. خو هارون انسان وو، نو هغه مړ شو. خو عیسیٰ مسیح الٰهی ذات دے. هغه زمونږ دَ شفاعت دَ پاره همیشه ژوندے دے.
په دې طریقه عیسیٰ مسیح دَ ملکِ صدق په شان کاهن وو، یعنې هغه به تر ابده پورې کاهن وی. عبرانیان **۵**: **۶**.

## ۴- عیسیٰ مسیح په سولۍ باندې خپل ځان دَ قربانۍ په طور پیش کړو

کله چې مونږ له گناه گار وو نو عیسیٰ مسیح زمونږ دَ خاطره مړ شو. هغۀ به بیت المقدس کښې دَ دروازې نه بهر هغه لعنتی صلیب باندې تکلیف تیر کړو.

### دَ هغۀ قربانی

(۱) په خپله مرضئ وه. هغۀ په خپله مرضئ قربانی پیش کړه، عبرانیان ۱۰: ۵- ۱۰. هغۀ مرگ قبول کړو.

(۲) دَ نورو دَ پاره وه. عبرانیان ۷: ۲۴- ۲۸، هغه زما په ځائ مړ شو.

(۳) بې عیبه وه. عبرانیان ۹: ۱۴. هغه بې عیبه، کامل اؤ بې گناه گډورے دے.

(۴) وینې سره وه. عبرانیان ۹: ۱۲. دَ هغهٔ خپله وینه، الٰهی وینه، اعمال ۲۰: ۲۸.

(۵) قبوله وه. عبرانیان ۱۳: ۲۰- ۲۱. دَ پلار دَ انصاف غوښتنه پوره شوه.

(٦) آخری وه. عبرانیان ۷: ۲۷. اوس په سولئ باندې دَ بیا مړ کیدو ضرورت نشته.

## ۵- اوس عیسیٰ مسیح زمونږ دَ پاره دَ خدائ په حضورئ کښې حاضریږی

أ- ځائ. په آسمان کښې. دَ عبرانیانو په ۹: ۱- ۸ کښې دَ کاهنئ ذمه وارئ بیان شوی دی. عبرانیان ۹: ۱۱- ۱۲ "خو مسیح دَ ښو څیزُونو دَ پاره دَ مشر کاهن په طور راغے چې اوس موجُود دے. په کُومه خیمه کښې چې هغه خدمت کوی، هغه ډیره لویه اَؤ کامله ده. اِنسان هغه خیمه نهٔ ده جوړه کړې اَؤ نهٔ هغه دَ دې دُنیا ده. اَؤ دَ چیلو اَؤ سخو په وینه ورلو سره نه، بلکه خپله وینه ئې واخسته اَؤ په هغه پاک ترین مقام کښې یو ځل داخل شو اَؤ په دے یې دَ تل خلاصُون وکړو." عبرانیان ۹: ۲۴ "عیسیٰ مسیح آسمان ته داخل شو". اعمال ۷: ۵۵.

ب- دَ چا دَ پاره؟ دَ خپلو دَ پاره. عبرانیان ۹: ۲۴ "..... چې اوس دَ خدائ په مخکښې زمونږ دَ خاطره حاضر وی". عبرانیان ۷: ۲۴- ۲۷ هم وګورئ. دَ دې دَ پاره څوک چې خدائ له راځی چې دَ هغوئ شفاعت وکړی.

ت- دَ شفاعت بنیاد دَ هغهٔ خپله وینه ده. عبرانیان ۹: ۱۲ ".....خپله وینه یې واخسته...." یوحنا ۱۷: ۱- ۲۶ (دَ عیسیٰ مسیح دَ لوئ کاهن دعا) کښې عیسیٰ مسیح دَ خپل پوره شوی کار ذکر کوی.

ث- شفاعت

- (۱) دَ ضرورت په وخت پاکانو له دَ فضل دَ پاره. دویم کورنتیان ۱۲: ۹.
- (۲) دَ کمزورو دَ مضبوطیا دَ پاره. یوحنا ۱۷: ۱۱.
- (۳) چې مونږ دَ آزمیښت اؤ گناه نه بچ شو. یوحنا ۱۷: ۱۵.
- (۴) چې کله مونږ دَ گناهونو اقرار وکړو نو چې بخښنه حاصله کړو. اول یوحنا ۱: ۹.
- (۵) چې مونږ ته دَ عیسیٰ مسیح دَ گواهئ ورکولو حوصله اؤ توفیق حاصل وی. اعمال ۱: ۸.
- (۶) چې مونږ دَ عیسیٰ مسیح په شان جوړ شو. رومیان ۸: ۲۹.

ج- دَ شفاعت مقصد

(۱) چې ژوندون قائم پاتې شی. عبرانیان ۹: ۲۴

(۲) چې پاکوالے ملاؤ شی. اول یوحنا ۲: ۱

(۳) چې فضل اؤ مدد حاصل وی. عبرانیان ۴: ۱۵، ۱۶

(۴) چې فتح حاصله شی. عبرانیان ۲: ۱۷، ۱۸

## ٦- اوس عیسیٰ مسیح زمونږ وکیل دے

شیطان دَ خدائ پاک دَ تخت په وړاندې په وروڼو الزام لگوی. ایوب ۱: ۶- ۱۲. دَ دې الزامونو ختمولو دَ پاره دَ آسمان په عدالت کښې زمونږ یو وکیل موجود دے.

زمونږ شفاعت کوؤنکے وکیل مالک عیسیٰ مسیح په خپله دے. اول یوحنا ۲: ۱- ۲ "زما بچو! دَ دغو خبرو لیکلو نه زما مطلب دا دے چې تاسو گناه مهٔ کوئ، خو

کۀ چرې څوک ګناه وکړی نو دَ پلار سره زمونږ یو شفاعت کوؤنکے دے، یعنې عیسیٰ مسیح چې صادق دے. هغه په خپله زمونږ دَ ګناهونو کفاره دے". دَ هغۀ قربانی زمونږ وکیل جوړیږی.

کله چې زمونږ نه ګناه کیږی نو هغه زمونږ شفاعت کوی. دَ شفاعت بنیاد دا دے چې ما په سولئ باندې دَ خلاصون کار پوره کړو. نو بیا پاکانو ته دَ خدائ بخښنه حاصلیږی. اول یوحنا ۱: ۹.

## ۷- هم نن عیسیٰ مسیح ستا شفاعت کوؤنکے جوړیدل غواړی

کۀ چرې مونږ دَ بخښنې دَ پاره سوال ونۀ کړو نو مونږ ته بخښنه نۀ ملاویږی.

أ- په سخت آزمیښت کښې مونږ له خوشحالیدل پکار دی چې په عدالت کښې زمونږ یو رښتینے همدرد موجود دے.

ب- دَ آسمان په عدالت کښې عیسیٰ مسیح زمونږ دَ مدد دَ پاره تیار ولاړ دے.

ت- هغه دې دَ پاره تیار دے چې دَ خدائ په وړاندې زمونږ ذاتی نمائنده جوړ شی.

ث- کله چې مونږ دعا غواړو نو خپله معامله هغۀ ته سپارو. هغه په الٰهی طریقې سره دا حل کوی.

ج- هغه کامل انسان دے نو په دې وجه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائیلے شو، خو بې ګناه پاتې شو. هغۀ په ګناه فتح ومونده. اوس هغه دَ فتحې دا قوت مونږ ته وړاندې کوی.

ح- مونږ ته دَ هغه الزامونو پته نشته کوم چې شیطان هر وخت دَ خدائ په وړاندې په مونږ لګوی. څۀ به په کښې صحیح هم وی، خو بې

شمیره الزامونه به بالکل غلط وی. مکاشفه ۱۲: ۱۰ "....په ورونړو الزام لګوؤنکے....راوغورزولے شو".

خ- زمونږ عزیزان چې زمونږ نه مخکښې تلی دی، پاکان یا بی بی مریم، په دوئ کښې یو هم زمونږ شفاعت کوؤنکے (وکیل) نۀ شی جوړیدے.

## خُلاصه

لوقا ۲۲: ۳۱، ۳۲ "شمعُونه اے شمعُونه ګوره، خبردار شه! شیطان تاسو ټول وغوښتلئ چې هغه تاسو لکه دَ غنمو دَ دانو وښنډی. خو ما ستا دَ پاره دا دُعا کړې ده چې ستا ایمان لاړ نۀ شی اَؤ هر کله چې تۀ راوګرزې نو تۀ خپل ورُوڼه مضبُوط کړه."

دا زمونږ دَ خاطره دَ عیسیٰ مسیح موجوده شفاعت کوؤنکے خدمت دے.

هغۀ ته دَ ټولو خبرو پته ده نو په دې وجه دَ آزمیښتنو راتلو نه مخکښې هغه دې دَ پاره دعا کولے شی.

هغۀ ته خواست وکړئ چې دَ روزانه ژوند دَ پاره دَ فضل، قوت اؤ طاقت دَ پاره ستاسو شفاعت وکړی.

هغۀ ته خواست وکړئ چې ستاسو شفاعت وکړی چې تاسو دَ هغۀ دَ صورت په شان جوړ شئ. رومیان ۸: ۲۹.

دَ عیسیٰ مسیح شفاعت کوؤنکے کار مونږ رابیداروی چې همیشه یو اثرناک مسیحی ژوندون تیر کړو. راژوندے شوے مسیح زما پالنه کوی.

مسیحی سپاهی ته معلومه وی چې عیسیٰ مسیح زما مشر هم دغه جنګ کښې شریک دے، خو هغه په اوچته سطح باندې دے. هغه په آسمان کښې جنګ کوی. افسیان ۶: ۱۲.

وړوکی نه وړوکے ایماندار هم دَ هغه نالیدونکی مرستیال اؤ مدد ګار په مینه باندې بهروسه کولے شی، دَ چا په رښتینې حفاظت اؤ پالنه باندې وخت یا واقعې هیڅ قسمه اثر نۀ شی کولے.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۱۹۱- دَ عیسیٰ مسیح موجوده خدمت څۀ دے؟

۱۹۲- آیا عیسیٰ مسیح لا تر اوسه پورې دَ خلاصون کار پوره کولو کښې لګیا دے؟ وضاحت وکړئ.

۱۹۳- دَ کاهن جوړیدو دَ پاره عیسیٰ مسیح کوم پنځۀ شرطونه پوره کړل؟

۱۹۴- عیسیٰ مسیح څۀ قسمه کاهن جوړ شو؟

۱۹۵- په سولئ باندې دَ عیسیٰ مسیح دَ قربانئ تفصیل بیان کړئ.

۱۹۶- عیسیٰ مسیح دَ لوئ کاهن خدمت چرته پوره کوی؟

۱۹۷- دَ لوئ کاهن دَ پنځو شفاعتونو ذکر وکړئ.

۱۹۸- دا ولې ضروری ده چې په آسمان کښې زمونږ یو لوئ کاهن وی؟

۱۹۹- دَ مکاشفې ۱۲: ۱۰ نه مونږ ته څۀ تسلی ملاویږی؟

۲۰۰- آیا دَ لوقا په ۲۲: ۳۱ کښې دَ عیسیٰ مسیح دعا یو غیر معمولی واقعه ده؟ ولې؟

# یویشتم سبق

# دَ مسیح دوباره راتلل

## پیژندګلو

* دَ دې حقیقت بیانولو دَ پاره دَ یونانئ درې لفظونه استعمال شوی دی (۱) پاروضیا (parousia) (ذاتی موجودګی)، (۲) اپوکلپس (apokalypsis) (مکاشفه\ کشف) اؤ (۳) اِپی فنیا (epiphaneia) (ښرګندیدل).
* دَ دې دریوؤ لفظونو نه دا ښرګندیږی چې یو وخت به داسې راشی کله چې به عیسیٰ مسیح په ذاتی طور اؤ په ښکاره باندې خپل ځان دې دنیا ته ښرګند کړی.
* ځنې خلق دا تعلیم ورکوی چې په دویم ځل راتلل به په هغه وخت کښې وی کله چې به دَ مرګ په وخت "عیسیٰ مسیح روح قبولولو دَ پاره راځی". خو دا ښکاره اؤ لیدونکی ظاهریدل به نۀ وی.
* اعمال ۱: ۱۰، ۱۱ کښې دَ آسمان ته ختلو (دَ دې مطالعه مونږ په تیر شوی سبق کښې کړې ده) په واقعه کښې وئیلے شوی دی چې آسمان ته ختل (۱) په ذاتی طور (۲) بدنی طور (۳) په ښکاره (۴) اؤ قدرت سره وو.
* کله چې زمونږ خلاصوؤنکے په اول ځل راغلو نو هغه حلیم اؤ غریب شو خو په دویم ځل راتلل به دَ جلال اؤ لویئ سره وی.

* دَ بيا راتلو په حقله درې نظريې ورکړے شوى دى:
وړومبئ نظريه: دَ عيسىٰ مسيح دوباره راتلل به دَ زر کاله بادشاهئ نه مخکښې نۀ وى بلکه وروستو به وى.

دويمه نظريه: دَ دې نظريې پيش کوؤنکى دَ زر کاله بادشاهت په دور باندې دا يقين نۀ لرى چې دا به حقيقى وى بلکه دا منى چې کله مسيح راشى نو ډير زر به ټول هر څۀ ختم شى.

دريمه نظريه: دَ دې په مطابق اول به مالک عيسىٰ مسيح راځى. اؤ بيا دَ دې نه پس به زر کاله بادشاهى شروع شى.

دويم مشکل دا دے چې دَ بيا راتلو دوه مرحلې دى.

(۱) په هوا کښې استقبال کوم چې به پټ وى (اول تسالونکيان ۴: ۱۵-۱۷). مالک عيسىٰ مسيح به دَ خپلو پاکانو دَ پاره راځى اؤ مونږ به په هوا کښې دَ هغۀ استقبال کوؤ.

(۲) څرګنديدل کوم چې به ټولو ته ښکاره وى (مکاشفه ۱: ۷) کله چې به مالک عيسىٰ مسيح دَ خپلو پاکانو سره راځى اؤ زر کاله بادشاهى به قائمه کړى. اول تسالونکيان ۳: ۱۳. دَ زر کاله بادشاهئ نه په مخکښې نظريه کښې يوه بله نۀ حل کيدونکې مسئله دا ده چې جماعت به دَ لوئ مصيبت نه تيريږى يا نه. په دې وجه دَ "مصيبت نه مخکښې " اؤ "دَ مصيبت په دوران کښې" په موضوع ګانو باندې خبرې جارى دى.

## ۱- دَ عيسیٰ مسيح دَ بيا راتلو په حقله پيشن ګوياني

دَ عيسیٰ مسيح دَ اول ځل راتلو په حقله پيشن ګوياني شوې وې کومې چې لفظ به لفظ پوره شوې. نو دَ دې نه مونږ ته دا يقين ملاويږی چې دَ هغهٔ دَ بيا راتلو په حقله پيشن ګوياني به هم لفظ به لفظ پوره کيږی. دا به په مثالی يا روحانی معنو کښې نهٔ پوره کيږی بلکه په حقيقی معنو کښې به پوره کيږی.

أ- نبيانو دَ دې پيشن ګوياني کړی دی. دانی ايل ۷: ۱۳ "ما دَ شپې په رويا کښې وليدل اؤ ځهٔ ګورم چې يو کس دَ ابن آدم په شکل دَ آسمان وريځو سره راغلو".

ب- عيسیٰ مسيح په خپله دَ دې پيشن ګويئ کړی دی. متی ۲۵: ۳۱ "هر کله چې ابن آدم په پوره شان سره راشی اؤ ټولې فرښتې ورسره وی، هغه به دَ خپلې لويئ په تخت کښينی".

ت- حضرت پولوس دَ دې پيشن ګوئی وکړه. اول تيموتيوس ٦: ۱۴ "زمونږ دَ مالک عيسیٰ مسيح دَ ښکاره کيدو تر ورځې پورې حکم بې داغه اؤ بې الزامه ساته".

ث- فرښتو دَ دې پيشن ګوئی وکړه. اعمال ۱: ۱۰- ۱۱ کله چې عيسیٰ مسيح دې دنيا نه آسمان ته لاړو. په دې کښې يوه پيشن ګوئی هم دَ هغهٔ په اول ځل راتلو سره پوره نهٔ شوه.

## ۲- دَ عيسیٰ مسيح دَ راتلو وخت

دا يو راز دے چې صرف خدائ پرې خبر دے. متی ۲۴: ۳۶ "خو هغه ورځ اؤ هغه ګړئ هيچا ته معلومه نهٔ ده، نهٔ خو دَ آسمان فرښتې پرې خبر دی اؤ نهٔ زوئ، خو يو پلار پرې خبر دے".

عيسیٰ مسيح دَ انسان په طور هغه ورځ اؤ وخت نۀ پيژنی. خو عيسیٰ مسيح دَ خدائ په طور چې دَ ټول عالَم علم لری هغۀ ته معلومه ده چې دا واقعه به کله پيښيږی.
زما دا ايمان دے چې دا يو داسې تاريخ دے چې مخکښې يا وروستو کيدے شی (دويم پطروس ۳: ۱۲). دَ دې خبرې بنياد په دې خبره دے چې دَ انجيل شريف زيرے ګومره په تيزئ يا ګومره په سُستئ سره هر يو قوم اؤ هرې قبيلې ته رسولے کيږی. متی ۲۴: ۱۴.

## ۳- دَ عيسیٰ مسيح دَ بيا راتلو مقصد

أ- دَ پاکانو خلاصون پوره کول. هغۀ مونږ دَ ګناه دَ طاقت اؤ قيد نه خلاص کړو، خو په هغه وخت کښې به هغه مونږ دَ ګناه دَ موجودګئ نه هم خلاص کړی. عبرانيان ۹: ۲۸.

ب- په خپلو پاکانو کښې جلال حاصلول. دويم تسالونکيان ۱: ۱۰ "دا به په هغه ورځ وی کله چې هغه راځی چې دَ هغۀ پاکان دَ هغۀ جلال ښکاره کوی، اؤ ټول په هغۀ ايمان راوړونکی به دَ هغۀ حمد و ثنا ووائی".

ت- دَ تيارې پټې خبرې ظاهرول. اول کورنتيان ۴: ۵ "...هغه به دَ تيارې پټې خبرې ظاهرې کړی اؤ دَ زړونو خيالونه به ظاهر کړی".

ث- عدالت کول. دويم تيموتيوس ۴: ۱ ".....چې دَ ژوندو اؤ مړو عدالت به کوی...."

ج- بادشاهی کول. مکاشفه ۱۱: ۱۵ ".....د دنيا بادشاهی زمونږ دَ رب اؤ دَ هغۀ دَ مسيح ده...."

ح- زمونږ بوتلل چې دَ هغهٔ سره يو. يوحنا ۱۴: ۳ "...... نو بيا به راشم اؤ تاسو به دَ ځان سره بوځم، ځکه چې چرته زهٔ يم هلته به تاسو هم يئ."

خ- مرګ ختمول. اول کورنتيان ۱۵: ۲۵- ۲۶ "ترڅو چې مسيح ټول دښمنان تر پښو لاندې نهٔ کړی هغهٔ له بادشاهی کول ضروری ده. اؤ دَ ټولو نه وروستو دښمن چې به نشت کړی، هغه مرګ دے".

## ۴- مسيح به څنګه راځی؟

أ- په هوا کښې دَ استقبال په وخت پټ. اول تسالونکيان ۵: ۲ "ځکه چې تاسو په خپله په دې ښهٔ پوهيږئ چې دَ مالک دَ راتلو ورځ دغه شان راتلونکې ده لکه چې دَ شپې غل راځی".

- متی ۲۴: ۴۴ "تاسو هم تيار اوسئ چې ابن آدم به په داسې وخت راځی چې ستاسو په وهم و ګمان کښې به هم نهٔ وی".

- متی ۲۴: ۵۰ "نو مالک به يې په داسې ورځ راشی چې نوکر به په انتظار کښې نهٔ وی. په داسې وخت به راځی چې هغه به خبر نهٔ وی". هم نن دَ هغهٔ سره ملاويدو دَ پاره تيار شئ.

ب- دَ څرګنديدو په وخت ښکاره. مکاشفه ۱: ۷ "ګورئ! هغه په وريځو کښې راځی! هر څوک به يې په خپلو سترګو ويينی اؤ هغوئ به يې هم، چا چې سُورے کړے وو".

## ۵- مسیح به چرته راځی؟

أ- په هوا کښې دَ استقبال په وخت مونږ به په هوا کښې هغۀ سره ملاویږو. اول تسالونکیان ۴: ۱۷.

ب- دَ ځرګندیدو په وخت به مونږ هغۀ سره زمکې ته راکوز شو. غالباً هغه به دَ ښونانو په غرۀ باندې راکوزیږی. زکریاه ۱۴: ۴.

## ٦- دَ هغۀ دَ راتلو انداز

أ- په وریځو کښې. متی ۲۴: ۳۰ "هغوئ به ابن آدم وینی چې دَ آسمان په وریځو کښې به دَ طاقت اؤ دَ ډیرې لویئ سره راځی".

ب- دَ خپل پلار په جلال کښې. متی ۱٦: ۲۷ "ابن آدم به دَ خپل پلار په لویئ کښې دَ خپلو فرښتو په ملګرتیا کښې راځی".

ت- په خپل جلال کښې. متی ۲۵: ۳۱ "کله چې به ابن آدم په خپله لویئ کښې راځی...."

ث- په شغله ناک اور کښې. دویم تسالونکیان ۱: ۷، ۸ ".... په شغله ناک اور کښې دَ آسمان نه ظاهر شی. هغه وخت به هغوئ چې خدائ نۀ پیژنی اؤ زمونږ دَ مالک عیسیٰ مسیح زیرے نۀ منی، هغوئ ته به سزا ورکوی".

ج- دَ لوئ قدرت اؤ جلال سره. متی ۲۴: ۳۰ "..... دَ لوئ قدرت اؤ جلال سره...."

ح- په جسمانی صورت کښې، لکه څنګه چې آسمان ته بوتلے شوے وو. اعمال ۱: ۹- ۱۱.

خ- دَ چغې اؤ دَ مُقربې فرښتې سره. اول تسالونکیان ۴: ۱۶ "ځکه چې مالک به په خپله دَ آسمان نه دَ چغې، اؤ دَ مُقربې فرښتې دَ آواز، اؤ دَ خدائ دَ بګل دَ آواز سره راکوزیږی".

د- دَ خپلو پاکانو سره. اول تسالونکیان ۳: ۱۳ "..... مالک عیسیٰ مسیح به دَ خپلو ټولو پاکانو سره راځی....."

ذ- دَ فرښتو سره. متی ۱۶: ۲۷ (بره ب حواله وګورئ).

ر- ناڅاپی. مرقوس ۱۳: ۳۶ "کۀ چرې هغه ناڅاپه راشی نو چې مو اودۀ لاندې نۀ کړی".

## ۷- دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راتلو نخښې

دویم تیموتیوس ۳: ۱- ۷ کښې دَ هغۀ دَ بیا راتلو درې دیرش نخښې ورکړے شوی دی. اؤ په دې کښې ډیرې نخښې نن سبا ښرګندیږی:

- (۱) بد وختونه (۲) خود غرضی (۳) دَ زرو دوست (۴) لافې کوؤنکی (۵) مغرورتیا (۶) کفر، بد زبانی (۷) دَ مور پلار نافرمانی (۸) ناشکری (۹) بې دینی (۱۰) بې مروته (۱۱) سخت زړۀ، دَ صلح شرطونه ماتول (۱۲) الزام لګوؤنکی (۱۳) نۀ غموونکے (۱۴) تُند مزاجه (۱۵) دَ نیکئ سره دښمنی (۱۶) دوکه بازی (۱۷) بې پرواه (۱۸) کبرژن (۱۹) دَ خدائ په نسبت عیش زیات خوښول (۲۰) دَ ګناه نه ډکې خرابې ښځې (۲۱) قسما قسم خواهشونه (۲۲) دَ زده کولو کوشش خو دَ حق پیژندو ته نۀ رسی.

- متی ۲۴: ۵- ۷ اؤ ۱۲- ۳۸ کښې لس نخښې ورکړے شوی دی:

- (۱) دروغژن مسیح (۲) جنګونه اؤ دَ جنګونو چغې سُورې (۳) قحطونه (۴) وباګانې (۵) زلزلې (۶) بې دینی زیاتیدل (۷) مینه کمیدل (۸) خوړل (۹) څښکل (۱۰) وادونه کول.

دَ دې نه علاوه نورې نخښې دا دی:

- (۱) دَ بیت المقدس تباهی لوقا ۲۱: ۲۰، ۲۴.
- (۲) دَ جماعت پوره کیدل (رومیان ۱۱: ۲۵).
- (۳) په ټوله دنیا کښې دَ زیری وعظ کیدل. متی ۲۴: ۱۴.
- (۴) دَ نافرمانئ دَ نمائنده راتلل. دویم تسالونکیان ۲: ۳- ۸.

## خُلاصه

دَ پطروس په نوم دویم خط ۳: ۳ آیت کښې دَ ذکر کړے شوؤ خندا کوؤنکو په شان مۀ جوړیږئ ځکه چې هغه به خامخا راځی.
آیا دا مناسبه ده چې مونږ ټول هر څۀ خرڅ کړو اؤ دَ غر په سر کښینو اؤ دَ هغۀ انتظار وکړو؟ بالکل نه.
مونږ له داسې منصوبه جوړول اؤ کار کول پکار دی لکه چې هغه تر راتلونکو سلو کالو پورې نۀ راځی. خو داسې پاک اؤ رښتینے ژوند تیرول پکار دی لکه چې هغه نن راروان دے. اول تسالونکیان ۳: ۱۲- ۱۳.
دَ دې تعلیم اؤ عقیدې زمونږ په ژوند کښې یو زور اثر پکار دے، دَ دې دَ پاره چې مونږ مصروفه اؤ خبردار اوسو اؤ دَ هغۀ لارې ته ګورو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۰۱- دَ عیسیٰ مسیح دَ دوباره راتلو په حقله دَ یونانئ ژبې درې لفظونه استعمالیږی، هغه لفظونه اؤ دَ هغې مطلبونه بیان کړئ.

۲۰۲- اعمال ۱: ۱۰، ۱۱ کښې کوم درې لفظونه دَ هغۀ دَ دوباره راتلو ذکر کوی؟

۲۰۳- دَ حوالو سره دَ هغه څلورو کسانو نومونه واخلئ چا چې دَ مسیح دَ بیا راتلو په حقله پیشن ګویانې کړی دی.

۲۰۴- عیسیٰ مسیح به بیا کله راځی؟

۲۰۵- دَ عیسیٰ مسیح دَ بیا راتلو اوؤۀ مقصدونه بیان کړئ.

۲۰٦- اول تسالونکیان ۵: ۲ اؤ دَ متی ۲۴: ۴۴ نه تاسو دَ هغۀ دَ بیا راتلو په حقله څۀ زده کوئ؟

۲۰۷- عیسیٰ مسیح به چرته راځی؟ وضاحت وکړئ.

۲۰۸- دَ هغۀ دَ راتلو دَ انداز په حقله دَ دولسو خبرو ذکر وکړئ.

۲۰۹- دَ هغۀ دَ راتلو لس نخښې بیان کړئ. پنځۀ دَ تیموتیوس په نوم دَ دویم خط ۳: ۱- ۷ نه، اؤ پنځۀ دَ متی دَ څلیریشتم باب نه.

۲۱۰- دا عقیده په عملی طور څنګه استعمالیدے شی؟

## دوه ويشتم سبق

# دَ مسيح دَ بيا راتلو نتيجې

### پيژندګلو

* دا وئيلے کيږی چې دَ نوې لوظنامې په دوه سوه شپيتو بابونو کښې دَ عيسیٰ مسيح دَ بيا راتلو ذکر درې سوه اتلس ځله شوے دے. دَ دې مطلب دا دے چې دَ نوې لوظنامې په هر پنځۀ ويشتم آيت کښې دا مضمون موجود دے.
* دَ تسالونکيانو په نوم دَ اولنی خط په ۴: ۱۸ کښې هدايات شوی دی چې دَ مالک عيسیٰ مسيح دَ بيا راتلو ذکر سره مونږ له يو بل له تسلی ورکول پکار دی. ( په اشتراکی ملکونو کښې دا خبره څنګه رښتيا ده).
* دَ څلور زره کالو راسې دَ دنيا اُميد دَ مسيح وعده کړے شوی طرف ته وو. دَ نوې لوظنامې اُميد دَ عيسیٰ مسيح بيا راتلل دی.
* دَ بائبل مقدس آخری دعا هم دا ده. مکاشفه ۲۲: ۲۰ "اے مالک عيسیٰ مسيح راشه!"
* دې تعليم اؤ عقيدې سره دَ شيطان غُصه زياتيږی ځکه چې هغه دَ دې آخری جلالی واقعې نه سخت نفرت کوی.
* دنياوی جماعتونه اؤ نفسانی عيسايان هم دې پاک تعليم نه نفرت کوی.
* دَ هغۀ بيا راتلل يو داسې حقيقت دے چې مونږ له خبردارے راکوی اؤ دَ وفادار اوسيدو اؤ حکمت اؤ هوښيارتيا سره دَ ژوند تيرولو دَ پاره مونږ ته وائی، دَ دې دَ پاره چې مونږ په پرهيزګارئ اؤ دعا غوښتلو باندې توجو ورکړو اؤ په مسيح کښې قائم پاتې شو.

* دا ممکنه ده چې دَ دې عقیدې په حقله دَ ایماندارانو په سوچونو کښې اختلاف وی، خو دا ضروری ده چې ټول تیار وی اؤ دَ هغۀ لارې ته ګوری.

* څوک چې په وفادارئ سره دَ هغۀ لارې ته ګوری نو هغوئ دَ پاره دَ خاص برکت وعده شوې ده.

لوقا ۱۲: ۳۷ "هغه خادمان بختور دی چه مالِک یې دَ راتلو په وخت بیدار څوکیدار ووینی!"

## ۱- دَ خدائ په حقله نتیجې

یشعیاه ۴۰: ۵ "اؤ دَ رب لوئی به ښکاره شی اؤ ټول انسانان به هغه وینی ځکه چې مالک خدائ په خپله فرمائیلی دی".
کله چې مسیح راځی نو دَ رب لوئی به ښکاره کړے شی اؤ هر یو کس به هغه وینی.

## ۲- دَ جماعت په حقله نتیجې

ح- دَ عیسیٰ مسیح په راتلو باندې څوک چې په مسیح کښې مړۀ شوی دی نو هغوئ به بیا راژوندی کړے شی. اول تسالونکیان ۴: ۱۳- ۱۸ "اول خو به په مسیح کښې مړۀ شوی راژوندی شی".

خ- دَ عیسیٰ مسیح په راتلو به دَ ایماندارانو بدن دَ مسیح دَ بدن په شان شی. فیلیپیان ۳: ۲۰- ۲۱ "هغه... به زمونږ دَ بدن فانی شکل بدل کړی اؤ دَ خپل جلال دَ صورت په شان به یې جوړ کړی". نور وګورئ اول یوحنا ۳: ۲.

د- اول کورنتیان ۱۵: ۵۱- ۵۳ "....مونږ ټول به....بدل شو.....ځکه چې ضروری دی چې دا مړ کیدونکے جسم دې غیر فانی جامې واغوندی اؤ دا مړ کیدونکے جسم دې دَ آبدی ژوندون جامې واچوی".

ذ- دَ هغۀ په راتلو به ژوندی ایمانداران اؤ بیا راژوندی شوی ایمانداران یو ځائ هغۀ سره ملاویږی. اول تسالونکیان ۴: ۱۷ "اؤ... دَ تل دَ پاره مالک خدائ پاک سره وی".

ر- دَ دې نه سمدستی وروستو به دَ ایماندارانو عدالت وی. دویم تیموتیوس ۴: ۸؛ اول پطروس ۵: ۴.

ز- دَ څرګندیدو په وخت به جماعت ژوندے شی اؤ دَ مسیح سره به بادشاهی کوی. مکاشفه ۲۰: ۴ "..... هغوئ بیا راژوندی کړے شول اؤ دَ مسیح سره یې تر زر کاله بادشاهی کوله".

## ۳- دَ اسرائیل په حقله نتیجې

دَ مسیح دَ راتلو نه مخکښې به بنی اسرائیل بیا راجمع کیږی. یشعیاه ۱۱: ۱۱- ۱۲. دَ دې نه علاوه دَ خزقی ایل ۳۲: ۲۴؛ ۳۷: ۲۱ اؤ دَ صفنیا ۳: ۱۹، ۲۰ پیشن ګویئ دَ مخکښې نه پوره شوی دی. تقریباً په هوا کښې دَ استقبال نه پس به بنی اسرائیلیان په لوئ شمیر کښې یو ځل بیا راجمع کیږی. اؤ دَ راتلو په موقعه به دَ بنی اسرائیل ټول قوم یعنې دولس قبیلې بیا راجمع کیږی. دَ حزقی ایل دَ ۳۷: ۱۹- ۲۴ اؤ دَ یرمیاه دَ ۲۳: ۵، ۶ پیشن ګویو په مطابق عیسیٰ مسیح به دَ ابن داؤد په طور بادشاه وی. په دې کښې هیڅ شک نشته چې هغه وخت به دَ اسرائیلو عدالت کیږی، اؤ دوئ به پاک کړے شی. رومیان ۱۱: ۲۶ "اؤ هر کله چې دا تر سره شی نو ټول اسرائیل به دَ صحیفو دَ دې وعدې په مطابق خلاصون بیا مومی چې: خلاصوؤنکے به دَ صیحون نه راپورته شی. هغه به دَ یعقوب دَ نسل نه بې دینی لرې کړی. اؤ دا هغه وعده ده چې زۀ به دَ هغوئ سره کوم. کله چې دَ هغوئ ګناهونه لرې کړم". دَ حزقی ایل ۳۷: ۲۳ اؤ ۳۶: ۲۵- ۲۹ هم وګورئ.

هغه وخت به اسرائیل اؤ فلسطین ډیر زیات خوشحاله وی. یرمیاه ۳۱: ۳۱- ۳۴.

حزقی ایل ۳۶: ۳۷، ۳۸ "..... د هغوئ خلق به لکه دَ ګډو اؤ بیزو په شان په وده کړم. څنګه چې پاکه رمه وه".

حزقی ایل ۳۶: ۳۳، ۳۷ " ...... دا زمکه چې خرابه پرته وه دَ باغِ عدن په شان به شی ...."

هغه وخت به اسرائیلیان دَ خدائ پاک پیغام ټولو قومونو ته رسوی. یشعیاه ۶۶: ۱۹ ".....هغوئ به په قومونو کښې زما لوئی بیانوی".

ډیرې وعدې دی چې دَ هغې په حقله اسرائیلیان دا توقعو لری چې په اول ځل راتلو سره به پوره شی. خو په حقیقت کښې دا به دَ مسیح بیا راتلو سره پوره کیږی.

## ۴- دَ قومونو اؤ دَ نوی پيدايښت نۀ حاصلوؤنکو خلقو په حقله نتيجې

دَ عيسیٰ مسيح دَ بيا راتلو ورځ خو به دَ جماعت اؤ اسرائيل دَ پاره دَ خوشحالئ ورځ، خو دَ نورو دَ پاره به دَ غم اؤ افسوس ورځ وی. متی ۲۴: ۳۰ "بيا به په آسمان کښې دَ ابن آدم دَ راتلو نخښه ښکاره شی، دَ دنيا ټول قومونه به ماتم کوی". چا ته چې خلاصون نۀ وی ملاؤ شوې نو دا به دَ هغوئ دَ پاره دَ غم اؤ تکليف ورځ وی.

مکاشفه ۱: ۷ ".....اؤ په زمکه ټولې قبيلې به دَ هغۀ په وجه ماتم کوی". دَ مسيح دَ څرګنديدو نه پس به دَ قومونو عدالت کيږی. متی ۲۵: ۳۱- ۳۲ "کله چې ابن آدم په خپله لويئ کښې راشی.....بيا به هغه دَ خپلې لويئ په تخت کښينی. اؤ ټول قومونه به دَ هغۀ په وړاندې راجمع شی". ګډې اؤ بيزې به جدا جدا کړے شی.

داسې معلوميږی چې کوم قومونه په ګډو کښې شامل وی نو هغوئ به رب پسې روان وی. يشعياه ۲: ۲، ۳.

کوم قومونه چې په بيزو کښې شامل وی نو هغوئ نه بدل اخستلو دَ پاره به هغوئ په شغله ناک اور کښې واچولے شی. دويم تسالونکيان ۱: ۷- ۹.

کوم خلق چې به په زمکه پاتې وی، هغوئ به دَ مسيح خدمت کولو دَ پاره مجبوره کړے شی ځکه چې هغه به دَ اوسپنې همساء سره حکمومت کوی. زبور ۲: ۹؛ زکريا ۹: ۱۰؛ مکاشفه ۱۱: ۱۵. دا قومونه به جنګونه پريږدی اؤ په امن اؤ سلامتئ سره به اوسيږی. ميکاه ۴: ۳، ۴؛ يشعياه ۲: ۴.

## ۵- په مجموعی طور دَ معاشرې په حقله نتيجې

زمکه به دَ مالک خدائ دَ خپلې پيژندګلو نه داسې معموره وی لکه څنګه چې سمندر دَ اوبو نه دے.

يشعياه ۱۱: ۹ "هغوئ به زما په پاک غر باندې څۀ نقصان نۀ ورکوی نۀ به قتلونه کوی ځکه لکه څنګه چې سمندر دَ اوبو نه ډک دے نو دغه شان به زمکه دَ خدائ پاک دَ پيژندګلو نه معموره وی.

## ٦- دَ عیسیٰ مسیح دَ مخالف اؤ دَ ابلیس په حقله نتیجې

په هوا کښې دَ استقبال نه پس به دَ نافرمانۍ نمائنده ښکاره شی. اؤ کله چې زمونږ مالک عیسیٰ مسیح دَ خپلو پاکانو سره راشی نو دَ هغهٔ ویرووںکے حکومت به ختم شی.

دویم تسالونکیان ۲: ۸ "هغه وخت به هغه دَ نافرمانۍ نمائنده ظاهریږی اؤ مالک عیسیٰ به هغه دَ خپلې خُلې په پوکی مړ کړی اؤ دَ خپل ظاهریدو په جلال به یې نشت کړی".

دَ مکاشفې په ۱۹: ۲۰ کښې دَ هغهٔ دَ آخری انجام بیان ورکړے شوے دے چې هغه به دَ اور په تالاب کښې وغورزولے شی.

دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ څرګندیدو په شروع کښې به ابلیس په زنځیرونو وتړلے شی اؤ دَ زرو کالو دَ پاره به دَ جهنم آخری کندې ته وغورزولے شی.

مکاشفه ۲۰: ۱- ۳ "..... اژدها چې زوړ ښامار دے، هغه یې ونیوۀ، یعنې ابلیس اؤ شیطان، اؤ تر زرو کالو پورې یې وتړلو. فرښتې هغه آخری کندې دَ جهنم ته وغورزولو اؤ بند یې کړو، دَ دې دَ پاره چې هغه بیا تر هغې قومونه ونۀ غلوی تر څو چې زر کاله پوره شوی نۀ وی".

## ٧- دَ جسمانی دنیا په حقله نتیجې

مخلوقات به دَ فناه کیدو نه آزدا کړے شی. رومیان ۸: ۱۹- ۲۱ "دا پیدا کړے شوې مخلوق ډیر په بې صبرۍ سره دَ خدائ دَ بچو دَ ظهور منتظر دی.....مخلوقات به یوه ورځ دَ فناه کیدو نه آزاد شی اؤ دَ خدائ دَ بچو دَ جلال په آزادۍ کښې به شامل شی".

لعنت یا دَ لعنت څۀ حصه به ختمه کړے شی. یشعیاه ۵۵: ۱۳ "دَ ازغو په ځائ به صنوبر را زرغونیږی اؤ دَ جاړو په ځائ به دَ آس ونه وی".

دَ ځناورو دَ پاره به هم امن اؤ سلامتی وی. یشعیاه ٦۵: ۲۵ "شرمخ اؤ بیزې به یو ځائ څریږی اؤ ازمرے به دَ غوئی په شان بوس خوری.... هغوئ به زما په پاک غر باندې څۀ ته نقصان نۀ رسوی، نۀ به قتل کوی، مالک خدائ فرمائی".

شاړه زمکه به زرخيزه شی. يشعياه **۳۲: ۱۵** "په دې وخت کښې په مونږ باندې دَ پاس آسمان نه روح رانازل نۀ شی اؤ بيابان زرخيزه زمکه جوړه نۀ شی اؤ زرخيزه زمکه ځنګل ونۀ ګڼلے شی".

ويرانې اؤ شاړې به دَ نرګس په شان زرخيزه وی. يشعياه **۳۵: ۱** "بيابان اؤ شاړې به خوشحاله وی اؤ دشتې به خوشحالی کوی اؤ دَ نرګس په شان به ښائسته وی".

دا ټولې خبرې به ځکه پيښيږی چې دَ بيا راتلو سره به دَ زر کاله دور شروع کيږی.

## خُلاصه

مونږ له خبردارے راکړے شوے دے چې تيار اوسئ اؤ دَ هغۀ لارې ته ګورئ. مرقوس **۱۳: ۳۳** "خبردار شئ! ويښ اوسئ تاسو دَ دې نه خبر نۀ يئ چې هغه وخت به کله راځی".

متی **۲۴: ۴۲** "بيدار اوسئ! ځکه چې تاسو هيڅ خبر نۀ يئ چې مالک به په کومه ورځ راځی".

مونږ له خبردارے راکړے شوے دے چې مالک مونږ له اختيار راکړے دے اؤ هغه غواړی چې مونږ په خپله ذمه وارئ پوره کولو کښې وفادار اؤ دياتندار پاتې شو. متی **۲۵: ۱۴- ۳۰**.

مونږ له پکار دی چې احتياط وکړو، چې زمونږ چال چلن دَ هغۀ لائق وی. اول يوحنا **۳: ۱- ۳**. دَ هغۀ بيا راتلل نزدې دی نو په دې وجه مونږ له دَ متی **۲۸: ۱۸- ۲۰** دا لوئ حکم پوره کولو کښې تيزی کول پکار دی. يعنې پکار دی چې هر يو قوم اؤ هر يو کس ته زيرے ورسوؤ. مونږ له دَ هغۀ کار پوره کولو دَ پاره خپل پوره پوره کوشش کول پکار دی، دَ دې دَ پاره چې هغه زر راشی.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۱۱- په نوې لوظنامه کښې دَ بيا راتلو په حقله څو ځله ذکر شوے دے؟

۲۱۲- په بائبل مقدس کښې آخری دعا څۀ ده،اؤ چرته ده؟

۲۱۳- دَ خدائ په حقله به دَ دوباره راتلو نتيجه څۀ وی؟

۲۱۴- هغه پنځۀ خبرې بيان کړئ کومې چې به په بيا راتلو جماعت ته پيښيږی؟

۲۱۵- کله چې مالک راشی نو اسرائیل ته به کومې کومې خبرې پیښیږی؟

۲۱٦- دَ مسیح بیا راتلو سره به غیرو قومونه سره څهٔ کیږی؟

۲۱۷- په جلالی دور کښې به دَ معاشرې څهٔ حال وی؟

۲۱۸- کله چې عیسیٰ مسیح بیا راشی نو دَ نافرمانئ دَ نمائنده به څهٔ حال وی؟

۲۱۹- دَ مسیح دَ څرګندیدو نه پس به دَ دنیا نه کوم قسم لعنت ختم شی؟

۲۲۰- دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ زر راتلو په حقله جماعت له کوم کوم کارونه پوره کول پکار دی؟

# دَ خدائ روح القدس په حقله سبقونه

## درویشتم سبق

## دَ روح القدس شخصيت

### پیژندګلو

*دې سبق سره مونږ دَ تثلیث دَ وحدانیت دَ دریم قِسم مطالعه شروع کوؤ.

* پلار اؤ زوئ روح القدس دې دَ پاره را ولیږلو چې په ایماندارانو کښې استوګنه وکړی اؤ دَ هغوئ لار ښودنه وکړی.

* ډیر خلق دا دعوه کوی چې مونږ په روح القدس ایمان لرو خو په حقیقت کښې هغوئ صرف په خدائ پلار اؤ خدائ زوئ باندې ایمان لری اؤ روح القدس صرف یو خدمت ګار ګڼی.

* خو دا خبره غلطه ده ځکه چې روح القدس دَ دې دواړو برابر دے اؤ هیڅ لحاظ سره هم کم نۀ دے.

* ځنې خلق روح القدس دَ بجلئ په شان بې ساه قُوت ګڼی، اؤ داسې هغوئ دَ روح القدس مرتبه کموی. دَ هغوئ په نزد دا قوت ډیر زیات طاقتور دے خو ژوندے ذات نۀ دے.

* په دې سبق کښې به مونږ دَ روح القدس دَ شخصیت اؤ په راتلونکی سبق کښې به مونږ دَ هغۀ دَ اُلوهیت ثابتولو کوشش کوؤ.

* مونږ دا ایمان لرو چې روح القدس یو ژوندے ذات دے، ځکه چې مونږ ورسره مخامخ کیدے شو اؤ یا ترې نه لرې پاتې کیدے شو، په هغۀ اعتماد

یا شک کوڵے شو، هغهٔ سره مینه یا ترې نفرت کوڵے شو، اؤ دَ هغهٔ تعریف یا بې عزتی کوڵے شو.

## ۱- دَ دې تعلیم اهمیت

- کهٔ چرې روح القدس ژوندے کس دے، اؤ پاک خدائ دے اؤ دَ پلار اؤ دَ زوئ برابر دے نو بیا دَ دهٔ هم دَ هغوئ په شان عبادت کول پکار دی. دَ برکت اؤ بپتسمې ورکولو په کلام کښې دَ روح القدس نوم دَ پلار اؤ زوئ نومونو سره یو ځائ اخستلے کیږی.

**کهٔ چرې روح القدس صرف اثر یا قوت وی نو بیا دې دَ پاره غیر ذاتی نومونه استعمالول پکار دی. روح القدس اثر یا قوت گنڼل دَ عیسایانو سوچ یا تصور نهٔ دے. کهٔ چرې هغه یو کس یا ذات دے، نو بیا دا دَ ذاتی اِسم یا اِسم معرفه سره بلل پکار دی.**

أ- کهٔ چرې دا کس وی نو بیا ورسره زمونږ ذاتی اؤ نزدې پیژندگلو پکار ده.

## ۲- په بائبل مقدس کښې دَ روح القدس دَ پاره ذاتی نومونه استعمال شوی دی

دَ اُردو په ګرائمر کښې دا فرق ښکاره نۀ دے خو کوم خلق چې دَ انګریزۍ ژبې نه خبر دی نو هغوئ دَ غیر ذاتی اِسم i t اؤ ذاتی اِسم he دَ فرق نه ښۀ طریقې سره خبر دی.
یوحنا ۱۵: ۲۶ "خو کله چې هغه مدد ګار راشی....نو هغه به he زما ګواهی ورکوی".
یوحنا ۱۶: ۸ "اؤ هغه he به دنیا.....مجرمه کړی".
یوحنا ۱۶: ۱۳ "خو کله چې هغه he یعنې دَ حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښائی".
یوحنا ۱۶: ۱۴ "هغه he به زما جلال ښکاره کوی ځکه چې له ما نه به یې اخلی اؤ تاسو به پرې خبروی".

په یونانۍ ژبه کښې دَ "روح" دَ پاره عام طور باندې بې جنسه اِسم ضمیر استعمالیږی خو په نوې لوظنامه کښې دَ معمول خلاف مذکر اِسم ضمیر استعمال شوے دے.
دَ یوحنا په ۱۶: ۷، ۸، ۱۳- ۱۵ کښې روح القدس دَ پاره دولس ځله مذکر اسم ضمیر ایکینوس (ekei nos) استعمال شوے دے.

## ۳- روح القدس یو کس دے ځکه چې هغه ذاتی خوبئ لری

س- دَ ارادې لرلو قوت. اول کورنتیان ۱۲: ۱۱ "خو دا ټول تاثیرونه هغه یو روح کوی اؤ چا ته یې چې غواړی هغۀ ته یې ورکوی".

ش- پوهه. نحمیاه ۹: ۲۰ "اؤ تا خپل نیک روح هم دَ هغوئ تربیت دَ پاره واستولو". په اثر یا قُوت کښې علم یا پوهه نۀ وی چې هغه دَ چا تربیت وکړی. رومیان ۸: ۲۷ "اؤ خدائ ځوک چې زمونږ دَ زړونو لیدونکے دے، هغۀ ته دا معلومه ده چې دَ دې روح القدس خیال څۀ دے ځکه چې هغه دَ خدائ دَ خلقو دَ پاره دَ خدائ دَ مرضئ په مطابق شفاعت کوی". هغه دَ زړونو دَ حال نه خبر دے اؤ دا خوبی لری چې دَ زړونو نه خبر شی.

ص- علم. اول کورنتيان ۲: ۱۰- ۱۲ "..... څوک دَ بل انسان دَ زړۀ خبرې معلومولے شی بغير دَ انسان دَ خپل روح نه چې په هغۀ کښې د ے؟ دغه شان دَ خدائ دَ روح نه بغير هيچا ته دَ خدائ خبرې معلومې نۀ دی". روح القدس سره علم د ے. اؤ هغۀ ته خبرې معلومې دی.

ض- قدرت. اعمال ۱: ۸ "تاسو له به دَ روح القدس په نازليدو طاقت درکړے شی". روح القدس په ډير لوئ قدرت سره پطروس بدل کړو.

ط- دَ مينې خوبې. روميان ۱۵: ۳۰ "..... دَ روح دَ محبت په روئې...."

ظ- دَ خفه کيدو خوبې. افسيان ۴: ۳۰ "دَ خدائ پاک روح خفه کوئ مه".

روح القدس سوچ کوی، محسوسوی، اراده کوی، علم لری،و خواهش لری، مينه کوی اؤ خفه کيږی، نو په دې وجه هغه يو کس د ے.

مونږ له پکار دی چې نۀ ترې ويره وکړو، اؤ نۀ پرې شک وکړو، نۀ ترې نفرت وکړو اؤ نۀ يې بې عزتی وکړو، بلکه هر وخت ايمان، مينې اؤ حمد وثنا سره هغۀ له راشو.

## ۴- روح القدس هغه کار کوی کوم چې صرف يو کَس کولے شی

ع- روح القدس دَ خدائ پاک پټې خبرې معلوموی. اول کورنتيان ۲: ۱۰ "روح القدس دَ خدائ پټې خبرې هم معلوموی". دَ نن سبا ښۀ نه ښۀ کمپيوټر هم داسې نۀ شی کولے.

غ- روح القدس خبرې کوی. مکاشفه ۲: ۷ "هغه څوک چې دَ اؤريدلو غوږونه لری هغه دې واؤری چې روح القدس جماعتونو ته څۀ وائی".

ف- روح القدس رابلل کوی. ګلتيان ۴: ۶ "اؤ په دې سبب چې تاسو دَ خدائ زامن يئ خدائ دَ خپل زوئ روح زمونږ زړونو ته را وليږلو کوم چې دَ "آبا" يعنې "اے پلاره" غږ کوی"

ق- روح القدس شفاعت کوی. روميان ۸: ۲۶ "روح القدس په اسويلو زمونږ شفاعت کوی چې په لفظونو کښې نۀ شی بيان کيد ے".

ك- روح القدس ګواهی ورکوی. يوحنا ۱۵: ۲۶ "کله چې هغه مدد ګار راشی..... يعنې دَ حقيقت روح.... هغه به زما ګواهی ورکوی".

ل- روح القدس تعليم ورکوی. يوحنا ۱۴: ۲۶ "خو مدد ګار يعنې روح القدس به..... تاسو ته ټولې خبرې وښائی، اؤ څۀ چې درته ما وئيلی دی هغه به درته رايادوی". دَ دې قابليت ذکر دَ يوحنا په ۱۶: ۱۲- ۱۴ کښې اؤ دَ نحمياه په ۹: ۲۰ کښې هم موجود دے.

م- روح القدس لارښودنه اؤ هدايت کوی. روميان ۸: ۱۴ "هر څوک چې دَ خدائ دَ روح په هدايت چليږی، هغه دَ خدائ بچی دی".

ن- روح القدس حکم ورکوی. اعمال ۱۶: ۶، ۷ "روح القدس هغوئ دَ ايشياء په صوبه کښې دَ کلام آؤرولو نه منع کړی وو..... خو دَ عيسیٰ روح پرې نۀ ښودل".

ه- روح القدس انسانان رابلی اؤ خدمتونه ورته په حواله کوی.
اعمال ۱۳: ۲ "......روح القدس ورته ووئيل، برنبا اؤ ساؤل زما دَ پاره هغه کار له جدا کړئ چې دَ څۀ دَ پاره چې ما هغوئ رابللی دی".
بيا اعمال ۲۰: ۲۸ "......روح القدس تاسو خيال ساتونکی جوړ کړی يئ".

و- روح القدس هغه مقصد پوره کوی کوم دَ پاره چې هغه راليږلے شوے دے.
يوحنا ۱۵: ۲۶ "خو چه مددګار راشی کُوم چه به زۀ تاسو ته دَ پلار نه راستوم، يعنې دَ حقيقت رُوح چه دَ پلار نه راوځی، هغه به زما په باب کښې ګواهی ورکوی".

## ۵- روح القدس له خاص مرتبه ورکړے شوې ده

هغه يو خاص مدد ګار دے. يوحنا ۱۴: ۱۶ "......هغه به تاسو له بل مدد ګار راوليږی". دلته کښې دَ يونانئ ژبې لفظ پارا کليتوس (parakletos) دَ عربئ لفظ "فارقليط" استعمال شوے دے، چې مطلب يې دے "يوځائ اوسيدو واله". هغه يو ذاتی ملګرے دے. حالانکه هغه يو کَس دے نو په دې وجه هغه زمونږ يو ښۀ ملګرے جوړيدے شی، چې زمونږ رهنمائی وکړی اؤ مونږ له مدد راکړی.
دَ اے-آر- ټوری وينا ده چې دَ دې تعليم اؤ عقيدې استعمال ډير زيات عملی دے:

ي- دا دَ تيارې دَ ناليدونکې ويرې علاج دے. روح القدس ما سره دے.

أأ- دَ خوب نۀ راتلو علاج دے. روح القدس سره دَ تعلق قائمولو کوشش وکړئ، نو تاسو له به خوب درشی. دويم کورنتيان ۱۳: ۱۴ "..... دَ روح القدس شراکت (يوځائ خبرې اترې کول)......"

بب- کله چې تاسو ځان يواځې محسوسوئ نو دَ دې علاج روح القدس دے. روح القدس سره دوستی وکړئ.

تت- دَ مايوسه زړونو علاج دے. غمژن اؤ خالی زړونو ته روح القدس له بلنه ورکړئ.

ثث- هغه دَ لاچارئ د علاج اؤ دَ حوصلې قُوت دے.

جج- دَ تعليم اؤ زيری ورکولو دَ پاره رابيداروؤنکے حرکت دے. رهنمايئ کولو دَ پاره روح القدس ما سره دے.

حح- دَ هغۀ په حضورئ کښې په ذاتی طور ګواهائ ورکولو کښې يې مونږ له اختيار راکړے دے: "ژوندی روح ما له دَ دې کولو هدايت راکړے دے".

## ٦- روح القدس جذبات لری

أ- هغه خفه کيږی. يشعياه ۲۳: ۱۰ "خو هغوئ باغيان شول اؤ هغوئ دَ هغۀ پاک روح خفه کړو".

ب- دَ هغۀ بې عزتی کيدے شی. عبرانيان ۱۰: ۲۹ "...... دَ فضل روح يې بې عزته کړو".

ت- هغۀ ته دروغ وئيلې کيدے شی. اعمال ۵: ۳ "دا شيطان دربانديې څنګه غالب شو چې تۀ روح القدس ته دروغ وايې"؟

ث- دَ هغۀ خلاف کفر وئيلې کيدے شی. متی ۱۲: ۳۱، ۳۲ "خو هغه کفر چې دَ روح القدس برخلاف لګولے شوے وی، هغه به ورته معاف نۀ شی".

## ۷- روح القدس يو کَس دے

مونږ دا ايمان لرو چې روح القدس يو کَس دے، ځکه چې هغه پوهه، جذبات، منشا، علم اؤ دَ عمل په شان ټولې خوبئ لرى.
مونږ له هغه هيڅ کله هم بې ساه څيز نۀ دى ګڼل پکار. دا دَ هغۀ بې عزتى ده اؤ زمونږ دَ پاره سخته ګناه ده، بلکه پکار دى چې دَ پوره زړۀ اؤ روح سره دَ هغۀ عزت وکړو.

**خُلاصه**

مونږ له دَ هغه ژوندى شخصيت يعنې دَ روح القدس دَ ملګرتيا نه پوره پوره فائده اخستل پکار دى.
دعا "اے مالکه خدايه، په ما باندې دَ روح القدس دَ شراکت راز نور هم واضحه کړه".
روح القدس خپل ملګرے اؤ دوست جوړ کړئ. اؤ هر وخت هغۀ سره يو ژور تعلق اؤ شراکت ولرئ.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۲۱- په ځنې خلقو کښې دَ روح القدس په حقله غلط اثرات موجود وى. په دې کښې دوه بيان کړئ.

۲۲۲- دَ دې سبق دَ اهميت درې وجې بيان کړئ.

۲۲۳- په بائبل مقدس کښې دَ روح القدس دَ پاره ذاتى نومونه استعمال شوى دى. دَ دې څۀ اهميت دے؟

۲۲۴- دَ برکت دَ کلام څۀ اهميت دے؟

۲۲۵- دَ يونانئ ژبې دَ لفظ پارا کليتوس اؤ دَ عربئ دَ لفظ "فارقليط" څۀ مطلب دے؟

۲۲۶- روح القدس دَ مقدس تثليث کيدو کوم درې خاصيتونه لرى؟

۲۲۷- روح القدس کَس ثابتولو دَ پاره دَ هغۀ دَ لسو کارونو نومونه واخلئ؟

۲۲۸- دَ روح القدس مرتبه څۀ ده؟

۲۲۹- دَ "فارقليط" لس عملی استعماليدل بيان کړئ.

۲۳۰- دَ روح القدس دَ څلورو جذباتی خوبو نومونه واخلئ.

# څلیریشتم سبق

# دَ روح القدس اُلوهیت اؤ دَ هغۀ نومونه

## پیژندګلو

* په تیر شوی سبق کښې مونږ دا حقیقت ثابت کړو چې روح القدس یو کس دے.

* خو هغه یو انسانی کَس نۀ دے ځکه چې هغه زمونږ په شان انسانی وجود نۀ لری.

* روح القدس صرف یو کَس نۀ دے بلکه مونږ دا ایمان لرو چې هغه یو الٰهی ذات هم دے.

* روح القدس قادر مطلق خدائ دے اؤ هر لحاظ سره دَ پلار اؤ زوئ برابر دے.

## ۱- دَ روح القدس اُلوهیت

مونږ دَ روح القدس په اُلوهیت باندې ځکه ایمان لرو چې

### ۱- هغه الٰهی صفتونه لری

(۱) ازلی دے. عبرانیان ۹: ۱۴ "هغۀ دَ هغه روح په وسیله چې له ازل نۀ دے خپل ځان دَ یو بې عیبې قربانئ په طور دَ خدائ په مخکښې پیش کړو".

(۲) هغه هر ځائ موجود دے. زبور ۱۳۹: ۷- ۱۰ "زۀ ستا دَ روح نه خپل ځان چرته بچ کړم..... کۀ زۀ آسمان ته وخیژم نو هلته هم تۀ یې. کۀ زۀ لاندې لاړ شم نو ګوره! هلته هم تۀ موجود یې".

(۳) هغه قادر مطلق دے. لوقا ۱: ۳۵ عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په قدرت سره دَ مور په خیټه شو.

پيدايښت ۱: ۲ "دَ خدائ روح په اوبو ګرځيدو".

ايوب ۲٦: ۱۳ "دَ هغۀ روح سره آسمان ځليږي".

(۴) هغه دَ ټول هر څۀ عِلم لری. اول کورنتيان ۲: ۱۰- ۱۱ "روح دَ خدائ پټې خبرې هم معلوموی".

يوحنا ۱۴: ۲٦ "..... خو مدد ګار به..... تاسو ته ټولې خبرې وښائی".

يوحنا ۱٦: ۱۲، ۱۳ "..... کله چې دَ حقيقت روح راشی نو هغه به درته ټول حقيقت څرګند کړی".

(۵) هغه پاک دے. لوقا ۱۱: ۱۳ "..... روح القدس ....." القدس اِسم نۀ دے بلکه صفت دے چې دَ هغۀ کردار بيانوی.

(٦) هغه حقيقت دے. اول يوحنا ۵: ۷ "اؤ څوک چې ګواهی ورکوی هغه روح دے ځکه چې روح حقيقت دے".

(۷) هغه نيک اؤ فيض رسان دے. نحمياه ۹: ۲۰ "اؤ تا خپل نيک روح هم دَ هغوئ تربيت له را واستولو".

(۸) هغه ملګرتيا اؤ شراکت لری. دويم کورنتيان ۱۳: ۱۴ "..... اؤ دَ روح القدس شراکت....."

## ب- روح القدس هغه کار کوی کوم چې صرف خدائ کولے شی

(۱) هغه تخليق کوی. ايوب ۳۳: ۴ "دَ خدائ روح زۀ جوړ کړم".

زبور ۱۰۴: ۳۰ " تۀ خپل روح راليږې اؤ دا پيدا کيږی".

(۲) هغه خلاصون ورکوی. اول کورنتيان ٦: ۱۱ "..... خو تاسو دَ مالک عيسیٰ مسيح په نوم اؤ زمونږ دَ خدائ په روح ووينځلې شوئ، بلکه پاک شوئ

صادق هم شوئ".

دَ افسيانو په ۱: ۱۳ کښې ورته دَ "روح مهر" هم وئيلے شوی دی.

(۳) هغه ژوند ورکوی. يوحنا ٦: ٦٣ "صرف رُوح دَ ژوندُون سبب دے، جُسه دَ هيڅ کار نهٔ ده اَؤ کُومې خبرې چې ما تاسو ته کړی دی هغه هم رُوح دے اَؤ هم ژوندُون."

(۴) هغه دَ نوی پيدايښت سر چينه دے. يوحنا ۳: ۵، ٦ "..... تر څو چې يو کس دَ اوبو اؤ روح نه پيدا نهٔ شی..... چې دَ روح القدس نه پيدا کيږی هغه روح دے".

(۵) دَ نبوت دَ پاره مونږ را بيداروی. دويم پطروس ۱: ۲۱ "ځکه چې دَ نبيانو دَ کلام هيڅ خبره هم دَ بنی آدمو دَ خواهش په مطابق کله هم نهٔ ده شوې، بلکه بنی آدمو دَ روح القدس دَ اثر په وجه دَ خدائ دَ طرفه خبرې کولې".

(٦) هغه خلق دَ عدالت اؤ صداقت په حقله قصور وار ګرځوی.

يوحنا ١٦: ٨- ١١.

## ج- دَ کلامِ پاک ځنې زبردست بيانونه

(۱) دَ يشعياه په ٦: ٨- ۱۰ کښې وئيلې شوی دی چې....."ما دَ خدائ آواز واؤريدو چې وفرمائيل يې....." اؤ اعمال دَ رسولانو په کتاب کښې په ۲۸: ۲۵- ۲۷ کښې دې حوالې ورکولو سره پولوس رسول فرمائی چې "......روح القدس دَ يشعياه نبی په معرفت..... ډير ښهٔ وئيلی دی". دغه شان هغه مالک خدائ اؤ روح القدس يو ذات ګڼی. دَ اعمالو دَ کتاب په ۵: ۳- ۵ کښې روح القدس ته خدائ وئيلې شوی دی. "...... دا شيطان

دربانديِ څنګه غالب شو چې تهٔ روح القدس ته دروغ وايې...... تا يواځې بُنيادمو ته دروغ نهٔ دی وئيلي بلکه خدائ ته!".

## د- دَ پلار اؤ زوئ سره دَ روح القدس ذکر

(۱) متی ۲۸: ۱۹. دَ بپتسمې ورکولو کلام. "دَ پلار زوئ اؤ روح القدس په نوم....."

(۲) دويم کورنتيان ۱۳: ۱۴. دَ برکت ورکولو کلام. "دَ مالک عيسیٰ مسيح فضل اؤ دَ خدائ مينه اؤ دَ روح القدس شراکت دې تاسو ټولو سره وی".

(۳) يوحنا ۱۴: ۱۶ "اؤ زهٔ (زوئ، عيسیٰ مسيح) به پلار (خدائ) ته خواست وکړم چې هغه تاسو له بل مدد ګار (خدائ روح القدس ) را وليږی".

## ۲- روح القدس دَ پلار زوئ نه بدل دے

دَ ځنې خلقو خيال دے چې روح القدس دَ "پلار روح" يا دَ "زوئ روح" دے، اؤ دا جدا اؤ مختلف کسان نهٔ دی.

لوقا ۳: ۲۱- ۲۲. دَ عيسیٰ مسيح دَ بپتسمې په موقعه باندې دا درې واړه دَ يو بل نه مختلف اؤ بدل حيثيت سره مونږ ته ښکاری:

أ- خدائ پلار وفرمائيل "تهٔ زما محبوب زوئ يې. ستا نه زهٔ رضا يم".

ب- خدائ زوئ په اُردن کښې دَ يحيیٰ بپتمسه ورکوؤنکی نه بپتسمه واخسته.

ت- دَ خدائ پاک روح په جسمانی طور دَ کوترې په شکل کښې را نازل شو.

متی ۲۸: ۱۹، دَ بپتسمې په کلام کښې په دې درېو واړو کښې فرق بالکل څرګند اؤ واضحه دے.

يوحنا ۱۴: ۱۶، زوئ خواست کوی، پلار ورکوی، اؤ روح القدس دَ استوګنې دَ پاره راځی.

اعمال ۲: ۳۳، زوئ دَ پلار ښی لاس ته ناست دے، پلار په خپل تخت ناست دے اؤ زوئ روح القدس اخلی اؤ جماعت له يې ورکوی.

پلار، زوئ اؤ روح القدس درې واړه جدا جدا شخصيتونه دی. هغوئ يو بل سره ډير نژدې تعلق لری. يو بل سره خبرې کوی اؤ يو بل قبلوی. (تورى)

## ۳- روح القدس دَ پلار اؤ زوئ تابع دے

يوحنا ۱۴: ۲۶ پلار روح القدس دنيا ته راليږی. اؤ هغه حکم منی.
يوحنا ۱۵: ۲۶ زوئ روح القدس ايماندارانو اؤ جماعت ته ليږی.
اعمال ۱۶: ۷ روح القدس ته دَ "عيسیٰ مسيح روح" وئيلے شوی دی.
روميان ۸: ۹ "روح القدس ته دَ "خدائ روح" وئيلے شوی دی.
روح القدس په خپله هيڅ نهٔ وائی، بلکه څهٔ چې اؤری نو هغه کوی اؤ هغه وائی هم.
يوحنا ۱۶: ۱۳ "..... هغه به دَ خپله ځانه هيڅ نهٔ وائی، خو هغه څهٔ به وائی کوم چې هغه آؤری". دا حقيقی عاجزی اؤ حليمی ده.
روح القدس عيسیٰ مسيح له جلال ورکوی. يوحنا ۱۶: ۱۴ "هغه به زما جلال ښکاره کوی ځکه چې له ما نه به يې اخلی اؤ تاسو به پرې خبر کړی".

کله چې دَ دې دريؤ واړو ذاتونو نومونه په يوه جمله کښې وی نو دَ روح القدس نوم دَ نورو دواړو نومونه نه وروستو راځی. متی ۲۸: ۱۹ "دَ پلار زوئ اؤ روح القدس په نوم....." دويم کورنتيان ۱۳: ۱۴، زوئ، پلار اؤ روح القدس.

## ۴- دَ روح القدس نومونه

(۱) روح القدس: لوقا ۱۱: ۱۳ "..... آسمانی پلار..... روح القدس ولې نهٔ درکوی".

(۲) روح: يوحنا ۳: ٦ "چې دَ روح القدس نه پيدا کيږی هغه روح دے".

(۳) دَ مالک خدائ روح: يشعياه ۱۱: ۲ "اؤ دَ مالک روح به په هغهٔ کښې اوسيږی".

(۴) دَ مالک خدائ (يهواه) روح: يشعياه ٦۱: ۱ "دَ مالک خدائ روح په ما کښې دے".

(۵) **دَ ژوندی خدائ روح:** دویم کورنتیان ۳:۳ "..... بلکه دَ ژوندی خدائ روح سره....."

(٦) **دَ عیسیٰ مسیح روح:** رومیان ۸: ۹ "...... خو په چا کښې چې دَ مسیح روح نشته..... "

(۷) **دَ خدائ دَ زوئ روح:** ګلتیان ۴: ٦ "خدائ دَ خپل زوئ روح زمونږ زړونو ته راولیږلو کوم چې د "آبا" یعنې "اے پلاره" غږ کوی".

(۸) **دَ عیسیٰ مسیح روح:** فیلیپیان ۱: ۱۹ "اؤ دَ عیسیٰ مسیح دَ روح تحفې....".

(۹) **دَ عیسیٰ روح:** اعمال ۱٦: ۷ "..... خو دَ عیسیٰ مسیح روح هغوئ پرې نهٔ ښودل".

(۱۰) **دَ سوزیدلو روح:** یشعیاه ۴:۴ "...... دَ بیت المقدس وینه به دَ انصاف اؤ دَ سوزیدلی روح سره ووینځلے شی".

(۱۱) **دَ قُدوسیت روح:** رومیان ۱: ۴ "..... خو دَ قدوسیت دَ روح په مطابق....."

(۱۲) **پاک وعده کړے شوے روح:** افسیان ۱: ۱۳ "..... دَ خپلې وعدې په مطابق دَ روح القدس مهر ولګولو".

(۱۳) **دَ حقیقت روح:** یوحنا ۱۴: ۱۷؛ ۱۵: ۲٦؛ ۱٦: ۱۳ کښې دا نوم استعمال شوے دے.

(۱۴) **دَ ژوند روح:** رومیان ۸: ۲ "عیسیٰ مسیح کښې دَ ژوند ورکُوونکی دَ رُوح شریعت....."

(۱۵) **دَ حکمت روح، دَ پوهې روح، دَ قدرت روح:** دا نومونه دَ یشعیاه په ۱۱: ۲ کښې راغلی دی.

(۱۶) **دَ فضل روح:** عبرانيان ۱۰: ۲۹ "..... اؤ دَ فضل روح يې بې عزته کړو".

(۱۷) **دَ جلال روح:** اول پطروس ۴: ۱۴ "...... دَ جلال روح يعنې دَ خدائ روح....."

(۱۸) **ازلی روح:** عبرانيان ۹: ۱۴ "..... چا چې خپل ځان دَ ازلی روح په وسيله....."

(۱۹) **مدد ګار:** يوحنا ۱۴: ۲۶؛ ۱۵: ۲۶.

(۲۰) **دَ خوشحالئ تيل:** عبرانيان ۱: ۹ "..... ستاسو خدائ د خوشحالئ په تيلو سره.....زيات مسح کړلې".

**خُلاصه**

روح القدس دَ کوترې په شکل کښې هم ښودلے شوے دے. کوتره يو ساده، حليمه اؤ نرم مذاجه مرغۍ ده.

روح القدس له هوا سره مثال ورکړے شوے دے. يوحنا ۳: ۱- ۹ هغه دَ نوی پيدا ئيښت په عمل کښې يو ناليدونکے اؤ زورور قوت دے.

روح القدس دَ اوبو دَ چينې يا دَ نهر په شان دے، کوم چې دَ پاکولو اؤ وينځلو يو قوت دے. يوحنا ۴: ۱۴.

روح القدس دَ خدمت دَ پاره دَ برکت درياب دے، چې دَ غاړو نه بهر بهيږی. يوحنا ۷: ۳۸، ۳۹.

روح القدس يو مدد ګار اؤ تسلی ورکوونکے دے. هغه په مسيحی ژوند کښې هدايت ورکوی اؤ لار ښودنه کوی. يوحنا ۱۴: ۱۲.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۳۱- مونږ اؤ روح القدس دواړه کسان يو. خو په دواړو کښې څۀ فرق دے؟

۲۳۲- دَ روح القدس اُلوهيت ثابتولو دَ پاره شپږ صفتونه بيان کړئ.

۲۳۳- دَ روح القدس اُلوهيت ښودلو دَ پاره دَ هغۀ شپږ خاص کارونه بيان کړئ.

۲۳۴- دَ یشعیاه ۲: ۸- ۱۰ اؤ دَ اعمالو ۲۸: ۲۵- ۲۷ مقابلې نه تاسو څۀ زده کوئ؟

۲۳۵- دَ روح القدس دَ عقیدې په اعتبار سره دَ اعمالو دَ ۵: ۳- ۵ څۀ اهمیت دے؟

۲۳۶- دَ متی په ۲۸: ۱۹ اؤ دَ کورنتیانو په نوم دَ دویم خط په ۱۳: ۱۴ کښې دَ روح القدس نوم ولې شامل دے؟

۲۳۷- دَ لوقا په ۳: ۲۱- ۲۲ کښې دَ روح القدس په حقله څۀ تعلیم موجود دے؟

۲۳۸- درې آیاتونه بیان کړئ چې دَ هغې نه دا معلومیږی چې روح القدس دَ پلار اؤ زوئ تابع دے.

۲۳۹- دَ روح القدس اوؤۀ نومونه بیان کړئ.

۲۴۰- څلور داسې څیزونه بیان کړئ چې د هغې نه دَ روح القدس مثال ورکړے شوے وی.

# پنځۀ ويشتم سبق

# دَ روح القدس کارونه

## پيژندګلو

* روح القدس يو الٰهی ذات دے اؤ په دې دنيا کښې دَ هغۀ يو خاص کار دے.
* دَ کلامِ پاک دَ مطالعې نه دا معلوميږی چې روح القدس هر وخت کار کوی.
* په کائينات اؤ دَ دې دنيا دَ خلقو په حقله دَ هغۀ کار ښودلے شوے دے.
* دَ پينتکُست نه دَ ايماندارانو په حقله دَ روح القدس په کار کښې بدلون راغلے دے.
* په زړه لوظنامه کښې به روح القدس دَ خاص مقصدونو دَ پاره راتلو اؤ بيا به واپس لاړو. خو دَ پينتکست په موقعه باندې هغه په ايماندارانو کښې دَ استوګنې اؤ دَ عيسیٰ مسيح په ژوندی جماعت کښې اوسيدو دَ پاره راغلو.
* قاضيان ٦: ٣٤ "بيا دَ مالک خدائ روح په جدعون نازل شو".
* اول سموئيل ١٦: ١٤ "اؤ دَ مالک خدائ روح دَ ساؤل نه جدا شو".
* قاضيان ١١: ٢٩ "بيا دَ مالک خدائ روح په افتاح نازل شو".
* زبور ٥١: ١١ "خپل پاک روح له ما نه مۀ جدا کوه" دَ پينتکُست نه پس دَ داؤد په شان دعا کول بالکل مناسب نۀ ده، ځکه چې دَ پينتکُست په موقعه روح القدس په مستقل طور اوسيدو دَ پاره راغلے دے.
* يوحنا ١٤: ١٦ "بل مدد ګار ...... چې تل به تاسو سره وی".

## ۱- دَ تخليق په حقله

روح القدس دَ تخليق کار وکړو. پيدا ايښت ۱: ۲ "اؤ دَ خدائ روح به په اوبو ګرځيدو". ايوب ۲۲: ۱۳ ؛زبور ۱۰۴: ۳۰ ؛ ايوب ۳۳: ۴ هم وګورئ.

زبور ۳۳: ٦ "آسمان دَ مالک خدائ دَ کلام په وسيله اؤ دَ هغۀ ټول لښکرونه دَ هغۀ دَ خُلې وينا سره جوړ شول". ( دَ خُلې دَ وينا نه مطلب دے روح القدس ).

## ۲- دَ کائنات دَ قائم ساتلو په حقله

يشعياه ۴۰: ۷ "واښۀ وچيږی. ګلونه مړاوې کيږی. ځکه چې دَ مالک خدائ هوا پرې چليږی". روح تخليق کوی اؤ قائم ساتی. اؤ چې کله وغواړی نو هلاکوی.

زبور ۱۰۴: ۳۰ "تۀ خپل روح راليږې اؤ دا پيدا کيږی اؤ تۀ زمکه نوې جوړوې".

دَ خدائ پاک دَ کلام اؤ روح قُدرت سره دنيا نوې جوړيږی.

## ۳- دَ بې ايمانئ په حقله

يوحنا ۱۲: ۸- ۱۱ "کله چې هغه راشی نو هغه به دنيا دَ ګناه اؤ دَ صداقت اؤ دَ انصاف په باب کښې ملامته کړی".

دنيا به دَ ګناه په باب کښې ځکه ملامته کړی چې هغه په مالک عيسىٰ مسيح ايمان نۀ راؤړی.

اؤ دَ صداقت په باب کښې به يې ځکه ملامته کړی چې عيسىٰ مسيح په مکمل طور صادق دے، اؤ دَ عدالت په باب کښې دې دَ پاره چې دَ عيسىٰ مسيح عدالت په سولئ باندې شوے دے.

دَ روح القدس کار دا دے چې هغه دَ مسيح اؤ دَ سولئ په باب کښې هر وخت ګواهی ورکوی. روح القدس دا کار تر ډير حده پورې دَ ايماندارانو په وسيله کوی. ځکه چې هغه دَ خدائ پاک دَ کلام په وسيله دَ انسانانو په زړونو اثر کوی.

## ۴- دَ پاک کلام په حقله

روح القدس دَ پاکو صحیفو لیکونکے دے. دویم پطروس ۱: ۲۰، ۲۱ "..... بنی آدمو دَ روح القدس دَ اثر په وجه دَ خدائ دَ طرفه خبرې کولې".
روح القدس زمونږ دَ پاره دَ کلامِ پاک تشریح اؤ تفسیر هم کوی. یوحنا ۱۲: ۱۴.
یوحنا ۱۴: ۲۲ "..... هغه به تاسو ته هر څۀ وښائی اؤ بیا به درته هغه څۀ رایادوی، کوم چې ما تاسو ته وئیلی دی".
آؤ! روح القدس زما په خپل ژوند کښې ډیر زیات وفادار دے. دَ ضرورت په وخت اؤ خاص طور باندې دَ ګرانو سوالونو دَ جواب ورکولو په وخت هغه ما ته آیتونه رایادوی.

## ۵- دَ عیسیٰ مسیح په حقله

أ- عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په وسیله دَ مور په خیټه شو. په لفظی معنو کښې دَ روح القدس نه پیدا شو. لوقا ۱: ۳۵.

ب- دَ بپتسمې اخستلو نه پس روح القدس هغه بیابان ته بوتلو چې هلته یې وآزمائی. متی ۴: ۱.

ت- عیسیٰ مسیح دَ خدمت دَ پاره روح القدس سره مسح کړے شو. اعمال ۱۰: ۳۸.

ث- عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په قُدرت سره په سولئ شو. عبرانیان ۹: ۱۴.

ج- عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په قُدرت سره دَ قبر نه بیا راژوندے شو. رومیان ۱: ۴، ۸: ۱۱.

ح- عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په وسیله دَ شاګردانو اؤ دَ جماعتونو لارښودنه اؤ رهنمائی کوی. اعمال ۱: ۲.

خ- عیسیٰ مسیح ایماندارانو له روح القدس را واستولو. اعمال ۲: ۳۳.

## ٦- دَ ایماندارانو په حقله

(۱) ایماندارانو له دَ اؤلاد جوړیدو یقین ورکوی اؤ هغه دَ زوئ په شان جوړوی. رومیان ۸: ۱٦، ۱۷، گلتیان ۴: ٦.

(۲) په ایماندار مهر لگوی یعنې هغه دَ راتلونکی جلال ضمانت دے. دویم کورنتیان ۱: ۲۲؛ افسیان ۱: ۱۳، ۱۴.

(۳) ایماندار معموروی اؤ یو فتح مند ژوند ورکوی. اعمال ۱: ۴- ۸؛ افسیان ۵: ۱۸.

(۴) ایماندار پاکوی اؤ دَ پاکوالی دَ پاره یې غوره کوی. دویم تسالونکیان ۲: ۱۳؛ اول پطروس ۱: ۲.

(۵) دَ تل دَ پاره ایماندار سره استوگنه کوی. یوحنا ۱۴: ۱٦.

(٦) ایماندار له دَ خدائ دَ پاک کلام تعلیم ورکوی. یوحنا ۱۴: ۲٦؛ اول کورنتیان ۲: ۱۳.

(۷) کومې خبرې چې مونږ دَ زړۀ دَ اخلاصه زده کړی دی، نو هغه مونږ ته رایادوی. یوحنا ۱۴: ۲٦.

(۸) هغه مونږ له دَ خلاصوؤنکی گواهی راکوی اؤ همیشه عیسیٰ مسیح څرگندوی. یوحنا ۱۵: ۲٦.

(۹) په ټول حقیقت کښې دَ ایماندار رهنمائی کوی. یوحنا ۱٦: ۱۳. دا دَ هر قسمه غلطئ علاج دے.

(۱۰) هغه زمونږ په بدن کښې اؤ دَ بدن په وسیله دَ عیسیٰ مسیح جلال ښرګندوی. یوحنا ۱۶: ۱۴.

(۱۱) هغه دَ عیسیٰ مسیح دَ روحانی خبرو مکاشفه مونږ له راکوی. یوحنا ۱۶: ۱۴.

(۱۲) هغه مونږ له طاقت راکوی چې دَ خدائ فرمانبرداری وکړو اؤ په کمزورئ کښې مونږ له طاقت راکوی. حزقی ایل ۳۶: ۲۷.

(۱۳) هغه ایماندار له په هر حال کښې دَ حقیقت دَ تابعدارئ اؤ فرمانبردارئ کولو دَ پاره طاقت ورکوی. اول پطروس ۱: ۲۲.

(۱۴) هغه ایماندار له دَ مرګ اؤ دَ ګناه دَ شریعت نه خلاصون ورکوی. رومیان ۸: ۲.

(۱۵) په کمزوری ایماندار کښې دَ صداقت شریعت پوره کوی. رومیان ۸: ۳، ۴.

(۱٦) ایماندار له طاقت ورکوی چې په جسم فتح ومومی اؤ خدائ پاک خوشحاله کړی. رومیان اتم باب.

(۱۷) هغه به زمونږ فانی بدن راژوندے کوی. رومیان ۸: ۱۱.

(۱۸) دَ بدن دَ کارونو دَ نشت کولو توفیق اؤ طاقت ورکوی. رومیان ۸: ۱۳.

(۱۹) ایماندار له هدایت ورکوی چې دَ خدائ پاک دَ مرضئ په مطابق دعا وغواړی. دَ ایماندار دَ دعا نه دَ ډک ژوندون لار ښودنه کوی. رومیان ۸: ۲٦، ۲۷.

(۲۰) ایماندار له بدن په خرابو خواهشونو باندې فتح ورکوی. ګلتیان ۵: ۱٦-۱۷.

(۲۱) ایماندار دَ شریعت دَ غلامئ نه آزادوی اؤ دَ عیسیٰ مسیح آزادی ورله ورکوی. ګلتیان ۵: ۱۸.

(۲۲) مونږ له دا توفیق راکوی چې دَ ګلتیانو دَ ۵: ۲۲، ۲۳ په مطابق دَ روح میوه پیدا کړو.

(۲۳) مونږ له دَ روح په مطابق دَ پاک چال چلن توفیق راکوی. ګلتیان ۵: ۲۵.

(۲۴) زمونږ مدد کوی چې مونږ هغه خبرې پریږدو کومو سره چې خدائ پلار خفه کیږی. افسیان ۴: ۳۰- ۳۲.

(۲۵) دَ شیطان خلاف جنډا اوچتوی اؤ هغه تښتی. یعقوب ۴: ۷؛ یشعیاه ۵۹: ۱۹.

(۲٦) څوک چې په مالک خدائ یقین کوی نو هغوئ له آرام ورکوی. یشعیاه ٦۳: ۱۴.

(۲۷) هغه زمونږ په ذاتی ژوند کښې عیسیٰ مسیح مالک جوړوی. اول کورنتیان ۱۲: ۳.

(۲۸) دَ خدائ اؤلاد له آزادی ورکوی. دویم کورنتیان ۳: ۱۷.

(۲۹) دَ خدائ اؤلاد له الٰهی مینه ورکوی. رومیان ۵:۵، کولوسیان ۱: ۴، ۸.

(۳۰) پاکانو له کامله خوشحالی اؤ تسلی ورکوی. اعمال ۱۳: ۵۲.

(۳۱) روحانی قوت سره باطنی انسانیت له طاقت ورکوی. افسیان ۳: ۱٦.

(۳۲) دَ مالک خدائ اؤلاد له صداقت، فضل اؤ خوشحالی ورکوی. رومیان ۱۴: ۱۷؛ ۱۵: ۱۳.

(۳۳) دَ خدائ پاک پټې خبرې څرګندوی، دَ هغې تشریح کوی اؤ هغه استعمالوی. اول کورنتیان ۲: ۹- ۱۴.

(۳۴) مونږ له طاقت راکوی چې نورو له دَ حقیقت تعلیم ورکړو. اعمال ۱: ۸؛
اول کورنتیان ۲: ۱- ۴؛ اول تسالونکیان ۱: ۵.

(۳۵) دَ خدائ پاک دَ حمد و ثناء اؤ دَ جلال دَ پاره مونږ رابیداروی. یوحنا ۴: ۲۳، ۲۴؛ فیلیپیان ۳:۳.

(۳٦) تسلی اؤ اطمینان ورکوی. اعمال ۹: ۳۱ "...... دَ روح القدس تسلی....."

(۳۷) انسان عیسیٰ مسیح طرف ته رابلی اؤ په خدمت کښې یې لار ښودنه کوی. اعمال ۸: ۲۷- ۲۹؛ ۱۳: ۲- ۴.

(۳۸) دَ ایماندار په خدمت اؤ دَ ژوند په حالاتو کښې لار ښودنه کوی. متی ۴: ۱؛ رومیان ۸: ۱۴؛ اعمال لسم باب.

(۳۹) آسمان کښې دَ پلار حضورئ ته زمونږ رسیدل یقینی کوی. افسیان ۲: ۱۸.

(۴۰) په عیسیٰ مسیح کښې زمونږ دَ میراث اؤ دَ کفارې حقونه مونږ ته ښائی.
اول کورنتیان ۲: ۱۲. دَ څلویښتو جزونو دا فهرست ایچ- ایس- ملر "دَ مسیحی خادمانو هدایت نامه" کښې ورکړی دی. حالانکه دا فهرست ډیر اُوږد دے خو بیا هم مکمل نۀ دے، ځکه چې په دې کښې دَ کورنتیانو په نوم په اولنی خط اؤ دولسم باب کښې ورکړے شوی دَ روح نعمتونه شامل نۀ دی کوم چې روح جماعت له ورکوی.

## ۷- دَ روح القدس نور کارونه

(۱) دَ پیدایښت په ٦: ۳ کښې هغه دَ انسانانو مخ نیوے کوی چې هغوئ دَ گناه نه راوگرځی اؤ دَ صداقت په طرف لاړ شی.

(۲) انسانانو له هوښيارتيا \ رڼا ورکوی. ايوب ۳۲: ۸. يعنې هغوئ له پوهه ورکوی.

(۳) انسانانو له هُنر ورکوی. هجرت ۳۱: ۲- ۵ "ما بضلی ايل له پوهه هُنر اؤ دَ هر قسم هُنر په کار کښې خپل روح ورکړے دے. چې هر قسم دَ هُنر کارونه وکړی".

(۴) په عامو کارونو کښې، مثال په طور بګل غږولو کښې دَ انسانانو مدد کوی. قاضيان ٦: ۳۴ (جدعون)

(۵) سمسون له يې جسمانی طاقت ورکړو. قاضيان ۱۴: ٦.

دا فهرست مکمل نۀ دے ځکه چې روح القدس هر وخت کار کوی.

## خُلاصه

راځئ چې دَ روح القدس دَ نوی مخلوق جوړولو خدمت دَ پاره دَ مالک خدائ حمد و ثناء وکړو. يوحنا دريم باب.

راځئ چې مونږ دَ مالک خدائ حمد و ثناء وکړو چې هغه په خپل فضل سره مونږ له دَ روح نعمتونه راکړی. اول کورنتيان ۱۲: ۷- ۱۱.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۴۱- آيا نن هم دَ يشعياه دَ ۵۱: ۱۱ دعا غوښتل ټيک ده؟ ولې؟

۲۴۲- دوه آيتونه بيان کړئ چې دَ هغې نه دا معلوميږی چې روح القدس دَ تخليق په کار کښې شامل وو.

۲۴۳- کوم آيت دا وائی چې روح القدس کائنات نوی جوړوی اؤ قائم يې ساتی؟

۲۴۴- روح القدس دنيا دَ کومو دريوؤ خبرو په باب کښې ملامته کوی؟

۲۴۵- دَ پاکو صحيفو دَ حوالو نه دَ روح القدس دوه خدمتونه بيان کړئ.

۲۴۶- هغه اوؤۀ خبرې بیان کړئ کومې چې روح القدس دَ خلاصوؤنکی دَ پاره وکړلې.

۲۴۷- ایماندارانو دَ پاره دَ روح القدس دَ ښلویښتو کارونو فهرست ورکړے شوے دے. آیا تاسو په دې کښې دِ یوې بلې خبرې اضافه کولےشئ؟

۲۴۸- ستاسو په ذاتی ژوند کښې روح القدس کوم اهم کارونه کوی؟

۲۴۹- دَ رومیانو په کتاب کښې ورکړے شوی پنځۀ کارونه بیان کړئ کوم چې روح القدس دَ ایماندارانو دَ پاره کوی.

۲۵۰- دَ روح القدس د نورو پنځو کارونو فهرست تیار کړئ.

# شپږیشتم سبق

# دَ روح القدس خلاف ګناه

## پیژندګلو

* دَ روح القدس په حقله دا څلورم سبق دے. په دې کښې به مونږ دَ روح خلاف دَ ګناهونو مطالعه کوؤ.

* روح القدس یو کَس دے اؤ دَ دهٔ خلاف ګناه کیدے شی. مونږ له دَ خبرداره اوسیدو ضرورت دے هسې نه چې په ناپوهئ کښې یا قصداً دَ هغهٔ خلاف ګناه ونهٔ کړو.

* په لاندې ورکړے شوؤ اوؤ ګناهونو کښې یو څو داسې ګناهونه دی کوم چې صرف یو ایماندار کولے شی. اؤ باقی ګناهونه غیر ایماندار کوی. خو په دې کښې فرق کول ډیر ګران دی، ځکه چې په دې کښې بالکل فرق نشته. دَ ایماندار یا غیر ایماندار نه دا ګناه کیدے شی.

### ۱- دَ انسان دَ ګُستاخئ په وجه دَ روح خلاف کُفر وئیل

روح القدس پسې کُفر وئیل یو داسې ګناه ده چې بخښنه یې نشته.

متی ۱۲: ۳۱، ۳۲ "نو زهٔ تاسو ته دا وایم چې یوه ګناه اؤ یو کفر داسې نشته چې دَ بنی آدم بخښلے نهٔ شی، خو هغه کفر چې دَ روح القدس برخلاف لګولے شوے وی، به معاف نهٔ شی".

دې ته داسې ګناه وئیلې شی چې معافی یې نشته، دا دَ ټولو نه خرابه ګناه ده کومه چې په دې دنیا کښې ممکنه ده.

دَ روح القدس کار دَ شیطان کار ګڼل دَ روح القدس برخلاف کفر وئیل دی.

دَ مرقوس په ۳: ۲۲- ۳۰ کښې عیسیٰ مسیح دَ روح القدس په طاقت سره پیریان وویستل. خو دَ شرعې عالمانو وئیل چې عیسیٰ مسیح دَ ابلیس په طاقت سره معجزې کوی. دا کفر دے.

خبردار! چې دَ روح القدس کار ته سپک ونۀ ګورئ. دا یوه ډیره سخته معامله ده. دَ فنے (finney) په خبره باندې غور وکړئ "کۀ چرې مونږ یو داسې خبره کوؤ یا یې چاپ کوؤ چې دَ هغې سره دَ خدائ پاک دَ کار قدر اؤ قیمت کمیږی نو دې سره روح القدس خفه کیږی. خو کله چې دَ خدائ پاک دَ یو کار ذکر سپک انداز سره کیږی اؤ دَ هغۀ دَ نوم په مطابق ورته جلال نۀ ملاویږی نو دې سره روح القدس خفه کیږی. کۀ چرې په یو ځائ کښې دَ بیداریٔ ذکر کیږی نو صرف دَ صفا اؤ واضحه حقیقت بیان وکړئ اؤ دَ هغې هم هغه قدر اؤ قیمت څرګند کړئ کوم چې دَ حقیقت نه ډک وی".

## ۲- دَ انسان دَ تکبر په وجه دَ روح القدس سپک والے

عبرانیان ۱۰: ۲۹ "نو خیال وکړئ چې هغه څوک به څومره دَ زیاتې سزا لائق وګرځی چې دَ خدائ زوئ یې رد کړلو، اؤ دَ وعدې وینه یې چې هغه پرې پاک شوے وو هغه یې ناپاکه وګڼله، اؤ دَ فضل روح یې بې عزته کړو".

روح القدس دَ عیسیٰ مسیح دَ کفارې کار ګناه ګارانو ته پیش کوی. کۀ چرې ګناه ګار دَ دې منلو یا قبلولو نه انکار کوی نو دې سره دَ روح القدس بې عزتی کیږی.

په رد کولو کښې ګناه ګار روح القدس ته دا وائی چې دَ عیسیٰ مسیح ټول کار صرف دوکه یا دروغ دی. اؤ دَ خدائ پاک په وړاندې دَ خلاصون یوه بله منصوبه پیش کوی. (یعنې خپلو عملونو سره خلاصون).

داسې کس دَ عیسیٰ مسیح مرګ ته یو عام مرګ اؤ دَ یو معمولی انسان مرګ وائی. دَ عیسیٰ مسیح دَ اُلوهیت نه انکار کول اؤ دَ هغۀ دَ قیمتی وینې نه انکار کول دَ روح القدس دَ ګواهئ سپک والے دے. اول یوحنا ۵: ۸.

## ۳- دَ انسان نافرمانئ سره روح خفه کيږی

**يشعياه ۶۳: ۹، ۱۰** "...... **هغوئ دَ هغهٔ پاک روح خفه کړو**".

دا برښه دَ بنی اسرائيلو دَ نافرمانئ اؤ دَ خدائ نه وروستو کيدو سره تعلق ساتی. خو دَ خدائ اُصول کله هم نهٔ بدليږی. نن هم انسان هغه شان سرکشه، باغی اؤ دَ پاک روح نافرمانه دے.

لږ سوچ وکړئ دَ کومو خلقو چې خدائ پاک فديه ورکړې ده، خلاص کړی يې دی، نو په هغوئ کښې چې کوم روح اوسيږی اؤ دَ هغهٔ نه باغيان شی اؤ هغه خفه کړی نو دا څومره خرابه خبره ده. کهٔ چرې دَ دياتنداریٔ نه کار واخلو نو دا خبره به قبوله کړو چې په روحانی طور باندې څنګه جوړيدل زمونږ له طرفه دی.

ځنې وخت روح زمونږ دَ باطن ګندګی اؤ خرابوالے ښکاره کوی. خو مونږ دَ شکر ګزار کيدو په ځائ سرکشه اؤ باغيان شو اؤ ضروری اقرار کولو ته نهٔ تياريږو. دَ روح دَ خفه کولو جرړه زمونږ بغاوت دے اؤ دا شکايت اؤ ګويدو کولو سره پيدا کيږی.
هغه مونږ له په ژوند کښې اؤ دَ مسيح په بدن (جماعت) کښې يو خاص مقام راکوی. دَ دې مقام نه انکار کولو سره اؤ هر وخت ګِلو مانو کولو سره دَ روح القدس خفګان په ځائ دے.

هغه بيا بيا خبردارے ورکوی، بې شميره برکتونه ورکوی، اؤ رڼا اؤ علم ورکوی. دَ دې په باوجود کهٔ مونږ بدی کوؤ اؤ په هغهٔ ځان ناغرضه کوؤ نو يقيناً چې روح القدس خفه اؤ مايوسه کيږی.

راځئ چې مونږ هغهٔ ته غوږ کيږدو، دَ هغهٔ تابعدار شو اؤ دَ هغهٔ فرمانبرداری وکړو. دا قيمتی روح القدس هيڅ کله هم مهٔ خفه کوئ. راځئ چې مونږ خپل بغاوت پريږدو اؤ کومه بخښنه اؤ برکت چې هغه ورکول غواړی هغه قبول کړو.

## ۴- انسان دَ خپلې بې عقيدې په وجه دَ هغهٔ مخالفت کوی

**اعمال ۷: ۵۱** "..... تاسو هميشه دَ روح القدس سره جنګيږئ لکه چې ستاسو پلارونو نيکونو کول!"

کله چې مونږ دَ خدائ پاک په کلام شک کوؤ نو دا مونږ روح القدس سره جنګيږو. عبرانيان ۳: ۱۹ "..... هغوئ ځکه داخل نهٔ شول چې ايمان يې راوړے نهٔ وو".

دَ بې عقیدې په وجه انسان مخالفت کوی.

اکثر روح القدس زړۀ اؤ ضمیر دَ صحیح اؤ نیک کار کولو دَ پاره را ژوندے کوی. خو کله چې مونږ قصداً دَ هغۀ خواست اؤ دَ هغۀ لار ښودنه رد کوؤ نو دَ بې عقیدې ښکارنه کوؤ.

ځنې وخت روح مونږ له زورنه راکوی چې یو کس سره خبرې وکړو یا یو ګناه پرېږدو، زیرے ورکوؤنکے جوړ شو، دَ نورو نه جدا ژوند تیر کړو، دَ غریبانانو مدد وکړو، خو دَ تابعدارئ په ځائ دَ هغۀ دَ هدایاتو مخالفت کوؤ.

دَ خدائ پاک کلام مونږ له داسې خبردارے راکوی: پیدایښت ۶: ۳ "زما روح به انسان سره همیشه مزاحمت نۀ کوی". کۀ چرې مونږ تش مخالفت کوؤ نو خدائ پاک به مونږ خپلو باطلو خیالونو ته پرېږدی. رومیان ۱: ۲۸.

کۀ چرې مونږ غواړو چې زمونږ په زړونو دې دَ روح پوره قبضه اؤ اختیار وی نو بیا مونږ له دَ هغۀ خلاف جنګ کول پرېښودل پکار دی. اؤ کومې بدئ چې مونږ دومره وخت ناپاکه ساتلی یو نو پکار دی چې هغه پرېږدو. اؤ دا بدی ده دَ روح مخالفت کول.

## ۵- انسان دَ خپلې بدنیتئ په وجه روح آزمائی

اعمال **۵**: ۱- ۹ "نو بیا تاسو دَ روح القدس آزمیښت څۀ له کولو".

حننیاه اؤ سفیرې خپلو ورونو له دوکه ورکوله خو په حقیقت کښې هغوئ روح القدس و آزمائیلو اؤ هغۀ ته یې دروغ وئیلی وو. په نورو باندې دَ الزام لګولو په ځائ راځئ چې مونږ دَ خپلو ځانونو جاج واخلو.

کله چې یو کس دَ ورونو په وړاندې دا څرګندوی چې زۀ په پوره زړۀ اؤ په پوره روح سره دَ خدائ تابعداری کوم خو په څۀ قسمه پټه ګناه کښې راګیر وی اؤ دَ خدائ پاک په حضور کښې هم دَ دې اقرار نۀ کوی نو هغه بیا دَ روح دَ آزمائیلو په ګناه کښې اخته دے.

دَ داسې اقرار نه خبردار اوسئ چې دَ خدائ په نسبت انسانانو ته زیات پاک ښکاری.

زبور ۵۱: ۱۰ "اے خدایه! په ما کښې یو پاک زړۀ پیدا کړه". چرته داسې خو نۀ ده چې مونږ په خُله دا اقرار کوؤ چې "زۀ خپل ټول هر څۀ خدائ له ورکوم" اؤ په زړۀ کښې راته معلومه وی چې مونږ منافقت کوؤ؟

دویم بادشاهان ۵: ۲۲- ۲۷. جیحازی دروغ ووئیل اؤ دا سزا ورته ملاؤ شوه چې جزام پرې راغلو. روح القدس ته چرې هم دروغ مۀ وایئ.

هر قسمه منافقت، دوکه بازی، مبالغې کول اؤ دَ نقصان ورکولو دَ پاره هر یو اثر اؤ انسانانو ته هر قسمه دروغ وئیل روح القدس ته دروغ وئیل دی. (آسولډ جے سمت)

## ۶ انسانی تعصُبونه دَ روح اثر ختموی

اول تسالونکیان ۵: ۱۹- ۲۰ "دَ روح القدس دَ اثر دَ لرې کولو کوشش مۀ کوئ". دا ډیر زیات سخت حکم دے. دلته کښې دَ اُور دَ مړ کولو خیال موجود دے چې کله ورته هوا نۀ ملاویږی لکه څنګه چې دَ یشعیاه په ۴:۴ کښې "سوزیدونکے روح".

متی ۱۲: ۲۰ "هغه به چاؤدلې دُرمه قدرې هم نۀ ماتوی، اؤ نۀ به لوګے کیدونکے لیتکے مړ کوی".

افسیان ۲: ۱۲ "..... دَ شیطان دَ شغلو ټول غشی مړۀ کړئ". دَ مړ کولو مطلب دے. زور ورکول. خاموشه کول.

دَ روح القدس خواست مۀ مړ کوئ، مۀ یې خاموشه کوئ.

کله چې هغه دَ کلام په وسیله یا زمونږ دَ ضمیر په وسیله مونږ سره خبرې کوی نو مونږ له دَ هغۀ خبره منل پکار دی بلکه په هر حال کښې منل پکار دی.

کۀ چرې مونږ په خپل ژوند کښې اور مړ کړو نو تشه ایره به باقی پاتې شی. دا هم ممکنه ده چې په ځنې حصو کښې مونږ روح القدس مړ کړو اؤ په باقی حصو کښې دَ هغۀ تابعداری وکړو.

کله چې یو کَس بدلیږی نو کۀ په شروع کښې هغه څۀ غلطی کوی نو روح القدس په اوچت آواز سره اعتراض کوی خو کۀ چرې دَ روح القدس آواز باندې ځان ناغرضه کړے شی نو دَ هغۀ اثر به په قلاره قلاره کم شی، اؤ عن تردې چې آواز به خاموشه شی.

کۀ چرې مونږ په خبرداری باندې غوږ ونۀ ګروؤ نو دې سره زړۀ سختیږی اؤ انجام یې دا وی چې روح القدس مړ شی.

کله چې یو ایماندار گواهی ورکوی اؤ په هغې کښې دَ پاک روح څرگندونه کیږی نو مونږ له پکار دی چې په هغهٔ باندې اعتراض کولو کښې ډیر زیات خیال وساتو اؤ خبردار اوسو. اؤ دَ زیری آؤرِوونکی په حقله هم زمونږ رویه داسې پکار ده، هسې نه چې روح القدس مړ شی.

## ۷- دَ خلقو د بې شرعې کارونو په وجه خفگان

افسیان ۴: ۳۰ "دَ خدائ پاک روح خفه کوئ مه، دَ کوم نه چې په تاسو دَ خلاصون دَ ورځ دَ پاره مهر لگولے شوے دے".
مور پلار په خپلو بچو ډیر زیات اعتماد کوی. خو کله چې هغوئ غلاگانې اؤ نور غلط کارونه کوی نو دې سره هغوئ ډیر زیات خفه کیږی.
پاک روح په مونږ باندې یقین کوی چې مونږ به دَ گناه مقابله اؤ دَ مالک خدائ تابعداری کوؤ، خو کهٔ چرې مونږ ناکامه پاتې شو نو هغه ډیر زیات خفه وی. زمونږ دَ انکار یا دَ ناکامئ په وجه دَ پاک روح اعتماد په مونږ باندې ختمیږی، اؤ هغه مایوسه کیږی. پاک روح دَ یوې نازکې کونترې په شکل کښې ښودلے شوے دے.
پاک روح اکثر دَ پاکانو دَ سپکو اؤ فضول خبرو سره خفه کیږی. ورپسې آیت (افسیان ۴: ۳۱) دا وائی "دَ هر قسم تریخوالی، قهر، غضب، شور زوږ، بد خواهش بد خویونه دې له تاسو نه لرې وی".
بدې خبرې خو یو طرف ته کړه، پاک روح خو په فضول اؤ بې فائدو خبرو کښې هم حصه نهٔ اخلی. راځئ چې مونږ په خپلو شونډو باندې قابو وساتو. مونږ گناه سره لوبو کولو نه اؤ دَ روح القدس خفه کولو سره صبرناک نهٔ شو جوړیدے. دَ روح القدس نه معمور خلق خوشحاله اؤ سنجیده وی.

### خُلاصه

کهٔ چرې مونږ مخالفت کوؤ نو دَ پاک روح دَ نوی سر نه دَ پیدا کولو په کار کښې خنډ جوړیږو. کهٔ چرې هغه خفه کوؤ نو په خپل ځان کښې دَ هغهٔ استوگنه کولو کښې مداخلت کوؤ. اؤ کهٔ چرې هغه مړ کوؤ نو دَ دې تعلق دَ خدمت کار دَ پاره طاقت ورکولو سره دے. راځئ چې مونږ هر وخت دَ پاک روح سره تعلق، رفاقت اؤ شراکت قائم وساتو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۵۱- دَ روح القدس برخلاف اوؤ ګناهونه کوم کوم دی؟

۲۵۲- دَ کومې ګناه بخښنه نشته؟ وضاحت وکړئ.

۲۵۳- دَ څهٔ بیداریٔ رپورټ ورکولو په وخت په کومه خبره کښې احتیاط کول ضروری دی؟

۲۵۴- دَ عبرانیانو په ۱۰: ۲۹ کښې دَ "روح بې عزته کولو" څهٔ مطلب دے؟

۲۵۵- انسان روح القدس څنګه خفه کوی؟

۲۵۶- دَ روح القدس دَ مخالفت کولو بنیادی وجه څهٔ ده؟

۲۵۷- دَ روح القدس دَ آزمائیلو دوه مثالونه پیش کړئ.

۲۵۸- دَ روح القدس اثر ختمولو کښې بنیادی خیال څهٔ دے؟

۲۵۹- یو مثال ورکړئ چې په یوه خبره کښې دَ روح القدس اثر ختموؤ اؤ په بله کښې نه.

۲۶۰- دَ روح القدس دَ خفه کولو عامه طریقه څهٔ ده؟

# اوؤۀ ويشتم سبق

# دَ روح القدس نه معموره ژوند

## پيژندګلو

* دَ ايمان راؤړلو په وخت ايماندار ته دَ صداقت ژوند ملاويږی يعنې هغه صادق جوړيږی.
* دَ دې نه پس چې کله مونږ دا خبره قبلوو چې مالک خدائ زمونږ دَ ژوند مالک دے، نو زمونږ ژوند يو "دَ خلاصون نه ډک ژوند" جوړيږی. اول کورنتيان ٦: ١٩، ٢٠ "..... تاسو دَ خپل ځان نۀ يئ. ځکه چې خدائ تاسو په بيعه اخستی يئ".
* دَ خلاصون په قربان ګاه باندې مونږ خپل ژوند اؤ خپله منشا مالک خدائ ته سپارو. متی ٢٦: ٣٩. دَ دې نه پس مونږ خپل ځان خالی کوؤ، يعنې هر قسمه بدی اؤ خود غرضی دَ خپل ځان نه لرې کوؤ. خو مونږ په خَلا کښې ژوندی نۀ شو پاتې کيدے. دا ضروری ده چې زمونږ ژوند دَ روح نه معمور وی.
* افسيان ۵: ١٨ "په شرابو کښې مستيګئ مه..... بلکه په روح معمور شئ". دا دَ نوې لوظنامې يو زبردست حکم دے.
* دَ خلاصون موندلو په وخت ايماندار په عيسیٰ مسيح کښې کامل شی. خو دَ روحانی ميراث حد پيژندلو کښې اکثر وخت لږی.
* دَ نوی پيدايښت دَ حقيقت په وسيله هر يو ايماندار ته روح القدس ملاويږی. روميان ٨: ١٦.

* دا ممکنه ده چې روح القدس لکه دَ میلمه په شان په حُجره یعنې میلمه خانه کښې مو کښېنولے وی خو باورچی خانې، دَ خوب کوټې اؤ گودام وغیره ته دَ تلو اجازت نۀ ورکوؤ. نو دغه شان روح القدس خو به په هغه کور کښې موجود وی خو دَ هغه کور مشر به نۀ وی. دَ هغۀ قیام به وی خو مقام به یې نۀ وی.
* کله چې مونږ خپل ژوند هغۀ ته سپارو نو هغه مونږ دَ خپل ځان نه نور هم معموره کوی.
* لوقا ۱۱: ۱۳ "..... نو آسمانی پلار به هغه چا له روح القدس ولې نۀ ورکوی څوک چې یې ترې غواړی؟" دلته کښې ښودلے شوی دی چې مونږ دَ روح القدس دَ معمورتیا دَ پاره دعا وغواړو.
* دَ لوقا انجیل شریف دَ پینتکُست نه ډیره موده وروستو ولیکلے شو. په پینتکُست کښې دَ دې خبرې ذکر شوے دے چې مسیح په مونږ کښې استوگنه کوی، خو دَ لوقا په ۱۱: ۱۳ کښې دَ روح القدس دَ معمورتیا ذکر دے.
* آیا دا دَ نوی پیدایښت نه جدا څۀ قسمه اخلاقی تجربه ده؟ ضروری نۀ ده چې داسې وی، خو دَ خپلې گناه دَ پریښودلو په نسبت خپله مرضی اؤ منشا دَ خدائ پاک تابع کول ډیر گران وی.

## ۱- روح القدس اؤ ایماندار

شاگردانو له په بیت المقدس کښې دَ پینتکُست انتظار کول وو. لوقا ۲۴: ۴۹. دَ اعمالو په ۲: ۴ کښې دا وعده پوره شوه، کله چې روح القدس دَ هغوئ سره

اوسيدو دَ پاره راغلو. په هر يو ايماندار کښې روح القدس اوسيږی، خو په هر يو ايماندار باندې دَ روح القدس اختيار نۀ وی.

دَ ايمان دَ ټولو نه افضل عمل دا دے چې ايماندار په پوره طور خپل ژوند مالک خدائ ته حواله کړی. خپل اختيار بالکل پريږدی. دَ خلاصون دَ پاره دا قدم ضروری نۀ دے، البته دَ روح القدس دَ معمورتيا دَ پاره ضروری دے.

دَ زړۀ معمورتيا هغه وخت حاصليږی کله چې ايماندار په پوره پوهې سره دا منی چې زما په ژوند باندې دَ روح القدس پوره پوره اختيار دے، اؤ هغه دَ ژوند هره يو لمحه په خپل قابو کښې ساتی.

## ۲- دَ روح القدس دَ معمورتيا حاصلولو حکم

آيا دَ روح القدس دَ معمورتيا تجربه صرف دَ رسولانو اؤ دَ استفانوس په شان يو څو خلقو دَ پاره وه؟

دا خو دَ هر يو ايماندار تجربه پکار ده. دَ افسيانو ۵: ۱۸ يو اختيارى حکم نۀ دے.

مونږ له دَ روح القدس دَ نشې نه ډک انسانان جوړيدل پکار دی (ايس- ډی- ګورډن). دَ افسيانو په ۵: ۱۸ کښې په روحانی اؤ جسمانی انسان کښې فرق ښودلے شوے دے. انسان په پوره طور دَ يو بل قسمه طاقت په قبضه کښې دے. يا دَ شرابو (دنياوی) يا دَ روح القدس (آسمانی).

دَ نيل درياب هميشه په مصر کښې بهيږی. خو مصر هر کال په هغې کښې دَ راتلونکی طوفان انتظار کوی. دَ نيل دَ درياب هلته کښې موجودګی يوه خبره ده خو په هغې کښې طوفان راتلل بله خبره ده. کله چې په نيل درياب کښې طوفان راشی نو اوبه ترې بهر راځی نو دې سره مصر زرخيزه جوړيږی. راځئ چې مونږ هم دَ روح القدس دَ طوفان (غولئ) تجربه حاصله کړو. يوحنا ۷: ۳۸، ۳۹.

په اصلی يونانئ ژبه کښې چې کوم يو لفظ استعمال شوے دے نو هغه فعل اَمر جاريه دے، يعنې دَ روح نه معموريږئ. مطلب دا دے چې معموريدل مستقل اؤ جاری وی.

دَ اعمالو په ۲: ۴ کښې پطروس رسول دَ روح القدس نه معمور شو. اؤ بيا دَ اعمالو په ۴: ۸ اؤ ۴: ۳۱ کښې هم. هره ورځ نوې معمورتيا ضروری وی.

## ۳- هر یو کس له دَ روح القدس نه معموریدل پکار دی

په عیسیٰ مسیح کښې هر یو ایماندار له دَ روح القدس نه معموریدل پکار دی. دا معمورتیا دَ رسول، وعظ کوؤنکی، زیری آؤروونکی، پلار، مور، وړوکی، لوئ، مزدور، مالک ټولو دَ پاره ده.
په دې کښې زمونږ فائده ده چې مونږ ښۀ عیسایان جوړ شو. دَ دې نه بغیر مونږ دَ خپل خدمت دَ پاره دَ مالک خدائ معیار ته نۀ شو رسیدلے.
دَ روح القدس نه معموریدل یو ذاتی برکت دے. خلق په ذاتی طور باندې بچ کولے کیږی اؤ دَ روح القدس نه معموریږی.
دا ضروری ده چې مونږ په ذاتی طور معمورتیا حاصله کړو. زۀ به په ذاتی طور باندې خدائ پاک ته مخامخ کیږم.
خو تر څو پورې چې مونږ په پوره طور دَ روح القدس تابعداری ونۀ کړو اؤ دَ هغۀ فرمانبرداره نۀ شو، نو هغه زمونږ پوهه نۀ شی روښانه کولے. اؤ نۀ زمونږ په مینه کښې جذبات اؤ زیاتوالے پیدا کولے شی، اؤ نۀ زمونږ زړونه پاکولے شی، اؤ نۀ زمونږ ارادو له طاقت ورکولے شی.

## ۴- جماعت دَ پاره ضروری ده چې هر یو کس دَ روح القدس نه معمور وی

څنې وخت دَ روح القدس دَ معمورتیا په نوم باندې ډیر دَ بې وقوفئ اؤ دیوانئ اؤ دَ حد نه زیات حرکتونه کیږی. نو په دې وجه ډیر ایمانداران دَ روح القدس معمورتیا حاصلولو نه ویریږی.
څنې خلق وائی چې پردئ ژبې وئیل دَ روح القدس نه دَ معمور کیدو ثبوت دے. دا خبره بالکل غلطه ده، ځکه چې پردئ ژبې وئیل دَ غیر ایماندارانو دَ پاره نخښه ده چې انجیل شریف ژوندونونه بدلوی. اول کورنتیا ۱۴: ۲۲.
جماعت ته دَ داسې خلقو ضرورت دے چې هغوئ دَ روح القدس نه معمور وی. کۀ چرې معمورتیا نۀ وی نو په جماعت کښې به بې اتفاقی، جګړې، جدائی، حسد، غیبت اؤ په یو بل الزامونه لګول عام شی.

په جماعت کښې هر يو کس له دَ روح القدس نه معموريدل پکار دی. په دې کښې پادريان، مشران، ډيکن، دَ سنډے سکول استاذان، دَ کوائر غړی اؤ عام کسان شامل دی.

## ۵- دنيا دا اُميد لری چې ايماندار به دَ روح القدس نه معمور وی

زمونږ دَ مسيحی چال چلن دوه اړخونه دی (۱) دَ خدائ په حقله اؤ (۲) دَ نورو انسانانو په حقله.

دنيا دا اُميد لری چې هر يو مسيحی دې کامل وی. دَ دنيا په دې معيار باندې پوره کيدو دَ پاره دَ هر يو مسيحی دَ پاره دا ضروری دی چې هغه دَ روح القدس نه معمور وی.

کهٔ چرې مونږ دَ روح القدس نه معمور نهٔ يو، نو ښهٔ گواهان نهٔ شو جوړيدے. کهٔ چرې مونږ په جسمانی طاقت سره دَ خدائ پاک دَ کار کولو کوشش وکړو نو دَ مايوسئ اؤ ناکامئ نه علاوه به مونږ ته هيڅ هم ملاؤ نهٔ شی.

دَ روح القدس نه معمور ايماندار چې دَ دنيا په نزد مرگ ژوند تيروی. هغه دَ مالک خدائ په لاسونو کښې يو اثر ناکه وسيله ده چې دَ هغې په وجه هغه گناه گاران مجرمان کوی اؤ قائل کوی يې.

## ٦- دَ روح القدس نه دَ معمورتيا دَ پاره شرطونه

معافی: اعمال ۲: ۳۸ "توبه گار شئ اؤ په تاسو کښې هر يو دې دَ خپلو گناهونو دَ معافئ دَ پاره دَ عيسیٰ مسيح په نوم بپتسمه واخلی اؤ تاسو ته به روح القدس وبخښلے شی". زبور ۲۲: ۱۸ "روح القدس دَ گناه سره نهٔ شی پاتې کيدے".

زامن جوړيدل: گلتيان ۴: ۲ "اؤ په دې سبب چې تاسو دَ خدائ زامن يئ خدائ دَ خپل زوئ روح زمونږ زړونو ته راوليږلو".

خواهش: يوحنا ۷: ۳۷- ۳۹ "..... کهٔ څوک تږے وی..... " نور وگورئ يشعياه ۴۴: ۳.

ايمان: يوحنا ۷: ۳۹، څوک چې ايمان راوړی، هغوئ له روح القدس ورکولے کيږی. نور وگورئ گلتيان ۳: ۱۳، ۱۴.

تابعداری: اعمال ۵: ۳۲ هغه خپل روح هغوئ له ورکوی څوک چې يې حکم منی.

انتظار: لوقا ۲۴: ۴۹؛ اعمال ۱: ۴ "تاسو دَ پلار دَ وعدې تر پوره کيدو پورې خامخا انتظار وکړئ". بې صبره کيږئ مه.

دعا: لوقا ۱۱: ۱۳ روح القدس هغوئ ته ملاويږی څوک يې چې غواړی. نور وګورئ اعمال ۴: ۳۱.

حقيقت خپلول: يوحنا ۱: ۱۲. وغواړئ نو تاسو ته به در کړے شی. لوقا ۱۱: ۹، ۱۰. دَ معمورتيا نعمت قبول کړئ اؤ دَ هغې په مطابق ژوند تير کړئ. داسې عمل کوئ لکه چې دا سودا حقيقی اؤ اصلی ده.

دَ روح القدس نه دَ معموره کيدو راز په دې کښې دے چې مونږ خپل ځان په مکمل طور وسپارو. خپله مرضی، اراده، وجود، خواهشات، کارونه، مطلب دا چې دَ ژوند هره يو معامله په پوره طور مالک خدائ ته وسپارو.

## ۷- دَ روح القدس نه دَ معموره کيدو نتيجې

دَ روح القدس نه معمور شوؤ پاکانو ته په ګواهئ ورکولو کښې ډير لوئ طاقت حاصل وی. اعمال دَ رسولانو ۱: ۸.

دَ فتح مند مسيحی ژوند تيرولو طاقت. اعمال ۲۰: ۲۲- ۲۴. پولوس رسول دَ اِفسوس خلقو ته خطاب کوی.

مالک خدائ ته به يقيناً جلال ملاويږی. يوحنا ۱۲: ۱۴ دَ روح القدس بنيادی خدمت هم دا دے.

دَ پاک ژوند دَ پاره ضروری شرط دا دے چې په هغې کښې روح القدس موجود وی. روح القدس عقل، پوهه، زړهٔ، ارادې اؤ ذات رابيداروی.

په دې دنيا کښې خدائ پاک له دَ عزت ورکولو، دَ هغهٔ دَ تابعدارئ کولو اؤ هغهٔ کښې دَ قائم پاتې کيدو راز دا دے چې مونږ دَ پاک روح نه معمور شو.

### خُلاصه

مونږ دَ ګودام په شان نه بلکه دَ درياب په شان يو. دا ضروری ده چې مونږ دَ غاړو نه بهر راوځو. اؤ برکتونه بهر خوارهٔ کړو. اول نوے پيدا ايښت، بيا معموريدل اؤ دَ دې نه پس سيندونه شروع کيدل. بائبل مقدس دَ دې يو ډير ښکلے تصوير پيش کړے دے. دَ روح القدس دَ کار تصويرونه:

(۱) بهیدونکې چینه. یوحنا ۴: ۱۴

(۲) بهیدونکی سیندونه. یوحنا ۷: ۳۷- ۳۹.

یاد ساتئ چې دَ روح القدس نه معموره کیدل داسې تجربه نۀ ده چې صرف یو ځل حاصلیږی. دَ دې خبرې ضرورت دے چې مونږ هره ورځ دَ روح القدس نوې تجربه حاصله کړو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۶۱- دَ افسیانو په ۵: ۱۸ کښې بښۀ اؤ منفی تعلیم موجود دے. دَ دې بیان وکړئ.

۲۶۲- آیا مونږ له دَ لوقا دَ ۱۱: ۱۳ دعا غوښتل پکار دی؟ ولې؟

۲۶۳- آیا نوے پیدایښت اؤ دَ روح القدس نه معموره کیدل یو ځائ پیښیږی؟ ولې؟

۲۶۴- په ایماندار کښې دَ روح القدس اوسیدو اؤ دَ روح القدس نه معموره کیدو کښې څۀ فرق دے؟

۲۶۵- دَ افسیانو ۵: ۱۸ نه کوم یو ذهنی تصویر مونږ ته ښکاره کیږی؟

۲۶۶- آیا نن سبا دَ خلقو ډلو ته دَ روح القدس نه معمورتیا حاصلیږی، یا یو یو کس ته؟ ولې؟

۲۶۷- آیا پردئ ژبې وئیل دَ روح القدس نه دَ معموره کیدو ثبوت دے؟ ولې؟

۲۶۸- پاکان څنګه دَ غیر ایماندارانو دَ توقعاتو په مطابق ژوند تیرولے شی؟

۲۶۹- دَ روح القدس دَ معمورتیا نهه شرطونه بیان کړئ.

۲۷۰- دَ روح القدس دَ معمورتیا شپږ اثرونه یا نتیجې بیان کړئ.

# اتۀ ویشتم سبق

# دَ روح القدس بپتسمه

## پیژندګلو

* په انجیل شریف عقیده لرونکی مسیحیانو اؤ دَ علمِ الٰهیاتو په ماهرانو کښې په دې مسئله باندې ډیر زیات اختلاف موجود دے.
* زمونږ اُمید دے چې دا سبق به تاسو په پریشانئ کښې نۀ اچوی بلکه تاسو ته به دَ دې ګرانې اؤ سختې مسئلې وضاحت کوی.
* شیطان دا مسئله په عیسایانو کښې جدائی راوستلو دَ پاره ډیره زیاته استعمال کړې ده، حالانکه دَ روح القدس اصلی کار په عیسایانو کښې اتفاق پیدا کول دی.

## ۱- دَ دې عقیدې مختلف وضاحتونه

### ا- دَ دې مطلب په اول ځل دَ روح القدس نه معموریدل دی.

دَ دې تفسیر په مطابق "دَ روح بپتسمه"، "دَ روح معمورتیا"، "دَ روح القدس نعمت" دا ټول یو شان مطلب ورکوی.

خو مونږ دا ایمان لرو چې دَ دې مطلبونه یو شان نۀ دی. بپتسمه اؤ معمورتیا بالکل جدا جدا معنی لری. دَ بپتسمې مطلب دے په څۀ څیز کښې ډوبول(غوپه کول). دَ معمورتیا مطلب دے په یو کس کښې څۀ اچول.

دا نظریه اعمال دَ رسولانو ۲: ۴ کښې دَ پینتکست دَ قیصې نه په وده شوې ده، چرته چې هغوئ دَ روح القدس نه معمور شول اؤ په پردو ژبو یې خبرې شروع کړې. دَ اعمالو دَ ۱۰: ۴۴- ۴۶ نه هم دې نظریې ته مرسته ملاویږی.

دَ دې جواب دا دے چې پینتکُست دَ روح القدس دَ دور شروع وه اؤ ټول هر څۀ په یو ځائ شوی وو.

دَ دې مطلب پردئ ژبې وئيل دی. دا خبره صحيح ده چې په څلورو موقعو باندې داسې وشول. دَ دې مقصد دا وو چې مختلف ډلې را يو ځائ کړی. دَ اعمالو په دويم باب کښې دَ پينتکُست په موقعه په پردو ژبو کښې خبرو کولو واله خلق هغه وو چا چې له يهوديانو نه ايمان راؤړے وو.

- اعمال ۸: ۱۷ کښې د سامريانو د ايمان راوړلو تصديق وکړے شو.
- اعمال ۱۰ : ۴۴ کښې روح القدس غير قومونه قبول کړل.
- اعمال ۱۹ : ۱- ۷ څلورمه ډله د يحيیٰ بپتسمه ورکوؤنکی شاګردان وو.

د انجيل (زيری) وعظ په (۱) بيت المقدس (۲) يهوديه (۳) سامريه (۳) اؤ په غيرو قومونو کښې کيدل وو. اؤ دا څلور واړه واقعې ډير په ښکلی انداز سره دې ترتيب سره سمون لری.

پينتکُست دَ برترئ دور وو، کوم چې د يحيیٰ بپتسمه ورکوونکی نه کم از کم د اعمالو تر نولسم بابه پورې دے. د هغه وخت نه څلور واړه ډلې ښۀ طريقې سره يوځائ شوې وې.

مونږ دا تفسير په دې بنياد باندې رد کوؤ چې هغه دَ برترئ دور خو ختم شوے وو.

## ب- دا دَ نوی پيدا ايښت نه پس دَ فضل دويم کار دے.

دا نظريه دَ خدائ دَ عظيمو کسانو مثال په طور دَ موډی، ټوری اؤ فنی په شان دَ کسانو په تجربو باندې قائمه کړے شوې ده، حالانکه هغوئ ته دَ نوی پيدا ايښت نه علاوه نورې خاص اؤ واضحه تجربې حاصلې شوې دی.

دَ دې په ثبوت کښې دَ اعمالو ۸: ۱۵ ، ۱۲ په شان حوالې پيش کولے کيږی. خو دَ دې جواب دا دے چې تر هغه وخته پورې دَ برترئ دور نۀ وو ختم شوے. اعمال ۱۹ : ۱ ، ۲.

خو اوس حالانکه دَ شريعت نه تر فضل پورې، دَ زوئ دَ دور نه تر روح القدس دوره پورې دَ برترئ وخت پوره شوے دے، نو اوس داسې نۀ کيږی.
دَ انسانانو په تجربو باندې دَ يو عقيدې بنياد کيښودل ډيره خطرناکه خبره ده.

### ج- دَ دې تعلق صرف پینتکُست سره دے. بهرحال دا نن زمونږ دَ پاره نۀ استعمالیږی.

په نننۍ زمانه کښې اکثر دَ غټو غټو جماعتونو خیال هم دا دے. نو دغه شان هغوئ دا عقیده رد کوی اؤ دَ کلام تعلیم باندې بالکل ځان ناغرضه کوی.
هغوئ ظاهری څرګندونې مثال په طور پردئ ژبې رد کوی. دغه شان هغوئ دَ دې عقیدې رد کولو آخری حد ته رسی. دا هم بالکل غلطه ده.
دا خبره صحیح ده چې دَ یوایل ۲: ۲۸- ۳۲؛ متی ۳: ۱۱؛ مرقوس ۱: ۸؛ لوقا ۳: ۱۶؛ یوحنا ۱: ۳۳ اؤ اعمال ۱: ۵ په شان دَ نبوت حصې په پینتکُست باندې پوره شوې.
البته دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط ۱۲: ۱۳ اؤ دَ افسیانو دَ ۴: ۵ په شان دَ حوالو په رڼا کښې مونږ دا یقین لرو چې "دَ روح بپتسمه" نن هم زمونږ دَ پاره ضروری ده.

### ه- دَ دې نه مطلب هغه بپتسمه ده دَ کوم ذکر چې دَ متی په ۳: ۱۱ کښې یحییٰ بپتسمه ورکوؤنکی کړے وو اؤ دا نن هم خلقو ته ملاویږی.

دا نظریه "دَ روح مسح کول" اؤ دَ "روح بپتسمه" ګڼړوی. دا نظریه وائی چې دَ نوی پیدایښت نه پس په دې خاص تجربه کښې به عیسیٰ مسیح په خپله یو کس له روح القدس سره بپتسمه ورکوی.

دَ دې نظریې په مطابق دَ روح القدس بپتسمه به په هغه وخت کښې کیږی کله چې دَ زبور ۴۵: ۷، ۸ شرطونه پوره شی، یعنې صداقت سره مینه اؤ بدئ نه نفرت کول.

خو دا حواله دَ روح القدس بپتسمې سره نه، بلکه دَ روح مسح کولو سره تعلق ساتی. وګورئ لوقا ۴: ۱۸؛ اؤ اول کورنتیان ۱۲: ۱۳.

## ۲- دَ دې عقیدې صحیح تفسیر

زما یقین دے چې دَ دې عقیدې واحد بیان دَ کورنتیانو په نوم دَ اولنی خط په ۱۲: ۱۳ کښې موجود دے. "ځکه چې مونږ ټول کۀ یهودیان یو کۀ یونانیان، کۀ غلام یو کۀ آزاد، مونږ ټول په یو روح بپتسمه شو چې دَ یو بدن په یو والی کښې داخل شو، اؤ خدائ زمونږ ټولو په زړونو کښې یو روح واچولو".

دَ متی ۳: ۱۱؛ مرقوس ۱: ۸؛ لوقا ۳: ۱۶؛ یوحنا ۱: ۳۳ اؤ اعمالو ۱: ۵ دا پنځۀ واړه پیشن ګویانې دَ پینتکُست په انتظار کښې وې اؤ لږې ورځې پس په مکمل طور پوره شوې.

دَ اول کورنتیانو په ۱۲: ۱۳ کښې دَ زمانې فعل په ماضی کښې استعمال شوے دے بهرحال دَ داسې تجربې بیان کوی کومه چې پوره شوې ده. روح القدس دا کار دَ نوی پیدا ښت په موقعه کوی.

روح القدس دَ نوی پیدا ښت په وخت باندې نوے مُرید دَ مسیح په نالیدونکی بدن کښې شاملوی. دَ عیسیٰ مسیح په نالیدونکی بدن کښې شاملیدل زمونږ دَ پاره دَ روح القدس بپتسمه ده.

په خطونو کښې چرته هم دا نصیحت نۀ دے شوے چې مونږ دَ روح القدس دَ بپتسمې اخستلو کوشش وکړو. حالانکه دا یو داسې تجربه ده کومه چې شوې ده، نو په دې وجه مونږ له دَ دې په حقله دَ فکر کولو یا دَ پریشانه کیدو ضرورت نشته.

دَ دې په ځائې مونږ ته دا نصیحت شوے دے چې "دَ روح القدس نه معمور شو"، "روح القدس مۀ خفه کوئ"، "دَ روح القدس اثر مۀ ختموئ".

دَ اعمالو په ۲: ۱-۴ کښې دَ پینتکُست تجربه دَ یو نوی دور شروع کول وو.

اول کورنتیان ۱۲: ۱۳ نه څلور حقیقتونه معلومیږی.

(۱) دَ ټولو ایماندارانو بپتسمه شوې ده "مونږ ټولو......بپتسمه واخسته".

(۲) دا تجربه دَ تیر شوی وخت سره تعلق ساتی. دا یو داسې تجربه ده چې مونږ ترې نه فائده اخستې ده.

(۳) دَ دې بپتسمې مقصد ایماندار په "یو بدن کښې" شاملول دی.

(۴) دا ایمانداران را یو ځائې کوی، اؤ دَ رنګ، نسل ټول فرق ختموی.

## ۳- دَ افسیانو دَ ۴: ۵ "یوه بپتسمه" څۀ ده؟

افسیان ۴: ۵ "یو مالک دے، یو ایمان، یوه بپتسمه".

ځنې خلق وائی چې کم از کم دوه بپتسمې دی. دَ اوبو اؤ روح بپتسمه. دلته کښې دَ دې مطلب کومه یو بپتسمه ده؟

دَ اول کورنتیانو ۱۲: ۱۳ په رڼا کښې دَ خدائ په نزد دَ روح بپتسمه حقیقی بپتسمه پکار ده. دَ اوبو بپتسمه دَ جماعت یو ضروری پاک رسم دے. اؤ دَ دې خبرې دنیاوی نخښنه ده چې دَ اول کورنتیانو ۱۲: ۱۳ بپتسمه مخکښې شوې ده.

دَ روح حقیقی بپتسمې نه دَ افسیانو ۵: ۳۰ ښکاره کیږی چې "ځکه مونږ دَ هغهٔ دَ بدن اندامونه یو" یعنې دَ هغهٔ دَ غوښې نه غوښنه یو اؤ دَ هغهٔ دَ هډوکو نه هډوکی.

## ۴- دَ روح القدس دَ بپتسمې خاکه

دا اولنے کار دے چې دَ خلاصون په وخت کښې کیږی. دَ یو روح په وسیله دَ یو بدن جوړیدو دَ پاره مو بپتسمه واخسته " اول کورنتیان ۱۲: ۱۳؛ پطروس ۳: ۲۰، ۲۱؛ تیطوس ۳: ۵. په بائبل مقدس کښې صرف یو ځائ کښې دَ روح القدس دَ بپتسمې وضاحت شوے دے. اؤ هغه دَ رومیانو په ۶: ۳- ۱۱ کښې.

- په عیسیٰ مسیح کښې دَ ژوندی ایمان دَ یو عمل سره ایماندار:-

(۱) دَ روح نه پیدا کیږی (دَ تل عمری ژوندون شروع) یوحنا ۳: ۳- ۸.

(۲) روح ضمانت دے (دَ پوره والی لوظ) افسیان ۱: ۱۴؛ دویم کورنتیان ۱: ۲۲؛ ۵:۵.

(۳) دَ روح مهر لری (دَ دې دَ جاری پاتې کیدو یقین) افسیان ۱: ۱۳؛ ۴: ۳۰.

(۴) روح په هغوئ کښې اوسیږی (په ایماندار کښې دَ تل ژوندون پاتې کیدل) رومیان ۸: ۹.

(۵) په یو بدن کښې دَ داخلیدو بپتسمه اخلو (په مسیح اؤ ایماندارانو کښې دَ تعلق قائمولو عمل) اول کورنتیان ۱۲: ۱۳.

## ۵- دَ رومیانو دَ ٦: ۳- ۱۱ په مطابق دَ بپتسمې وضاحت

(۱) په مرګ کښې دَ شاملیدو بپتسمه. رومیان ٦: ۳. "زهٔ دَ مسیح سره په سولئ شوم". ګلتیان ۲: ۲۰.

(۲) په ښخیدو کښې دَ شاملیدو بپتسمه رومیان ٦: ۴. دَ هغهٔ بدن سره پوره یو کیدل.

(۳) دَ هغهٔ په قیامت کښې دَ شاملیدو بپتسمه رومیان ٦: ۵. دَ هغهٔ دَ نوی بدن سره پوره تعلق.

(۴) دَ هغهٔ په راژوندی شوی ژوند کښې دَ شاملیدو بپتسمه رومیان ٦: ۸ "دَ هغهٔ سره به ژوندی کیږو هم" یعنې دَ هغهٔ په بدن کښې به راژوندی کیږو.

اول کورنتیان ۱۲: ۱۳ تجربه دَ خلاصوؤنکی سره دَ پوره تعلق ساتلو تجربه ده.

## خُلاصه

کولوسیان ۲: ۱۰- ۱۲ دَ روح بپتسمې سره مونږ په نوی اؤ راژوندی شوی بدن کښې کامل جوړیږو. دَ پینتکُست په ورځ کله چې روح القدس په ایماندارانو کښې دَ اوسیدو دَ پاره راغلو نو شاګردانو دَ روح بپتسمه واخسته، هغوئ روح سره مسح شول اؤ دَ روح نه معمور شول.

پینتکُست یوه خاص تاریخی واقعه وه چې بیا به هیڅ کله هم دوباره راپیښه نهٔ شی. دا دَ روح دَ نازلیدو ورځ وه. په هغه ورځ هغهٔ خپلې ټولې مرتبې حاصلې کړې. مونږ دَ نوی پیدا ایښت په وخت دَ روح القدس بپتسمه اخلو. دَ خدمت دَ پاره مونږ له دَ اعمالو دَ ۱: ۸ مسح کول پکار دی، دَ دې دَ پاره چې مونږ طاقت حاصل کړو اؤ دا ضروری ده چې مسلسل دَ روح نه معمورتیا حاصله کړو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۷۱- دَ روح القدس دَ بپتسمې په حقله پنځهٔ نظریې بیان کړئ.

۲۷۲- دَ روح القدس په بپتسمه اؤ دَ روح القدس په معمورتیا کښې څهٔ فرق دے؟

۲۷۳- پردئ ژبې وئیل ولې دَ روح بپتسمه نهٔ ده.؟

۲۷۴- آیا په دې موجوده وخت کښې دَ روح القدس بپتسمه ممکنه ده؟ ولې؟

۲۷۵- آیا په پنځهٔ څلویښتم زبور شریف اؤ دَ هغې په اوؤم اؤ اتم آیتونو کښې دَ روح القدس دَ بپتسمې شرطونه ورکړے شوی دی؟

۲۷۶- دَ روح القدس دَ بپتسمې صحیح تفسیر بیان کړئ.

۲۷۷- دَ افسیانو په ۴: ۵ کښې دَ "یوې بپتسمې" وضاحت وکړئ.

۲۷۸- د روح القدس دَ بپتسمې دَ خاکې اهم خبره کومه یو ده؟

۲۷۹- په عیسیٰ مسیح کښې دَ روح دَ بپتسمې څهٔ مطلب دے؟

۲۸۰- دَ روح القدس دَ بپتسمې په مطابق دَ کولوسیانو د ۲: ۱۰- ۱۲ وضاحت وکړئ.

# یوکم دیرشم سبق

# دَ روح القدس میوه اؤ نعمتونه

## پیژندګلو

* دَ روح القدس په اثر اؤ میوو کښې واضحه فرق دے.
* اثر دَ روح دَ خدمت نیغ په نیغه نتیجه ده.
* میوه دَ روح القدس په مونږ کښې دَ اوسیدو اؤ زمونږ دَ خپل ځان سپارلو نتیجه وی.
* دَ ګلتیانو په ۵: ۱۷- ۲۳ کښې دَ بدن دَ کارونو اؤ دَ روح دَ میوؤ ذکر شوے دے.
* دَ بدن کارونه (په شمیر کښې ۱۷) دَ حضرت آدم یعنې دَ زوړ فطرت فطرتی نتیجه ده.
* دَ روح میوه دَ دې خبرې نتیجه ده چې روح القدس په نوی ژوند کښې کار کوی.
* دَ روح میوه (په شمیر کښې ۹) په واحد صیغه کښې استعمال شوی دی. دَ دې مقصد دَ میوې وحدانیت بیانول دی. تر څو پورې چې دا نهه واړه موجود نۀ وی نو دا میوه نیمګړې ده.
* یو مسیحی تر هغه وخته پورې کامل نۀ شی جوړیدے تر څو چې دا نهه واړه میوې دَ هغۀ په ژوند کښې نۀ وی.

## ۱- دَ روح میوه

**ا- دَ میوو قسمونه**: دَ ګلتیانو په ۵: ۲۲- ۲۳ کښې نهه الٰهی نعمتونو ته یو میوه وئیلے شوې ده.

(۱) مینه: دا الٰهی مینه ده اؤ په ایماندار کښې دَ استوګنې کولو دَ خدائ پاک صفت دے. اول یوحنا ۴: ۱۶؛ اول کورنتیان دیارلسم باب.

(۲) خوشحالي: دا دَ دنیا خوشحالی نۀ ده بلکه یوه پټه اؤ ژوره خوشحالی ده. فیلیپیان ۴:۴.

(۳) سلامتي: دا دَ خدائ پاک سلامتی ده چې روح په پوره طور سره سلامت ساتی. کولوسیان ۳: ۱۵.

(۴) زغم: (صبر- برداشت): جسمانی انسان ډیر بې صبره وی. خو پاکان داسې نۀ وی.

(۵) مهرباني (شفقت): عیسیٰ مسیح دَ خپلې مهربانئ په وجه مشهور وو.

(۶) نیکي: دې نعمت سره مسیحی ژوندون دَ ښۀ کارونو نه ډک جوړیدے شی.

(۷) ایمانداری (وفاداری): مسیحی هر وخت دَ اعتبار اؤ اعتماد قابل وی.

(۸) عاجزی (نرم مزاجی): ایماندار عاجزه اؤ حلیم وی. دا زمونږ یو خاص صفت پکار دے. دویم تیموتیوس ۲: ۲۵.

(۹) پرهیزګاری (خپل نفس قابو کښې ساتل): په خوراک څښاک، فیشن اؤ عادتونو اؤ رسم رواجونو کښې دَ عدل نه کار اخستل.

دا نهه دَ وجود دَ خرابو کارونو بالکل خلاف کارونه دی. دا نهه خبرې په عیسیٰ مسیح کښې په ډیرې ښې طریقې سره ښکاره شوې دې، ځکه چې هغه دَ روح القدس نه معمور وو.

**ب- ميوه دَ مرګ ثبوت دے**: يوحنا ۱۲: ۲۴ "دَ غنمو يو دانه تر هغې يوه دانه وى تر څو چې هغه په خاؤرو کښې پرې نۀ وځى اؤ خاؤرې نۀ شى، خو کۀ هغه خاؤرې شى نو دَ هغې نه ډيرې دانې راوټوکيږى".

کۀ چرې مونږ عيسىٰ مسيح سره مړۀ نۀ شو نو صرف جسمانى کارونه به کوؤ. جسمانى کارونه دَ زوړ ژوند ثبوت دے.

ډير خلق ميوه نۀ راؤړى، ځکه چې دَ هغوئ "غرور، زۀ يم" په سولئ شوے نۀ وى. نو دغه شان هغوئ يواځې اوسيږى.

صرف نوے ژوند دَ خدائ پاک جلال دَ پاره ميوه پيدا کولے شى.

**ت- ميوه ضرورى ده**: يوحنا **۱۵**: **۲** "هره شنده څانګه هغه پرې کوى". لوقا **۱۳**: **۹** "کۀ په راتلونکى موسم کښې يې ميوه ونيوله نو ښۀ په ښۀ، ګنى بيا يې وباسه". دَ نوى پيدايښت نه پس په دنيا کښې زمونږ دَ موجودګئ صرف يو مقصد وى اؤ هغه دا چې مونږ ميوه ونيسو.

کوم خلق چې ميوه نۀ راؤړى نو هغوئ دَ ميوه داره خلقو په شان تر ډير وخته پورې دَ ميوؤ نه مزه نۀ اخلى. دَ خدائ په نظر کښې دَ قبليدو دَ پاره ميوه دار جوړيدل ضرورى دى. نو پکار دى چې شنډتوب ختم کړو.

لوقا **۱۳**: **۷** "ګوره دَ تيرو دريو کالو راسې زۀ په دې اينځر کښې دَ ميوې په طمع راځم خو هيڅ په کښې نۀ وى". هغه صرف په روحانى ميوه باندې رضا کيدے شى، بل څۀ څيز سره نه.

يعقوب **۵**: **۷** "زميندار دَ زمکې دَ قيمتى فصل په انتظار کښې..... صبر کوى". مالک عيسىٰ مسيح زمونږ په ژوند کښې دَ حقيقى ميوې په انتظار (ګلتيان **۵**: **۲۲**- **۲۳**) کښې وى.

**د- دَ ميوې نه تعلق څرګنديږى**. متى ۱۲: **۳۳** "ونه په خپله ميوه پيژندلے شى".

دَ شمير په ۱۳: **۲۲** کښې جاسوسانو دَ کنعان دَ ميوو نه دا ثابت کړل چې هغه وطن ډير ښۀ دے. په نوې لوظنامه کښې پاکان صحيح ميوې راوړلو سره دا څرګندوى چې مونږ نوې مخلوق يو.

ظاهرى شکل و صورت اؤ دعوې اؤ اقرارونه ډيره ښۀ خبره ده. خو فيصله کوؤنکې ګواهى خو ميوه ده، چې دا دَ آم ونه ده يا دَ سيؤ. دا پاکه ده يا رياکاره.

دَ متی په ۷: ۱۲- ۲۰ کښې په انګورو کښې اینځر یا ازغی نۀ کیږی. دَ پاکانو نه دَ جسم کارونه څرګندیدل نۀ دی پکار (ګلتیان ۵: ۱۷- ۲۱).

اکثر زمونږ په ژوندون کښې تضاد موجود وی. مونږ کنځل هم کوؤ اؤ دعاګانې اؤ برکت هم غواړو. په مونږ کښې غُصه اؤ تریخوالے هم وی اؤ نرم مزاجه اؤ خواږۀ هم یو. اینځر هم اؤ زیتون هم. یعقوب ۳: ۹- ۱۲. آیا په دې کښې دَ حیرانتیا څۀ خبره شته چې دنیا په هیڅ هم نۀ پوهیږی؟

ه- **دَ میوې مقصد**: متی ۲۱: ۳۴ "هغۀ خپل غلامان..... میوې راوړلو دَ پاره ولیږل" میوه صرف دَ ونې دَ پاره نۀ وی. نور خلق زمونږ نیک کارونو ته ګوری اؤ خدائ له جلال ورکوی. کۀ چرې مونږ صرف ځان دَ پاره میوه پیدا کوؤ، نو دَ خدائ سپک والے کوؤ.

و- **دَ میوې سرچینه**: هوسیع ۱۴: ۸ "تۀ زما نه شتۀ شوې".

دَ هر څۀ سر چینه خدائ دے. یوحنا ۱۵: ۴ "یوه څانګه هم دَ خپله ځانه میوه نۀ شی راوړے تر څو چې هغه دَ انګور دَ بوټی سره پاتې نۀ وی. تاسو هم تر هغې میوه نۀ شئ نیولے تر څو چې تاسو په ما کښې نۀ اوسئ". جسمانی میوه خو نفسانی اؤ ځنګلی ده. پاکان ځکه ډیره میوه نیسی چې دَ هغوئ جرړې په عیسیٰ مسیح کښې مضبوطې قائمې وی. افسیان ۳: ۱۷، ۱۸.

ز- **میوه دَ ودې وسیله وی**: پیدایښت ۱: ۱۱ "اؤ خدائ وفرمائیل چې زمکه دې..... هر قسم بوټی را زرغون کړی، هغه ټول بوټی چې غله اؤ میوه به کوی...... نو هم داسې وشول".

تخم میوه وی. کۀ چرې میوه نۀ وی نو تخم به هم نۀ وی اؤ بوټی به نۀ زیاتیږی. کۀ چرې په مونږ کښې روحانی میوه نۀ وی نو په روحانی طور نوی خلق نۀ شو پیدا کولے. زمونږ ژوند به دَ برکت ناک جوړیدو په ځائ دَ انجیل دَ زیری په خورولو کښې خنډونه جوړ شی.

کولوسیان ۱: ۱۰ "..... په تاسو کښې دې دَ هر قسم نیک کار میوه وشی. اؤ...... په لوئیدو شئ".

آیا مونږ په لوئیدو (نور ایمانداران پیدا کول) شوی یو؟ کۀ چرې نه، نو آیا دا وجه خو نۀ ده چې په مونږ کښې چرې دَ روح میوه شوې نۀ وه؟

## ۲- دَ روح نعمتونه

أ- **دَ نعمتونو قسمونه:** اول کورنتیان ۱۲: ۸- ۱۰. حکمت، علم، ایمان، شفا ورکول، معجزې، نبوت، دَ مختلفو روحونو پیژندل، قسما قسم ژبې وئیل اؤ دَ ژبو تشریح کول.

اول کورنتیان ۱۲: ۲۸. دا نعمتونه انسان دَ دې جوګه کوی چې هغه رسول، نبی، معجزې ښوونکے، شفا ورکوؤنکے، مدد ګار، انتظام کوؤنکے یا ژبې ویونکے جوړ شی.

افسیان ۴: ۱۱- ۱۲ کښې دَ نورو نعمتونو ذکر شوے دے. زیری آؤروونکی، شپونکی.

رومیان ۱۲: ۶- ۸. په دې کښې دا اضافه کوی: نصیحت کول، خیرات ورکول، رهنمائی کول، رحم کول (تقریباً دَ څلیریشتو مختلفو نعمتونو ذکر دے).

ب- **نعمتونه خدائ پاک دَ خپلې مرضئ په مطابق ورکوی.**

اول کورنتیان ۱۲: ۱۱ "خو دا ټول تاثیرونه هغه یو روح کوی اؤ چا ته یې چې غواړی هغهٔ ته یې ورکوی".

روح القدس نوے مرید دَ عیسیٰ مسیح په بدن کښې شاملوی، اؤ په بدن کښې چې یې کوم ځائ مقرروی دَ هغې په مطابق صلاحیتونه هم ورکوی. افسیان ۲: ۲۱، ۲۲.

دَ ځائ خوښول دَ خدائ پاک خاص اختیار دے. دا دَ هغهٔ الٰهی اؤ شاهی مرضی ده. څنګه ځائ چې هغه خوښوی نو دَ هغې په مطابق شکل اؤ صلاحیتونه ورکوی.

ت- **نعمتونه دَ فائدې دَ پاره دی.** اول کورنتیان ۱۲: ۷ "خو هر چا له د روح القدس ظاهریدل دَ ټولو خلقو دَ فائدې دَ پاره ورکړے کیږی". چې هغه کس ډیر غوره اؤ ډیر فائده مند جوړ شی.

ایماندار ته چې کوم نوے نعمت ملاویږی نو دې سره پوره بدن ته فائده ملاویږی. دَ انسان په جسم کښې یو اندام هم بې فائدې نهٔ دے (دَ اپنډ کس هم

خاص کار وی) دغه شان دَ خدائ په بدن کښې هم دَ بدکارو دَ پاره هیڅ ځائ نهٔ وی.
زمونږ دَ نوی پیدا ایښت اؤ دَ بپتسمې په وسیله دَ عیسیٰ مسیح په بدن کښې دَ شاملیدو (اول کورنتیان ۱۲: ۱۳) مقصد صرف دا نهٔ دے چې مونږ دَ دوزخ نه بچ شو، بلکه دا چې مونږ دَ بدن دَ پاره مدد ګار اؤ دَ هغهٔ دَ پاره دَ برکت سبب وګرځو.
تاسو دَ مسیح په بدن کښې دې دَ پاره شامل کړے شوی یئ اؤ دَ روح القدس دَ خاص نعمتونو سره دَ هغې ځکه تصدیق شوے دے چې دا بدن یعنې نالیدونکې جماعت مضبوط وی.

ث- **دَ نعمتونو خواهش لرل پکار دے.** اول کورنتیان ۱۲: ۳۱ "تاسو دې دَ ټولو نه دَ لویو نعمتونو خواهش ولرئ".
مونږ له دا نهٔ دی پکار چې یو یا دوؤ نعمتونو نه مطمئن شو اؤ نور حاصلول پریږدو. پکار دی چې دَ نورو نعمتونو دَ پاره خواهش ولرو. دعا وغواړو دَ دې دَ پاره چې کوم خاص مقام تاسو ته په بدن کښې حاصل شوے دے، نو تاسو دَ هغې دَ پاره نور هم زیات مناسب مدد ګار ثابت شئ.
پولس رسول وائی چې دَ کوم نعمت دَ ټولو نه زیات خواهش کول پکار دی هغه نبوت دے. اول کورنتیان ۱۴: ۱، ۳۹.
متی ۲۵: ۱۴ - ۳۰. چا له یوه تیلئ (نعمت) چا له دوه، اؤ چا له پنځهٔ تیلئ ورکړے شوې. چا له چې پنځهٔ ورکړے شوې وې نو هغهٔ ور سره پنځهٔ نورې هم وګټلې. اؤ چا چې خپله یوه تیلئ په زمکه کښې ښخه کړې وه، نو هغهٔ نه هغه هم واخستے شوه اؤ هغه چا له ورکړے شوه چا سره چې لس تیلئ وې.
(متی ۲۵: ۲۸).
دَ نوی پیدا ایښت په موقعه باندې دا ممکنه ده چې مونږ ته صرف یو یا دوه نعمتونه ملاؤ شی. خو دَ هغهٔ دَ جلال دَ پاره دَ نورو نعمتونو حاصلولو په کوشش کښې یئ.
په ذاتی طور زما یقین دے چې کله ما دَ بائبل سکول تعلیم تر سره کړو نو ما سره صرف یو یا دوه نعمتونه وو، خو په تیرو شوؤ شلو کالو کښې خدائ پاک ما له نور ډیر نعمتونه راکړی دی.

ج- **- چا له چې کوم نعمت مناسب وی نو هغه ورته ملاویږی**
اول کورنتیان ۷ : ۷ "هر چا ته له خدایٔ نه خاص خاص توان ورکړے شوے دے، چا ته څنګه اؤ چا ته څنګه". په عیسیٰ مسیح کښې هر یو ایماندار سره یو نه یو نعمت وی. هغه هیڅوک هم نۀ هیروی.
انتظام کوونکی ته دَ تعلیم ورکولو ضرورت نشته. روح القدس هر یو ایماندار له دَ هغۀ دَ کار په مطابق نعمتونه ورکوی

ح- **دَ نعمتونو استعمالول ضروری دی**: اول تیموتیوس ۴: ۱۴ "دَ هغه نعمت نه غافل کیږه مه".
څنې خلق خپل نعمتونه پټوی ځکه چې هغه دومره ښۀ نۀ وی لکه څنګه چې دَ نورو خلقو نعمتونه وی
کوم نعمت چې استعمالیږی نه، نو هغه زنګ ونیسی اؤ دا هم ممکنه ده چې هغه واپس واخستے شی. متی **۲۵ : ۲۸**.
په ذاتی طور ما ته دا احساس کیږی چې ما دَ "لیکلو" نعمت بائیللے دے، ځکه چې تر یو نیم کال پورې مونږ دَ شراکت لاندې وو، اؤ ما دا تیلیٔ نۀ وه استعمال کړې.

خ- **دَ نعمتونو دَ ځلولو ضرورت دے**: دویم تیموتیوس ۱ : ۶ "..... هغه نعمت وځلوه".
پکار دی چې نعمت هر وخت استعمال شی دَ دې دَ پاره چې هغه دَ خدایٔ په بادشاهۍ کښې سود مند ثابت شی.
راځئ چې مونږ غور وکړو چې دا آسمانی نعمتونه هر وخت وده ومومی.
کولوسیان ۱ : ۲۹.

## خُلاصه

دا جسمانی خوبۍ نۀ دی بلکه خاص نعمتونه دی چې دَ روح القدس له طرف نه ملاویږی. مونږ له دَ ټولو نه ښۀ نعمتونه راکړے شوی دی نو په دې وجه مونږ له مسلسل میوه نیول پکار دی.

## د بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۸۱- دَ ګلتیانو په ۵: ۲۲ کښې لفظ "میوه" په واحد صیغه کښې ولې استعمال شوې ده؟

۲۸۲- هغه نهه نعمتونه بیان کړئ په کومو چې دا میوه مشمتل ده؟

۲۸۳- درې وجې بیان کړئ چې په ځنې عیسایانو کښې دَ روح میوه ولې نهٔ پیدا کیږی.

۲۸۴- دَ میوې ښرګندولو په حقله باندې دَ یعقوب په ۳: ۹- ۱۲ کښې کومې درې غیر مناسبه خبرې موجودې دی؟

۲۸۵- دَ میوې نیولو درې مقصدونه بیان کړئ.

۲۸۶- دَ روح القدس دَ لسو نعمتونو نومونه واخلئ.

۲۸۷- دا فیصله څوک کوی چې ایماندار ته به دَ مسیح په بدن کښې کوم یو مقام ملاویږی؟ دَ دې ثبوت څهٔ دے؟

۲۸۸- مونږ سره څهٔ ثبوت دے چې دَ نوی پیدایښت په ځنې نعمتونو کښې وده کول ممکن ده؟

۲۸۹- دا ثابته کړئ چې هر یو مُقدس کس سره یو نه یو نعمت خامخا وی. (درې آیتونه)

۲۹۰- دوه خبرې بیان کړئ کومې چې دَ روحانی نعمتونو په سلسله کښې کول ضروری دی؟

## دیرشم سبق

# دَ روح القدس په حقله نور تعلیم

## پیژندګلو

* په دې سبق کښې به دَ روح القدس په حقله دَ هغه خبرو تعلیم پیش کیږی کوم چې مونږ په مخکښې سبقونو کښې بیان نۀ کړے شو، خو دا په پاک کلام کښې موجود دے.

## ۱- دَ روح القدس علامتونه

**اوبۀ**: یوحنا ۳: ۵؛ ۳۸، ۳۹، دَ اوبو نه مونږ دَ روح القدس پنځۀ خبرې زده کوؤ.

(۱) اوبۀ زرخیزه کول کوی. دَ روح القدس نه معمور شوی عیسایان دَ هغه ونو په شان دی چې دَ دریاب په غاړه وی. زبور ۱: ۳.

(۲) اوبۀ تازه والے پیدا کوی. یوحنا ۴: ۱۴؛ زبور ۴۶: ۴؛ یشعیاه ۴۱: ۱۷، ۱۸.

(۳) اوبۀ ویړیا ملاویږی. یشعیاه ۵۵: ۱؛ یوحنا ۴: ۱۴؛ مکاشفه ۲۲: ۱۷.

(۴) اوبۀ پاکول کوی. افسیان ۵: ۲۶، جماعت دَ روح اؤ کلام سره وینځلے شوے اؤ پاک کړے شوے دے.

(۵) اوبۀ ډیرې زیاتې ملاویږی. یوحنا ۷: ۳۷، ۳۸. نۀ صرف اوبۀ بلکه دَ اوبو سیندونه روانیږی.

**اور**: متی ۳: ۱۱ "هغه به تاسو له روح القدس اؤ اور سره بپتسمه درکوی".

(۱) اور رڼا ورکوی. یوحنا ۵: ۳۵. یحییٰ بپتسمه ورکوؤنکے دَ روح نه معمور وو اؤ په مثال دَ ځلیدونکې ډیوې وو.

(۲) اور سوزول کوی. یوحنا ۵: ۳۵، سوزیدونکې روح (یشعیاه ۴:۴) په بپتسمه ورکوؤنکی یحییٰ کښې ځلیدو.

(۳) اور پاکول کوی. ملاکی ۳: ۲، ۳. روح القدس دَ زرګر دَ اور په شان پاکول کوی.

(۴) اور معلومول کوی. دَ اور په شان روح القدس هم په یوځائ نۀ شی پاتې کیدے. اول کورنتیان ۲: ۱۰.

**هوا**: یوحنا ۳: ۸.

(۱) هوا زوروره وی. اول بادشاهان ۱۹: ۱۱؛ اعمال ۲:۲. دَ هوا دَ طاقت اندازه نۀ شی معلومیدے.

(۲) هوا ژوندی کول کوی. حزقی ایل ۳۷: ۹، ۱۰، ۱۴. روح (هوا) مړۀ هډوکی راژوندی کوی.

(۳) دَ هوا خپل اختیار وی. یوحنا ۳: ۸؛ اول کورنتیان ۱۲: ۱۱. روح القدس دَ خپلې مرضئ مالک دے.

(۴) هوا نالیدونکې اؤ اثرناکه وی. یوحنا ۳: ۸، مونږ یقیناً چې دَ روح کارونه وینو.

**تیل**: زبور ۴۵: ۷ "...... دَ خوشحالئ تیلو سره یې تۀ دَ خپلو ملګرو نه زیات مسح کړې".

(۱) تیل غوره کول کوی. په زړه لوظنامه کښې به تیلو سره خلق غوره کیدل. هجرت ۲۹: ۷ دَ لوقا ۴: ۱۸ حوالې سره.

(۲) تيل تسلی ورکوی. يشعياه ٦١: ۳ "..... دَ ژړا په ځائ دَ خوشحالئ تيل....." دَ عبرانيانو ۱: ۹ حواله وګورئ.

(۳) تيل روښانه کول کوی. متی پنځۀ ويشتم باب. کم عقلو پيغلو دَ تيلو نه بغير مشغلونه بل نۀ کړل.

(۴) تيل شفا ورکوی. لوقا ۱۰: ۳۴، نيک سامری تيل استعمال کړل چې دَ روح يو تصوير دے (يعقوب ۵: ۱۴).

**باران اؤ پرښه**: زبور ۷۲: ۶ "هغه به په ريبلې شوی وښو باندې دَ پرښې اؤ.....باران په شان نازليږی".

(۱) دَ بوټی دَ لوئيدو په شان دَ باران را وريدل هم دَ پوهې نه بهر خبره ده يعنې په قلاره قلاره زياتيږی اؤ محسوسيږی هم نه. مرقوس ۴: ۲٦- ۲۹.

(۲) باران تازه والے ورکوی. زبور ٦۸: ۹؛ يشعياه ۱۸: ۴ دَ بيدارئ دَ تازه والی نه ډک چنړکاؤ.

(۳) باران ډير کيږی. زبور ۱۳۳: ۳، څوک دَ باران يا دَ پرښې اندازه لګولے شی؟ يا دَ روح؟

(۴) باران زرخيزی پيدا کوی. حزقی ايل ۳۴: ۲٦، ۲۷. دَ برکت باران سره تخم را ټوکيږی اؤ لوئيږی.

**کونتره**: متی ۳: ۱۲. دَ عيسیٰ مسيح دَ بپتسمې اخستلو په موقعه باندې روح القدس دَ کورنترې په شکل کښې را نازل شو. کونتره نرم مزاجه وی. متی ۱۰: ۱۲ "...... دَ کونترې په شان بې آزاره....."، "دَ روح ميوه.....عاجزی". ګلتيان ۵: ۲۲.

**آواز**: يشعياه ٦: ۸ "..... دَ خدائ پاک آواز واؤريدو....."

(۱) آواز لار ښودنه کوی. يشعياه ۳۰: ۲۱. دَ روح آواز دَ حقيقت طرف ته زمونږ
رهنمائی کوی. يوحنا ۱۶: ۱۳.

(۲) آواز خبرې کوی. متی ۱۰: ۲۰ "..... ستا دَ پلار روح دے چې په تا کښې
خبرې کوی".

(۳) آواز خبرداره کوی. عبرانيان ۳: ۷- ۱۱؛ يوحنا ۱۶: ۷- ۱۱. دَ گناه،
صداقت اؤ عدالت په باره کښې خبردارے.

**مُهر**: مکاشفه ۷: ۲؛ افسيان ۴: ۳۰ "..... دَ کوم نه چې په تاسو دَ خلاصون دَ ورځ دَ
پاره مهر لګولے شوے دے".

(۱) مُهر تصديق کوی. يوحنا ٦: ۲۷؛ دويم کورنتيان ۱: ۲۲، په مونږ باندې
روح سره مُهر لګولے شوے دے. په مونږ باندې نخښه لګولے شوے ده.

(۲) مُهر يقينی کول کوی. افسيان ۱: ۱۳، ۱۴. دا ضمانت دے اؤ دې سره
خبره پخيږی.

## ۲- دَ ايماندار ژوند په روح کښې تيريږی

(۱) مونږ په روح سره دَ خدائ پاک عبادت کوؤ. يوحنا ۴: ۲۴؛ فيليپيان ۳: ۱۳
په روح اؤ رښتيا سره دَ خدائ عبادت کوؤ.

(۲) مونږ دَ روح په وسيله په خبرو پوهيږو. مکاشفه ۴: ۱، ۲، يوحنا په روح
کښې هر څۀ باندې پوهه شو.

(۳) پولوس دَ روح نه مجبوره وو. اعمال ۲۰: ۲۲- ۲۴. دا دَ نزدې تعلق ځومره
ښۀ تصوير دے.

(۴) په روح کښې اوسيدل دَ دې ثبوت دے چې روح په مونږ کښې دے. روميان ۸: ۹.

(۵) مسيحيان دَ روح په وجه ژوندی دی. ګلتيان ۵: ۳۵. زمونږ ژوندون روح سره تړلی وی.

(٦) مسيحيان دَ روح په مطابق چليږی. ګلتيان ۵: ۳۵. روح زمونږ دَ چال چلن لار ښودنه کوی.

(۷) مسيحی خدمت دَ روح سره کيږی. اعمال ٦: ۳؛ اول کورنتيان ۲: ۴.

(۸) مونږ په روح سره دعا غواړو. افسيان ٦: ۱۸. په دې لوئ کار کښې هغه زمونږ رهنمائی کوی.

## ۳- دَ روح القدس قوت

(۱) دَ دې ضرورت وی. لوقا ۲۴: ۴۹ "په دې ښار کښې تر هغې پاتې شئ تر څو چې په تاسو آسمانی قوت نازل نۀ شی". دَ روح القدس دَ قوت نه بغير په مسيحی ژوند کښې قدم اوچتول بې فائدې دی.

(۲) دَ دې وعده شوې ده. اعمال ۱: ۸ "دَ روح القدس په نازليدو به تاسو له قوت درکړے شی". دويم تيموتيوس ۱: ۷ "..... مونږ له يې دَ ..... قدرت...... روح راکړے دے".

(۳) دا ژوند ورکوی. روح مونږ ژوندی کوی اؤ ډير ژوند راکوی. دويم کورنتيان ۳: ٦.

(۴) دا کافی دے. اول کورنتيان ۲: ۳، ۴. دَ پولوس دَ پاره دَ څۀ قسمه خوشحاله کوؤنکو خبرو نه بغير روح القدس کافی وو.

(۵) دا په بيعه نهٔ شی اخستلے کيدے.اعمال ۸: ۱۸. شمعون جادوګر دَ اخستلو کوشش وکړو. پطروس هغه ډير ورټلو.

(٦) دَ دې نقل نهٔ شی کيدے. مالک خدائ انسانی جذبه اؤ دَ نفس کوششونه ضرور رد کوی. مونږ دَ يو لوئ زيری آؤروونکی نقل خو کولے شی خو دَ روح دَ قوت نقل نهٔ شو کولے.

(۷) دا قوت واپس اخستلے کيدے شی. قاضيان ۱٦: ۲۰. سمسون سره دَ روح قوت وو خو يو وخت داسې راغے چې هغه ترې نه واخستے شو.

کوم مسيحی چې دا قوت بائيلی نو دَ هغهٔ مثال دَ هغه مالګې په شان دے کومه چې بې خونده شی. بيا هغه صرف د غورځولو جوګه وی. متی **۵**: **۱۳**.

## ۴- روح القدس دَ اُستاذ په حيثيت

### ا- دَ دې استاذ خوبئ:

(۱) ضروری دے. اول کورنتيان ۲: ۱۱، ۱۴؛ روميان ۱۱: ۳۳. صرف روح دَ دې خبرو بنياد ته رسيدلے شی.

(۲) بې خطا دے. اول کورنتيان ۲: ۱۰ "روح ټولې خبرې بلکه دَ خدائ پټې خبرې هم معلوموی". روح دَ خدائ نه خبر دے ځکه چې هغه خدائ دے.

(۳) بالکل کافی دے. اول يوحنا ۲: ۲۷ "تاسو ته دَ بل اُستاذ حاجت نشته". يوحنا ۱۴: ۲٦، روح القدس به دَ عيسیٰ مسيح په حقله دَ هر څهٔ ښودنه کوی.

(۴) خپلې خبرې نهٔ کوی. يوحنا ۱٦: ۱۳ "..... ځکه چې هغه به دَ خپله ځانه څهٔ نهٔ وائی".

## ب- دَ روح القدس دَ تعليم طريقه:

(۱) عقل روښانه کوی. افسيان ۱: ۱۷، ۱۸. هغه زمونږ ذهن کولاوئ چې حقيقت راته ښکاره شی.

(۲) دَ عيسیٰ مسيح تکليفونو ته اشاره کوی. يوحنا ۱٦: ۱۷؛ زکرياه ۱۲: ۱۰.

(۳) پوهه ورکوی. يشعياه ۱۱: ۲، ۳ هغه صرف عقل نه بلکه زمونږ په مازغو هم اثر کوی.

(۴) دَ روحانی خبرو يو بل سره مقابله کوی. اول کورنتيان ۲: ۱۳ "...... روحانی خبرې هغه چا ته ښايو چا کښې چې دَ خدائ روح وی....."

(۵) پټې خبرې څرګندوی. لوقا ۲: ۲٦ شمعون ته روح وښودل. يوحنا ۱٦: ۱۴.

(٦) هيرې شوې خبرې رايادوی. يوحنا ۱۴: ۲٦ "..... څۀ چې درته ما وئيلی دی هغه ټولې خبرې به درته را يادوی". زبور ۱۱۹: ۱۱.

(۷) دَ خود غرضئ خبرې ختموی. اعمال ۱٦: ٦، ۷. روح پولوس اؤ سيلاس منع کړل چې هغوئ په خپله لار لاړ نۀ شی، بلکه دَ هغه چا په لاره لاړ شی چې ډيره غوره لار ده.

## ج- هغه کله تعليم ورکوی؟

(۱) کله چې مونږ حکم منو. اعمال ۸: ۲٦، فيلپوس حکم ومنلو نو بيا روح القدس دَ هغۀ لار ښودنه وکړه.

(۲) کله چې مونږ سوچ اؤ فکر کوؤ. اعمال ۱۰: ۱۹ "خو پطروس لا په هغه رويا فکر کولو چې روح القدس هغۀ ته ووئيل".

(۳) کله چې مونږ عبادت کوؤ. اعمال ۱۳: ۲ "کله چې هغوئ دَ خدائ پاک عبادت کولو..... نو روح القدس ورته وفرمائيل....."

(۴) کله چې مونږ انتظار کوؤ. لوقا ۲: ۲۶. شعمون په انتظار کښې وو نو روح القدس ظاهر کړل.

(۵) کله چې مونږ آؤرو. مکاشفه ۲: ۷ "څوک چې دَ آؤریدو غوږونه لری هغوئ دې واؤری".

## ۵- دَ روح القدس مسح کول

مسح کول، دَ قوت دَ پاره اؤ دَ خدائ پاک په حقیقت باندې پوهیدلو دَ پاره وی.

دَ بپتسمې اخستلو نه مخکښې دَ خپل دیرش کاله ژوند په دوران کښې عیسیٰ مسیح مسلسل دَ روح القدس نه معموره کیدو. دَ لوقا په ۳: ۲۱، ۲۲ کښې عیسیٰ مسیح اوبو سره بپتسمه واخسته، اؤ روح القدس په جسمانی صورت هغهٔ باندې را نازل شو.

دَ لوقا په ۴: ۱ کښې عیسیٰ مسیح دَ روح القدس نه معمور وو اؤ روح القدس هغه دَ آزمیښت دَ پاره بیابان ته بوتلو.

دَ لوقا په ۴: ۱۸ کښې عیسیٰ مسیح دَ خپل مسح کولو په حقله وائی. هغهٔ دَ یشعیاه دَ ۲۱: ۱ لوستنه وکړه چې "دَ خدائ روح په ما کښې دے. ځکه چې هغهٔ زهٔ دَ زیری آؤرولو دَ پاره مسح کړے یم..... "

دَ دې مسح کولو پیشن ګوئی په زبور ۴۵: ۷، ۸ کښې موجوده ده. "تا صداقت سره مینه وکړه اؤ بدئ سره نفرت، نو ځکه مالک خدائ ستا خدائ پاک تهٔ په خوشحالئ سره دَ خپلو ملګرو په نسبت په تیلو زیات مسح کړې. ستا دَ هر لباس نه دَ مُر، عودو اؤ دَ لوبانو خوشبو راځی".

دَ خدمت دَ پاره دَ قوت دا مسح کول هغه وخت ملاویږی کله چې دَ متی په ۱۳: ۱۱ کښې دَ اور سره بدی وسوزی اؤ دَ عیسیٰ مسیح صداقت ښکاره کیږی.

کله چې مونږ خپل ځان مالک خدائ ته سپارو، اؤ دَ روح القدس نه معموره کیږو نو په هغه وخت کښې دا مسح کیدل حاصلوؤ.

مسح کیدل یو ځل دی. اعمال ۱: ۸؛ دویم کورنتیان ۱: ۲۱، ۲۲؛ اول یوحنا ۲: ۲۰، ۲۷؛ اعمال ۴: ۳۱. دَ روح القدس سره مسح کیدل دَ ایمان په وسیله حاصلیږی. یوحنا ۷: ۳۷- ۳۹؛ یوحنا ۴: ۱۴.

## خُلاصه

**دَ روح القدس دَ عجيبه خدمت دَ پاره دَ مالک خدائ حمد وثنا وکړئ.**

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۲۹۱- دَ روح القدس اووۀ علامتونه بيان کړئ.

۲۹۲- پنځۀ داسې خبرې بيان کړئ چې دَ هغې په نسبت اوبۀ دَ روح القدس تصوير دے.

۲۹۳- اور څنګه دَ روح القدس اثر څرګندوی؟

۲۹۴- پنځۀ داسې خبرې بيان کړئ چې مسيحيانو له په روح سره کول پکار دی.

۲۹۵- دَ روح القدس دَ قوت په حقله اووۀ خبرې بيان کړئ.

۲۹۶- دَ روح القدس دَ تعليم څلور خاصيتونه بيان کړئ.

۲۹۷- روح القدس څنګه تعليم ورکوی (پنځۀ اهم خبرې)؟

۲۹۸- دَ روح القدس نه دَ تعليم حاصلولو دَ پاره پنځۀ شرطونه بيان کړئ؟

۲۹۹- دَ روح القدس دَ مسح کولو مقصدونه څۀ دی؟

۳۰۰- دَ عيسىٰ مسيح دَ مسح کولو دَ پيشن ګويئ اؤ دَ دې دَ پوره کيدو بيان وکړئ.

# دَ بائبل مقدس په حقله سبقونه

## يو ديرشم سبق

## دَ بائبل مقدس الهام

### پيژندګلو

* دَ بائبل مقدس ليکونکے روح القدس دے. دَ بائبل مقدس صفحې دَ خدائ پاک دَ ذات اؤ دَ هغۀ دَ مقصدونو\ ارادو ليکونکې اؤ ربښتونې مکاشفه ده.
* بائبل مقدس دَ خدائ پاک په باره کښې زمونږ دَ علم چينه اؤ وسيله دے. دا دَ الٰهی صداقت نصابی کتاب دے. دا دَ تل ژوندون دَ لار ښودنې کتاب دے.
* لفظ "بائبل" دَ يونانئ لفظ "ببلوس" (biblos) نه اخستے شوے دے، چې معنیٰ يې ده "کتاب".
* دې کتاب ته "نُسخې"، "صحيفې" اؤ دَ "خدائ کلام" هم وئيلے شوی دی. لوقا ۴: ۱۷؛ دويم کورنتيان ۳: ۱۵؛ مرقوس ۱۲: ۱۰؛ متی ۲۲: ۴۰؛ عبرانيان ۴: ۱۲.
* په بائبل مقدس کښې ټول شپږ شپيتۀ کتابونه دی. دا په دوؤ غټو حصو کښې تقسيم شوے دے. يوې حصې ته زړه لوظنامه وائی چې په کښې يوکم څلويښت کتابونه دی، اؤ دويمې حصې ته نوې لوظنامه وائی چې په کښې اوؤۀ ويشت کتابونه دی.

* بائبل مقدس تقریباً په شپاړس سوه کاله کښې دَ شپږ دیرشو نه تر څلویښتو لیکونکو پورې ولیکلو. دا مختلف قسم خلق وو چې تعلق یې دَ دنیا مختلفو ځایونو سره وو.
* بائبل مقدس یو واحد اؤ بې مثاله کتاب دے. دا دَ دې دَ الٰهی اؤ الهامی جوړیدو یو لوئ ثبوت دے چې دومره مختلفو خلقو دا کتاب ولیکلو خو بیا هم په دې کښې چرته تضاد نشته. دا یوه معجزه ده.
* دَ دې معجزې وجه صرف رهنما لیکونکے کیدے شی.
* دَ بائبل مقدس مرکزی اؤ لویه موضوع "عیسیٰ مسیح" دے نو مونږ په دې باندې صرف دَ هغهٔ په وسیله پوهیدے شو.
* زړه لوظنامه په عبرانئ ژبه کښې لیکلې شوې وه. خو دَ دانی ایل اؤ دَ عزرا دَ کتاب څهٔ حصې په اِرامی ژبه کښې لیکلے شوې وې. نوې لوظنامه په یونانئ کښې لیکلے شوې وه.

## ۱- دَ الهام مطلب

دَ الهام مطلب دے چې "په نوې اؤ زړې لوظنامې په لیکلو کښې خدائ پاک هرڅهٔ په خپل اختیار کښې وساتل". بائبل مقدس دَ خدائ پاک دَ الهام په وسیله دے. دویم تیموتیوس ۳: ۱۲ "هره صحیفه چې دَ خدائ دَ الهام په وسیله ده..... فائده منده هم ده".

دَ الهام مطلب دے چې خدائ پاک په لوئ طاقت سره خپل روح انسانانو له ورکوی اؤ هغوئ له دَ حقیقت بیانولو دَ پاره قابلیت ورکوی. خدائ پاک په خپله دَ انسانانو په ځائ خبرې کوی.

دویم پطروس ۱: ۲۱ "ځکه چې دَ نبیانو دَ کلام هیڅ خبره هم دَ بنی آدمو دَ خواهش په مطابق کله هم نهٔ ده شوې، بلکه بنی آدمو دَ روح القدس دَ اثر په وجه دَ خدائ دَ طرفه خبرې کولې".

روح القدس په معجزانه طور باندې موجود پاتې شو اؤ دا صحیفې یې په خپل اصل حالت کښې برقرار اؤ قائمې وساتلې. روح القدس به دَ خدائ په خلقو باندې سورے کولو اؤ هغوئ به دَ هغهٔ دَ حکم په مطابق لیکل. دغه شان کله چې هغوئ داسې خبرې لیکلې کومو نه چې هغوئ خبر وو یا ترې نۀ وو خبر، نو هغوئ نه به په دې کښې هیڅ قسمه غلطی نۀ کیده.

## ۲- دَ الهام په حقله مختلفې نظریې

مونږ یقیناً چې دا پیژندل غواړو چې خدائ روح القدس څنګه دا صحیفې ولیکلې. ځنې لیکونکو دَ تاریخ هغه واقعات لیکلی دی کوم چې هغوئ په خپلو سترګو لیدلی وو. نورو لیکونکو هغه خبرې ولیکلې کومې چې دَ هغوئ دَ زمانې نه ډیرې مخکښې پیښې شوې وې (حضرت موسیٰ اؤ دَ کائنات تخلیق). اؤ نورو لیکونکو دَ نبوت خبرې ولیکلې.

**ا- مکاشفه**: دَ ځنې خلقو دا خیال دے چې لیکونکی به بې سُوده شول. په داسې حالت کښې به هغوئ ته بائبل مقدس ښکاره شو اؤ څنګه چې به ورته مالک خدائ پاک دا ښودلو نو هغوئ به دَ دې نقل کولو.

مونږ دا خبره منو چې ډیرو لیکونکو دَ نبوت خبرې ولیکلې. خو دَ کشف دا نظریه رد کوی. ځکه چې داسې لیکونکی ته دَ لفظونو خوښولو اختیار نۀ وی.

دَ رومیانو اؤ دَ ګلتیانو په نوم خطونو نه دا څرګندیږی چې پولوس تعلیمِ یافته اؤ دَ ښۀ ذهن مالک وو.

**ب- رڼا** : "روح القدس په روحانی طور هغوئ روښانه کړل. هغوئ به واقعات په روحانی رڼا کښې لیدل اؤ بیا به یې دا دَ خپلو لیکلو په طرز باندې خپلو لفظونو کښې لیکل".

زمونږ دا ایمان دے چې نۀ صرف خیالونه بلکه لفظونه هم الهامی دی. خدائ پاک هر یو لیکونکی له اجازت ورکړو چې هغوئ خپل قدرتی صلاحیت مثال په طور خپل تعلیم اؤ تربیت اؤ خپل لفظونه استعمال کړی. دغه شان پاکې صحیفې دَ لیکونکی دَ خاص شخصیت هم ښکارنه کوی.

خو بائبل مقدس دَ نیکو خلقو دَ خدائ پاک په حقله صرف دَ غور اؤ فکر نتیجه نۀ ده بلکه خدائ په خپله په هغوئ کښې وپوکل. نو دغه شان هغوئ دَ خدائ پاک خیالونه ولیکل.

**ج- ټکی په ټکی دَ قیصې لیکلو نظریه:** "خدائ پاک صحیفې داسې ولیکلې لکه څنګه چې یو افسر په خپل نوکر باندې خط لیکی".

دغه شان الهام بې بنیاده پاتې شی.

مونږ دا نظریه هم رد کوؤ، ځکه چې دَ حضرت داؤد، حضرت موسیٰ اؤ دَ پطروس په شان دَ خلقو لیکلو نه دا څرګندیږی چې هغوئ دا هر څۀ په خپله ولیکل.

لوقا یو طبیب وو. هغۀ دَ لوقا په ۸: ۴۴ کښې خپله طبیبی خبره (دَ وینې ودریدل) استعمال کړې ده. حضرت داؤد یو شپون وو. هغه دَ ګډو، مچوغنې اؤ دَ شپونکی دَ لښتې ذکر کوی.

**ه- جسمانی الهام:** دا نظریه دَ انسان قابلیت اؤ پوهې له دَ حد نه زیاته درجه ورکوی. اؤ دغه شان دَ الهام چې کوم خاص مقام وی هغه ختموی. نو دغه شان صحیفې دَ ډاکټر عبدالحق، پادری سُلطان مُحمد پال،، شیکسپئیر یا کنفوشس دَ لیکلو په شان جوړیږی اؤ دا مقام ورته ملاویږی.

مونږ دا نظریه رد کوؤ ځکه چې دا نظریه دا خیال په وده کوی "چې په بائبل مقدس کښې دَ خدائ کلام دے". خو مونږ دا ایمان لرو چې ټول بائبل مقدس دَ خدائ پاک کلام دے.

**د- دَ مسیحی الهام عالمګیره نظریه:** دا نظریه وائی چې مونږ ټول دَ خدائ اولاد یو، اؤ هر یو کس کښې کله نه کله دَ څۀ نظم یا دَ کتاب لیکلو یا دَ نور څۀ لیکلو حرکت راپیدا کیږی.

کۀ چرې دا نظریه صحیح وی نو بیا مونږ له دا توقعو ساتل پکار دی چې کله هم یو نوے بائبل مقدس راتلے شی. خو دَ بائبل مقدس الهام دَ دې نه ډیر زیات لوئ اؤ اوچت دے. هغه یو خاص اؤ غوره کړے شوے الهام وو چې تش دَ بائبل مقدس لیکلو دَ پاره ورکړے شوے وو، ځکه چې بائبل مقدس دَ انسانانو دَ پاره دَ خدائ پاک پیغام دے.

**و- مشینی اِلهام**: انسان لکه چې مشین جوړ شوے دے. هغوئ دَ یو خاص دباؤ یا مجبورئ په وجه هغه خبرې ولیکلې په کومو چې کیدے شی هغوئ پوهیدل هم نه.

مونږ دا نظریه رد کوؤ ځکه چې دَ یوحنا په خطونو کښې دَ یوحنا مینه ناک شخصیت مونږ ته ښکاری، اؤ دَ پطروس په خطونو کښې دَ هغهٔ جذبه ښکاری.

ز- دَ فکر الهام: دا نظریه وائی چې خدائ پاک انسانانو له مرکزی خیالونه ورکوی، اؤ هغوئ ته چې څنګه هم مناسب ښکاری نو دا آزادی ورته حاصله ده چې دا خیالونه په خپلو لفظونو کښې بیان کړی.

مونږ دا هم رد کوؤ، ځکه چې مونږ دا ایمان لرو چې دَ دې کتاب لیکونکی یعنې روح القدس یو یو لفظ کتلے دے، اؤ دَ دې ټولې حوالې یې وکتلې اؤ بیا یې دا لیکل قبول کړل.

**ح- لفظی الهام**: دَ دې نظریې په مطابق یو یو لفظ الهامی دے. اؤ ځنې خلق خو دې حده پورې ځی چې وائی په دې لفظونو باندې زبر اؤ زِیر وغیره هم خدائ پاک دَ الهام په وسیله لګولی دی.

حقیقت خو دا دے چې په اصلی ژبو کښې څهٔ قسمه زبر اؤ زِیر وغیره موجود هم نهٔ وو.

**ط- نیمګړے الهام**: د دې نظریې په مطابق بائبل مقدس نیم الهامی دے.

اؤ دا څرګندوی چې په بائبل مقدس کښې د خدائ پاک <u>څهٔ لږ شان</u> کلام موجود دے.

مونږ دا نظریه هم رد کوؤ ځکه چې د تیموتیوس په نوم د دویم خط دریم باب اؤ شپاړسم آیت په مطابق ټولې صحیفې الهامی دی.

دا نظریه هر یو کس له آزادی ورکوی چې هغه دا فیصله وکړی چې کومه یو حصه "په رښتیا الهامی" ده اؤ کومه یو حصه الهامی نهٔ ده.

دا نظریه مونږ د شک اؤ پریشانئ طرف ته بوځی نو په دې وجه مونږ دا رد کوؤ.

## ۳- صحیح تفسیر- کامل الهام

د تیموتیوس په نوم د دویم خط دریم باب اؤ شپاړسم آیت په بنیاد باندې مونږ دا ایمان لرو چې ټولې صحیفې یو شان الهامی دی. په پښتو ژبه کښې داسې ترجمه شوې ده چې "هره یو صحیفه د خدایٔ د روح د الهام په وسیله ده...."
فائده منده هم ده. دا ترجمه صحیح نۀ ده ځکه چې دې سره هغه نیمګړے نظریې ته مرسته اؤ وده ملاویږی.

مونږ ته نۀ ده معلومه چې الهام څنګه ورکړے شو، خو دا ایمان لرو چې هر یو لیکونکی ته دا آزادی حاصله وه چې هغوئ خپل شخصیت، تعلیم، تجربه وغیره خاص حده پورې استعمال کړی.

روح القدس د هر یو سوچ، طریقې اؤ د هر یو لفظ خیال ساتونکے وو، د دې د پاره چې څۀ قسم غلطی ونۀ شی.

## ۴- بائبل مقدس د الهامی کیدو دعوه کوی

(۱) لیکونکو د پاره. دویم پطروس ۱: ۲۱ "..... بنی آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدایٔ له طرفه خبرې کولې".

(۲) لیکلو د پاره. دویم تیموتیوس ۳: ۱٦ "هره صحیفه د خدایٔ د روح د الهام په وسیله ده....."

(۳) لفظونو د پاره. اول کورنتیان ۲: ۱۳ "مونږ هغه خبرې په هغه الفاظو کښې نۀ بیانوؤ چې انسانی حکمت مونږ ته را زده کړی دی بلکه په هغه الفاظو کښې چې مونږ ته روح راښولی دی". دویم پطروس ۳: ۲ "..... تاسو هغه خبرې چې پاکو نبیانو وړومبئ کړې دی اؤ د مالک اؤ خلاصوؤنکی هغه حکم یاد ولرئ کوم چې تاسو ته د رسولانو په وسیله در کړے شوے دے".

د یهوده اوؤلسم آیت: "خو زما دوستانو! تاسو زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح د رسولانو پیشن گوئی یاده لرئ".

## ۵- د الهام په حقله د یاد ساتلو خبرې

ترجمې الهامی نۀ دی. د نقل کوؤنکو نه هم غلطئ شوی دی. لیکونکو چې کومې نُسخې لیکلې وې نو په هغې کښې اوس یوه هم نشته. پخوانئ نُسخې کومې چې موندلې شوې دی، هغه په خپلو کښې یو والے لری.

په بائبل مقدس کښې ټول واقعات هم هغه شان لیکلی دی څنگه چې وو. حننیاه دروغ ووئیل. هغه دروغ په کښې لیکلی دی. د شرعې عالمانو به وئیل چې عیسیٰ مسیح کښې پیریان دی اؤ هغه دیوانه دے. نو دا خبره هم داسې لیکلې شوې ده.

### خُلاصه

مونږ بائبل مقدس د خدائ پاک کلام قبلوؤ چې په کښې هیڅ غلطی نشته. د شپږ شپیتو کتابونو په حقله چې وئیلې شوی دی چې دا الهامی دی، نو مونږ دا بالکل منو. مونږ نور قسمه کتابونه بالکل الهامی نۀ گڼو.

د قیامت په ورځ به اصلی نُسخې عدالت کوی. یوحنا ۱۲: ۴۸.

دا ضروری ده چې مونږ روزانه بائبل مقدس ولولو، اؤ په خپل روزانه ژوند کښې د دې په حکمونو عمل وکړو. دا زمونږ د پاره د خدائ پاک کتاب دے.

راځئ چې مونږ خوشحالی وکړو چې خدائ پاک کلام وکړو. اؤ د روح القدس په قوت اؤ مدد سره دا کوشش وکړو چې د دې مکاشفې په رڼا کښې صحیح طریقه استعمال کړو.

## د بیا کتلو د پاره سوالونه

۳۰۱- د بائبل مقدس لیکونکے استاذ څوک دے؟

۳۰۲- دوه خاص آیتونه ووایئ چې د هغې تعلق د بائبل مقدس د الهام سره دے؟

۳۰۳- د بائبل مقدس په حقله یو څو خبرې بیان کړئ (۱) مختلف نومونه (۲) حصې (۳) لیکونکی (۴) څومره وخت کښې ولیکلے شو (۵) موضوع (٦) ژبې.

۳۰۴- د الهام څۀ مطلب دے؟

۳۰۵- د الهام په حقله د اتو غلطو نظريو نومونه واخلئ.

۳۰٦- په يو جمله کښې ووايئ چې مونږ دا نظريې ولې رد کوؤ؟

۳۰۷- د کامل الهام نظريې وضاحت وکړئ.

۳۰۸- حوالې بيان کړئ چې بائبل مقدس د الهامی کيدو دعوه کوی (۱) ليکونکو د پاره (۲) ليکلو د پاره (۳) لفظونو د پاره.

۳۰۹- آيا د بائبل مقدس د پښتو ترجمه الهامی ده؟ ولې؟

۳۱۰- مونږ نور کتابونه ولې رد کوؤ؟ يو حواله ورکړئ.

# دوه دیرشم سبق

# بائبل مقدس

## پیژندګلو

* دَ عیسیٰ مسیح اؤ روح القدس نه پس بائبل مقدس یو دریم لوئ نعمت دے. سَر والټر سکاټ چې په خپله هم دَ ډیرو کتابونو لیکونکے وو، اؤ دَ ډیرې لوئې لائبریرئ مالک وو، دَ هغهٔ وینا ده "کتاب صرف یو دے یعنې بائبل مقدس".

* بائبل مقدس په موجوده کتابونو کښې دَ ټولو نه زوړ اؤ پخوانے کتاب دے. دَ دې په لیکلو باندې شپاړس صدئ ولګیدې. آخری لیکونکے دَ اولنی لیکونکی دَ مرګ نه څوارلس نیم سوه کاله پس پیدا شوے وو.

* بائبل مقدس پوره یا نیمګړے دَ زرو نه زیاتو ژبو کښې ترجمه شوے دے.

## ۱- دَ بائبل مقدس اوؤهٔ حیرانیدونکې خبرې

(۱) دَ بدلیدو حیرانتیا: دَ دې یو کتاب په یو مقام باندې په یو ژبه ولیکلے شو. دویم کتاب ډیرې صدئ وروستو په بل مقام اؤ بله ژبه کښې ولیکلے شو.

(۲) دَ یو والی حیرانتیا: په دې کښې ټول شپږ شپیتهٔ کتابونه دی، خو ټول یو کتاب دے ځکه چې دَ دې لیکونکے یو دے یعنې روح القدس. په دې کښې هیڅ قسمه دَ یو بل خلاف خبرې نشته.

(۳) دَ پخوانی کیدو حیرانتیا: دَ ټولو کتابونو نه پخوانے کتاب دے.

(۴) دَ خرڅیدو حیرانتیا: په هره زمانه کښې دَ ټولو نه زیات خرڅیدونکے کتاب دے.

(۵) دَ دلچسپئ حيرانتيا: دا واحد کتاب دے چې دَ هرې قبيلې اؤ هر عمر
خلق يې لولی. دا دَ عقل خاوندان اؤ ماشومان اؤ دَ هر قوم خلق لولی.

(٦) دَ ژبې حيرانتيا: دا زيات تر بې تعليمه خلقو وليکلو، خو په ژبه باندې يې
خلق پوهيدے شی.

(٧) دَ حفاظت حيرانتيا: دا يو داسې کتاب دے چې دَ ټولو نه زيات نفرت
ترې وکړے شو. اکثر بادشاهانو اؤ حکومتونو دا وسوزولو اؤ دَ دې دَ
ختمولو کوشش يې وکړو. خو خدائ پاک دا زمونږ دَ پاره محفوظ ساتلے
دے.

## ٢- دَ خدائ پاک دَ کلام اوؤۀ علامتونه

(١) توره: پاک کلام دوه مخيزه تُوره ده چې آؤريدونکے مجرم کوی. عبرانيان ۴:
١٢ "ځکه چې دَ خدائ کلام ژوندے اؤ اثرناک اؤ دَ هرې يوې دوه مخې
تورې نه زيات تيرۀ دے چې دَ انسان دَ ځان اؤ روح نه تيريږی، اؤ اندام
اندام اؤ مغز مغز جدا کوی....."

(٢) څټک: بائبل مقدس يو خاص طاقت لری. هغه دَ آؤريدونکی خښدونه ماتوی.
يرمياه ٢٣: ٢٩ " آيا زما کلام..... دَ څټک په شان نۀ دے څۀ چې کاڼې
ريزې ريزې کوی؟"

(٣) تخم: بائبل مقدس ژوندے کلام دے. هغه آؤريدونکی له نوے پيدايښت
ورکوی. اول پطروس ١: ٢٣ "ځکه چې تاسو دَ فانی تخم نه نه، بلکه دَ
خدائ دَ کلام په وسيله کوم چې ژوندے اؤ قائم دے دَ غير فانی تخم نه
بيا پيدا شوی يئ".

(۴) آئینه: بائبل مقدس رښتینے کلام دے. هغه آؤریدونکی یا لوستونکی ته دَ
هغوئ اصلی حالت ځرګندوی. دَ یعقوب په ۱: ۲۳- ۲۵ کښې کلامِ پاک
له آئینې سره مثال ورکړے شوے دے، په کوم کښې چې ګناه ګار (اؤ
پاکانو) ته مالک خدائ دَ هغوئ حقیقی عکس ښائی.

(۵) اور: بائبل مقدس شغله کوؤنکے کلام دے، چې دَ آؤریدونکی ټوله ګندګی
سوزوی. یرمیاه ۲۳: ۲۹ "ولې زما کلام دَ اور په شان نۀ دے څۀ؟ مالک
خدائ فرمائی". یرمیاه ۲۰: ۹ "دَ هغۀ کلام زما په زړۀ کښې دَ بلیدونکی
اور په شان دے کوم چې زما په هډوکو کښې پټ دے".

(٦) ډیوه: بائبل مقدس روښانه کوؤنکے کلام دے چې دَ آؤریدونکی هره ورځ لار
ښودنه کوی. زبور ۱۱۹: ۱۰۵ "ستا کلام زما دَ قدمونو دَ پاره ډیوه اؤ زما دَ
لارې دَ پاره رڼا ده".

(۷) خوراک: بائبل مقدس یو قَوی خوراک دے. هغه روح له دَ خوراک بندوبست
کوی. اول پطروس ۲:۲ "دَ نوؤ پیدا شوؤ بچو په شان دَ خالص روحانی پیو
خواهشمند اوسئ چې دَ هغو په وسیله دَ خلاصون موندلو دَ پاره لوئیږئ".
عبرانیان ۵: ۱۲- ۱۴ هم وګورئ.

اول کورنتیان ۳: ۲ "ما تاسو ته پئ درکړلې خو ډوډئ نه". رومیان ۱۰: ۱۷ "ایمان دَ
زیری په آؤریدو پیدا کیږی اؤ آؤریدل دَ مسیح په باب کښې دَ زیری ورکولو نه". دَ
خدائ پاک کلام مجرموی، ماتوی، نوی سر نه پیدا کوی، ځرګندوی، سوزوی، روښانه
کوی اؤ پالنه کوی.

## ۳- دَ خدائ پاک دَ کلام دَ وعظ کولو اوۀ وجې

دَ مرقوس په دويم باب اؤ دويم آيت کښې عيسیٰ مسيح دَ ګڼې په وړاندې ودريدو اؤ يوه ډيره لويه فيصله يې وکړه چې دَ خدائ پاک دَ کلام وعظ به کوی.
مونږ دې له نۀ يو را استولے شوی چې دَ يو نوی جماعت ډنډوره وکړو، بلکه دې دَ پاره چې څنګه بائبل مقدس وائی هم هغه شان دَ عيسیٰ مسيح دَ زيری وعظ وکړو.
مونږ دَ بائبل مقدس په وعظ کولو باندې ځکه زور اچوؤ چې هغه دَ ازل نه تر ابده پورې قائم دے.
يشعياه ۴۰: ۸ "وابنۀ وچيږی اؤ ګلونه مړاوې کيږی خو زمونږ دَ مالک خدائ کلام به تر ابده پورې قائم وی".

(۱) دَ خدائ پاک دَ کلام وعظ کولو سره دَ ګناه اقرار کول پيدا کيږی. اعمال ۲: ۱۴- ۳۷. دَ پينتکُست په موقعه باندې دَ پطروس په وعظ کښې په درويشتو آيتونو کښې نهه آيتونه دَ زړې لوظنامې نه دی.

(۲) دَ خدائ پاک کلام آؤريدو سره ايمان پيدا کيږی. روميان ۱۰: ۱۷ " ايمان دَ زيری په آؤريدو پيدا کيږی اؤ آؤريدل دَ مسيح په باب کښې دَ زيری ورکولو نه".

(۳) دَ خدائ پاک کلام سره پاکوالے حاصليږی. دويم کورنتيان ۷: ۱ "نو اے خوږو دوستانو! چونکه زمونږ سره داسې وعدې شوی دی نو راځئ چې مونږ خپل ځانونه دَ هر قسم جسمانی اؤ روحانی ناپاکو نه پاک کړو اؤ دَ خدائ دَ ويرې نه خپل پاکوالے کمال ته ورسوؤ". دَ خدائ پاک خبرې دَ هغۀ وعدې دی.

(۴) دَ خدائ پاک کلام سره دَ خلاصون تسلی ملاويږی. اول يوحنا ۵: ۱۳ "دا خط تاسو ته دا يقين در کوی چې تاسو دَ تل ژوندون لرئ ځکه چې تاسو دَ خدائ دَ زوی په نامه ايمان راوړئ".

(۵) دَ خدائ پاک کلام سره تسلی ملاويږی. اول تسالونکيان ۴: ۱۸ "پس تاسو په دې خبرو يو بل له تسلی ورکوئ". دَ دې خبرو، مطلب دے دَ بائبل مقدس خبرې.

(٦) دَ خدائ پاک کلام سره حقيقت ته رسيدلے شو. اعمال ۱۷: ۱۱ "دَ دې ځائ يهوديان دَ تسالونيکيه دَ يهوديانو نه اشراف وو، ولې چې هغوئ کلام ډير په اِخلاص سره قبول کړو اؤ هره ورځ به يې صحيفې لوستلې چې وګوری چې دا هم دغسې دی لکه چې دوئ وائی".

(۷) دَ خدائ پاک کلام سره نوے پيدايښت حاصليږی. اول پطروس ۱: ۲۳ "ځکه چې تاسو دَ فانی تخم نه نه، بلکه دَ خدائ دَ کلام په وسيله..... پيدا شوی يئ".

## ۴- اوۀ وجې چې ځنې خلق ولې دَ خدائ پاک کلام نۀ لولی

### يرمياه ۱۵: ۱٦

(۱) دَ دې دَ حقيقتونو نه ناخبری. هغوئ دَ دې دَ تشکيل اؤ په دې کښې دَ موجود علم نه ناخبره دی.

(۲) دَ مخکښې نه مارۀ دی. ايره خوری. يشعياه ۴۴: ۲۰. دَ جاسوسئ اؤ خندا ځايونو پسې ګرځی.

(۳) بیماری. کوم روح چې دَ ګناه په وجه ناروغه وی نو هغه دَ خدائ کلام دَ پاره نۀ وړے کیږی.

(۴) دَ ډوډئ خوړلو په وخت اخوا دیخوا څیزونو پسې خُله ګرځوی. دَ ژوند فضول څیزونو پسې ګرځی.

(۵) څنې خلقو له دا کتاب مزه نۀ ورکوی. هغوئ له کاروبار، لوبې یا تعلیم زیاته مزه ورکوی.

(٦) دا کتاب دَ ضرورت نه زیات خوږ لږی. مکاشفه ۱۰: ۸- ۱۰، په خُله کښې دا کتاب لکه دَ شاتو خوږ دے. څنې خلق دا خیال کوی چې بائبل مقدس صرف دَ رنځورانو اؤ هغه خلقو دَ پاره دے څوک چې مرګ ته نزدې دی. دَ عملی اؤ صحت مند خلقو دَ پاره دَ ضرورت نه زیات خوږ دے.

(۷) دا کتاب ډیر تریخ دے. دَ عدالت، دوزخ اؤ ګناه په حقله دَ دې حقیقتونه ډیر زیات تراخۀ دی. څنې خلق دَ دې لوستلو نه ویریږی.

راځئ چې مونږ هم دَ یرمیاه ۱۵: ۱٦ هغه کلام ووایو چې "ستا کلام ما ته ملاؤ شو اؤ ما هغه وخښکلو اؤ ستا خبرې زما دَ زړۀ خوشحالی اؤ تسلی وه".

## ۵- دَ بائبل مقدس لوستلو په حقله اوۀ هدایتونه

(۱) په مینې سره دا ولولئ. بائبل مقدس زما دَ پاره دَ خلاصوؤنکی کلام دے. زبور ۱۱۹: ۱۱.

(۲) په احترام سره دا لولئ. بائبل مقدس دَ قادر مطلق خدائ، خلاصوؤنکی اؤ انصاف کوؤنکی کلام دے.

(۳) دَ دعا سره دا لولئ. بائبل مقدس زما دَ پاره، زما دَ زړۀ دَ پاره اۇ زما دَ ژوند دَ پاره دَ خدائ پاک پيغام دے.

(۴) غور اۇ فکر سره دا لولئ. دَ پخوانئ زمانې اسحاق په شان جوړ شئ. دَ خدائ پاک په کلام باندې غور اۇ فکر وکړئ.

(۵) باقاعدګئ سره دا لولئ. پوره بائبل مقدس ولولئ. صرف خاص خاص حصې لوستل کافی نۀ دی.

(٦) دَ عزم اۇ ارادې سره دا لولئ. زۀ به په هغه خبرو عمل کوم کومې چې زما پلار ما ته ښائی.

(۷) روازنه دا لولئ. صرف دَ اتوار په ورځ نه بلکه هره ورځ څۀ نه څۀ حصه لولئ.

## خُلاصه

بائبل مقدس دَ خپل ژوند يو قوی رهنما اۇ ملګرے جوړ کړئ.
بائبل مقدس دَ خدائ پاک کلام دے. په دې ايمان ولرئ.
دعا وغواړئ چې روح القدس دَ دې په پوهيدو باندې ستاسو مدد وکړی.

کۀ چرې مونږ دَ خدائ کلام باندې ځان ناغرضه کوۇ نو دَ قيامت په ورځ به دا کلام زمونږ عدالت کوی. يوحنا ۱۲: ۴۸.

اے مالکه خدايه! ما ته وښايه چې زۀ دَ دې خزانې قدر اۇ قيمت وپيژنم. دَ ضرورت په وخت دَ دې حفاظت وکړم. اۇ ما له طاقت اۇ همت راکړه چې دَ خدائ پاک دَ دې پيغام وعظ وکړم.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۱۱- دَ بائبل مقدس په حقله پنځۀ خبرې بيان کړئ.

۳۱۲- دَ بائبل مقدس اوۀ حيرانيدونکې خبرې بيان کړئ.

۳۱۳- دَ خدائ پاک کلام دَ پاره کوم اوۀ علامتونه استعمال شوی دی؟

۳۱۴- هغه اوؤۀ خبرې بیان کړئ کومې چې دَ خدائ پاک کلام یو کَس دَ پاره کوی.

۳۱۵- دَ عبرانیانو ۴: ۱۲ نه مونږ دَ بائبل مقدس په حقله څۀ ازده کوؤ؟ (پنځۀ خبرې).

۳۱۶- دوه وجې بیان کړئ چې دَ مرقوس په ۲ : ۲ کښې عیسیٰ مسیح ولې دَ خدائ پاک کلام واؤرولو؟

۳۱۷- اوۀ وجې بیان کړئ چې خلق دَ خدائ پاک کلام ولې نۀ آؤری.

۳۱۸- دَ بائبل مقدس مطالعه څنګه کول پکار دی؟

۳۱۹- اوۀ وجې بیان کړئ چې عیسیٰ مسیح به ولې دَ خدائ پاک دَ کلام وعظ کولو؟

۳۲۰- دَ یوحنا په ۱۲: ۴۸ کښې کوم یو سنجیده خیال موجود دے؟

## درې دیرشم سبق

## دَ بائبل مقدس په حقله نوره مطالعه

### پیژندګلو

* دا نۀ چې ګنې په بائبل مقدس کښې دَ خدائ پاک لږ شان کلام دے، بلکه ټول بائبل دَ خدائ کلام دے.
* کۀ چرې بائبل مقدس صرف یو انسانی کتاب وو، نو بیا به مونږ دا اُمید لرلو چې ډیر زر به داسې نور کتابونه هم ولیکلے شی.
* کۀ چرې بائبل مقدس صرف انسانی کتاب دے، نو بیا انسان ته دَ دې هره یو حصه دَ خپل عقل اؤ پوهې نه ولې دومره زیاته ښکاری؟
* خلق دَ ګناه په وجه دَ دې دَ پوره الهامی کیدو نه انکار کوی. دا دَ ګناه اهمیت دَ دې اثر اؤ دَ دې دَ آخری نتیجې کمولو کوشش دے.
* په بائبل مقدس کښې هغه حقیقتونه اؤ رښتیا موجود دی کوم چې دَ ډیرې مودې راسې دَ انسان نه پټ وو اؤ اوس انسان هغه معلوموی. افسیان ۳: ۵.
* کومه مکاشفه چې نبیانو له ورکړے شوه هغه دَ هغوئ دَ فکر اؤ سوچ نه بالکل پاکه وه. اول پطروس ۱: ۱۰- ۱۲، څنګه چې به هغوئ وعظ کولو اؤ لیکل به یې نو حقیقتونه اؤ واقعات به هغوئ ته څرګندیدل.
* دَ نبوت یوه خبره به هم دَ نبی دَ خپلې مرضئ په مطابق نۀ وه. دویم پطروس ۱: ۲۱.
* حضرت داؤد دا دعوه وکړه چې زما خبرې الهامی دی. دویم سموئیل ۲۳: ۲.

* دَ رسولانو اؤ نبیانو لیکل دَ خدائ پاک کلام دے. دویم پطروس ۱: ۲۱.
* بالکل خالص سرۀ زر دی. دا د ملاوټ، ګډون نه بالکل پاک دے. دویم تیموتیوس ۳: ۱۶.
* نحمیاه اقرار وکړو چې دَ نبیانو خبرې دَ خدائ پاک کلام دے. نحمیاه ۹: ۱۳، ۳۰.
* دَ متی په ۲۲: ۳۱، ۳۲ کښې عیسیٰ مسیح بائبل مقدس ته دَ خدائ پاک خالص کلام ووئیلو.
* په زړۀ لوظنامه کښې نبیانو شپږویشت سوه ځله په دې خبرې زور اچولے دے اؤ وئیلی یې دی چې زمونږ خبرې دَ خدائ پاک کلام دے. اؤ هم داسې بیان په نوې لوظنامه کښې پنځۀ سوه پنځۀ ویش ځله راغلے دے.

## ۱- دَ بائبل مقدس اختیار

یو څو پیړئ مخکښې به بائبل مقدس دَ خدائ دَ اختیار نه ډک اؤ رښتینے کلام ګڼلے شو. خو دَ افسوس خبره ده چې اوس داسې نۀ کیږی. نن سبا خلق دَ بائبل مقدس اختیار اؤ صداقت آزمائیل خپله هوښیارتیا اؤ خپل شان ګڼی.

مونږ دَ غیرقانونئ دور ته راغلی یو، ځکه چې دَ ژوند په هره معامله کښې (مذهب، سیاست، هوښیارتیاه وغیره) انسان دَ بغاوت کولو فیصله کړې ده.

په تخلیقی اؤ جسمانی لحاظ سره انسان په خپل ځان باندې دَ اختیار لرلو طلب ګار دے. هغه دا خواهش لری چې دَ یو اعلیٰ ذات عبادت وکړی.

نن سبا ډیر خلق دَ بائبل مقدس تعریف کوی چې دا یو ډیر ښۀ اؤ غوره کتاب دے. خو دَ دې دَ اختیار منلو نه انکار کوی.

دَ خدائ نه منکر خلق هم بائبل مقدس یو ادبی شاهکار منی اؤ وائی چې دَ دې مقابله کول ناممکنه ده. ځنې مسیحیان هم عیسیٰ مسیح حاکم اؤ اعلیٰ اختیار لرونکے منی. خو دَ صحیفو دَ اختیار منلو اؤ دَ هغې دَ تابعدارئ کولو نه انکار کوی. دا یو ډیر زیات کمزورے اؤ ویرونکے حالت دے.

کوم مسیح چې مونږ خپل اختیارمند حاکم منو هغه دَ صحیفو مسیح دے.
یو څو وجې دا دی دَ کومو په وجه چې ځنې خلق بائبل مقدس اعتباری اؤ اختیارمند نۀ قبلوی:

دَ هغوئ خیال دے چې بائبل مقدس اؤ سائنس دَ یو بل خلاف دے. دا خبره صحیح ده چې ډیرې داسې نظریې کومې چې ثابتې شوې نۀ وی اؤ غیر سائنسی وی نو هغه دَ بائبل مقدس سره سمون نۀ لری. خو یو ځل هم دا ثابت نۀ کړے شول چې دَ سائنس ثابت شوی حقیقتونه دَ بائبل مقدس په شان نۀ دی. اول تیموتیوس ۶: ۲۰.

دَ هغوئ خیال دے چې په بائبل مقدس اؤ دَ زمکې په علم کښې فرق دے. ګائیوټ دَ زمکې علم لرلو واله یو ماهر دے. هغه دا تصدیق کوی چې دَ زمکې په علم اؤ بائبل مقدس کښې سمون موجود دے.

دَ هغوئ خیال دے چې بائبل مقدس اؤ جنرل سائنس دَ یو بل خلاف دی. دَ رائل سوسائټی صدر مرحوم جی- سی سټروکس دَ دې آزاد تردید کړے دے.

دَ هغوئ خیال دے چې بائبل مقدس اؤ دَ کیمیا (کیمسټری) علم دَ یو بل خلاف دی. دَ امریکې مشهور کیمیادان راډر دَ دې غلطئ سخت تردید کوی.

دَ ځنې خلقو خیال دے چې بائبل مقدس اؤ جغرافیه دَ یو بل خلاف دی. مشهور اؤ نامور جغرافیه دان ډاکټرکرسټی دا اعلان کوی چې په بائبل مقدس کښې دَ جغرافیې یوه غلطی هم نشته.

دَ ځنې خلقو خیال دے چې آخری اختیار دَ بائبل مقدس نۀ دے بلکه دَ جماعت دے. بې شکه چې نوې لوظنامه دَ جماعت دَ قائمیدو نه پس ولیکلې شوه، خو دَ خدائ پاک دَ غلطئ نه پاک کلام زړه لوظنامه دَ جماعت نه ډیره مخکښې لیکلے شوې وه.

کیدے شی چې حقیقی وجه دَ خلقو تعلق نۀ ساتل اؤ غفلت وی اؤ دَ دې مثال ګلیو دے. اعمال ۱۸: ۱۷.

## ۲- دَ بائبل مقدس فضیلت

دا ډیر زیات غوره کتاب دے. تر نننه پورې چې څومره کتابونه لیکلے شوی دی نو دا دَ ټولو نه غوره کتاب دے. خلق دَ مصیبت اؤ مرګ په وخت دې کتاب طرف ته رجوع کوی.

دا کتاب په دې وجه هم غوره دے چې دَ ژوند اؤ مرګ دَ سوالونو جوابونه په دې کښې موجود دی. دا پخوانے کتاب دے. په خلقو اؤ قومونو باندې دَ دې دَ اثر اندازه نۀ شی لګولے کیدے. دا یو خالص کتاب دے. په دې کښې دیومالائی اؤ سرکښنه خیالونه یا خبرې نشته. دا دَ خدائ پاک کلام دے.

## ۳- په بائبل مقدس کښې یو څو نامې غوره کړے شوی اختلافات

س- یوحنا ۱: ۱۸ "خدائ چرې هم چا نۀ دے لیدلے". هجرت ۲۴: ۱۰ "هغوئ دَ اسرائیل خدائ پاک ولیدو".

جواب: په حقیقت کښې دا دواړه خبرې صحیح دی. هغوئ خدائ پاک نۀ وو لیدلے ځکه چې خدائ روح دے، بلکه هغوئ دَ خدائ جسمانی عکس لیدلے وو.

س- کله چې زۀ په آئینه کښې ګورم نو ما ته خپل عکس ښکاری. خو زۀ کله هم خپل مخ هغه شان نۀ شم لیدلے لکه څنګه چې نور خلق وینی.

س- شمیر ۲۵: ۹ ..... دَ وبا په وجه څلیریشت زره کسان مړۀ شول. اول کورنتیان ۱۰: ۸ په یوه ورځ درویشت زرۀ ووژلے شول.

جواب: درویشت زره دَ هغه خلقو تعداد دے کوم چې په یوه ورځ مړۀ شوی وو، خو ټول تعداد څلیریشت زره دے.

س- دویم سموئیل ۲۴:۲۴ حضرت داؤد د هغه ځائ قیمت د سپینو زرو پنځوس مثقاله ورکړو. اوله روزنامچه ۲۱: ۲۵ حضرت داؤد شپږ سوه مثقاله سرۀ زر وتلل اؤ ور یې کړل.

جواب: دا دواړه سوداګانې جدا جدا دی. اول داؤد د سپینو زرو پنځوس مثقاله ورکړل اؤ صرف هغه ځائ یې پرې واخستو. بیا وروستو یې شپږ سوه مثقاله ورکړل اؤ هغه ټول پټے یې پرې واخستو.

س- اول تیموتیوس ۶: ۱۶ خدائ په نور کښې استوګنه کوی. اول بادشاهان ۸: ۱۲ خدائ په تور تم کښې اوسیږی.

جواب: دا دواړه خبرې صحیح دی ځکه چې خدائ پاک خو هر ځائ موجود دے.

س- یشعیاه ۴۰: ۲۸ خدائ کله هم نۀ ستړے کیږی، اؤ نۀ ورته د آرام ضرورت شته. هجرت ۳۱: ۱۷ خدائ په شپږو ورځو کښې دا کائنات جوړ کړل اؤ په اوۀمه ورځ یې آرام وکړو.

جواب: دلته خو دا نۀ دی وئیلې شوی چې ګنی خدائ پاک ستړے شوے وو نو ځکه هغۀ آرام وکړو. خدائ کله هم نۀ ستړے کیږی. خدائ په اوۀمه ورځ ځکه آرام وکړو چې د خپل تخلیق نه مزه واخلی اؤ د دې جائزه واخلی.

س- یوحنا ۱۳: ۲۷ شیطان د آخری فسح په دوران کښې یهوداه کښې ور ننوتو. د لوقا ۲۲: ۳، ۴، ۷ نه دا ظاهریږی چې د آخری فسح نه مخکښې شیطان یهوداه کښې ننوتے وو.

جواب: شیطان یهوداه کښې دوه ځله ور ننوتلو. په دویم ځل په پوره طور.

س- اعمال ۱: ۹- ۱۲ عیسیٰ مسیح دَ ښونانو غرۀ نه آسمان ته لاړو. لوقا ۲۴: ۵۰، ۵۱ عیسیٰ مسیح دَ بیت عنیاه نه آسمان ته لاړو.

جواب: دا دواړه خبرې صحیح دی ځکه چې بیت عنیاه دَ ښودنانو دَ غرۀ په لمن کښې یو کلے دے.

س- اعمال ۹: ۷ دَ پولوس ملګرو آواز واؤریدو. اعمال ۲۲: ۹، ۲۶: ۱۴ دَ پولوس ملګرو آواز نۀ وو آؤریدلے.

جواب: ملګرو دَ آسمان دَ بریښنا په شان آواز واؤریدو خو په لفظونو پوهه نهٔ شو.

س- دَ اول بادشاهان شپږم باب په مطابق دَ مصر نه دَ وتلو اؤ دَ خدائ دَ کور دَ جوړولو وخت څلور سوه اتیا کاله دی، خو دَ روزنامچې په مطابق دا وخت په حقیقت کښې پنځهٔ سوه درې اؤیا کاله دے.

جواب: درې نوی (۹۳) کاله فرق په حقیقت کښې هغه وخت دے کوم چې دَ قاضیانو په حکمرانئ کښې په غلامئ کښې تیر شو اؤ په یهودی تاریخ کښې دا وخت نهٔ شمیرلے کیږی. کوم کالونه چې دَ خدائ نه لرې په غلامئ کښې تیر شول، هغه ضائع شول. مالک خدائ هغه کالونه نهٔ شمیری.

س- دَ اول سموئیل ۶: ۱۹ په مطابق دَ وعدې صندوق ته کتلو سره مالک خدائ ۵۰۰۷۰ کسان مړهٔ کړی وو، خو دَ تاریخ لیکونکی یوسیفس (j osephus) په مطابق صرف اؤیا کسان وژلے شوی وو.

جواب: غالباً دا دواړه خبرې صحیح دی. دا ممکنه ده چې خدائ پاک اؤیا کسان په هغه وخت باندې مړهٔ کړی وی اؤ دَ دې واقعې په نتیجه کښې یې ۵۰۰۰۰ کسان بیا وروستو مړهٔ کړی وی.

س- لوقا ۱۸: ۳۵، ۴۳ کله چې یریحو ته نزدې شول نو عیسیٰ مسیح یو ړوند سړے بینا کړو. مرقوس ۱۰: ۴۶، ۵۲ کله چې یریحو نه بهر ووتل نو عیسیٰ مسیح یو ړوند سړے بینا کړو. متی ۲۰: ۲۹- ۳۴ عیسیٰ مسیح دوه نامعلومه سړی دَ یریحو نه په لړه فاصله باندې روغ کړل.

جواب: دا درې واړه جدا جدا واقعې دی. دا دَ يوې واقعې بيان نۀ دے.
دغه شان دَ نورو خبرو هم وضاحت کيدے شی کومې چې دَ يو بل
خلاف وی. بائبل مقدس دَ غلطو نه بالکل پاک دے.

## ۴- دَ بائبل مقدس مستند کيدل

تاسو ته څنګه معلومه ده چې بائبل مقدس يو مستند کتاب دے؟ مونږ ته څنګه
معلومه ده چې دا کتابونه هم دې ليکونکو ليکلی دی دَ چا په نوم چې دا کتابونه دی؟
آيا بائبل مقدس دَ اعتبار قابل دے؟ آؤ. دا بالکل دَ اعتبار قابل دے.

په اصلی نُسخو کښې خو يوه هم موجوده نۀ ده. کيدے شی دې دَ پاره چې
ناپوهه انسان دَ دې عبادت شروع نۀ کړی. کومې پخوانۍ نُسخې چې موجودې دی،
هغه دا دی (۱) دَ ويټيکن نُسخه. دا دَ څلورمې صدۍ نُسخه ده اؤ په روح کښې محفوظه
ده. (۲) سينائی نُسخه. څلورمه صدی. لينن ګراډ. روس کښې ده. (۳) نسخه سکندريه.
پنځمه صدی. په لندن کښې ده.

مونږ بائبل مقدس دَ اعتبار قابل ګڼو ځکه چې جماعت په يوسل اتيا کښې
دا دَ اعتبار قابل ګرځولے وو.

دَ دې دَ قبلولو خارجی ګواهۍ دَ جماعت دَ کسانو نه ملاويږی.

کافرانو اؤ بدعتی خلقو هم مجبوراً دا ګواهی ورکړه چې دا کتاب په مکمل
طور دَ اعتبار قابل دے. په دوۍ کښې يو څو خاص نومونه دا دی: بيسی لاډس
(Basilides) کيپروکيټ (caprocate) کيلسس (celsus) پورفائری (porphyry)
وغيره.

دَ څلورو زرو پخوانو قلم سره دَ ليکلې شوۀ نسخو اندازه اخستلے شوې ده، چې دَ هغې
نه دا تصديق کيږی چې بائبل مقدس دَ اعتبار قابل دے.

مونږ دا ايمان لرو چې بائبل مقدس په مکمل طور باندې بالکل دَ اعتبار
قابل دے. مونږ دَ دې دَ پاره خپل ځانونه هم قربانولو دَ پاره تيار يو.

## خُلاصه

دَ بـائبل مقدس عبادت مهٔ کوئ، بلکه دَ دې تلاوت کوئ، اؤ ايمان پرې لرئ اؤ عمل پرې کوئ.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۲۱- دَ بائبل مقدس ليکونکو تقريباً څو ځله دا دعوه کړې ده چې زمونږ خبرې په حقيقت کښې دَ خدائ کلام دے؟

۳۲۲- آيا سائنس اؤ بائبل مقدس دَ يو بل خلاف دی؟

۳۲۳- تاسو بائبل مقدس ولې دَ ټولو نه غوره کتاب گڼئ؟ (شپږ خبرې).

۳۲۴- تاسو دَ يوحنا ۱: ۱۸ اؤ هجرت ۲۴: ۱۰ کښې دَ يو بل خلاف خبرو په حقله څهٔ جواب ورکوئ؟

۳۲۵- تاسو دَ شمير دَ ۲۵: ۹ اؤ دَ کورنتيانو په نوم دَ اولنی خط ۱۰: ۸ کښې دَ يو بل خلاف خبرو په حقله څهٔ جواب ورکوئ؟

۳۲۶- په دويم سموئيل ۲۴:۲۴ اؤ اوله روزنامچه ۲۱: ۲۵ کښې چې کوم فرق دے، دَ هغې وضاحت وکړئ.

۳۲۷- دَ يشعياه دَ ۴۰: ۲۸ په رڼا کښې ووايئ چې خدائ پاک دَ هجرت په ۳۱: ۱۷ کښې ولې آرام وکړو.

۳۲۸- دَ اول بادشاهانو شپږم باب اؤ دَ روزنامچې دَ بيانونو په مطابق دَ مصر نه دَ وتلو اؤ دَ خدائ دَ کور جوړولو په مينځ کښې درې نوی (۹۳) کاله فرق دے. دا مسئله حل کړئ.

۳۲۹- دَ اعمال په ۹: ۷؛ ۲۲: ۹؛ ۲۶: ۲۴ کښې دَ آواز په حقله چې کومه مسئله پيدا کيږی، دَ هغې مسئلې ختمولو دَ پاره دليلونه ورکړئ.

۳۳۰- درې پخوانئ نُسخې موجودې دی، دَ هغې نومونه واخلئ.

# دَ انسان اؤ دَ کائنات دَ تخليق په حقله سبقونه

## څلور ديرشم سبق

## دَ تخليق بيان

### پيژندګلو

* زمونږ دا ايمان دے چې خدائ پاک دَ ټولو څيزونو خالق دے.
* په اوسنئ زمانه کښې ډير طالب علمان په دې مسئله باندې پريشانه کيږی، نو ځکه مونږ به په دې سبق کښې دَ دې سوال په حقله خبرې کوؤ.
* دَ بائبل مقدس ځنې استاذان په دې موضوع باندې بالکل خبرې نۀ کوی ځکه چې په دې بحث کښې دَ تخليق اؤ دَ سائنس مسئلې هم راځی. اول تيموتيوس ٦: ٢٠.
* مونږ ډير په خوشحالئ سره دَ يوحنا ملګرتيا کوؤ چې "اے زمونږ مالکه خدايه! تۀ دَ عزت، لويئ اؤ قدرت مالک يې ځکه چې تا هر څۀ پيدا کړل اؤ دا ستا په مرضئ پيدا شول اؤ په وجود کښې راغلل". (مکاشفه ۴: ۱۱)
* دا رښتيا دی چې ډيرې خبرې دی چې مونږ پرې نۀ پوهيږو. خو دې سره زمونږ ايمان نۀ کمزورے کيږی چې خدائ زمونږ خالق دے.

### ۱- دَ پيدايښت دَ کتاب ليکونکے اؤ دَ تخليق بيان

پيدايښت ۱:۱ "خدائ په ازل کښې زمکه اؤ آسمانونه پيدا کړل".

مونږ دا اولنے آيت اؤ دې نه پس هر يو آيت دَ خدائ پاک الهامی کلام قبلوؤ چې دَ غلطو نه بالکل پاک دے.

دَ پيدايښت کتاب چا وليکلو؟ کوم يو ليکونکے دَ تخليق په موقعه باندې هلته موجود وو؟ چا هغۀ ته ټول تفصيل بيان کړو؟

زمونږ دا ايمان دے چې موسیٰ دا کتاب وليکلو، بلکه دَ بائبل مقدس اولنی پنځهٔ کتابونه هغهٔ وليکل. دَ پيدايښت کتاب دَ خدائ پاک کلام ګڼلے کيږی. په نوې لوظنامه کښې دَ شپيتو نه زيات ځله دَ دې کتاب نه حوالې ورکړے شوی دی.
دَ متی په ۱۹: ۴- ۶ کښې عيسیٰ مسيح دَ وخت دَ شروع کيدو اؤ دَ حضرت آدم اؤ دَ بی بی حوا دَ تخليق حواله ورکوی.
دَ متی په ۲۴: ۳۷- ۳۹ کښې عيسیٰ مسيح دَ حضرت نوح دَ طوفان حواله ورکوی.
خدائ پاک دَ تير شوی تاريخ دَ مکاشفې په طور حضرت موسیٰ ته دَ تخليق قيصه وکړه.
خدائ پاک چې دَ راتلونکی وخت بيان کولے شی، نو هغه دَ تير شوی وخت بيان هم ډير په صحيح طريقې سره کولے شی.
(لکه موسیٰ ته په ټيپ باندې دا هر څهٔ واؤرولے شول. يا ورته په ويډيو شکل کښې دا وښودلے شول)
مونږ دَ تخليق دَ قيصې دَ ساده والی، لنډيز، منطق اؤ دَ ښائست تعريف کوو. خاص طور باندې کله چې مونږ دَ دې مقابله دَ اوسنی وخت دَ انسان جوړوؤنکو څيزونو سره کوؤ.
دَ بيا راژوندی کيدو نه پس عيسیٰ مسيح دَ اماؤس په لار باندې دوؤ مريدانو ته ټولې خبرې وښودلې اؤ دَ لوقا په ۲۴: ۲۷ کښې ليکلی دی چې "دَ موسیٰ اؤ دَ ټولو نبيانو نه يې شروع" وکړه. دا حواله هم وګورئ ۲۴: ۴۴.

## ۲- دَ تخليق دَ بيان مقصد

څنې خلقو ته په دې کښې صرف مسئلې، اختلافات اؤ سائنسی مسئلې ښکاری. تاسو ته څهٔ ښکاری؟ ما ته خو دا ښکاری چې خدائ پاک خپل ځان دَ يو عظيم خالق په طور باندې څرګندوی.
مونږ ته هغه دَ ترتيب، منطق اؤ دَ عقل اؤ شعور خدائ اؤ دَ عظيمو منصوبو جوړوؤنکے ښکاری. دَ تخليق دَ قيصې مقصد دا نهٔ دے چې دَ انسان دَ ټولو سوالونو جوابونه ورکړے شی. بلکه دَ دې مقصد مونږ ته دا ښودنه کول دی چې دَ خدائ پاک عبادت وکړو اؤ هغهٔ ته سجده وکړو.

## ۳- دَ تخليق زمانه

په دې مسئله باندې دَ انجيل ايمان لرونکی اؤ دَ ارتقاء دَ نظريې منونکو په مينځ کښې زبردسته مسئله موجوده ده. سائنسدانان دَ زمکې دَ علم وغيره مطالعې کولو نه پس وائی چې دَ زمکې عمر يو څو لاکه کاله دے، حالانکه نور خلق دَ دې عمر صرف ۲۰۰۰ کاله ښائی.

کيدے شی چې دا دواړه خبرې صحيح وی. غلط فهمی په دې وجه پيدا شوې ده چې دَ پيدايښت ۱:۱ اؤ دَ پيدايښت ۱: ۳ په مينځ کښې چې کوم وخت دے نو دَ هغې هيچا ته صحيح پته نشته.
تر کومې پورې چې په زمکه باندې دَ انسان دَ وجود تعلق دے تقريباً دَ شپږ زره کالو موده بالکل صحيح ده. دَ پيدايښت ۱:۱ تعلق دَ دې نه ډيرې مخکښينئ زمانې سره دے. کيدے شی لاکونو کاله مخکښې زمانې سره وی، ځکه چې مونږ ته دَ دنيا دَ تخليق دَ اصلی زمانې په باره کښې هيڅ پته نشته.

دَ عقل دا غوښتنه ده چې دا خبره قبوله کړو چې څۀ هم خدائ پاک پيدا کړی دی، نو هغه کامل دی. دَ پيدايښت ۱: ۱۰، ۱۲، ۱۸، ۲۱، ۲۵ نه مونږ ته دا يقين ملاويږی چې دويم آيت دَ اصلی کامل تخليق بيان نۀ کوی، بلکه دَ هغه ويرانئ اؤ خوشی ځائ ذکر کوی کوم چې دَ اولنی تخليق نه پس دَ لوئ انقلاب په نتيجه کښې پيدا شوې وو.

دَ پيدايښت ۱: ۲ نه داسې معلوميږی چې يوه ډيره ويروونکې واقعه راپيښه شوې ده. زبردست اؤ تباه کوؤنکے طوفان راغلے وو. ويروونکې سزا. خالی اؤ ويرانه. تيارۀ دَ دې ويروونکی حالت ذکر کوی.

زمونږ دَ خيال په مطابق دَ حزقی ايل ۲۸: ۱۲- ۱۵ اؤ دَ يشعياه ۱۴: ۹- ۱۴ واقعات دلته کښې برابريږی. په دې حوالو کښې دَ شيطان دَ راغورزيدو ذکر دے، کوم چې دَ پيدا ايښت دَ ۳: ۱- ۷ نه مخکښې پيښ شوی وو.
دَ پيدايښت په ۱: ۳ کښې دَ دنيا دَ نوې شروعاتو بيان دے.
دَ يرمياه په ۴: ۲۳- ۲۶ کښې دَ پيدايښت دَ ۱: ۲ تفصيل ورکړے شوے دے.

## ۴- دَ بائبل مقدس دَ تخليق دَ بيان ملګرتيا کولو دَ پاره حقيقتونه

دَ بائبل مقدس ټول کتابونه دا اعلان کوی چې صرف يو خدائ دے چا چې دَ خپلې خُلې دَ کلام په وسيله ټول څيزونه پيدا کړل.

لږ سوچ وکړئ چې په وچه، لمده، هوا اؤ فضا کښې څومره عجيبه تقسيم موجود دے. کۀ چرې دَ سمندر سطح يو يا دوه ميټره اوچته کړے شی نو وچه به دَ اوبو لاندې شی (صحراګانې وغيره به تالاؤونه جوړ شی). په ګرمئ اؤ دَ اوبو په بخاراتو باندې غور وکړئ. توازن بالکل برقرار دے. په هوا کښې دَ آکسيجن اؤ نائټروجن (نسبت ۲۱: ۷۹) وغيره توازن قائم دے.

څۀ قسمه جسمانی يا کيمياوی اصول دَ دې توازن ذمه وار نۀ دی، بلکه دا دَ خدائ پاک دَ تخليق قدرت قائم کړی دی اؤ برقرار يې ساتی.

دَ تخليق لوئ والی، اؤ رنګا رنګ ته وګورئ. مرغو، څناورو، بوټو، ميوؤ، کبانو، ونو، جاړو وغيره زرګونو قسمونو ته وګورئ. آيا ارتقاء دا رنګينی پيدا کولے شی؟

دَ تاريخ اؤ ابتداء اؤ دَ غير مهذب انسان مطالعې نه دَ انسان دَ جسمانی وحشت اؤ

خرابوالی پته لږی، چې دَ انسان په ګناه کښې دَ پريوتلو نتيجه ده چې ذکر يې دَ پيدايښت په کتاب کښې موجود دے. کۀ چرې يو داسې قبيله معلومه کړے شی چې بالکل جدا اوسيږی نو هغه دَ دې فساد اؤ تنزُل ژوندے مثال دے.

څناور دَ انسان په شان وحشی نۀ دی. نر څناور دَ مادې سره داسې بد سلوک نۀ کوی. اؤ نۀ څناور مسلسل داسې خوراک خوری کوم چې نقصان ورکوؤنکے وی. دا صرف دَ فساد نه دَ ډک انسان کار دے. دا وحشی کيدل اؤ خرابوالے په ګناه کښې دَ پريوتو نتيجه ده.

## ۵- دَ تخليق سلسله يا نوے تعمير

بائبل مقدس وائی چې خدائ پاک په شپږ ورځې کښې ټول کائنات پيدا کړل. څنې خلق دَ دويم پطروس ۳: ۸ په رڼا کښې دا دليل ورکوی چې هره ورځ دَ زرو کالو برابر وه. خو زۀ دا ايمان لرم چې هره ورځ دَ څليريشتو ګينټو عامه ورځ وه.

دَ زمکې علم لرونکی وائی چې دَ زمکې تخليق دَ زمکې دَ طبقو ترتيب سره شوے دے:

اوله ورځ: دَ رڼا اؤ تيارې تقسيم. شپه اؤ ورځ. پيدايښت ۱: ۳- ۵.

دويمه ورځ: فضا. دَ فضا اؤ اوبو تقسيم. پيدايښت ۱: ۶- ۸.

دريمه ورځ: وچه زمکه. دَ وچې اؤ سمندر تقسيم. واښهٔ، ونې بوټی اؤ جاړې وغيره. پيدايښت ۱: ۹- ۱۳.

څلورمه ورځ: نمر، سپوږمۍ، ستوری. په شپه اؤ ورځ دَ حکمرانئ کولو واله تقسيم. پيدايښت ۱: ۱۴- ۱۹.

پنځمه ورځ: ژوندون. کبان، مرغۍ، سمندری مخلوقات. پيدايښت ۱: ۲۰- ۲۳.

شپږمه ورځ: ساه لرونکی. ځاروی، خويدونکی ځناور، ځنګلی ځناور، اؤ دَ ټولو نه په آخر کښې انسان. دَ پيدايښت ۱: ۲۴- ۳۱. اؤ هره ورځ به داسې کيدل چې "خدائ به دې هر څهٔ ليدو سره خوشحاله وو".

## ۶- انسان دَ خدائ په عکس اؤ صورت پيدا کړے شو

دَ "عکس" مطلب دے سورے يا دَ څهٔ څيز خاکه.

دَ "صورت" مطلب دے سورے يا عکس اصلی څيز سره يوشان والے لری.
خو دَ تخليق په بيان کښې دا دواړه لفظونه تقريباً يو شان مطلب ورکوی.
اول کورنتيان ۱۱: ۷ "سړے دَ خدائ صورت اؤ دَ هغهٔ دَ جلال عکس دے خو ښځه دَ سړی جلال ده".
پيدايښت ۱: ۲۶ "مونږ به انسان په خپل شکل اؤ صورت جوړ کړو".

ا- دَ شکل يا عکس مطلب جسمانی صورت سره يو والے لرل نهٔ دی ځکه چې خدائ روح دے. روح مختلف اندامونه اؤ جذبات نهٔ لری لکه څنګه چې انسان لری.

ب- دَ دې دواړو ترکيبونو مطلب صرف دا نۀ دے چې انسان په قدرت باندې حکمرانی لری. دَ دې مطلب ډير ژور اؤ لوئ دے.

پ- دَ کلامِ پاک نه مونږ ته دا معلوميږی چې دَ دې مطلب علم، صداقت اؤ پاکوالے دے. دَ دې مطلب اخلاقی يو والے دے، جسمانی مشابهت نۀ دے.

افسيان ۴: ۲۳، ۲۴ "پکار دی چې ستاسو زړۀ اؤ دماغ دې بيخی نوې شی. اؤ نوے انسانيت خپل کړئ کوم چې دَ خدائ په مطابق دَ حقيقت په صداقت اؤ پاکوالی کښې ښکاره کيږی".

کولوسيان ۳: ۱۰ "اؤ نوے انسانيت مو اغوستے دے چې دَ معرفت دَ حاصلولو دَ پاره دَ خپل خالق په شکل نوے کيږی".

## خُلاصه

حضرت آدم اؤ بی بی حوا عقل مند اؤ حکمت نه ډک پيدا کړے شول، ځکه چې حضرت آدم په ځناورو نومونه کيښودل. انسان دَ روحانی اؤ اخلاقی خوبو سره پيدا کړے شو. هغۀ دَ شيطان مقابله کولے شوه.

خدائ پاک چې څۀ پيدا کړل هغې ته يې "ښۀ" ووئيل، ځکه چې دَ خدائ نه هيڅ قسمه بدی نۀ شوه کيدے. "خدائ په ازل کښې....". زمونږ دَ هر څۀ په ازل کښې خدائ پاک موجود اؤ شامل وو.

پکار دی چې مونږ پوهه شو اؤ دا قبول کړو چې زمونږ خالق قدرت، اختيار، ترتيب اؤ دَ انتظام کولو واله خدائ پاک دے. راځئ چې مونږ ډير په ادب اؤ احترام سره دَ هغۀ په حضورئ کښې حاضر شو. هغۀ ته سجده وکړو اؤ صرف دَ هغۀ عبادت وکړو. يعقوب ۴: ۸.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۳۱- دَ تخليق په قيصه کښې دَ متی ۱۹: ۴- ۶ څۀ اهميت دے؟

۳۳۲- دَ پيدايښت ۱:۱، لوقا ۲۴: ۴۴ اؤ دَ يوحنا په ۱: ۴۵ کښې څۀ تعلق دے؟

۳۳۳- دَ پيدايښت دَ کتاب په اولنی باب کښې دَ تخليق دَ بيان څلور ادبی خوبئ بيان کړئ.

۳۳۴- دَ پيدايښت په کتاب کښې دَ تخليق دَ بيان دوه مقصدونه بيان کړئ.

۳۳۵- دَ دنيا دَ پيدايښت زمانه اندازاً کومه يوه ده؟

۳۳٦- درې حوالې بيان کړئ چې دَ تخليق په مشکلاتو اؤ سختو باندې رڼا اچوی.

۳۳۷- بائبل مقدس چې دَ تخليق کوم بيان پيش کړے دے دَ هغې په مرسته کښې
څلور حقيقتونه بيان کړئ.

۳۳۸- دَ پيدايښت په کتاب کښې دَ تخليق دَ شپږو ورځو سلسله بيان کړئ.

۳۳۹- دَ دې څۀ مطلب دے چې انسان دَ خدائ په شکل اؤ صورت پيدا کړے شو؟
دَ دې خبرې وضاحت دَ پاره دوه حوالې ورکړئ.

۳۴۰- مونږ دَ ارتقاء دَ نظريې دليلونو دَ پاره څۀ جواب ورکولے شو؟

# پنځهٔ دیرشم سبق

# دَ ارتقاء نظریه

## پیژندګلو

* په تیر شوی سبق کښې مونږ دَ تخلیق په حقله دَ بائبل مقدس دَ بیان مطالعه وکړه.

* په بدقسمتئ سره نن سبا ډیرې یونیورسټیانې اؤ کالجونه دا بیان نهٔ قبلوی.

* هلته کښې دَ ارتقاء نظریه دَ یو امکانی نظریې په طور نه، بلکه دَ حقیقت په طور باندې لوستلے کیږی.

* دَ سائنس لیګ آف امریکې مشر مینارډ شپلے وائی چې "په دنیا کښې سائنسدانان دَ ارتقاء نظریه صحیح اؤ دَ مسئلو نه پاکه ګڼی، اؤ دَ ارتقاء عمل حقیقت قبلوی".

لنوِل، کیلی اؤ کلیو په خپل کتاب "جنرل زوآلوجی" کښې لیکلی دی چې "په موجوده زمانه کښې ټول سائنسدانان دا خبره قبلوی چې ارتقاء یو حقیقت دے".

* دَ مسیحی په طور مونږ له دَ اکثریت دَ مشورو نه متاثره کیدل نهٔ دی پکار. ځکه چې اکثریت اکثر په غلطه وی. یوې لوئې ګڼې عیسیٰ مسیح په سولئ کړے وو، خو لږ خلق په حقه وو.

* مونږ دا ایمان لرو چې بائبل مقدس رښتینے دے اؤ دَ ارتقاء نظریه دَ دروغو نه ډکه ده.

* ډاکټر آرتهر-آئی- براؤن ایم، ډی- سی ایم- ایف آرسی ایس ای وائی چې "دَ ارتقاء په نظريه کښې دومره ناممکنه خبرې دی چې دَ دې دَ وزن په وجه دا په خپله ختميږی".

## ۱- دَ ارتقاء دَ نظريې بيان

هربرټ سپنسر دَ دې مختصر تعريف داسې کوی چې "ارتقاء په بنيادی طور باندې دَ مادې رايوځائ کيدل اؤ دَ حرکت خوريدل دی."

سپنسر دا وئيل غواړی چې په فطرت کښې بدلون هميشه دَ ساده نه پيچيده طرف ته اؤ دَ پيچيده نه نور پيچيده طرف ته کيږی. هغه وائی چې دا دَ ونو بوټو، ځناورو اؤ انسانانو ټولو دَ پاره استعماليږی. دا عمل دَ بې ساه مادې سره شروع شو اؤ دَ ونو بوټو په شکل کښې راغے اؤ بيا ځناورو اؤ انسانانو ته را ورسيدو.

مختصر دا چې دَ ټولو نه دَ کمې درجې ساه لرونکې ماده په قلاره قلاره وده وکړه اؤ دَ ژوند دَ ټولو نه ښۀ درجې ته دَ رسيدلو دې نوم ته ارتقاء وئيلے شی.

دَ دې نظريې په مطابق دَ کائناتو شروع په اول کښې ډير شکمن حالت سره وشوه اؤ په قلاره قلاره دا نوې دنيا په وجود کښې راغله.

## ۲- دَ ارتقاء دَ نظريې دعوې

په دې کښې دَ مادې يو يو زره، بلکه دَ ټولو نه ورکوټی نه ورکوټے ساه لرونکے څيز هم شامل دے.

په دې کښې دَ ژوند يو يو لحظه، تير شوې وخت، موجوده وخت اؤ راتلونکے وخت شامل دے.

دا دَ دنيا اؤ دَ کائناتو هره دويمه تشريح اؤ دويمه نظريه رد کوی. دا په دې باندې زور اچوی، خو دويمه وجه مثلاً فطری انتحاب يا بقا، وراثت، دَ ماحول په مطابق پيدا کول، دَ اندامونو خوښه يا بقا، اؤ دَ ژوندی پاتې کيدو دَ پاره کوشش اؤ دَ اصلاح دَ پاره پاتې کيدل هم قبلوی.

## ۳- دَ ارتقاء پټې کَړَۍ

هغویٔ دَ اولنۍ زرې په وجود کښې دَ راتلو وجه نۀ شی بیانولے. دا وضاحت نۀ شی کولے چې اولنۍ ماده یا زره دَ خپل شکل نه بدله شوه اؤ دَ حرکت کوؤنکې مادې شکل یې اختیار کړو.

دا وضاحت نۀ شی کولے چې دا موجوده کائنات، داسې په انتظام کښې ولې دی، بې انتظامه ولې نۀ دی. دا دَ ودې وضاحت هم نۀ شی کولے چې دَ یو اسپې نه اسپه ولې پیدا کیږی. دې نه څۀ ارتقائی څیز ولې نۀ پیدا کیږی.

دا وضاحت هم نۀ شی کولے چې دَ اولنۍ بې ساه مادې یا زرې نه ژوند پیدا شو. دا وضاحت هم نۀ شی کولے چې په ځناورو کښې شعور اؤ احساس څنګه پیدا شو. اؤ دا وضاحت هم نۀ شی کولے چې دَ ځناورو نه انسانانو ته څنګه ورسیدو. دَ بې شمیره ستورو اؤ سیارو باندې دَ مادې موجوده تقسیم وضاحت کولو کښې هم ناکامه دی.

دا نظریه نفسیاتی، اولسی، اخلاقی اؤ روحانی طبقو کښې دَ بدلون وضاحت هم نۀ شی کولے.

## ۴- دَ خدائ پاک سره تړلې دَ ارتقاء نظریه

دَ اولنۍ پټې کَړۍ جواب ورکولو دَ پاره خدائی ارتقائی نظریه دا وائی چې چرته پخوا زمانه کښې خدائ پاک اولنۍ ماده پیدا کړه اؤ زرې یا مادې یې په حرکت کښې راوستلې.

دَ ارتقاء دَ نظریې اوسنی منونکی په قلاره قلاره دَ خدائی ارتقائی نظریې طرف ته روان دی. په دوئ کښې دوه نامور پروفیسران رومانیس اؤ جان فسکے دی.

دَ خدائی ارتقاء نظریه په دوؤ شکلونو کښې ده. اول دا چې خدائ پاک صرف اولنۍ زره (ایټم) پیدا کړه. دویم دا چې خدائ پاک اوس هم دَ ارتقاء په عمل کښې مرسته کوی.

## ۵- دَ ارتقاء دَ نظریې په حقله مختلفې رویې

أ- دَ دې نظریې خلاف دَ دلیلونو په باوجود ځنې کسان هم دا ربنتیا ګڼی.

ب- ځنې خلق دَ ارتقاء نظريه فرضی نظريه ګڼی، چې په کښې امکانات ډير زيات وی خو لاتر اوسه پورې ثابت شوی نۀ دی. په سائنس کښې جائز اؤ دَ قبليدونکو خبرو اصول دا دی:

- (۱) کوم حقيقتونه چې سائنسی طور باندې ثابت شوی دی نو دَ هغې خلاف دې نۀ وی.

- (۲) بيا وروستو دَ تحقيق نه پس دا دَ صحيح يا غلط ثابتولو جوګه وی.

- (۳) دَ محسوساتو يا دَ لټون په تشريح يا بيان باندې دا استعمال شی. کۀ چرې دا استعماليږی نو بيا دَ هغې په وجود کښې دَ راتلو تسلی بخش وجه دې هم پيش کړی.

دَ ارتقاء نظريه دَ (۱) اؤ دَ (۳) خلاف ورزی کوی.

ت- ځنې خلق دَ ارتقاء نظريه په بدليدونکی شکل کښې قبلوی. لکه خدائ سره تړلې شوې ارتقاء وغيره.

ث- دَ انجيل شريف مسيحيان دا نظريه بالکل رد کوی، اؤ دَ پيدا ايښت په کتاب کښې دَ خدائ پاک دَ تخليق چې کومه قيصه بيان شوې ده هغه قبلوی.

## ٦- ځنې نامور سائنسدانان دَ ارتقاء نظريه نۀ منی

په جرمنی کښې په يونيورسټی آف ارلينګن کښې دَ ځناورو علم لرونکې پروفيسر ډاکټر البرټ فلسچمين وائی "دَ ډارون په نظريه (ارتقا) کښې هيڅ حقيقت نشته چې دا په دې قدرتی دنيا کښې رښتيا ثابت کړی. دا دَ سائنسی تخقيق تتيجه نۀ ده، بلکه صرف دَ خيالونو اؤ سوچونو پيدا وار دے. دَ سلالتِ انسان (descent of nan) نظريه ثابته نۀ شوه".

دَ وکټوريه انسټيټوټ آف لندن (انګلستان) مشر سرجان ايمبروز فليمنګ ايف- آر- ايس دَ "ارتقا يا تخليق" (evolution or creation) نومې کتاب چاپ کړے دے. په دې کښې هغۀ دَ ارتقا دَ نظريې په باره کښې ډيرې ګډې وډې خبرې کړی دی.

ډکلس ډيور په انګلستان کښې دَ ځناورو اؤ ونو بوټو ماهر دے اؤ ډير کتابونه يې ليکلی دی. هغه په دې موضوع باندې يو سنَد ګڼلے شی. هغۀ "دَ ارتقاء دَ نظريې

مشکلات" په نوم باندې يو کتاب ليکلے دے. دا کتاب دَ دې نظريې خلاف يو کامل اؤ اثرناک دليل ورکوی.

دَ امريکن ميوزيم آف نيچرل هسټری شعبې دَ علمِ انسانياتو اعلیٰ کيوريټر ډاکټر کلارک وزلر په خپل کتاب "دَ ارتقاء دَ نظريې رد کيدل" کښې ليکی چې "تر کومې پورې چې سائنس معلومه کړې ده، نو انسان دَ شروع نه په موجوده صورت کښې وو. حالانکه ځنې ډير ترقی کوؤنکی نهٔ وو بهرحال په خپلو ټولو کارونو وغيره کښې تقريباً داسې وو لکه څنګه چې دَ اوسنی وخت انسان دے.... تر کومې پورې چې مونږ دَ تير شوی وخت معلومات حاصل کړی دی نو انسان ناڅاپی راڅرګند شو" (دَ دې مطلب دے چې تخليق شوے وو).

ډاکټر آسټن ايچ کلارک ايف- آر- جی- ايس، دَ امريکې طبعياتو يونين غړے دے اؤ دَ بحری جغرافيې ماهر دے. دَ هغهٔ دَ کتاب عنوان دے "نوې ارتقا- دَ ځناورو پيدا کيدل". هغه وائی چې "دَ ځناورو غټې غټې ډلې يو بل سره نهٔ ملاويږی. هغوئ دَ شروع نه واخلې تر نن ورځې پورې په خپل حال دی".

ډاکټر ګيرټ مُلر وائی "مونږ ته دا اقرار کول ګران نهٔ دی چې تر کومې پورې دَ انسان اؤ دَ نورو ځناورو کوم چې بچو له پئ ورکوی تعلق دے، نو مونږ سره دَ دوئ دَ يو ځائ کولو واله کړئ نشته. کهٔ چرې شته نو يو څو دَ حيواناتو نباتاتو پاتې شوی ټکړې دی دَ کومو نه چې په آسانئ دا ثابتيدے شی چې دا څهٔ بل څهٔ دی".

دَ سنسناټی يونيورسټئ پروفيسر ايل- ټی- مور په خپل کتاب "دَ ارتقا مسئله" کښې ليکلی دی: "دا دَ ډارون دَ راتلونکی وخت دَ مشهوريدو دَ پاره بد قسمتی ده چې حقيقتونه دَ هغهٔ هر يو دليل رد کوی".

مخکښې مونږ دَ ډګلس ډيور ذکر وکړو. هغه په خپل کتاب کښې ليکی چې "دَ نسل زياتوونکی کهٔ په هر يو بوټی باندې تجربې وکړی، کهٔ هغه ځناور هم وی، نو په يو خاص رُخ کښې به لږ شان معمولی بدلون راوستلو نه پس هغه سمدستی ودريږی. تقريباً په لږه موده کښې هغه داسې مرحلې ته ورسی کهٔ هر څومره کوشش هم وکړی خو نور څهٔ نهٔ شی حاصلولے. دا حقيقت دَ ارتقاء نظريه ختموی".

دَ کيمبرج پروفيسر اے- سی- سيوارډ ليکلی دی چې "کوم طالب علم دَ تعصب نه بغير دَ تير شوی وخت مطالعه کوی، نو هغهٔ ته ډيره زر دا معلوميږی چې دَ حيواناتو پاتې شوې ټکړې دومره مسئلې نهٔ حل کوی لکه څومره چې پيدا کوی".

(دا حصه دَ ډاکټر براؤن دَ يو وعظ، چې عنوان يې دے "آيا ځوانانو له دَ ارتقاء نظريه منل پکار دی؟" نه اخستے شوے ده، چې دَ ټی- آر- ډنهم په کتاب "په شنو شنو واښو کښې" شامله ده.)

## خُلاصه

دَ اوبو علم، دَ بوټو علم، بدله تشريح، زوړ علم، علم الجنين، دَ زمکې اؤ دَ حيواناتو پاتې شوې ټکړې راويستل (علم المتحجرات) نه دَ ارتقاء دَ نظريې په ملګرتيا کښې ورکړے شوی ثبوتونه دَ حقيقی سائنسی تحقيق په وړاندې ختميږی.

دې نظريې ته زيات نه زيات مفروضې يا آنې بهانې وئيلې شو چې صرف خيالی اؤ فکری دی. آيا دا غوره نۀ ده چې دَ خدائ پاک کلام قبول کړو اؤ په دې خبرو يقين وکړو کومې چې حقيقی سائنس ثابتوی چې انسان اؤ هر يو څيز مکمل تخليق کړے شو، اؤ هر يو څيز داسې تخليق شوے وو لکه څنګه چې اوس دے.

دَ خدائ پاک تخليقی حکم دا وو چې "دَ هغوئ دَ نسل په مطابق". دَ ساه لرونکو دَ پاره هم دا حکم وو. پيدايښت ۱: ۲۴ اؤ دَ ونو بوټو دَ پاره هم دا حکم وو. (۱: ۲۱). دا حکم تر اوسه پورې پوره کيږی. دَ زهرو نه دَ دې ډکې نظريې په ځائ زۀ خو دَ خدائ پاک اؤ دَ حقيقی سائنس ملګرتيا کوم.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۴۱- ستاسو په خيال کښې دَ ارتقاء نظريه دَ نن سبا په يونيورسټو باندې ولې خوره شوې ده؟

۳۴۲- دَ ارتقاء نظريه څۀ ته وائی؟ په خپلو لفظونو کښې ساده بيان وکړئ.

۳۴۳- دَ ارتقاء نظريه کومې څلور دعوې کوی؟

۳۴۴- شپږ وجې بيان کړئ کومې چې دَ ارتقاء نظريه قبلوی.

۳۴۵- دَ ارتقاء نهه پټې کړئ بيان کړئ.

۳۴۶- په فرضی ارتقاء اؤ دَ خدائ سره تړلې ارتقاء کښې څۀ فرق دے؟

۳۴۷- آيا خدائ پاک سره تړلې ارتقاء اؤ دَ بائبل مقدس دَ تخليق په بيان کښې يو والے پيدا کول هوښيارتيا ده؟

۳۴۸- آيا دا ممکنه ده چې دَ سائنسدانانو اقليت، څوک چې دَ ارتقاء نظريه رد کوی، هغوئ په حقه دی؟ ولې؟

۳۴۹- په دې سبق کښې دَ اتو نامورو سائنسدانانو خيالونه پيش کړے شوی دی. ستاسو په خيال کښې دَ ټولو نه ښۀ بيان کوم يو دے؟ ولې؟

۳۵۰- دَ پيدايښت دَ کتاب اولنی باب نه درې آيتونه پيش کړئ چې دَ هغې نه دا ثابتيږی چې دَ ارتقاء نظريه غلطه ده.

# شپږ دیرشم سبق

# دَ انسان بغاوت

## پیژندګلو

* دَ مسیحیت نه علاوه نور مذهبونه هم دَ انسان دَ بغاوت قیصه بیانوی. دَ هغوئ قیصې بې شکه چې منسوخ شوې اؤ بدلې شوې دی خو هغوئ دَ دې ویروونکی حقیقت اعتراف کوی.
* دَ ارتقاء مسئله دَ مسئلو حل کولو په ځائ نورې مسئلې پیدا کوی. کۀ چرې دَ پیدایښت دَ کتاب بیانونه غلط وی نو بیا تاسو دَ انسان دَ بغاوت اؤ دَ ګناه په حقله باندې څۀ وایئ؟
* زمونږ په مذهب کښې دَ خدائ پاک په باره کښې زمونږ خیال ډیر زیات اوچت اؤ غوره دے. زمونږ په خیال دَ خدائ پاک اؤ دَ ګناه ګار انسان په مینځ کښې فاصله ډیره زیاته ده.
* ځنې خلق دا سوچ کوی چې دا خبره دَ خدائ پاک ذات سره سمون نۀ لری چې هغۀ ګناه اؤ شیطان باغ عدن ته داخلیدو ته پریښودل.
* دَ دې سوال جواب هم دَ خدائ په رازونو کښې یو راز دے.
* دَ پیدایښت په دریم باب کښې دَ انسانی تاریخ دَ دې لوئې واقعې بیان ورکړے شوے دے.
* په دې بیان کښې دا نۀ دی وئیلے شوی چې ګناه کائناتو ته څنګه راغله ځکه چې دَ دې نه مخکښې شیطان ګناه کړې وه اؤ هغه دَ آسمان نه ویستلے شوے وو. حزقی ایل ۲۸: ۱۲- ۱۵؛ یشعیاه ۱۴: ۹- ۱۴.

* په دې بيان کښې صرف دا وئيلې شوی دی چې ګناه څنګه په انسانی نسل کښې راغله اؤ مونږ يې ګناه ګار کړو.
* څنې خلق دا بيان يو مثالی قيصه ګڼی، خو دا بيان دومره ساده اؤ خالص دے چې مثال بالکل نۀ شی کيدے.
* څنې دې له دَ ډيره لويه درجه ورکوی. مونږ بائبل مقدس دَ خدائ پاک کلام قبلوؤ چې دَ غلطئ نه بالکل پاک دے. دا بيان هم دَ خدائ پاک مکاشفه اؤ دَ الهام يو حصې په طور پيژنو.
* مونږ دا رښتيا ګڼو اؤ په صحيح لفظونو کښې يې قبلوؤ. دَ لعنتونو پيشن ګويانې خو بالکل لفظی طور باندې پوره شوې. مونږ په خپل ژوند کښې روازنه دې ته مخامخ کيږو ( ازغی اؤ مرکونډئ اؤ خوله ).

## ۱- دَ بغاوت وسيله

دَ پيدا ايښت په ۳: ۱ کښې دَ شيطان دَ پاره اسمِ ضمير "هغه" استعمال شوے دے. دا ذاتی اسمِ ضمير دے. کۀ چرې دَ دې مطلب مار وو نو اسمِ ضمير به غير ذاتی استعمال شوے وو، کوم چې دَ غير انسان څناورو اؤ بې ساه څيزونو دَ پاره استعماليږی. دا مار دَ بدو روحونو په قبضه کښې وو.

## ۲- دَ شيطان مکاری

شيطان په خپل شکل اؤ صورت کښې ظاهر نۀ شو بلکه دَ يو ښائسته مار په شکل کښې راغلو. څنې خلق وائی چې دَ انسان نه علاوه صرف مار داسې څناور وو چې دَ خبرو کولو قدرت ورکړے شوے وو (يوسيفس) کۀ چرې دا خبره صحيح وی نو بی بی حوا به بيا دا خيال کړے وو چې مار خبرې کوی.

شيطان هغه وخت حمله وکړه کله چې حضرت آدم اؤ بی بی حوا جدا جدا وو (په اتفاق کښې طاقت وی).

شیطان په کمزوری کس باندې حمله وکړه اؤ هغه هم په هغه وخت کښې کله چې هغه دَ ونې سره نزدې وه. شیطان دَ علم اؤ خوراک دَ پاره دَ جائز خوراک، تشویشونو اؤ خواهشاتو په وسیله حمله وکړه.
شیطان دَ حملې شروع دَ خدائ پاک په کلام باندې شک کولو سره وکړه "آیا واقعی خدائ پاک وئیلی دی.....؟"

شیطان ووئیل چې دې میوې خوړلو سره به تهٔ دَ ښهٔ اؤ بد پیژندګلو حاصله کړې. خو دا یې ورته وونهٔ وئیل چې هغوئ به دَ نیکئ کولو طاقت بائیلی.

## ۳- خدائ پاک دَ حضرت آدم اؤ بی بی حوا امتحان اخلی

پیدایښت۲: ۱۲، ۱۷ "مالک خدائ، خدائ پاک هغهٔ ته حکم وکړو، تهٔ دَ باغ دَ هرې ونې میوه خوړے شې، خو دَ هغې ونې نه بغیر کومه چې دَ ښهٔ اؤ بد دَ پیژندګلو پوهه ورکوی. چې هیڅ کله دَ هغې ونې میوه ونهٔ خورې، کهٔ تا وخوړه نو په هغه ورځ به مړ شې".

## ۴- دَ بغاوت پورې قدمونه

بی بی حوا ونې سره ډیره نزدې وه. هغې له پکار وو چې دَ آزمیښت دغه ځائ نه لرې تښتیدلې وه. کیدے شی چې هغه ولاړه وه اؤ دَ هغې دَ ښائست تعریف یې کولو. دَ منع شوی څیز تعریف کول، په هغې کښې دلچسپی اخستل، دَ هغې دَ حاصلولو یا دَ هغې نه دَ مزې اخستلو سخت خواهش پیدا کوی.

هغې ابلیس سره خبرې شروع کړې. هغې له کله هم هغهٔ سره خبرې کول نهٔ وو پکار، علاوه دَ دې نه چې ورته یې دَ بائبل مقدس نه آیاتونه پیش کړی وو.

هغهٔ دَ خدائ پاک په کلام کښې بدلون وکړو. هغهٔ دَ دې جملې اضافه وکړه چې "اؤ مهٔ لاس وروړئ". اؤ دَ اصلی حکم نه یې "دَ هرې ونې نه" دا لفظونه ختم کړل. هغهٔ دَ خدائ پاک دَ کلام دَ لفظونو اثر هم کم کړو. خدائ پاک ووئیل چې تهٔ به مړ شې، یعنې یقیناً به مړ شې، خو بی بی حوا ووئیل ګنی مړ به شې.
پیدایښت ۳: ۲ "چې ښځې ونه ولیده نو په زړهٔ کښې راغلل چې دا ونه دومره ښکلې ده، میوه به یې څومره خوږه وی اؤ څومره مزه به وکړی چې هوښیار شو......"

## ۵- اصلی ګناه

پیدایښت ۳: ۶ " چې ښځې ونه ولیده نو په زړهٔ کښې راغلل چې دا ونه دومره ښکلې ده، میوه به یې څومره خوږه وی اؤ څومره مزه به وکړی چې هوښیار شو نو لږه میوه یې ترې وشوکوله اؤ وې خوړله. بیا یې هلته ترې نه لږه خاوند له هم ورکړه اؤ هغهٔ هم وخوړله".

### سمدستی نتیجې

(۱) هغوئ ګناه ګار شو. روحانی ژوند مړ شو. افسیان ۲: ۱.

(۲) دَ هغوئ سترګې وغړیدلې اؤ ورته معلومه شوه چې بربنډ دی.

(۳) هغوئ خپل بربنډتوب پټولو دَ پاره دَ اینځر پاڼې وګنډلې اؤ جامې یې ترې جوړې کړې.

(۴) دَ خدائ پاک دَ حضورئ نه لرې لاړل اؤ پټ شول. ګناه انسان دَ خدائ پاک نه لرې کوی.

## ۶- خدائ پاک دَ لعنت اعلان کوی

(۱) په مار باندې: دَ زمکې دَ هر ځناور اؤ ځنګلی ځناور نه زیات لعنتی. ټول عمر به په خیټه تلل کوی اؤ خاورې به خوری.

(۲) په ښځې باندې: دَ درد اؤ تکلیف سره به بچی پیدا کوی. اؤ خاوند به په هغې حکمرانی کوی.

(۳) په سړی باندې: دَ هغهٔ په وجه زمکه لعنتی شوه. ازغی اؤ مرکونډئ اؤ جاړې به را زرغونوی. دَ سړی ټول ژوند به دَ تکلیف نه ډک وی. خپل

مخننت سره به ډوډئ ګټی. اؤ چې مړ شی نو خاورو ته به واپس ځی چر ته نه چې راغلے وو.

## ۷- دَ بغاوت نتیجې

(۱) دَ هرې طبقې اؤ رتبې خلق یعنې ټول انسانان دَ خدائ په وړاندې ګناه ګار دی. رومیان ۳: ۹ "..... مونږ دَ مخکښې نه دا الزام عائد کړے دے چې یهودیان اؤ غیر یهودیان دواړه یو شان دَ ګناه په ولقه کښې دی".

- رومیان ۳: ۱۰ "لکه چې صحیفې وائی، هیڅوک صادق نشته، یو هم نشته".
- رومیان ۳: ۲۳ "ځکه چې ټولو ګناه وکړه اؤ دَ خدائ دَ جلال نه محروم دی."
- رومیان ۵: ۱۲ "دَ یو سړی په وسیله ګناه دنیا ته راغله اؤ دَ ګناه په وسیله مرګ. اؤ دغه شان مرګ په ټول انسانی نسل قبضه وکړله تردې چې ټول بنی آدمو ګناه وکړله".
- په درجو کښې فرق کیدے شی خو دَ ګناه په حقیقت کښې هیڅ فرق نشته.

(۲) ټوله دنیا دَ شرم، لعنت اؤ غضب په ولقه کښې ده.

رومیان ۳: ۱۹ "دَ دې دَ پاره چې یو سړے هم څۀ عذر ونۀ لری اؤ دغه شان ټوله دنیا دَ خدائ په مخکښې مجرمه کړے شی".

- ګلتیان ۳: ۱۰ "هر هغه څوک چې دَ شریعت په کتاب کښې لیکلے شوؤ په ټولو خبرو عمل نۀ کوی هغه لعنتی دے".
- افسیان ۲: ۳ "اؤ دَ نورو په شان په انسانی طور دَ خدائ دَ غضب لائدې وو".

(۳) څوک چې دَ نوی سر نه نۀ دی پیدا شوی هغوئ دَ ابلیس اولاد دی، دَ خدائ اولاد نۀ دی.

- یوحنا ۸: ۴۴ "تاسو دَ خپل پلار ابلیس نه یئ اؤ دَ خپل پلار خواهشونه پوره کول غواړئ".
- نوی پیدا ایښت سره مونږ دَ خدائ اولاد جوړیږو. یوحنا ۱: ۱۲.

(۴) شیطان ټول انسانی نسل په خپله غلامئ کښې ساتلے دے.

- دویم کورنتیان ۴:۴ "ځکه چې دَ دې بدې دنیا سردار دَ هغوئ عقل ړوند کړے دے دَ دې دَ پاره...... چې دَ زیری رڼا په هغوئ ونۀ ځلیږی".

(۵) ذهنی، اخلاقی، جسمانی اؤ روحانی طور باندې دَ انسان ټول فطرت دَ ګناه په وجه متاثره شو.

أ- عقل ړوند شو. افسیان ۴: ۱۸؛ اول کورنتیان ۲: ۱۴.

ب- زړۀ دَ ټولو څیزونو نه زیات حیله باز اؤ لا علاجه دے. یرمیاه ۱۷: ۹، ۱۰.

ت- ذهن اؤ ضمیر خراب شوی دی. پیدایښت ٦: ۵؛ تیطوس ۱: ۱۵.

ث- بدن اؤ روح خراب شول.

ج- دَ ارادې لرلو قوت کمزورے شوے دے. رومیان ۷: ۱۸.

ح- انسان دَ خدائ په شان صفتونو لرلو نه بالکل محرومه شو. رومیان ۷: ۱۸.

## خُلاصه

انسان دَ پیدا ایښت راسې ګناه ګار اؤ ورک شوے دے. هغه دَ خدائ مخالف اؤ دښمن دے. دَ انسان بغاوت کولو سره خدائ پاک دَ یو خلاصوؤنکی اؤ فدیه ورکوؤنکی وعده وکړه.

دا پیشن ګوئی (پیدا ایښت ۳: ۱۵) خدائ پاک څلور زره کاله پس په صلیب باندې پوره کړه. خدائ پاک دَ انځیر دَ پاڼو جامې لرې کړې اؤ حضرت آدم اؤ بی بی حوا له یې دَ څرمنې جامې ورکړې.

دا دَ هغه کفارې تصوير دے کومه چې وينې سره ورکولے کيږی، اؤ دَ ګناه ګار په فديه کښې ورکولے کيږی.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۵۱- خدائ پاک شيطان اؤ ګناه دَ عدن باغ ته ولې پريښودل؟

۳۵۲- دَ انسان په بغاوت کښې دَ وسيلې کردار چا ادا کړو؟

۳۵۳- دَ شيطان مکارئ ظاهرولو دَ پاره شپږ خبرې بيان کړئ.

۳۵۴- خدائ پاک دَ انسان آزمائيلو دَ پاره کوم يو امتحان مقرر کړے وو؟

۳۵۵- دَ ګناه کولو نه مخکښې بی بی حوا کومې څلور غلطئ وکړې؟

۳۵۶- دَ ميوې خوړلو نه پس سمدستی څلور کومې نتيجې راووتلې؟

۳۵۷- دَ انسان دَ بغاوت په نتيجه کښې خدائ پاک کوم څلور لعنتونه را وليږل؟

۳۵۸- دَ بغاوت څلور داسې نتيجې بيان کړئ کومې چې نن هم موجودې دی. هرې يوې دَ پاره حواله هم ورکړئ.

۳۵۹- دَ کومو شپږو خبرو نه ثابتيږی چې هر يو انسان دَ ګناه په ولقه کښې دے؟

۳۶۰- دَ خلاصوئنکی دَ پاره اولنئ وعده کومه يو وه؟

# اوؤۀ ديرشم سبق

# گناه

## پيژندګلو

* په تير شوی سبق کښې مونږ دَ انسان په ګناه کښې دَ غورزيدو په باره کښې ولوستل، ځکه چې دَ آدم په وسيله ګناه دنيا ته راغله.
* په اوسنۍ زمانه کښې خلق ګناه پورې خندا کوی چې دا صرف دَ انسان کمزوری ده.
* کله چې انسانانو ته دَ ګناه شعور وی نو هغوئ به دَ رحم دَ پاره خدائ پاک طرف ته رجوع کوی.
* تر څو پورې چې مونږ دَ ګناه په تباهئ اؤ خرابوالی باندې پوهه نۀ شو، نو مونږ په سولئ باندې نۀ شو پوهيدلے. تر څو پورې چې مونږ دَ سولئ په مطلب باندې پوهه نۀ شو، نو مونږ دَ ګناه په ګندګئ اؤ خرابوالی باندې داسې نۀ شو پوهيدلے لکه څنګه چې پاک اؤ صادق خدائ پاک ورته ګوری.

## ۱- دَ ګناه بيان

- دَ لُغت په مطابق دَ ګناه مطلب حکم ماتول، جرم، بدی، دَ معاشرې رسم و رواج، اخلاقی اؤ مذهبی اصول ماتول دی.
- "په عملی اؤ سوچ سره دَ خدائ پاک دَ کردار سره مطابقت نۀ لرل".
- "ګناه دَ روح لاعلاجه بيماری ده" (جزام يا سرطان (کينسر) دے).
- ګناه دَ زورِ انسانيت فطرت دے. اؤ هره ورځ راښکاره کيږی.
- اول يوحنا ۳: ۴ "..... ګناه خو دَ شريعت نافرمانی کول ده".

(۱) ګناه یو عمل دے. دَ شریعت یا حکم ماتول ګناه ده.

(۲) ګناه یو کیفیت یا حالت دے. دَ انسان په ګناه کښې غورزیدونکے حالت داسې دے چې په کښې هیڅ صداقت نشته.

(۳) ګناه یو فطرت دے. په ګناه کښې دَ غورزیدلی انسان فطرت. دَ خدائ پاک نافرمانی کول اؤ دښمنی.

## ۲- دَ ګناه شروع

(۱) دَ شیطان شروع دَ شیطان نه وشوه. یشعیاه ۱۴: ۱۲- ۱۴. دَ دې وضاحت دَ یعقوب په ۱: ۱۴، ۱۵ کښې موجود دے. "هر سړے هغه وخت آزمائیلے شی کله چې دَ هغهٔ خپل بد خواهش په دوکه ورکولو کښې هغه ونښلوی. نو بیا دَ هغهٔ بد خواهش اُمیدوار شی اؤ ګناه ترې نه پیدا شی. اؤ چې ګناه زیاته شی نو مرګ پیدا کوی".

(۲) دنیا ته ګناه دَ حضرت آدم په وسیله راغله. رومیان ۵: ۱۲ "دَ یو سړی په وسیله ګناه دنیا ته راغله اؤ دَ ګناه په وسیله مرګ راغلو ......"

(۳) دَ انسان په ګناه کښې دَ غورزیدو حقیقت. پیدایښت ۳: ۱- ۶.

أ- دَ خدائ پاک خلاف بدې خبرې آؤریدل.

ب- دَ خدائ پاک په کلام اؤ دَ هغهٔ په مینه باندې شک کول.

ت- هغه څیز یې ولیدو کوم نه چې خدائ پاک منع کړے وو.

ث- دَ هغه څیز خواهش یې وکړو دَ کوم نه چې خدائ پاک منع کړے وو.

ج- دَ خدائ پاک دَ حکم یې په پوره طور سره نافرمانی وکړه.

## ۳- دَ گناه مختلف حالتونه

(۱) قصور: دَ شریعت دَ ویرې په وجه دا پریښودل. زبور ۵۱: ۱ "زما قصورونه معاف کړه".

(۲) بدکاری: داسې عمل چې په خپله یو بد عمل دے، یا دَ کوم نه چې منع کړے شوی یو. دَ حکم نافرمانی کول. زبور ۵۱: ۹ "اؤ زما ټولې بدکارئ معاف کړه".

(۳) غلطی: دَ نیغې لارې یا صحیح کار نه آؤړیدل.

(۴) نخښې نه خطا کیدل: الٰهی معیار ته رسیدلو نه پاتې کیدل. اول یوحنا ۵: ۱۷؛ رومیان ۳: ۲۳.

(۵) خلاف ورزی: دَ خدائ پاک دَ اختیار خلاف خپله مرضی پوره کول. دَ خدائ پاک په اختیار کښې مداخلت کول.

(٦) سرکشی کول: دا روحانی بدی ده. اول تیموتیوس ۱: ۹ "شریعت..... دَ بې شرعې اؤ سرکښه" خلقو دَ پاره دے.

(۷) خپل فرض نۀ پوره کول: غفلت، په خطایئ یا هیرې سره گناه، هغه کار چې نیم گړے یا پوره کولو نه بغیر پریښودلے شی.

(۸) عقیده نۀ لرل: دا دَ خدائ پاک دَ صداقت یا حق بې عزتی کول دی. عبرانیان ۳: ۱۲ "بې ایمانه زړۀ.... چې دَ ژوندی خدائ نه واؤړی".

## ۴- دَ ګناهونو فهرست

(۱) هجرت ۲۰: ۳- ۱۷ (لس حکمونه). دَ نورو خدايانو عبادت کول، دَ خدائ نوم بې ځايه اخستل (قسم خوړل). دَ سبت ماتول، دَ مور پلار عزت نۀ کول، قتل يا دَ بل وينه تويول، زنا، غلا، دروغ، لاچ (شمير ۹).

(۲) اول کورنتيان ٦: ۸- ۱۰. حرامکارى، عياشى، بچه بازى، شراب ځښل، کنځل مار اؤ تګان (شمير ٦).

(۳) روميان ۱: ۲۹- ۳۱. بې انصافى، بدى، بد خواهشونه، حسد، قتل، جګړې، تګى، بغض، غيبت، دَ خدائ سپک ګڼونکى، بد سره، دَ نورو بې عزتى کول، مغروره، لوئ مار، بې وقوفى، بې لوظه، دَ مينې نه خالى، بې رحمه. (شمير ۱۹).

(۴) اول تيموتيوس ۱: ۹- ۱۱. بې شرعې کيدل، سرکښه، بې دينه، ناپاکى، بې ادبى، اغوا کول (شمير ٦).

(۵) کولوسيان ۳: ۵- ۷ شهوت، بد خواهش، غُصه، قهر، بدخواهى، چغلى اؤ پوچې خبرې کول (شمير ٦).

(٦) ګلتيان ۵: ۱۹- ۲۱. جادوګرى ( دَ دې ډير قسمونه دى مثال په طور فال کتل، تعويزونه کول وغيره)، دښمنى، جګړې، بې اتفاقى، جدائى، بدعتونه، نشې، ګډا نڅا (شمير ۷).

(۷) مرقوس ۷: ۲۰- ۲۳ بدخيالونه، مکر، په بد نظر کتل (شمير ۳).

ټول شمير دَ پنځوستو نه زيات دے. بيا دَ هر يو مختلف قسمونه دى.

## ۵- ګناه پټيدے نۀ شی

شمير ۳۲: ۲۳ "کۀ چرې تاسو داسې ونۀ کړئ نو دَ خدائ په نزد به ګناه ګار شئ اؤ په دې خبر شئ چې ستاسو دَ ګناه سزا به تاسو له درکړے شی".

مثالونه ۲۸: ۱۳ "څوک چې خپل ګناهونه پټوی کامياب به نۀ شی". ګناه به خامخا څرګنديږی. تشه ګناه به نۀ څرګنديږی بلکه ګناه ګار به هم څرګنديږی. خدائ پاک ګوری اؤ پټ ګناهونه څرګندوی. حضرت آدم، قائن، عکن، حننياه اؤ سفيره دَ خدائ پاک نه دَ خپلو ګناهونو پټولو کوشش وکړو خو کامياب نۀ شول.

## ۶- دَ ګناه انجام

(۱) مرګ: دا تش دَ خلې يا تفسيری لفظ نۀ دے. دا جدائی بيانوی. روميان ۶: ۲۳ "دَ ګناه بدل مرګ دے خو دَ خدائ بخښنه زمونږ په مالک عيسىٰ مسيح کښې دَ تل ژوندون".

(۲) وروکيدل. دَ خدائ په نزد انسان وروک شوے دے يعنې انسان نه آسمان ته دَ تلو لاره ورکه شوې ده. لوقا ۱۵: ۲۴ "ځکه چې زما دا زوئ مړ وو. بيا راژوندے شو. ورک شوے وو، خو بيا وموندے شو".

(۳) دَ سزا حکم: دا عدالتی يا قانونی لفظ دے چې دَ خدائ پاک عدالت څرګندوی. يوحنا ۳: ۱۸ "..... څوک چې په هغۀ ايمان نۀ راوړی هغه خو دَ مخکښې نه مجرم شوے دے، ځکه چې دَ خدائ دَ يک يو زوئ نه منکر دے".

(۴) دَ جرم احساس: الزام لګيدل. دا دَ بيان لفظ دے اؤ ضمير دَ رټلو ښکارنه کوی. پيدايښت ۲۶: ۱۰ "زما دَ خلقو نه يو سړے په آسانئ سره ستا دَ ښځې سره څملاستے شو اؤ تا به مونږ ګناه ګار کړی وو".

(۵) هلاکیدل. دا دَ پیښیدونکې خبرې دَ اظهار کولو واله لفظ دے. دَ هلاکت اؤ تباهئ ښکارنه کوی. اول تیموتیوس ٦ : ۹ "...... چې خلق دَ تباهئ اؤ هلاکت په دریاب کښې غرقوی".

(٦) سزا: دا دَ سزا ښکارنه کوی. متی ۲۵: ۴٦ "اؤ هغوئ به دَ تل عمری عذاب ته لاړ شی".

(۷) دَ تل عمری اور: دا لفظ دَ وخت ښکارنه کوی، یا د زمانې ظاهرولو اسم ورته وئیلے شی چې دَ وخت اؤ مودې ښکارنه کوی. یهوداه ۷ "..... اؤ هغوئ ته دَ تل په اور کښې سزا ورکړے کیږی اؤ دا زمونږ دَ پاره عبرت دے.

(۸) جهنم، دوزخ: دا دَ ځائ ښکارنه کوی. دا دَ ابلیس اؤ دَ هغهٔ دَ پیروکارو ځائ دے. متی ۲۵: ۴۱ " اؤ بیا به هغه دَ ګس لاس طرف ته خلقو ته ووایی، اے لعنتیانو! زما دَ سترګو نه پناه شئ اؤ هغه تل عمری اور ته لاړ شئ چې دَ شیطان اؤ دَ هغهٔ دَ فرښتو دَ پاره تیار شوے دے".

(۹) دَ اور تالاب: دویم مرګ. مکاشفه ۲۰: ۱۴ "بیا مرګ اؤ عالم ارواح دَ اور تالاب ته وغورزولے شول. دَ اور تالاب دویم مرګ دے".

## ۷- دَ ګناه علاج

مسیح په خپله کفاره اؤ بیا راژوندی کیدو کښې دَ ګناه دَ پاره واحد علاج دے.
یوحنا ۱: **۲۹** " وګورئ! دَ خدائ ګډورے چې دَ دنیا ګناه په ځان وړی".

اول یوحنا **۳**: **۵** "تاسو خبر یئ چې مسیح ځکه ښکاره شو چې ګناهونه لرې کړی، اؤ په هغهٔ کښې هیڅ ګناه نشته".

یو انسان هم خپل ځان دَ ګناه نه پاکولے نۀ شی. ایوب ۹: ۳۰، ۳۱ "کۀ زۀ خپل ځان دَ واؤرې په اوبو سره ووينځم اؤ خپل لاسونه هر څومره پاک کړم، نو بيا به هم ما له په کنده کښې غوپه راکوی".

يرمياه ۲: ۲۲ "کۀ هر وخت تۀ خپل ځان صابن سره ووينځې خو بيا هم مالک خدائ، خدائ پاک فرمائی ستا دَ بدئ داغ زما په حضور کښې ښکاره دے".
دَ عيسیٰ مسيح دَ وينې په وسيله دَ ګناه بخښنه دَ ګناه علاج دے. افسيان ۱: ۷ "مونږ ته دَ مسيح دَ وينې په وسيله خلاصون، يعنې دَ ګناهونو معافی..... حاصله ده".
اول يوحنا ۱: ۷ "دَ هغۀ دَ زوئ دَ عيسیٰ مسيح وينه مونږ دَ ټولو ګناهونو نه پاکوی".

يو کس هم دَ ګناه نه پاک نۀ دے. په دې وجه مونږ ټولو ته دَ يو خلاصوؤنکی ضرورت دے. ګلتيان ۳: ۲۲ "خو مقدس کتاب وائی چې ټوله دنيا دَ ګناه په قبضه کښې ده". روميان ۳: ۲۳ "ځکه چې ټولو ګناه کړې ده اؤ دَ خدائ دَ جلال نه محرومه دی".

## خُلاصه

عيسیٰ مسيح واحد خلاصوؤنکے دے، ځکه چې صرف هغه دَ ګناه نه پاک دے.
دويم کورنتيان ۵: ۲۱ "هغه چا چې ګناه نۀ پيژندله خو خدائ هم هغه زمونږ دَ پاره ګناه وګڼلو چې مونږ په هغۀ کښې دَ خدائ صداقت شو".

عبرانيان ۴: ۱۵ "ځکه چې زمونږ داسې مشر کاهن نۀ دے چې زمونږ په کمزورتياؤ کښې همدرد کيدے نۀ شی بلکه هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائيلے شو خو بيا هم بې ګناه پاتې شو".

اول يوحنا ۳: ۵ "..... په هغۀ کښې هيڅ ګناه نشته". اول پطروس ۲: ۲۲ "نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه....." خدائ دومره پاک دے چې هغه ګناه ته کتلے هم نۀ شی اؤ نۀ هغه دغه شان پريښودلے شی (حبقوق ۱: ۱۳).

دعا: مالکه خدايه! ما له توفيق راکړه چې دا راته معلومه شی چې ګناه دَ حد نه زياته دوکه بازه ده (روميان ۷: ۱۳) دَ دې دَ پاره چې زۀ دَ دې نه نفرت وکړم. (زبور ۹۷: ۱۰) "اے تاسو چې خدائ سره مينه

کوئ، دَ بدئ نه نفرت وکړئ". مالکه! ما ته ښودنه وکړه چې دَ خپلو ګناهونو اقرار وکړم (اول یوحنا ۱: ۹) اؤ توفیق راکړه چې دا پرېږدم (مثال ۲۸: ۱۳).

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۶۱- په سولئ باندې دَ پوهیدو راز څۀ دے؟

۳۶۲- دَ ګناه وضاحت وکړئ.

۳۶۳- دَ ګناه دَ درې اړخونو وضاحت وکړئ.

۳۶۴- دَ ګناه دَ شروع کیدو په حقله اتۀ حوالې بیان کړئ.

۳۶۵- دَ ګناه اتۀ حالتونه بیان کړئ. دَ هر یو مختلف حال بیان کړئ.

۳۶۶- دَ ګناهونو دَ فهرست دوه حوالې ورکړئ ( یوه دَ زړې لوظنامې نه اؤ بله دَ نوې لوظنامې نه ).

۳۶۷- دَ شمیر ۳۲: ۲۳ اؤ مثالونو ۲۸: ۱۳ نه مونږ کوم لوئ حقیقتونه زده کوؤ؟

۳۶۸- دَ ګناه نهه نتیجې اؤ دَ هرې یوې مختصر تشریح بیان کړئ.

۳۶۹- دَ ګناه علاج څۀ دے؟

۳۷۰- دَ ګناه په حقله دَ څلورو خاص خبرو واله دعا بیان کړئ.

## اتۀ دیرشم سبق

## انسان دَ دریوؤ جزونو هستی ده

### پیژندگلو

* په څلورم نمبر سبق کښې چې عنوان یې دے "دَ تثلیث وحدانیت" دَ دې سبق په آخر کښې مونږ وئیلی وو چې انسان دَ دریوؤ جزونو هستی ده، یعنې انسان درې جزونه، روح، ځان اؤ تن لری.
* په کلامِ پاک کښې درې حوالې دی چې هغه په واضحه طور دا تعلیم ورکوی چې دَ انسان درې جزونه دی.
* اول تسالونکیان ۵: ۲۳ "خدائ چې دَ سلامتئ سر چینه دے تاسو دې په خپله بالکل پاک کړی اؤ ستاسو روح اؤ ځان اؤ تن دې دَ مالک عیسیٰ مسیح تر راتلو پورې پوره بې عیبه وساتی".
* دا آیت صفا وائی چې دَ انسان درې حصې دی. ډیرې مختلفې حصې دی. دَ دې فرق ډیر کم کیدے شی، خو په دې کښې فرق ضرور شته.
* عبرانیان ۴: ۱۲ " ځکه چې دَ خدائ کلام ژوندے اؤ اثرناک اؤ دَ هرې یوې دوه مخې تورې نه زیات تیرۀ دے، چې دَ انسان دَ ځان اؤ روح نه تیریږی اؤ اندام اندام اؤ مغز مغز جدا کوی اؤ دَ زړۀ په خیالونو اؤ ارادو تحقیق کوی".
* ځنې خلق وائی چې ځان اؤ روح دوه لفظونه دی خو دَ دې مطلب یو دے. خو دا آیت په واضحه طور سره وائی چې دا جدا جدا دی.

* دا خبره صحیح ده چې په کلامِ پاک کښې دا لفظونه دَ نورو لفظونو په ځائ استعمال شوی دی خو په دې حوالو کښې دا خبره نامکنه ده.

* راځئ چې مونږ په کلام پاک کښې دَ جواب لټون وکړو.

## مختصر فرق دا دے:

(۱) روح انسان له دَ خدائ شعور ورکوی. دَ خدائ پاک سره دَ تعلق قائمولو خوبی ورکوی.

(۲) ځان انسان له دَ خپل ځان شعور ورکوی. دَ یو کس یا شخصیت جوړېدو خوبی ورکوی.

(۳) تن \ بدن انسان له دَ دنیا شعور ورکوی. چې دَ دې په وسیله دَ پوهې خوبی ورکوی.

## ۱- دَ انسان شروع

دَ پیدایښت په ۱ : ۱ کښې وئیلې شوی دی چې په ازل کښې خدائ موجود وو. خدائ همیشه همیشه دَ پاره موجود دے. هغه ازلی خدائ دے.

دَ پیدایښت ۱: ۲۲، ۲۷ بیانوی چې انسان تاریخی لحاظ سره په شپږمه ورځ پیدا کړے شوے وو.

دَ پیدایښت په ۲: ۷ کښې دَ انسان په وجود کښې دَ راتلو تفصیل موجود دے" بیا مالک خدائ، خدائ پاک دَ زمکې نه څۀ خاوره واخسته اؤ آدم یې ترې نه جوړ کړو. خدائ پاک دَ هغۀ په سپیږمو کښې دَ ژوند ساه پو کړه اؤ آدم ژوندے شو".

### په دې آیت کښې هم دَ انسان دَ دریوؤ جزونو نومونه دی.

(۱) دَ انسان وجود. زمونږ غوښه، هډوکی اؤ وینه دَ زمکې دَ خاورې نه جوړ شوی دی.

(۲) روح. مالک خدائ، خدائ پاک دَ انسان په سپیړمو کښې دَ ژوند ساه پو کړه.

(۳) "اؤ آدم ژوندے شو". په دې کښې دَ پورتنو دواړو جزونو خپلو کښې یو والے دے. دا دَ انسان هغه حصه ده چې دَ وجود نه غوره اؤ دَ روح نه کمه ده. دا دواړو په مینځ کښې تعلق قائم ساتی.

## ۲- دَ انسان بدن

دا دَ انسان هغه حصه ده دَ کومې په حقله چې مونږ ته ډیره ښۀ پته ده. دا دَ انسان جسمانی حصه ده. زبور ۱۳۹: ۱۴ "زۀ به ستا شکر کوم ځکه چې زۀ ډیر په عجیبه طریقې سره جوړ شوے یم".

بائبل مقدس وائی چې دَ انسان بدن دَ زمکې دَ خاورې نه جوړ کړے شوے دے. دَ خاورې دَ تحقیق نه دا معلومیږی چې په دې کښې شپږ نوی زرې شاملې دی اؤ انسان کښې هم شپږ نوی عنصرونه (زرې) دی، اؤ بالکل هم هغه زرې دی کومې چې په خاوره کښې دی. نو دا دَ تخلیق یو زبردست ثبوت دے.
په دې شپږ نوی زرو کښې یو څو اهم زرې دا دی: کیلشم، کاربن، کلورین، فلورین، هائیډروجن، آئیوډین، اوسپنه، میګنیشیم، نائټروجن، آکسیجن، فاسفورس، پوټاشیم، سلیکون اؤ سوډیم.

دَ پیدایښت په دریم باب اؤ نولسم آیت کښې دَ انسان په ګناه کښې دَ غورزیدو نه پس خدائ پاک هغه لعنتی کوی اؤ ورته وائی "سخت محنت به کوې، خولې به درنه بهیږی اؤ ډوډئ به خورې، تردې چې دَ خاورو سره خاورې شې چې دَ څۀ نه جوړ شوے یې. تۀ دَ خاورو نه جوړ وې اؤ بیا به خاورې له ورځې".
دَ انسان په بدن کښې پنځۀ حواس دی (حواسِ خمسه) کتل، اؤریدل، ښکل، لاس ور وړل، خوشبو محسوسول. هر قسمه سرور، درد، احساس یا دَ خوبئ قابلیت اظهار دَ دې جسمانی بدن په وسیله کیږی.

په ګناه کښې دَ غورزیدو نه پس دا بدن مړ کیدونکے (چې انجام یې مرګ وی) بدن جوړ شو.

**عبرانیان ۹: ۲۷ "دَ بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل..... مقرر دی". دَ عدن په باغ کښې دَ ګناه کولو نه پس دَ انسان دَ پاره دَ مرګ یوه ورځ مقرر ده.**

## ۳- دَ انسان روح

روح انسان له دَ خدائ پاک پوهه ورکوی. یعنې دَ خدائ پاک سره دَ تعلق قائمولو طاقت ورکوی.

**خدائ پاک دَ انسان په سپیږمو کښې دَ ژوند ساه (هوا) پو کړه.**

یو کس وئیلی دی چې انسان خاوره ده چې خدائ پاک په کښې دَ ژوند ساه پو کړه.

دَ روح، تن اؤ ځان په وسیله دَ خارجی اؤ مادی څیزونو اثرات حاصلیږی، خو دَ دې تعلق دَ اوچتې درجې سره دے، اؤ دَ خپل غوره خوبو اؤ حواسو په وسیله دَ خدائ پاک نیغ په نیغه پیژندګلو حاصلولے شی. روح دَ انسان په شخصیت کښې دَ خدائ پاک مرکزی ځائ دے.

خدائ روح دے. یوحنا ۴: ۲۴. انسانی روح دَ انسان هغه حصه ده چې دَ خدائ پاک سره دَ تهولو نه زیات یو شان والے لری. دَ ایماندارانو دَ خلاصون تسلئ سره دَ دې اظهار کیږی. رومیان ۸: ۱۲ "دَ خدائ روح زمونږ دَ روح سره هم دا وائی دَ دې ګواهئ دَ پاره چې مونږ دَ خدائ بچی یو".

دَ واعظ ۱۲: ۷ دا ښودنه کوی چې دَ مرګ په وخت به وجود واپس خاورې له ورځی، اؤ روح به خدائ پاک له واپس ورځی "خاوره به دَ خاورې سره یو ځائ شی لکه څنګه چې مخکښې یو ځائ وه اؤ روح به خدائ پاک له واپس لاړ شی کوم چې هغهٔ ورکړے وو".

واعظ ۳: ۲۱ "چا ته معلومه ده چې دَ انسان روح پاس خیژی اؤ دَ ځناورو روح دَ زمکې طرف ته لاندې ځی؟"

**لوقا ۱۲: ۲۰ "خو خدائ هغۀ ته ووئیل، اے کم عقله! په دې شپه به دې ساه وخیژی".**

دَ غریب سړی روح دَ ابراهیم غیږې ته لاړو. لوقا ۱۲: ۲۲ اؤ دَ مالدار سړی روح دوزخ کښې واچولے شو. لوقا ۱۲: ۲۳.

نو دَ مرګ په وخت انسان دریوؤ ځایونو ته ځی. دَ دې نه دا ثابتیږی چې انسان دَ دریوؤ جزونو واله هستی ده.

## ۴- دَ انسان ځان

ځان دَ خپل ځان پوهه لری. دا دَ انسان دَ ذاتی ژوندون لاړ ښودنه کوی. په بائبل مقدس کښې دَ وږی ځان، سترړی شوی ځان یرمیاه ۳۱: ۲۵. تږی شوی ځان زبور ۴۲: ۲. مایوسه ځان ایوب ۳: ۲۵. دَ مینې کولو واله ځان غزالغزلات ۱: ۷ ذکر شوے دے.

ځان دَ انسان هغه حصه ده چې دَ تن اؤ روح په مینځ کښې وی. خو بیا هم دا دَ دواړو ملاوټ نۀ دے، البته داسې ښکاری چې دا ځنې وخت دَ روح یا دَ تن څۀ نه څۀ صفت اختیاروی.

**ځان مادی اؤ روحانی حالتونه یوځائ کوی.**

دَ ځان دا کار دے چې دَ روح اؤ تن په کارونو کښې یو والے قائم وساتی.

تن دَ ټولو نه کمه اؤ روح دَ ټولو نه زیاته درجه لری. دَ ځان کار تن دَ روح تابعداره کول دی. خدائ پاک دا مقرر کړی دی چې پاک روح په انسانی روح کښې استوګنه وکړی اؤ حکمرانی پرې وکړی. اؤ دَ انسان روح دې هر وخت انسان ته دَ خدائ په حقله وائی، په تن اؤ ځان باندې دې حکمرانی کوی اؤ په هر څیز کښې خپله برتری قائمه وساتئ.

**مسیح په سولئ باندې ځکه مړ شو چې دَ انسان دَ ځان دَ پاره فدیه ورکړی. عبرانیان ۱۰: ۳۹ "..... بلکه ایمان لرونکی یو چې ځانونه بچ کړو".**

**یعقوب ۱: ۲۱ "...... کلام..... ستاسو روحونو له خلاصون ورکولے شی".**

## زبور ۴۹: ۸ "ځکه چې دَ هغۀ دَ ځان فديه دَ ډير قيمت ده".

## لوقا ۱۲: ۲۳ نه معلوميږی چې ځان ته سزا ملاويږی.

مکاشفه ۱۸: ۱۲- ۱۳ کښې دَ هغه څيزونو فهرست دے سوداګر چې څۀ اخلی اؤ خرڅوی يې. سرۀ زر، سپين زر، قيمتی کاڼی، دَ هاتی غاښونه، دَ عودو لرګی، مسالحې، مئ، تيل، دَ څاروؤ اؤ بنی آدمو ځانونه.

## دَ يو لحظې خوشحالئ دَ پاره خلق خپل ځانونه په داؤ باندې لګوی.

## خُلاصه

خدائ پاک انسان ځکه دريوؤ جزونو واله هستی پيدا کړې ده چې دَ خدائ پاک سره مينه ولری، اؤ دَ ژوند اؤ فطرت نه مزه واخلی.

انسان دَ سوچ کولو، مينې کولو اؤ ارادې لرلو صلاحيتونو سره پيدا کړے شوے دے. يشعياه ۱: ۱۸.

انسان دَ خدائ پاک دَ پاره پيدا کړے شوے دے. دَ انسان دَ روح مقصد دا دے چې خدائ پاک سره تعلق وساتی. دَ دې تعلق ښکلے تصوير په دې لفظونو کښې موجود دے. "دَ ماښامی په نرئ نرئ هوا کښې دوئ دَ مالک خدائ، خدائ پاک دَ تلو آواز واؤريدو". پيدايښت ۳: ۸.

تاسو له دَ قيامت دَ ورځې دَ پاره تيار اوسيدل پکار دی. کله چې به ستاسو دَ وجود ټولې حصې بيا را يوځائ کړے شی اؤ تاسو به دَ ټولې دنيا دَ انصاف کوؤنکی په حضورئ کښې ولاړ يئ.

## عيسیٰ مسيح په سولئ دې دَ پاره مړ شو چې مونږ دَ دوزخ دَ عذاب نه بچ کړی.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۷۱- "انسان دَ دریوؤ جزونو واله هستی ده". دَ دې خبرې څهٔ مطلب دے؟

۳۷۲- دوه حوالې بیان کړئ چې دَ هغې نه دا ثابتیږی چې انسان دریوؤ جزونو واله هستی ده.

۳۷۳- په مختصر طور دې دریوؤ حصو کښې فرق بیان کړئ.

۳۷۴- دَ انسان دَ تخلیق واقعه بیان کړئ.

۳۷۵- مونږ څنګه په عجیبه طریقې سره جوړ شوی یو؟ زبور ۱۳۹: ۱۴.

۳۷۶- دَ خاورې دَ تحقیق دَ پیدایښت ۳: ۱۹ سره څهٔ تعلق دے؟

۳۷۷- په روح اؤ ځان کښې فرق بیان کړئ.

۳۷۸- خدائ پاک دَ یو کس سره څنګه تعلق ساتی؟

۳۷۹- دَ ځان بیانولو دَ پاره شپږ صفتونه بیان کړئ کوم چې په بائبل مقدس کښې استعمال شوی دی.

۳۸۰- درې آیتونه بیان کړئ چې دَ هغې نه دا معلومیږی چې عیسیٰ مسیح دَ انسان دَ ځان بچ کولو دَ پاره راغلے دے.

# دَ فرښتو اؤ شيطان په حقله سبقونه

## يوکم څلويښتم سبق

## فرښتې

### پيژندګلو

* دَ فرښتو په باره کښې دَ عقيدې اؤ تعليم طرف ته نن سبا ډيره لږه توجو ورکولے کيږى. ځکه چې خلق دا خبرې بې فائدې ګڼى. دَ هغوئ په نزد دَ فرښتو ذکر صرف قيصو کښې کيږى.
* خو مونږ له دَ فرښتو کار اؤ خدمت غير اهم ګڼل نهٔ دى پکار. خاص طور باندې دَ حفاظت کوؤنکو يا سرپرست فرښتو خدمت، ځکه چې مونږ ته پته نشته چې په مونږ باندې دَ هغوئ څومره احسانونه دى.
* يو خدمت کوؤنکے دَ مجبورئً په وجه بهر اودهٔ شو. غلو دَ هغهٔ دَ لوټ کولو منصوبه جوړه کړه. خو چې هغوئ وکتل نو شپاړس سپاهيان تورې په لاس دَ هغهٔ څوکيدارئ دَ پاره ولاړ وو. نو غلهٔ دَ ويرې دَ لاسه وتښتيدل. خو کله چې دا خبره هغه خدمت ګار ته وکړے شوه نو هغهٔ ډير زيات وخاندل. خو بيا لږ وخت پس هغه په چوټئ لاړو نو اتفاقاً دَ هغهٔ ملاقات دَ شپاړسو کسانو يوې ډلې سره وشو. په خبرو خبرو کښې هغهٔ ته معلومه شوه چې په هغه شپه دې کسانو خاص طور باندې هغهٔ دَ پاره دعا کوله. دَ فرښتو دَ خدمت دَ پاره دَ خدائ پاک حمد اؤ تعريف وکړئ.

## ۱- دَ فرښتو وجود

لفظ "فرښته" په اول ځل دَ پیدایښت په ۱۲: ۷ کښې راغلے دے. کله چې بی بی ساره دَ بی بی هاجرې سره بدسلوکی وکړه نو دَ هغې نه پس دَ مالک خدائ فرښته هاجرې ته راڅرګنده شوه.

فرښتې دَ خدائ مخلوق دے. خو دا نۀ دی وئیلې شوی چې دوئ کله پیدا کړے شوې.

**کولوسیان ۱: ۱۲ "دَ هغۀ په وسیله ټول څیزونه پیدا کړے شول چې په آسمان کښې وی، یا په زمکه، لیدونکی وی یا نالیدونکی،..... دَ هغۀ دَ پاره پیدا شو".**

**متی ۴: ۱۱ دَ عیسیٰ مسیح دَ آزمیښت په وخت فرښتې دَ هغۀ خدمت دَ پاره راغلې.**

دَ متی په ۱۸: ۱۰ کښې عیسیٰ مسیح دَ حفاظت کوؤنکو فرښتو ذکر کولو سره داسې وفرمائیل "خبردار! په دې وړو کښې یو ته هم سپک مۀ ګورئ. زۀ تاسو ته دا وایم چې دَ دوئ فرښتې همیشه په آسمان کښې زما دَ آسمانی پلار په مخکښې موجودې وی".

**عیسیٰ مسیح په فرښتو ایمان لرلو. دغه شان پولوس هم. کولوسیان ۲: ۱۸؛ دویم تسالونکیان ۱: ۷.**

## ۲- دَ فرښتو فطرت\ ذات

**فرښتې روحونه دی. عبرانیان ۱: ۱۴ "آیا هغوئ (فرښتې) ټول خدمت ګزار روحونه نۀ دی؟".**

**زبور ۱۰۴: ۴ "تۀ خپلو فرښتو نه هوا اؤ خپلو خادمانو نه دَ اور لمبې جوړوې".**

فرښتې روحونه دی نو په دې وجه دَ انسانی قانون په اختیار کښې نۀ دی. فرښتې بندو کوټو ته ور تلے شی. اعمال ۱۲ : ۷ ؛دَ قید خانې بندې دروازې کولاوولې شی، اعمال ۵: ۱۹، دَ اور په لمبو کښې آسمان طرف ته تلے شی، قاضیان ۱۳ : ۱۹- ۲۰.

فرښتې لرې لرې ځایونو ته ډیرې زر تلے شی. (آسمان نه زمکې ته چې فاصله یې ډیره زیاته ده) دَ دانی ایل ۱۰ : ۱۲، ۱۳، فرښته چې کله یویشت ورځې وروستو راغله نو معافی یې وغوښته.

فرښتې دَ انسانانو نه زیاتې هوښیارې اؤ عقل مندې دی. دویم سموئیل ۱۴ : ۲۰ "زما مالک عقل مند دے لکه څنګه چې دَ خدائ فرښتې هوښیارې وی چې دَ دنیا په ټولو خبرو پوهه شی".

فرښتې طاقتورې اؤ مضبوطې وی. زبور ۱۰۳ : ۲۰ "اے دَ خدائ فرښتو! هغۀ ته بختور وایئ. تاسو چې طاقتورې یئ اؤ دَ هغۀ دَ کلام آواز آؤریدو سره په هغې عمل کوئ".

أ- یوې فرښتې په یوه شپه کښې ۱۸۵۰۰۰ اسوریان مړۀ کړل. دویم بادشاهان ۱۹ : ۳۵.

ب- دَ داؤد دَ ګناه نه پس یوې فرښتې ۷۰۰۰۰ اسرائیلیان مړۀ کړل. دویم سموئیل ۲۴ : ۱۵، ۱۲.

ت- یوې فرښتې دَ روم طاقت ختم کړو، مهرونه یې مات کړل اؤ دَ قبر نه یې کاڼې ورغړولو. متی ۲۸ : ۲، ۴.

ث- هغه ورځ راتلونکې ده چې یوه فرښته به ابلیس وتړی اؤ دَ زرو کالو دَ پاره به یې قید کړی.

دَ فرښتو مختلفې درجې اؤ منصوبونه دی: میکائیل ته مقربه فرښته وئیلې شوی دی، یهوداه ۹. بائبل مقدس دَ مقربو فرښتو، فرښتو، تختونو، ریاستونو، حکومتونو اؤ دَ اختیارونو ذکر کوی. کولوسیان ۱ : ۱۲؛ دانی ایل ۱۰ : ۱۲- ۲۱؛ اول تسالونکیان ۴ : ۱۲؛ اول پطروس ۳ : ۲۲.

فرښتې نۀ ختمیدونکې دی. لوقا ۲۰: ۳۵، ۳۶. دَ دوئ بدنونه غیر فانی دی. دوئ دَ مرګ نه ناخبره دی. کۀ چرې عیسیٰ مسیح فرښته جوړه شوې وه نو هغه مړ کیدے نۀ شو.

**فرښتې جنسی تعلق نۀ ساتی اؤ نۀ په هغوئ کښې کوژدنې وادونه کیږی. لوقا ۲۰: ۳۵، ۳۶.**

## ۳- دَ فرښتو شمیر

فرښتې بې شمیره دی. مکاشفه ۵: ۱۱ "بیا چې ما وکتل نو دَ بې شماره فرښتو آوازونه مې واؤریدل چې هغه دَ تخت اؤ دَ حیوانانو اؤ مشرانو نه چاپیره وې اؤ دَ هغوئ شمار په لکونو اؤ کروړونو کښې وو".

عبرانیان ۱۲: ۲۲ "خو تاسو دَ صیحون غر ته اؤ دَ ژوندی خدائ ښار ته، یعنې دَ آسمان بیت المقدس اؤ لکونو فرښتو ته راغلی یئ".

دَ متی په ۲۲: ۵۳ کښې عیسیٰ مسیح وفرمائیل چې زۀ دَ فرښتو دولس لښکرې را غوښتلے شم (یو لښکر کښې دریوؤ زرو نه تر شپږو زرو پورې سپاهیان وی).
دویم بادشاهان ۶: ۱۷، دَ الیشع خادم وکتل چې دَ غرونو هر طرف ته اؤ دَ الیشع نه چاپیره دَ اور ګاډئ ولاړې دی. بې شکه دا فرښتې وې.

## ۴- دَ فرښتو په ګناه کښې پریوتل

**زمونږ مالک خدائ وئیلی دی چې فرښتې پاکې (بې ګناه) دی.**

مرقوس ۸: ۳۸ "ابن آدم به هم دَ خپل پلار په لویئ کښې دَ فرښتو سره راځی".
فرښتې مخلوق دے، اؤ پاکې پیدا کړے شوی دی، لوقا ۹: ۲۶؛ دویم پطروس ۲: ۴؛ یهوداه ۶.

اول تیموتیوس ۵: ۲۱ نه (غوره شوؤ فرښتو). دا نتیجه راوځی چې اوس دوئ په پاکوالی کښې مضبوطې شوې دی. داسې معلومیږی چې خدائ پاک فرښتو له یو دَ آزمیښت وخت ورکړے وو.

کله چې دَ هغوئ دَ آزمائیلو وخت راغلو نو څنې فرښتې ناکامه شوې، اؤ باغی شوې. نورو خپله بې ګناهی قائمه وساتله. هغوئ دَ خپلې نیکئ په وجه غوره کړے شوې. زبور ۸۹: ۷.

په دویم پطروس ۲: ۴ کښې دَ فرښتو دَ ګناه کولو ذکر شته "...... خدائ پاک ګناه کوؤنکو فرښتو......"

دَ فرښتو څۀ امتحان واخستلے شو، اؤ کله واخستلے شو، دَ دې پته نشته. خو لږه اندازه لګولے کیدے شی. دا خو صرف یو سوچ دے.

(۱) چې هغوئ هغه وخت بغاوت وکړو کله چې شیطان دَ خدائ دَ برابر جوړیدو کوشش وکړو. یشعیاه باب ۱۴؛ حزقی ایل باب ۲۸؛ مکاشفه ۱۲: ۷.

(۲) چې هغوئ دَ تکبر اؤ نافرمانئ دَ ګناه لاندې راغلې.

(۳) چې هغوئ په زمکه باندې ښځو سره دَ وادونو کولو ګناه وکړه. متی ۲۵: ۴۱ کښې "..... ابلیس اؤ دَ هغۀ فرښتې....." وئیلې شوی دی. په دې وجه زۀ دا ایمان لرم چې اولنے مناسب جواب دے.

دَ دې ګناه کولو په وجه هغوئ اوس دَ عدالت اؤ سزا په انتظار کښې دی. یهوداه ۶ "یاد لرئ چې کومو فرښتو چې دَ خپلې درجې خیال ونۀ ساتلو اؤ خپل ځائ یې پریښودلو، نو خدائ هغوئ په ابدی زنځیرونو اؤ په تور تم کښې دَ قیامت دَ لوئې ورځې پورې ساتلی دی".

## ۵- دَ فرښتو ذمه وارئ

لاندې ورکړے شوی په بائبل مقدس کښې دَ یو څو خدمتونو ذکر شوے دے. دَ دې نه علاوه نور هم ډیر خدمتونه دی.

(۱) په آسمان کښې. دَ مالک خدائ، خدائ پاک عزت، عبادت اؤ هغۀ ته سجده کول. مکاشفه ۵: ۱۱- ۱۲؛ ۸: ۳، ۴.

(۲) په زمکه باندې. دَ مالک خدائ کارونه کول (ا) بی بی هاجرې ته يې چينه وښودله (ب) دَ يشوع په وړاندې يې توره څرګنده کړه (ت) پطروس يې دَ زنځيرونو نه آزاد کړو (ث) دَ خدائ اولاد له يې ډوډئ ورکړه. هغوئ ته طاقت ورکول، اؤ دَ هغوئ حفاظت کول. وغيره.

(۳) دَ خدائ پاک ارادې اؤ غضب پوره کول (ا) دَ بلعام په لار کښې ودريدلې. شمير ۲۲:۲۲. (ب) هيروديس يې مړ کړو. اعمال ۱۲: ۲۳. (ت) دَ آخری عدالت په موقعه باندې تراخهٔ بوټی راجمع کول اؤ هغه سوزول. متی ۱۳: ۴۱.

(۴) دَ ايماندارانو لار ښودنه کول. فرښتې دَ فيليپوس لار ښودنه وکړه چې هغه حبشی خواجه سره ملاؤ شی. اعمال ۸: ۲۶.

(۵) دَ پاکانو مدد، حفاظت اؤ حوصله افزائی کول (ا) الياس. اول بادشاهان نولسم باب. (ب) دَ زمرو په غار کښې، دانی ايل، دانی ايل ٦: ۲۲. (ت) دَ عيسیٰ مسيح مدد، متی ۴: ۱۱؛ لوقا ۲۲: ۴۳ (ګتسمنی).

(٦) دَ عيسیٰ مسيح بيا راتلو په وخت به دَ هغهٔ سره وی، متی ۲۵: ۳۱؛ دويم تسالونکيان ۱: ۷، ۸.

(۷) دَ مرګ په وخت دَ خدائ بچی آسمان ته بوځی، لوقا ١٦: ۲۲.

(۸) په شريعت ورکولو کښې هم فرښتو حصه واخسته. عبرانيان ۲ : ۲؛ اعمال ۷ : ۵۳؛ ګلتيان ۳ : ۱۹.

## ٦- دَ فرښتو دَ استوګنې ځائ

فرښتې اوس په آسمان کښې دی. متی **۲۲**: **۳۰** "په قيامت کښې به ښځې اؤ سړی وادهٔ نهٔ کوی. دوئ به په آسمان کښې دَ فرښتو په شان وی". نور وګورئ افسيان **۳**: **۱۰**؛ يوحنا ۱: **۵۱**؛ لوقا **۲**: **۱۳**، **۱۵**.

## ۷- انسانان دَ فرښتو نه غوره دی

فرښتې اؤ زمونږ اولنی دوه مور پلار کاملان پیدا کړے شوی وو. فرښتې روحونه دی. حضرت آدم اؤ بی بی حوا غوښه اؤ هډوکی لرونکی هستئ دی.
خو په نور هر لحاظ سره مونږ انسانان دَ فرښتو نه غوره یو.

(۱) فرښتو له دا اجازت نۀ دے ورکړے شوے چې دَ زیری وعظ وکړی. دا خدمت مونږ ته حواله کړے شوے دے. کله چې به زۀ دَ خپلې کفاره په حقله خوشحالی کوم نو فرښتې به خپلې وزرې را غونډې کړی ځکه چې هغوئ هیڅ خبر نۀ دی چې دَ خلاصون خوشحالی څنګه ده.

(۲) یوه ورځ به انسان دَ فرښتو عدالت کوی. اول کورنتیان ٦: ٣ "آیا تاسو نۀ یئ خبر چې مونږ به دَ فرښتو انصاف کوؤ؟"

کیدے شی چې مونږ به صرف دَ ګناه ګارو فرښتو انصاف کوؤ دَ کومو ذکر چې دَ یهوداه په شپږم آیت کښې شوے دے. دَ کومو خلقو دَ پاره چې کفاره ورکړے شوې ده نو دَ هغوئ دَ پاره دا څومره لوئ انعام دے.

اګرچې مونږ په ګناه کښې پریوتلو خو بیا هم مالک خدائ پاک په عیسیٰ مسیح کښې دَ فرښتو نه غوره درجه مونږ له راکړه.

### خُلاصه

کله چې فرښتو ګناه وکړه نو خدائ پاک هغوئ له دَ خلاصوؤنکی بندوبست ونۀ کړو.

څومره عجیبه اؤ دَ خوشحالئ خبره ده چې هغۀ زمونږ په شان خلقو دَ پاره دَ مرګ منصوبه جوړه کړه. راځئ چې مونږ دَ حفاظت کوؤنکو فرښتو دَ خدمت دَ پاره هر وخت دَ خدائ پاک شکر ادا کړو.

دَ متی ۱۸: ۱۰ نه معلومیږی چې دَ ماشومانو دَ پاره هم فرښتې مقرر کړے شوی دی "..... دَ دوئ فرښتې په آسمان کښې ( دَ دې ماشومانو ) همیشه زما دَ آسمانی پلار په مخکښې موجودې وی".

اګرچې فرښتې ډېر حیرانوونکے مخلوق دے خو دَ دوئ عبادت کول یا ورته سجده کول په یو حال کښې هم جائز نهٔ دی. مکاشفه ۲۲: ۸، ۹.
فرښتې مونږ لیدلے هم شو اؤ انسانی خوراک هم خوړلے شی. لوقا ۲: ۹؛ پیدایښت ۳۲: ۱، ۲؛ ۱۸: ۵.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۸۱- فرښتې کله اؤ څنګه په وجود کښې راغلې؟

۳۸۲- دَ فرښتو وجود ثابتولو دَ پاره درې حوالې ورکړئ.

۳۸۳- دَ فرښتو دَ فطرت \ ذات په حقله شپږ خبرې بیان کړئ.

۳۸۴- دَ فرښتو دَ طاقت ثابتولو دَ پاره څلور مختلفې اؤ خاص واقعې بیان کړئ.

۳۸۵- کوم آیت دَ فرښتو دَ شمیر په حقله څهٔ اندازه پیش کوی؟

۳۸۶- دَ فرښتو دَ ګناه کولو درې ممکن وجې بیان کړئ.

۳۸۷- اووهٔ خبرې بیان کړئ چې دَ فرښتو په خدمت کښې شاملې دی.

۳۸۸- دوه خبرې بیان کړئ چې دَ هغې په وسیله انسان دَ فرښتو نه غوره دے؟

۳۸۹- دَ مکاشفې ۲۲: ۸، ۹ نه مونږ ته دَ فرښتو په حقله څهٔ سبق ملاویږی؟

۳۹۰- دَ فرښتو په حقله دَ لوقا ۱۶: ۲۲ نه مونږ ته څهٔ تسلی بحش سبق ملاویږی؟

# څلویښتم سبق

# شیطان

## پیژندګلو

* مسیحی ژوند زمونږ د لوئ دښمن شیطان خلاف جنګ دے. هغهٔ ته ابلیس هم وئیلے شی.
* د خپلې ګناه کولو په وجه مونږ د شیطان په قبضه کښې راغلو اؤ د هغهٔ ښکار جوړ شو.
* زمونږ د ټولو انجام یو شان دے. د خدائ له طرفه لعنتیان یو، اؤ د دوزخ د پاره به خشاک یو.
* کله چې مونږ عیسیٰ مسیح خپل خلاصوؤنکے قبلوؤ، نو شیطان سره زمونږ دا تعلق مات شی. خو شیطان دومره زر مونږ نهٔ پریږدی. هغه په مونږ باندې دوباره قبضې کولو د پاره خپل پوره کوشش کوی.
* بائبل مقدس وائی چې د شیطان مقابله وکړئ. هغهٔ سره جنګ وکړئ. هغهٔ له په خپل ژوند کښې ځائ مهٔ ورکوئ.

## ۱- د شیطان شروع

د مالک خدائ په مطابق (کولوسیان ۱: ۱۲) شیطان پیدا کړے شوې هستی ده. خو مونږ ته د وخت پته نشته.

**د حزقی ایل په ۲۸: ۱۲- ۱۹ کښې د شیطان په حقله وئیلے شوی دی:**

دولسم آیت: شیطان په پوهه اؤ ښائست کښې کامل وو.

- **دیارلسم آیت:** دَ هغۀ په لباس کښې قیمتی کاڼی وو، مثال په طور سُور یاقوت، پکهراج، الماس، فیروزه، سلیمانی کاڼے، زبرجد، نیلم، زمرد، گوهرِ شبِ چراغ اؤ سرۀ زر.
- هغۀ له دَ بگل اؤ ډولکی وهلو چل ورتلو، ځکه چې دَ هغۀ موسیقی ډیره خوښه وه.
- **څوارلسم آیت:** هغه مسح کړے شوے فرښته وه. کیدے شی دَ ټولو مشر اؤ دَ ټولو نه اوچته مرتبه لرونکے وو.
- **اوؤلسم آیت:** دَ خپل ښائست اؤ حکمت په وجه هغۀ کښې تکبر راغلو.
- **پنځلسم آیت:** هغه کامل تخلیق کړے شوے وو. اؤ تر څو چې یې گناه نۀ وه کړې تر هغې کامل وو.
- **شپاړسم آیت:** په شیطان کښې بدی اؤ گناه راغله.
- شپاړسم نه تر اتلسم آیته پورې: هغه په آسمان کښې دَ خدائ دَ حضورئ نه وشړلے شو.
- دَ یشعیاه په ۱۴ : ۱۲- ۱۷ کښې هم دَ شیطان په حقله ذکر شوے دے.
- **دولسم آیت:** دَ هغۀ نوم لوسیفر (دَ سبا زوئ) وو.
- دیارلسم اؤ څوارلسم آیت: تکبر دَ هغۀ په زړۀ کښې خواهش پیدا کړو چې دَ خدائ په شان جوړ شی.
- **پنځلسم آیت:** دَ هغۀ انجام دوزخ دے. هغه به دَ عالم ارواح کندې ته وغوزولے شی.

شیطان دَ آسمان نه شړلے شوے دے، نو ځکه اوس هغه په هوا کښې اوسیږی. افسیان ۲ : ۲.

اوس هم شیطان آسمان ته تر څۀ حده پورې رسیدلے شی. چرته چې هغه په ورونو باندې الزام لګوی. ایوب ۱: ۲- ۱۲؛ زکریاه ۳ : ۱.

کیدے شی چې دا رعایت دَ مکاشفې ۱۲: ۱۰ پوره کیدو پورې جاری وی.

## ۲- دَ شیطان شخصیت

په اوسنۍ زمانه کښې ډیر خلق دا نۀ منی چې شیطان یو شخصیت دے. هغوئ دَ بدن خراب عادتونه اؤ بدۍ صرف انسانی "کمزورئ" ګڼی.

بې عقیدې یهودیانو سره دَ خبرو کولو په وخت دَ یوحنا په ۸: ۴۴ کښې عیسیٰ مسیح وفرمائیل "ستاسو پلار ابلیس دے اؤ تاسو دَ پلار په خوښه عمل کوئ". دَ پلار جوړیدو دَ پاره دا ضروری ده چې هغه یو شخصیت وی.

دَ ایوب په ۱: ۲- ۱۲ کښې په ایوب باندې الزام لګولو دَ پاره شیطان خدائ پاک سره خبرې کوی. تاثیر خو خبرې نۀ شی کولے.

عیسیٰ مسیح دَ آزمیښت په دوران (متی ۴: ۱- ۱۱) کښې یو حقیقی کس سره مخامخ شو. هغه یو حقیقی دښمن دے چې په فریب اؤ چالاکۍ سره دَ کار اخستلو هُنر لری.
شیطان یو حقیقی کَس دے. هغه ژوند ، عقل اؤ پوهه، دَ ارادې لرلو قوت اؤ احساسات لری.

البته شیطان یو روحانی هستی ده. انسانی وجود نۀ لری (اؤ نۀ ښکرونه اؤ لکۍ لری).

## ۳- دَ شیطان کردار

(۱) هغه غل دے. متی ۱۳: ۱۹. هغه دَ آؤریدونکو دَ زړونو نه دَ خدائ پاک کلام پټوی. "هر کله چې یو سړے دَ خدائ دَ بادشاهۍ په حقله څۀ آؤری

خو پرې رسی نه،نو شیطان راشی اؤ دَ هغۀ دَ زړۀ نه هغه کرلی شوی څۀ هم یوسی".

(۲) هغه مکار دے. دویم کورنتیان ۱۱: ۳. هغۀ بی بی حوا په خپل مکر وغلوله "..... لکه څنګه چې مار په خپل مکر بی بی حوا وغلوله". شپږ دیرشم سبق هم وګورئ.

(۳) هغه قاتل دے. یوحنا ۸: ۴۴ "ستاسو پلار ابلیس دے اؤ تاسو دَ پلار په خوښه عمل کوئ. هغه دَ اوله سره قاتل وو".

(۴) هغه دروغژن دے. یوحنا ۸: ۴۴ "..... هر کله چې هغه څۀ دروغ وائی نو هغه دَ خپله ځانه وائی ځکه چې هغه دروغژن دے اؤ پلار دَ دروغو دے".

(۵) هغه دوکه باز دے. مکاشفه ۱۲: ۹ "..... چې شیطان یا ابلیس بللے شی، چې ټول عالم غلوی".

## ۴- دَ شیطان لقبونه

(۱) نورانی فرښته. دویم کورنتیان ۱۱: ۱۳- ۱۵ "شیطان هم خپل ځان دَ یو نورانی فرښتې په شکل جوړوی".

(۲) غړمبیدونکے زمرے. اول پطروس ۵ : ۸ "ستاسو مخالف ابلیس دَ غړمبیدونکی زمری په شان په دې لټون کښې دے چې څوک ونغری".

(۳) دَ هوا دَ عمل دارئ حاکم. افسیان ۲ : ۲ "..... دَ هوا دَ عمل دارئ دَ حاکم، یعنې دَ هغه روح پسې تللئ کوم چې اوس په نافرمانو بچو کښې اثر کوی".

(۴) دَ تیارۍ طاقت. کولوسیان ۱: ۱۳ "..... خدائ مونږ دَ تیارۍ دَ قبضې نه را
خلاص کړلو اؤ دَ خپل محبوب زوی په بادشاهائ کښې یې داخل کړلو".

(۵) لویه اژدها، مار، ابلیس، شیطان. مکاشفه ۱۲: ۹ "نو دا لویه اژدها لاندې
را وغورزولې شوه، دا هغه زوړ مار چې شیطان یا ابلیس بللې شی چې ټول
عالم غلوی، هغه دَ خپلو فرښتو سره زمکې ته لاندې راګزار کړې شو".

(٦) دَ دنیا سردار. یوحنا ۱۴: ۳۰ " دَ دنیا سردار راتلونکې دې. دَ هغهٔ په ما
باندې هیڅ اختیار نشته".

(۷) دَ دې دنیا خدائ. دویم کورنتیان ۴ : ۴ "دَ هغه بې ایمانو دَ پاره دَ چا عقل
چې دَ دې دنیا خدائ ړوند کړې دې".

(۸) دَ عالم ارواح فرښته. مکاشفه ۹: ۱۱ "اؤ دَ دوئ بادشاه دَ عالم ارواح فرښته
وه چې په عبرانئ کښې دَ هغې نوم ابدون اؤ په یونانئ ژبه کښې اپولیون
دې، یعنې تباه کوؤنکې".

## ۵- دَ شیطان کار

(۱) نغرول. اول پطروس ۵: ۸ "..... ابلیس دَ غړمبیدونکی زمری په شان په دې
لټون کښې دې چې څوک ونغری".

(۲) جمدر کرل اؤ خراب خیالونه پیدا کول. متی ۱۳: ۲۵، ۳۰ "دښمن راغلو اؤ
په غنمو کښې یې جمدر وکرلو".

(۳) دَ عقل ړندول. دویم کورنتیان ۴ : ۴ "دَ چا عقل چې دَ دې دنیا خدائ
ړوند کړې دې".

(۴) په ورونږو الزام لګول. مکاشفه ۱۲: ۱۰ "زمونږ په ورونږو الزام لګولو والا ...... را ګزار کړے شو".

(۵) مسیحیان ځنډل (آزمائیل). لوقا ۲۲: ۳۱ "مالک خدائ ووئیل، شمعون! اے شمعونه! شیطان تاسو ټول وغوښتلئ چې هغه تاسو لکه دَ غنمو دَ دانو وځنډی".

(٦) دَ انسان وجود (ژوند) هلاکول. اول کورنتیان ۵ : ۵ "نو دَ داسې سړی وجود دَ هلاکت دَ پاره شیطان ته وسپارئ، دَ دې دَ پاره چې دَ هغهٔ روح دَ مالک په ورځ خلاصون بیا مومی".

## ٦- دَ شیطان ملګری

(۱) دَ شیطان فرښتې، بد روحونه، ناپاکه روحونه اؤ شیطانان. دویم پطروس ۲ : ۴ "..... ځکه چې هر کله چې خدائ ګناه کوؤنکې فرښتې پرې نهٔ ښودې بلکه جهنم ته یې واستولے، اؤ په تورو غارونو کښې یې واچولې چې دَ عدالت دَ پاره په قید کښې وی".

**یهوداه ۲ "کومو فرښتو چې دَ خپلې درجې خیال ونهٔ ساتلو..... هغوئ په ابدی زنځیرونو اؤ په تور تم کښې دَ قیامت دَ لویې ورځې پورې ساتلی دی".**

(۲) حکومت خاوندان، اختیار مند، دَ دې دنیا دَ تیارو حاکمان، دَ بدئ روحانی فوجونه. افسیان ٦: ۱۲ "ځکه چې زمونږ جنګ دَ انسان خلاف نهٔ دے بلکه دَ فساد دَ هغه روحانی لښکرو چې په آسمانی ځایونو کښې

دی، دَ حکومت دَ خاوندانو، دَ اختیار لرونکو اؤ دَ دې دنیا دَ تیارې دَ حاکمانو سره دے".

(۳) هغه گناه گار چې دِ هغهٔ په مرضئ عمل کوی. یوحنا ۸: ۴۴ "ستاسو پلار ابلیس دے اؤ د هغهٔ په خوښه عمل کوئ".

(۴) ځنې وخت پاکان هم په ناخبرئ کښې شیطان له موقعه ورکوی چې هغوئ استعمال کړی لکه څنګه چې دَ متی په ۱٦: ۲۲، ۲۳ کښې پطروس وکړل. عیسیٰ مسیح پطروس ته وکتل، شیطان یې ورته‌لو چې دَ پطروس په ژبه یې خبرې کولې.

## ۷- دَ شیطان انجام

(۱) په راتلونکی وخت کښې به هغه دَ آسمان نه بالکل وویستلے شی. مکاشفه ۱۲: ۷، ۸ "بیا په آسمان کښې جنګ ونښتو. میکائیل اؤ دَ هغهٔ فرښتو دَ اژدها سره جنګ جوړ کړو. اؤ اژدها اؤ دَ هغهٔ فرښتو جنګ وکړو. خو هغوئ فتح ونهٔ موندله اؤ په آسمان کښې دَ هغوئ دَ پاره ځائ نهٔ وو".

شیطان اوس هم آسمان ته رسیدلے شی.

(۲) بیا به هغه انسان دَ خدائ پاک خلاف ودرولو دَ پاره تیاروی. مکاشفه ۱۲ : ۱۲ "خو اے زمکې اؤ سمندره! افسوس چې ابلیس ډیر په غُصه تاسو ته ښکته راغے ځکه چې هغه خبر دے چې وخت لنډ دے".

(۳) بیا به یوه فرښته هغه قید کړی. مکاشفه ۲۰: ۱- ۳ "بیا ما یوه فرښته له آسمان نه په راکوزیدو ولیدله چې ورسره دَ عالم ارواح کنجی اؤ په لاس کښې یې لوئ زنځیر وو. اؤ هغه اژدها چې زوړ ښامار دے، هغه یې

ونیوو، یعنې ابلیس اؤ شیطان، اؤ تر زرو کالو پورې یې وتړلو. فرښتې هغه آخری کندې دَ جهنم ته وغورزولو، بند یې کړو".

(۴) شیطان به دَ زرو کالو دَ پاره دَ جهنم په آخری کنده کښې بند کړے شی. مکاشفه ۱۲: ۳.

(۵) دَ دې نه پس به هغه بیا دَ لږ وخت دَ پاره کولاؤ کړے شی. کله چې بهر راشی نو هغه به انسانان غلوی، اؤ دوکه کوی به یې چې دَ خدائ پاک خلاف بغاوت دَ پاره یې تیار کړی. مکاشفه ۲۰: ۷، ۸ "هر کله چې زر کاله پوره شی نو شیطان به دَ خپلې بندې خانې نه را آزاد شی. اؤ هغه به راشی اؤ په څلور کنجه دنیا کښې به قومونه وغلوی،یعنې جوج اؤ ماجوج، اؤ جنګ ته به یې راجمع کړی چې دَ سمندر دَ شګو په شان بې شماره دی".

(٦) په آخر کښې به شیطان ناکامه شی اؤ دَ تل دَ پاره به دَ اور تالاب ته وغورزولے شی. مکاشفه ۱۲: ۷- ۱۰.

**خُلاصه**

شیطان قدرت لری خو خدائ پاک قادر مطلق خدائ دے. په سولئ باندې شیطان له دَ تل دَ پاره ماتے ورکړے شو. راځئ چې مونږ دَ سولئ په وینه کښې هغۀ باندې همیشه دَ پاره دَ فتح موندلو دعوه وکړو.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۳۹۱- دَ شیطان دَ بغاوت کولو نه مخکښې دَ هغۀ په حقله اووۀ خبرې بیان کړئ.

۳۹۲- ثابته کړئ چې شیطان یو کَس دے (پنځۀ خبرې).

۳۹۳- دَ شیطان دَ کردار په حقله دَ پنځو خبرو خاکه پیش کړئ.

۳۹۴- په ۳۹۳ سوال کښې بیان شوی خاصیتونو کښې کوم خاصیتونه دَ ټولو نه زیات خراب دی؟ ولې؟

۳۹۵- دَ شیطان اتهٔ لقبونه بیان کړئ.

۳۹۶- دَ شیطان شپږ کارونه بیان کړئ.

۳۹۷- دَ شیطان مدد ګار یا ملګری څوک دی؟

۳۹۸- دَ عیسیٰ مسیح دَ ژوند نه یو مثال ورکړئ چې کله شیطان دَ یو شاګرد په وسیله خبرې کړی وی.

۳۹۹- دَ مکاشفه ۱۲: ۷- ۱۲ اؤ ۲۰: ۱- ۱۰ په بنیاد باندې دَ شیطان انجام به څهٔ وی؟

۴۰۰- لوسیفر دَ کومې ګناه په وجه شیطان یا ابلیس جوړ شو؟

# يو څلويښتم سبق

# بد روحونه

## پيژندګلو

* دَ پخوا زمانې راسې دَ دنيا دَ هرې علاقې خلق دَ پيريانو يا بد روحونو وجود مني.
* پخوانو وحشى اؤ ناپوهه خلقو به دا وئيل چې دا دَ مړو خلقو روحونه دى چې دَ ژوندو خلقو تنګولو دَ پاره واپس راځى.
* کوم خلق چې دا دعوه کوى چې هغوئ پيريان ليدلى دى نو هغوئ ته دا په انسانى، حيوانى يا مختلف قسمه شکلونو کښې ښکارى. خو په حقيقت کښې دا ناليدونکى روحونه دى.
* عيسىٰ مسيح هم دا منل چې پيريان شته. دَ مرقوس په انجيل شريف کښې دَ پيريانو ويستلو ډيرې واقعې ليکلے شوې دى.
* ځنې خلق دا سوال کوى چې آيا په اوسنۍ زمانه کښې هم پيريان شته. زما دا يقين دے چې اوس هم شته.

## ۱- دَ شيطانانو يا دَ پيريانو شروع

په بائبل مقدس کښې دَ دې سوال جواب ډير واضحه نۀ دے. زمونږ دَ سوچ اؤ فکر دَ پاره يو څو جوابونه ورکولے کيږى. خو نن سبا دا لاندې ورکړے شوې نظريې ډيرې دَ منلو جوګه ګڼلے شى:

(۱) پيريان هغه وخت په وجود کښې راغلل کله چې شيطان ګناه وکړه. يشعياه ۱۴: ۱۲- ۲۰؛ حزقى ايل ۲۸: ۱۱- ۱۹. ځنې خلق وائى چې هغۀ

یواځې ګناه نۀ وه کړې، بلکه هغه دَ فرښتو دَ یوې ډلې مشر وو. دَ ګناه کولو نه پس هغه اؤ دَ هغۀ فرښتې دَ آسمان نه را ګزار کړے شوې. دا ګناه کوونکې فرښتې پیریان جوړ شول.

دَ متی په ۱۲: ۲۶ کښې ښودلے شوی دی چې شیطان دَ خپل ځان نه په ورړو فرښتو باندې بادشاهی کوی.

(۲) دَ پیدایښت ٦: ۱- ٦ په بنیاد باندې دَ ځنې خلقو دا خیال دے چې فرښتې زمکې ته راغلې اؤ ښځو سره یې وادونه وکړل. دَ هغوئ اؤلاد دیوان وو، اؤ دَ مرګ نه پس پیریان جوړ شول.

نور خلق دَ کلام دَ دې حصې تشریح داسې کوی چې دا وادونه دَ شیث دَ نسل، څوک چې یو خدائ پرسته انسان وو، اؤ دَ قائن دَ نسل، چې دَ خدائ پاک خلاف یې ګناه کړې وه، په مینځ کښې وشول. کۀ چرې داسې وو نو دَ هغوئ اولاد څنګه دیوان، یا اعلی انسانان جوړ شول؟ پیدایښت ۲ : ۴.

دَ ایوب په ۱ : ۲ کښې هم هغه لفظونه یعنې "دَ خدائ زامن" استعمال شوی دی چرته چې "دَ خدائ زامن" دَ مالک خدائ په حضورئ کښې حاضریدو دَ پاره راغلل. دا خبره خو یقینی ده چې دَ شیث زامن آسمانی مقامونو ته نۀ شو رسیدلے. دغه شان دا نتیجه راوځی چې هغوئ دَ فرښتو په شان هستئ وې.

(۳) ځنې خلق داسې دی چې دَ هغوئ دا خیال دے چې پیریان دَ آدم نه مخکښې دَ یو نسل روحونه دی چې دَ پیدایښت دَ کتاب دَ اولنی باب ړومبو دوؤ آیتونو په وخت کښې ختم شوی وو. هغوئ دا ګڼی چې دَ یرمیاه په ۴: ۲۳، ۲٦ کښې دَ دې اشاره ملاویږی، چرته چې لیکلی دی چې "...... ګورم چې یو انسان هم نشته...." هغوئ محسوسوی چې دَ دې نه دا څرګندیږی چې مخکښې په یو وخت کښې خلق موجود وو.

## ۲- په اوسنۍ زمانه کښې دَ پیریانو وجود

دَ کلامِ پاک ګواهی واضحه ده چې کله خلاصوؤنکے مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا کښې وو نو هغه وخت هم ډیر پیریان موجود وو.

په موجوده سائنسی اؤ دَ رڼا په دور کښې انسان په فخر سره دَ بائبل مقدس دعوې دې وئیلو سره رد کوی چې دا خیال دَ قُرُونِ وُسطی دَ تَوهماتو پاتې شوې خبرې دی.

دَ نوې لوظنامې لیکونکی په پیریانو باندې پوخ ایمان لری. اؤ دَ مکاشفه په ۹: ۲۰ کښې یوحنا دَ مستقبل دَ یو وخت (دَ لوئ مصیبت وخت) ذکر کوی، کله چې به خلق دَ شیطانانو پیروی کول جاری ساتی. اوس هم ډیر بې دینه خلق دَ پیریانو عبادت کوی.

په اوسنی وخت کښې چې کوم خلق په منیلا کښې پاتې شوی دی، نو هغوئ دَ پیریانو دَ وجود ګواهان دی. هغوئ ډیر خلق لیدلی دی چې پیریانو نیولی دی. اؤ هغوئ ولیدل چې پیریانو به په هغوئ کښې خبرې کولې. (په برصغیر هندوستان اؤ پاکستان کښې هم داسې ډیر خلق موجود دی).

## ۳- دَ شیطانانو یا دَ پیریانو فطرت\ ذات

شیطانان روحونه دی. دَ متی په ۸: ۱۶ کښې عیسیٰ مسیح پیریان وویستل. دَ مرقوس په ۱: ۲۳ کښې پیریانو ته "ناپاکه روحونه" وئیلے شوی دی. شیطانان اؤ پیریان یو څیز دے.

پولوس وائی چې "زمونږ جنګ دَ انسان خلاف نۀ دے بلکه..... دَ بدۍ دَ روحانی فوجونو خلاف دے".

پیریان حالانکه روحونه دی خو بیا هم شخصیتونه دی. دوئ عقل اؤ پوهه لری. مرقوس ۵: ۱۰؛ لوقا ۴: ۳۴؛ پیدایښت ۳: ۱؛ دویم کورنتیان ۱۱: ۱۴.

پیریان دَ ډیرو څیزونو علم لری نو ځکه چې خلق دوئ دَ راتلونکی وخت خبرو دَ پاره، دَ راتلونکو واقعاتو دَ پاره اؤ دَ قسمت حال بیانولو دَ پاره استعمالول غواړی، اؤ مشوره ترې اخستل غواړی.

پیریان په اخلاقی طور باندې ناپاکه دی. متی ۱۰: ۱؛ مرقوس ۱: ۲۷؛ رومیان ۲: ۱۳؛ لوقا ۸: ۲۷. دوئ دَ انسان نه زیات طاقتور وی. کوم سړے چې پیریانو نیولے وی نو دَ هغهٔ قابو کولو دَ پاره دَ ډیرو کسانو ضرورت وی.

**پیریان دَ چاړه توب، ړوند والی، پاګل توب، اؤ دَ خودکشئ کولو جذبه وغیره پیدا کولے شی.**

## ۴- دَ شیطانانو یا دَ پیریانو کارونه

(۱) دَ خدائ پاک مخالفت کوی اؤ دَ هغهٔ د ارادو دَ ناکامه کولو کوشش کوی.

شیطان په ورونړو الزام لګوی. شیطان په یو وخت باندې صرف یو ځائ کښې وی. بهر حال دَ هغهٔ خادمان شیطانان هر ځائ کښې کار کوی. اؤ هغوئ دَ هغهٔ دَ پاره معلومات اؤ خبرې راجمع کوی. مکاشفه ۱۲: ۱۰؛ ۲: ۱۳.

(۲) انسان له زورنه ورکوی اؤ دَ هغهٔ په کامیابئ کښې خنډ جوړیږی. ایوب ۱: ۱۲؛ لوقا ۱۳: ۱٦. هغه ښځه شیطان (یا دَ هغهٔ کار کوؤنکو پیریانو) دَ اتلسو کالو راسې نیولې وه.

شیطان نهٔ په هر ځائ کښې موجود کیدے شی، نهٔ هغه قادرِ مطلق دے اؤ نهٔ هغه دَ ټول هر څهٔ نه خبر دے، نو په دې وجه هغه خپل ډیر کارونه نورو شیطانانو ته حواله کوی.

شیطان دَ انسان په مازغو اؤ وجود یا په دواړو کښې خلل پیدا کوی اؤ انسان بې زړهٔ کوی. مرقوس ۱: ۲۳- ۲۷؛ مرقوس ۵: ۱- ۲۰.

(۳) بهرحال شیطانان دَ خدائ پاک اراده هم پوره کوی. خدائ پاک اخیاب بادشاه له سزا ورکولو دَ پاره دَ دروغو وئیلو والا روح استعمال کړو. اول بادشاهان ۲۲: ۱۳؛ مکاشفه ۱٦: ۱۳- ۱٦. پیریان دَ خدائ پاک خلاف فوجونه غلوی اؤ هرمجدون ته یې بوځی.

## ۵- دَ شیطانانو یا دَ پیریانو تنظیم

اګرچه داسې محسوسیږی چې شیطان په یو وخت باندې هر ځائ کښې موجود دے. خو په حقیقت کښې داسې نۀ ده، هغه په یو وخت باندې صرف یو ځائ کښې وی.

دَ شیطان تخت په پرګمن کښې وو (مکاشفه ۲ : ۱۳). خو داسې ښکاری چې هغه اکثر خپل ځائ بدلوی.

شیطان دَ پیریانو دَ یوې لویې ډلې په وسیله کار کوی، چې بې شماره دی. دانی ایل ۷: ۱۹، ۲۰؛ مکاشفه ۱۲: ۴، ۷.

دَ شیطان بادشاهی دَ یو نااتفاقه ډلې په شان نۀ ده (متی ۱۲: ۲۶) بلکه دَ بدئ ډیره ترتیب واره، اؤ په پرله پسې چلیدونکې بادشاهی ده.

شیطان په ګناه ګار انسان باندې دَ تکبر، حرص، لوئ خواهشونو، خودغرضئ، دباؤ، لالچ، اؤ عیش عشرت وغیره سره حکمرانی کوی. یوحنا ۱۴: ۳۰؛ ۱۸: ۳۶؛ افسیان ۲ : ۲؛ ۶: ۱۲؛ اول یوحنا ۲: ۱۵- ۱۷.

دغه شان دَ بدئ دَ مُنظم سلطنت په وسیله شیطان ګناه ګار روحونه خپل تابع کوی. ځنې ګناه ګارې فرښتې اوس هم په زنځیرونو تړلې دَ تیارو په قید کښې دی. یهوداه شپږم آیت.

## ٦- دَ شیطانانو یا پیریانو انجام

دَ شیطان په شان دَ ټولو شیطانانو یا دَ پیریانو دَ قسمت فیصله عیسیٰ مسیح په سولئ باندې وکړه. دَ جهنم آخری کنده دَ شیطانانو دَ سزا مینځنے مقام دے. مکاشفه ۹: ۱۱.

پیریانو ته معلومه ده چې دَ هغوئ دَ انجام فیصله شوې ده. متی ۸: ۲۹ "اے دَ خدائ زویه! ستا زمونږ سره څۀ دی؟ تۀ دلته دَ دې دَ پاره راغلے یې چې مونږ دَ وخت نه مخکښې په عذاب کړې څۀ؟"

دَ شیطانانو (پیریانو) ابدی انجام دَ شیطان سره ابدی اور ته تلل دی. متی ۲۵: ۴۱. "دَ تل عمری اور.... چې دَ ابلیس اؤ دَ هغۀ دَ فرښتو دَ پاره تیار کړے شوے دے".

## ۷- دَ شیطانی عمل حالتونه

(۱) غیب وئیل. دَ پیریانو په وسیله راتلونکے وخت کتل اؤ دَ هغې حال بیانول. احبار ۲۰: ۲۷. دَ بد روحونو دَ داسې ملګری سزا مرګ دے.

(۲) مړو سره رابطه. مړ شوی کس سره رابطه قائمول، لکه څنګه چې ساؤل سموئیل سره کړې وه. اول سموئیل ۲۸: ۸. دا دَ خدائ په نظر کښې ډیره خرابه ګناه ده. دویمه روزنامچه ۳۳: ٦؛ احبار ۲۰: ٦.

(۳) فال کتل. دَ حزقی ایل په ۲۱ : ۲۱ کښې دَ دې تصویر ورکړے شوے دے. په دې کښې غیب وئیل اؤ دَ مرغو اؤ ځناورو دَ باطنی اندامونو معائنه کول وغیره شامل دی.

(۴) نجومی. رمَل وغیره. دا علم په مصر کښې عام وو. پیدایښت ۴۱: ۸. په دې کښې ډیرې خبرې (علم هئیت اؤ علم نجوم) اؤ روحونو سره ملګرتیا لرل وغیره شامل دی. نن سبا دَ ډیرو خدایانو منونکی (هنپاټزم) اؤ دَ قسمت حال وئیلو وغیره کښې استعمالیږی. چې دَ علاج اؤ شفا حاصلولو طرف ته متوجې نۀ شو.

(۵) ساحری. په دې کښې ډیرې عجیبه اؤ نا آشنا طریقې مثلاً نجوم، فال، کیمیا اؤ روحونو سره ملګرتیا وغیره شامل دی. دَ یشعیاه په ۴۷: ۹- ۱۳ اؤ اعمال ۱۹: ۱۸- ۱۹ کښې هم دې طرف ته اشاره شوې ده چرته چې داسې قسمه ټول کتابونه وسوزولے شول.

(٦) جادوګری. قصداً اؤ په شعوری طور باندې روحونو سره تعلق ساتل اؤ دَ هغوئ دَ مرضئ په مطابق کار کول. دَ ګلتیانو په ۵: ۲۰ کښې دَ دې ډیر

زیات مذمت شوے دے. دا دَ شیطانانو عبادت کول دی. اؤ دَ خدائ پاک خلاف بغاوت دے. اول سموئیل ۱۵: ۲۳.

**دَ نورې مطالعې اؤ رهنمايئ دَ پاره دَ مس ویوئین ستهیسی کتاب "جادو منتر اؤ په بدو روحونو فتح" (نشر کوؤنکې مسیحی اشاعت خانه) ډیر فائده مند دے.**

**خُلاصه**

**دَ پیریانو دَ قبضې یا دَ پیریانو دَ اثر معلومولو دَ پاره څلور آزمیښتونه ډیر فائده مند وی.**

۱- دَ پیریانو سره تعلق لرونکی همیشه په تیارۀ کښې کار کوی.

۲- پیریان دې خبرې نه انکار کوی چې شیطان یو خرابه هستی ده.

۳- هغوئ دَ مالک عیسیٰ مسیح دَ نوم نه نفرت کوی. اؤ دَ مسیح دَ وینې لفظونو نه سخت نفرت کوی.

۴- هغوئ دې نه انکار کوی چې عیسیٰ مسیح جُسه شو اؤ دې دنیا ته راغلو. اول یوحنا ۴: ۳.

دَ پیریانو ویستلو دَ پاره یو څو مدد ګارې مشورې.

۱- دَ مالک عیسیٰ مسیح په نوم دَ شیطان مقابله وکړئ. دَ خلاصوؤنکی پوره لقب استعمالول به ډیر غوره وی.

۲- دَ ایمان اؤ پوره یقین سره دعا غواړئ. چې څومره ممکنه وی نو زیات خلق را جمع کړئ چې تاسو سره په شریکه دعا وکړی. دَ هنګامی حالت نه علاوه کله هم دا کار یواځې مۀ کوئ.

۳- کهٔ پیریان ضدی وی اؤ په خپله خبره ټینګ ولاړ وی نو روژه ونیسئ. مرقوس ۹: ۲۹.

۴- دَ عیسیٰ مسیح دَ وینې په حقله ډیرې خبرې وکړئ، اؤ هم دَ دې موضوع ګیتونه ووایئ. مکاشفه ۱۲: ۱۱ "هغوئ دَ ګډوری دَ وینې په وسیله..... په هغهٔ غالب شول".

۵- داسې حوالې ولولئ یا یې په یاده ووایئ دَ کومو نه چې دا ثابتیږی چې عیسیٰ مسیح دَ بدئ په ټولو قوتونو فتح موندلې ده.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۰۱- بې دینه خلق عام طور باندې دَ پیریانو په حقله څهٔ خیال کوی؟

۴۰۲- دَ پیریانو دَ آغاز په حقله درې نظریې بیان کړئ.

۴۰۳- آیا تعلیم اؤ سائنس شیطانان یا پیریان ختم کړل؟ ولې؟

۴۰۴- دَ شیطانانو اؤ پیریانو په حقله شپږ خبرې بیان کړئ.

۴۰۵- دَ شیطانانو یا دَ پیریانو کارونه بیان کړئ.

۴۰۶- دَ شیطان یا دَ پیریانو دَ تنظیم په حقله حوالې بیان کړئ.

۴۰۷- دَ پیریانو آخری انجام به څهٔ وی؟

۴۰۸- دَ شیطانی عمل شپږ حالتونه بیان کړئ.

۴۰۹- دَ پیریانو دَ قبضې یا دَ اثر معلوملو دَ پاره څلور آزمیښتونه بیان کړئ.

۴۱۰- دَ پیریانو ویستلو دَ پاره پنځهٔ فائده مندې طریقې بیان کړئ.

# دوه څلویښتم سبق

# په مسیحیانو دَ شیطان حملې

## پیژندګلو

* په یو تیر شوی سبق کښې مونږ کتلی وو چې شیطان یو حقیقی، ژوندے اؤ کار کوؤنکے دښمن دے.
* اول پطروس ۵: ۸، ۹ "تاسو ځان ساتئ اؤ بیدار اوسئ ځکه چې ستاسو مخالف ابلیس دَ غړمبیدونکی زمری په شان په دې لټون کښې دے چې څوک ونغری. تاسو په ایمان کښې مضبوط شئ اؤ دَ هغهٔ مقابله وکړئ ځکه چې تاسو ته معلومه ده چې ستاسو ورونړه چې په دې دنیا کښې دی، هم دغه شان مصیبتونه زغمی".
* افسیان ۴: ۲۷ "ابلیس له موقعه مهٔ ورکوئ".
* کهٔ چرې مونږ دَ شیطان مقابله نهٔ کوؤ نو حالات به خراب شی ځکه چې دغه شان به مونږ دَ خدائ پاک دَ حکم نافرمانی کوؤ.
* شیطان دَ خدائ پاک په هر یو رښتینی بچی باندې حمله کوی. دا اصول زما اؤ ستاسو دَ پاره هم دے.
* دَ مقابلې کولو مطلب دے حمله منع کول، ودریدل، کهٔ چرې ضرورت وی نو جنګ کول.
* دَ "بیدار اوسئ" مطلب دے، هوش اؤ حواس قائم ساتل. په ذهنی طور باندې خپل ځان په قابو کښې ساتل. دَ حفاظت کوؤنکی څوکیدار په شان

بيدار اوسئ. اؤ دَ دښمن دَ راتلو آواز ته غوږ کيږدئ اؤ په احتياط سره ګورئ.

* شيطان، دروغژن، قاتل، جدائی راوستونکے، دوکه ورکوؤنکے، غږمبيدونکی زمری، اؤ دَ نورانی فرښتې په شکل کښې ظاهريدونکے کس دے.
* څنې خلق د يو قسم بې عمله جنګ کولو کوشش کوی اؤ صرف دې وئيلو سره خاموشه کښينی چې "زۀ په مالک خدائ بروسه ساتم اؤ دَ شيطان هيڅ پرواه نۀ کوم".
* خدائ پاک فرمائی "مضبوط جوړ شئ، ودريږئ، توره راوباسئ، مقابله وکړئ، ټينګ پاتې شئ، اؤ غالب شئ".
* دا جنګ تش دَ ايمان دَ بهادرانو دَ پاره نۀ دے کول پکار، بلکه هر يو مسيحی له دا جنګ کول پکار دی.
* دَ پيدايښت په ۳ : ۱۵ کښې وئيلے شوی دی چې دَ شيطان اؤ انسان په مينځ کښې هميشه دښمنی وی.
* زما پيدايښت دَ آسمان نه شوے دے، دې دَ پاره نه چې ماتے وخورم اؤ را ګزار شم، بلکه دَ فتح موندلو دَ پاره پيدا شوے يم".

## ۱- شيطان په مسيحيانو باندې څنګه حمله کوی

(۱) په مونږ کښې سُستی پيدا کوی. دَ سُستئ اؤ ستړی والی روح په مونږ کښې راځی. ذهن اُودۀ شی. ستړے والے راشی. مخ په وړاندې تلو دَ پاره خواهش ختم شی.

کيدے شی چې مونږ دَ خوب کم والے، موسم، خوراک يا دَ ذمه وارو بوج دَ دې ذمه وار گڼو. هره يو خبره وګورئ. آيا زما خوب پوره شوے دے؟ آيا موسم دَ مخکښې په نسبت زيات ګرم دے؟ آيا زما خوراک صحيح اؤ کافی دے؟ آيا زهٔ دَ ضرورت نه زيات مصروفه خو نهٔ يم؟

کهٔ چرې جوابونه دَ تسلئ وی نو پوهه شئ چې دا دَ شيطان حمله ده. هغه دَ مالک خدائ په نوم سره ورټيئ. شيطان به تښتيدو ته مجبوره شی.

**يعقوب ۴: ۷ "دَ شيطان مقابله وکړئ نو هغه به در نه وتښتی".**

(۲) دَ خوب کمے. کهٔ چرې شيطان په دې کښې کامياب شی چې مونږ خوب ته پرېږ نهٔ دی، نو بيا زمونږ حواس اودهٔ شی. زمونږ په کارونو کښې سُستی پيدا شی يا ودريږی. دَ ژوند په هره معامله کښې خلل پيدا شی.

(۳) دَ ذمه وارو بوج. دې سره مونږ ستړی کيږو، خفه کيږو اؤ په هره خبره جنګ کولو دَ پاره تياريږو.

کهٔ چرې مونږ دَ ضرورت نه زيات مصروفه اؤ تيز يو، نو دَ لږ ناوخته کيدو سره به دَ ناکامئ احساس کوؤ. اؤ شيطان دَ داسې موقعې نه فائده اخلی. شيطان زمونږ دَ غصه کيدو دَ پاره ټريفک جام کولے شی چې دَ دې په وجه په مونږ ناوخته شی.

په دې موقعه باندې هم کله چې ناڅاپی يو ميلمه راشی يا ماشومان مو تنګوی نو هوښيارتيا نه کار اخلئ.

(۴) اعصاب. شيطان زمونږ په بدن باندې دَ حملې کولو کوشش کوی، اؤ زمونږ اعصابو کښې سُستی پيدا کوی. په اعصابو چې زيات بوج راشی نو په کمزوری حالت کښې مونږ په آسانئ سره ګناه دَ پاره تيارولے شی.

(۵) عقل اؤ ذهن ړندوی. دويم کورنتيان ۴:۴. شيطان دَ بې ايمانو خلقو عقل ړوند کړے وو. نن هم هغه دغه شان هلې ځلې کوی چې په دې باندې يوځل بيا قبضه وکړی. شيطان دَ غلط خيال، غلط اثر يا دَ غلط تصور په

وسیله ذهن کښې داخلیږی. دَ کلامِ پاک په مطابق دَ انسان خیالونه دَ هغهٔ دَ ذات ښکارنه کوی.

شیطان دَ تریخ والی (دَ یو کس خلاف نفرت یا غُصه)، کینه، مایوسئ (په تعلقاتو، تعلیم یا کاروبار کښې ناکامی) یا دَ تکبر په وسیله مازغو ته راځی.

(٦) دَ مرګ په وسیله. شیطان قاتل دے. څنې وخت هغه دَ حادثو په وسیله دَ بنی آدم دَ ژوندون دعویدار جوړیدو کوشش کوی. ژوند اؤ مرګ خو دَ خدائ په لاسونو کښې دے. خو کله کله خدائ پاک دا اختیار شیطان له هم ورکوی.

ایوب ۱: ۱۲ کښې خدائ پاک هغهٔ له دَ ایوب دَ خاندان هلاکولو دَ پاره اختیار ورکړو. حالانکه دَ ایوب ۱: ۱۸، ۱۹ په مطابق دَ هغهٔ اوؤهٔ زامن اؤ درې لونړه دَ چت راغورزیدو په وجه مړهٔ شول.

(۷) خودکشئ سره. شیطان کوشش وکړو چې عیسیٰ مسیح خپل ځان دَ خدائ دَ کور دَ منارې نه ښکته ګزار کړی. ( دَ عیسیٰ مسیح آزمیښت متی ۴: ٦).

دَ یو کس په باره کښې وئیلی کیږی چې هغهٔ خپل حجامت نهٔ شو کولے، ځکه چې کله به هم هغهٔ حجامت کولو نو په زړهٔ کښې به یې دا خیال راتلو چې خپله مرئ پرې کړی اؤ ځان مړ کړی.

بې شکه چې دَ خودکشئ دَ ډیرو واقعاتو وجه دا وی چې شیطان په هغوئ کښې وی.

(۸) طبعیت. دا دَ انسان فطرتی حصه ده. خو شیطان له موقعه ورکول نهٔ دی پکار چې هغه دَ خپل خراب اؤ بې فائدې مقصدونو دَ پاره استعمال کړی.

دَ خپل طبعیت خاص خیال ساتئ اؤ په عیسیٰ مسیح کښې په هغهٔ باندې زر اؤ هر وخت دَ غالب کیدو دَ پاره هلې ځلې کوئ.

(۹) دَ روپو پيسو خرچ کولو عادت. يوې ښځې په لس کاله کښې لس مختلف کورونه بدل کړل. په هر يو کور کښې به دَ نوى سامان (فرنيچر) بندوبست کيدلو. دا دَ وخت اؤ پيسو څومره ضائع کيدل دى!

شيطان ځنې وخت دَ ښې خبرې يا ښۀ کار نه هم فائده اخستلے شى، اؤ هغه دا کار دَ ضرورت نه زيات کړى اؤ مونږ دَ ګناه په ولقه کښې راګيروى.

(۱۰) دَ فيشن خواهش. خدائ پاک فرمائيلى دى چې ښځو له حياء ناک لباس اچول پکار دى. خو ډير خلق بغير دَ سوچ اؤ فکر نه نوى نوى فيشنونه اختيار کړى. اؤ دا خيال نۀ کوى چې دَ دې دَ پيدا کوؤنکى په مخالف باندې به دَ دې څۀ اثر وى.

ځنې خلقو دَ ډيرو خرابو ګناهونو شروع وکړه، اؤ بيا يې وروستو اقرار وکړو چې "چې زما داسې هيڅ اراده نۀ وه. خو دَ هغۀ لباس ته کتلو سره داسې آزميښت کښې پريوتلم اؤ په خپل ځان مې قابو ونۀ ساتله".

(۱۱) دَ پردو ژبو غلط استعمالولو آزميښت سره هم دَ بدو روحونو دَ پاره دروازې کولاويږى.

ځنې خلق "دَ روح دَ خاص برکتونو" په خواهش کښې خپل ځانونه خالى ګڼى. اؤ شيطان دَ دې خالى ځايونو ډکولو دَ پاره په خوشحالئ سره تياريږى. (ځنې وخت ژبې رښتينے برکت وى).

(۱۲) دَ خدائ پاک مرضى معلومول. دَ مالک خدائ پيغام صفا اؤ خاص وى. خو شيطان تحقيق کوؤنکى روح له قسما قسم طريقې اؤ مشورې ورکوى. هغه زمونږ ذهن ګډوډوى اؤ دې سره هغه په مونږ کښې بې ايمانى اؤ مايوسى پيدا کوى.

فرق وپيژنئ. دَ مالک خدائ آواز صفا اؤ يقينى وى. حالانکه دَ شيطان آواز، شک من اؤ غير يقينى وى.

(۱۳) هوائى قلعې جوړول. په دې ميدان کښې شيطان ډير کامياب وى. هوائى قلعې ښې هم وى، اؤ خرابې هم. دَ خپلو خيالى سوچونو اؤ فکرونو خيال وکړئ. خپل ذهن اؤ خيالات په قابو کښې ساتئ.

**خرابه ګناه اکثر دَ داسې خيالونو اؤ هوائى سوچونو پوره کول وى.**

(۱۴) احساسات. دَ مزاج اؤ دَ طبيعت په شان دَ خپلو احساساتو خيال ساتل هم ډير ضرورى دى. فضول خبرو پسې ګرځيدونکى مۀ جوړيږئ. دَ نورو په خبرو باندې فضول سوچونه مۀ کوئ "هغه فلانکى اؤ فلانکى به زما دَ بې عزته کولو دَ پاره دا وئيلى وى". يا "هغۀ داسې خبره ولې وکړه؟".

**په احساساتو باندې انحصار مۀ کوئ بلکه دَ خدائ په زوئ باندې ايمان راوړلو سره خپل ژوند تيروئ.**

(۱۵) تنقيد. مونږ له دَ تنقيد دَ پاره تيار اوسيدل پکار دى. کيدے شى چې زمونږ خبرې له غلط رنګ ورکړے شى يا دغه شان غلط فهمى پيدا شى. خطره ده چې هسې نه مونږ خفه شو اؤ خپل نظر دَ مالک عيسىٰ مسيح په ځائ بيا بيا خپل ځان ته کتلو باندې وساتو اؤ دغه شان به بې زړۀ شو.

(۱۶) بې حوصلې کول. دا دَ ابليس يوه ډيره غټه وسله ده.

(۱۷) بوډا توب. تاسو ټول عمر په وفادارئ سره دَ خدائ پاک عبادت کوئ. دَ هغۀ خدمت کوئ. اوس شيطان وائى "اوس تاسو دومره بوډاګان شوى يئ چې زما مقابله نۀ شئ کولے. اوس آرام وکړئ. په ژوند کښې دَ دومره محنت کولو ضرورت نشته". دا دَ ابليس دروغ دى.

(۱۸) په وعظ کوؤنکو اؤ زیری آؤرونکو باندې ډیر زیات آزمیښتونه راځی. دَ هغوئ دَ پاره ډیرې دعا ګانې غواړئ.

أ- مثال په طور خلقو له دَ عیسیٰ مسیح دَ قبلولو دَ پاره دعوت ورکولو نه مخکښې شیطان زمونږ دَ خلې نه دَ بې وقوفئ خبره وباسی، اؤ نتیجه دا شی چې روح جدا شی.

ب- دَ روحانی تکبر آزمیښت. "دعا ډیره ښهٔ وه". "وعظ ډیر ښهٔ وو". ډیر زیات تعریفونه تکبر اؤ غرور پیدا کوی.

ت- دَ لویو لویو نتیجو دَ پاره خوبونه لیدل. "زهٔ" دَ دومره زیاتې بیدارئ مرکز! دا دومره خلق زما په وجه! دا دومره ګڼه، په سوونو خلقو دَ مالک خدائ پاک دَ قبلولو فیصله وکړه. واه! واه!! ډاکټر بلی ګراهم په دعا ګانو کښې یاد ساتئ.

(۱۹) دَ شیطان په علاقه کښې زیری آؤروونکی. "دَ حیرانتیا صورتحال". "دَ هلو ځلو دباؤ". "مایوسئ". "بې حوصلې کیدل". "ذهنی پریشانئ". "تکلیف پسې تکلیف". "په هیڅ نهٔ پوهیږم". اؤ انجام یې دا وی چې زیری آؤروونکی ته محسوس شی چې هغه په تیارو کښې غورزیدلے دے.

## ۲- دَ ابلیس دَ مقابلې کولو طریقه

(۱) ویپیژنئ اؤ قبول کړئ چې دا دَ ابلیس حمله ده. یعقوب ۴: ۷. "دَ ابلیس مقابله وکړئ".

(۲) مقابله وکړئ. په بهادرئ سره جنګ وکړئ. توره را واخلئ. افسیان ٦: ١١ "....د دې دَ پاره چې تهٔ دَ ابلیس دَ منصوبو مقابله کولو کښې قائم پاتې شې".

(۳) دَ پاکانو دَ پاره چې کومه وسله دَ افسیانو په ٦: ١٠- ١٨ کښې ورکړے شوې ده، هغه استعمال کړئ.

- **څوارلسم آيت.** دَ حقيقت پټۍ.
- **څوارلسم آيت.** دَ حقيقت زغرې سره دَ ملا حفاظت.
- **پنځلسم آيت.** دَ صلح دَ زيرى پيزار په پښو کول.
- **شپاړسم آيت.** دَ ايمان ډالونو سره دَ بدن حفاظت کول چې دَ شيطان دَ شغلو ټول غشى مړۀ شى.
- **اوۀلسم آيت.** دَ خلاصون ټوپۍ سره دَ سر حفاظت.
- **اوۀلسم آيت.** دَ حملې کولو دَ پاره دَ روح توره يعنې دَ خدائ کلام.

(۴) په عيسىٰ مسيح ځان پټ کړئ. روميان ۱۳: ۱۴ "بلکه په مالک عيسىٰ مسيح ځان پټ کړئ اوۀ دَ وجود دَ خواهشاتو دَ پاره تدبيرونه مۀ کوئ". په ما کښې دې عيسىٰ مسيح فتح مند وى.

(۵) پاک کلام استعمال کړئ. دَ خپل لوئ آزميښت په وخت متى ۴: ۱- ۱۱ عيسىٰ مسيح دا دعا نۀ وه غوښتې چې فرښتې دې راشى اوۀ زما حفاظت دې وکړى بلکه درې ځله هغۀ دَ کلامِ پاک نه آيتونه وړاندې کړل. آيتونه ۴، ۷، ۱۰.

(٦) حمله وکړئ. دَ فتح مند ژوند څرګندونه وکړئ.

(۷) خپل دَ ارادې لرلو قوت ښکاره کړئ. ووايئ چې "زۀ به ګناه نۀ کوم. په ما کښې دَ اوسيدونکى عيسىٰ مسيح اوۀ دَ هغۀ دَ فضل په قوت سره زۀ دا فيصله کوم چې ګناه له به شکست ورکوم اوۀ فتح مند به شم".

(۸) دَ روح القدس هدايت اؤ رهنمائی حاصله کړئ. روح القدس دې ووائی چې دا آزميښت دَ ابليس له طرفه دے کۀ نه. (مثال په طور دَ صلاح مشورې په معامله کښې).

(۹) دعا غواړئ. افسيان ۶: ۱۸ "اؤ هر وخت په هر شان په روح القدس کښې دعا کوئ اؤ زاری کوئ، اؤ دَ دې دَ پاره بيدار اوسئ اؤ دَ ټولو پاکانو دَ پاره بې ناغې دعا کوئ".

(۱۰) خواست وکړئ چې دَ عيسیٰ مسيح په وينه کښې پټ شئ. دَ وينې موجودګئ نه شيطان هميشه تښتی. مکاشفه ۱۲: ۱۱ "هغوئ دَ ګډوری دَ وينې...... په وسيله په هغۀ (ابليس) باندې غالب راغلل".

**خُلاصه**

کۀ چرې تاسو څۀ ګناه وکړئ نو سمدستی دَ اول يوحنا ۱: ۹ په مطابق دَ هغې اقرار کوئ اؤ معافی حاصله کړئ، اؤ بيا پاڅئ دَ روح توره واخلئ اؤ نور هم په هوښيارتيا سره روحانی جنګ وکړئ.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۱۱- دَ مسيحی جنګ په باره کښې دَ اول پطروس په ۵: ۸، ۹ کښې مونږ ته کوم پنځۀ سبقونه ملاويږی؟

۴۱۲- آيا دَ شيطان خلاف بې عمله جنګ کول فائده مند دے؟ ولې؟

۴۱۳- دولس داسې طريقې بيان کړئ چې دَ هغې په وسيله ابليس په مسيحيانو باندې حمله کوی.

۴۱۴- په دې سبق کښې دَ شيطان نولس طريقې بيان شوی دی. دَ هغې فهرست جوړ کړئ اؤ وګورئ چې دښمن ستاسو خلاف کومې کومې طريقې نۀ دی استعمال کړې.

۴۱۵- دَ يعقوب په ۴: ۷ کښې کومه قيمتى وعده موجوده ده؟

۴۱۶- آيا دَ يو کس مزاج يا طبيعت خرابيدل يا نۀ خرابيدل غلط دى؟ ولې؟

۴۱۷- دَ مسيحى خادمانو دَ دريوؤ خاص آزميښتونو ذکر وکړئ.

۴۱۸- دَ ابليس مقابلې کولو دَ پاره کومې اوؤۀ خبرې ياد ساتل پکار دى؟

۴۱۹- دَ افسيانو ۶: ۱۰- ۱۸ نه دَ وسلو نومونه اؤ دَ وجود دَ هغه حصو ښکارنه وکړئ دَ کومې چې دا وسلې حفاظت کوى.

۴۲۰- دَ مکاشفې ۱۲: ۱۱ آيت بيان کړئ.

# دَ خلاصون په حقله سبقونه

## درې څلویښتم سبق

## صادق جوړول

### پيژندګلو

* په موجوده وخت کښې يو غلطی دا ښکاری چې صادق جوړيدل اؤ معاف کول يوه خبره ګڼلے شی.
* صادق جوړيدل، دَ معاف کولو نه ډير لوئ کار دے. دَ صادق جوړيدو مطلب دے دَ يو کس دَ صادق کيدو اعلان کول.
* دَ خدائ په وړاندې مسئله دا وه چې دَ ګناه دَ معاف کولو نه بغير څنګه يو ګناه ګار کس صادق جوړ کړی؟ خدائ پاک دَ عدالت په حقله څۀ قسمه روغې جوړې کولو سره ګناه ګار سپک نۀ ګڼی.
* دَ شريعت اؤ دَ انصاف تقاضا وه چې دَ هرې ګناه سزا مرګ دے. حزقی ايل ۱۸: ۴ "څوک چې ګناه کوی هغه به مری". حزقی ايل ۱۸: ۲۰ هم وګورئ. خو دَ خدائ رحم دَ قصوروار دَ خلاصون دَ پاره بې قراره دے.
* په انسانی عدالت کښې قاضی صادق کس صادق اؤ بدکاره کس مجرم ګرځوی.
* استثنا ۲۵: ۱ "...... نو هغه دې صادق بې ګناه کړی اؤ په بدعمله دې فتوه ورکړی".
* خدائ پاک دَ دې نه انکار کوی چې يو قصوروار کس صادق جوړ کړی. هجرت ۲۳: ۷ "...... زۀ به بدعمله صادق نۀ کړم".

* خدائ پاک بې انصافه قاضيان مجرموی. يشعياه ۵: ۲۲، ۲۳ "په هغوئ افسوس..... چې رشوت واخلی اؤ بدعمله ربښتينی جوړ کړی اؤ ربښتينی ګناه ګار کړی".
* دَ لوقا په ۱٦: ۱۵ کښې عيسیٰ مسيح هغه فريسيان مجرمان کړل چا چې دَ خدائ په وړاندې خپل ځانونه صادقول.
* شريعت. روميان ۲: ۱۳ "..... بلکه په شريعت عمل کوؤنکی به صادق کړے شی".
* خو دَ خدائ په وړاندې سوال دا وو چې "کوم يو انسان دے چې په شريعت پوره پوره عمل کولے شی".
* روميان ۳: ۲۳ "ځکه چې ټولو ګناه کړې ده اؤ دَ خدائ دَ لويئ نه محرومه دی".
* دا سوال دومره پيچيده دے چې صرف لامحدوده حکمت اؤ دَ خدائ پاک فضل دا حل کولے شی.
* دَ خدائ حل. عيسیٰ مسيح په خپله مرضئ خپل ځان پيش کړو چې انسان جوړ شی اؤ دَ شريعت په مطابق يو کامل ژوند تير کړی. صداقت حاصل کړی اؤ بيا دا صداقت ايماندارانو له ورکړی.

## ۱- دَ صادق جوړولو تعريف

دَ صادق جوړولو مطلب دے دَ خدائ په وړاندې صادق کيدل. ګناه ګار کس دَ عيسیٰ مسيح صداقت اغوندی. خدائ پاک هغه دَ عيسیٰ مسيح په صداقت کښې کامل وينی.

دَ اوس نه خدائ پاک ګناه ګار کس په خلاصوؤنکی کښې صادق وينی. هغه دَ هغۀ په عجيبه ذات کښې پټ وی. صادق کول دَ خدائ پاک دَ قانون عمل دے، دَ څۀ

په وسیله چې هغه ټول خلق څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړی دَ خدائ په نظر کښې صادق جوړیږی. هغوئ دَ قصورونو اؤ سزا نه خلاصیږی.
رومیان ۴: ۳ "ابراهیم په خدائ پاک ایمان راوړو اؤ دا هغهٔ دَ پاره په صداقت حساب شو".

**رومیان ۴: ۵ "خو کهٔ څوک بغیر دَ څهٔ عمل نه تش په هغهٔ ایمان ولری څوک چې بې دینه صادقوی نو بې شکه چې دَ هغهٔ ایمان په صداقت حساب دے".**

## ۲- دَ صادق جوړولو دَ پاره شرطونه

## (۱) دَ ګناه بخښنه اؤ قصور اؤ سزا لرې کول:

دَ پاک اؤ صادق خدائ دَ پاره ګناه معاف کول دومره آسان کار نهٔ دے، خو بیا هم حقیقت دا دے چې خدائ پاک دَ بدئ لرې کولو اؤ معاف کولو سره خوشحالیږی.

میکاه ۷: ۱۸، ۱۹ "ستا په شان خدائ څوک دے چې بدی معاف کوی اؤ دَ میراث پاتې شوی قصورونه معاف کوی؟ هغه خپل قهر همیشه دَ پاره نهٔ پریږدی ځکه چې هغه رحم خوښوی..... هغه به زمونږ بدی لرې کوی اؤ دَ هغوئ ټول ګناهونه به سمندر ته غورزوی".

دَ صادق کیدو په وخت زمونږ ټول ګناهونه بخښلے کیږی اؤ زمونږ قصورونه اؤ سزا لرې کیږی.

**اعمال ۱۳: ۳۸، ۳۹ "نو بیا اے زما وروڼو! تاسو ضرور ځان پوهه کړئ چې دا دَ عیسیٰ په وسیله دَ ګناهونو دَ معافئ بیان درته کیږی. اؤ هر څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړی، دَ هغهٔ په وسیله به یې هره ګناه معاف شی چې دَ موسیٰ په شریعت کښې معاف کیدے نهٔ شوه".**

## (۲) دَ عيسىٰ مسيح دَ صداقت حسابيدل

دَ کوم ګناه ګار چې ګناه بخښلے کيږى نو هغه دَ هغه قيدى په شان نۀ وى څوک چې دَ قيد نه آزاد شوے وى، ځکه چې مجرم خو دَ خپلې سزا خوړلو نه پس دَ نورې سزا نه خلاصيږى، خو ورته بيا هم دَ عزت په سترګه نۀ شى کتلے.

خو په عيسىٰ مسيح کښې ګناه ګار په مکمل طور باندې صادق ګڼلے شى.

- روميان ۳: ۲۲ "يعنې له خدائ دَ طرف نه صداقت چې په عيسىٰ مسيح دَ ايمان په وسيله هغه ټولو ته ورکړے شى، يعنې هغوئ ټولو ته چې په هغۀ ايمان راوړى".

**دَ عيسىٰ مسيح کامل اؤ پاک صداقت دَ ګناه ګار دَ پاره په صداقت حسابيږى.**

## ۳- دَ صادق کولو دَ پاره شرط: ايمان

**ګناه ګار چغې وهى چې "زۀ دَ صداقت بخښنه څنګه حاصلولے شم؟"**

**جواب دا دے چې "ايمان راوړلو سره" چې مالک عيسىٰ مسيح خلاصوؤنکے اؤ مالک دے.**

- ګلتيان ۲: ۱۲ "خو بيا هم په دې پوهيږو چې سړے دَ شريعت په عملونه نه، بلکه صرف په مالک عيسىٰ مسيح په ايمان راوړلو صادق کيږى، نو په خپله مو هم په عيسىٰ مسيح ايمان راوړو دَ دې دَ پاره چې مونږ په مسيح باندې په ايمان راوړلو صادق شو، نۀ چې دَ شريعت په عملونو..... "

- روميان ۳: ۲۲ "دَ دې دَ پاره چې په دې زمانه کښې صداقت ښکاره کړى اؤ دا ښکاره کړى چې هغه په خپله صادق دے، اؤ هر هغه سړے صادق ګڼى چې په عيسىٰ مسيح ايمان لرى".

- روميان ۴: ۵ "خو کۀ څوک بغير دَ عمل نه تش په هغۀ ايمان ولرى څوک چې بې دينه صادقوى....."

دَ ښځې نه ښځې انسان دَ پاره هم دَ دې ضرورت دے چې په عيسیٰ مسيح باندې دَ ايمان په وسيله خلاصون حاصل کړی. بد کرداره ګناه ګاران هم داسې صادق کيږی.

## ۴- دَ صادق جوړيدو وسيلې يا ذريعې

(۱) خدائ. هغه دَ صادق کولو سر چينه دے. روميان ۸: ۳۳ "څوک دَ خدائ په غوره شوؤ کسانو باندې الزام لګولے شی؟ چې خدائ په خپله دوئ صادقوی".

صادقول يو قانونی عمل دے کوم چې خدائ قادرِ مطلق پلار پوره کوی.

(۲) فضل. فضل دَ صادق کيدو بنياد يا وسيله ده. روميان ۳: ۲۴ "اؤ ټول دَ خدائ په رحم ويړيا صادق کيږی، ولې چې عيسیٰ مسيح هغوئ خلاص کړی دی".

تيطوس ۳: ۷ "دَ دې دَ پاره چې مونږ دَ هغهٔ په فضل صادق کړے شو اؤ دَ تل دَ ژوندون دَ اُميد وارثان شو".

(۳) وينه. دَ صادقولو بنياد دے. روميان ۵: ۹ "اؤ اوس چې مونږ دَ مسيح دَ مرګ په وسيله صادق کړے شو نو بې شکه چې مونږ به دَ هغهٔ په وسيله دَ خدائ دَ غضب نه هم بچ شو".

(۴) قيامت. قيامت دَ صادقولو سَند يا اعلان دے. روميان ۴: ۲۵ "هغه څوک چې زمونږ په قصورونو قربان شو اؤ زمونږ دَ صادق کولو دَ پاره بيا ژوندے کړے شو".

## ۵- دَ صادق کيدو ثبوت.........عملونه

څوک چې واقعی صادق کړے شوے دے نو هغه دَ نيک عملونو په وسيله دَ دې حقيقت څرګندونه کوی.

**يعقوب ۲: ۲۱- ۲۳** "نو هر کله چې زمونږ نيکۀ ابراهيم خپل زوئ اسحاق په قربانګاه دَ قربانئ په طور پيش کړو نو آيا هغه په **عمل** سره صادق نۀ شو؟ نو بيا تا وکتل چې ايمان دَ هغۀ دَ **عمل** سره يو ځائ اثر وکړو اؤ دَ **عمل** سره ايمان **کامل** شو. اؤ دَ کتاب مقدس هغه کلام پوره شو چې ابراهيم په خدائ ايمان راوړو اؤ دا دَ هغۀ دَ پاره په صداقت حساب شو".

دا حواله دَ ايمان اؤ **عمل** صحيح تعلق ښائی. مونږ دَ ايمان په وسيله صادق کړے شو، خو دَ دې نه پس پکار دی چې مونږ دَ صداقت ژوند تير کړو چې دَ هغې نه نيک عملونه ښکاره شی.

## ٦- دَ صادق کولو نتيجې

۱- صلح. روميان ۵: ۱ "نو اوس چې مونږ دَ ايمان په وسيله صادق کړے شو نو دَ مالک عيسیٰ مسيح په وسيله دَ خدائ سره صلح لرو".

- دَ خدائ دَ رحم په وسيله دَ ضمير آرام.
- دَ خدائ دَ مينې په وسيله دَ زړۀ تسلی.
- دَ خدائ دَ حقيقت په وسيله دَ ذهن تسلی.
- دَ خدائ دَ حضورئ په وسيله دَ روح آرام.

۲- رسيدل. دَ حمد و ثناء، تعريف کولو اؤ دَ عبادت دَ پاره دَ خدائ پاک حضورئ ته تلل.

- روميان **۵: ۲** "دَ چا په وسيله چې مونږ دَ خدائ په فضل کښې ځائ موندلے دے". دَ خدائ په نظر کښې قبليدو دَ پاره ځائ موندل. دَ صادق جوړيدو په وسيله نوې حيثيت يا مرتبه.

۳- مصيبت. مدراس (هندوستان) پادری سموئيل ميتهيو دَ صادق جوړيدو دوه لوئې لوئې نتيجې بيان کړی دی (ا) دَ خدائ سره صلح. (ب) په دې دنيا کښې

مصيبت. روميان **۵**: **۳**؛ دويم تيموتيوس **۳**: **۱۲** "بلکه هر څوک چې دَ مسيح په يو والی کښې په ديندارئ ژوند تيرول غواړی، هغوئ ټول به وربړولے شی".

## خُلاصه

خدائ پاک مونږ په قانونی لحاظ سره صادقوی. روميان ۸: **۳۳** "خدائ پاک په خپله دوئ صادقوی". مونږ دَ عيسیٰ مسيح دَ صداقت په وسيله صادق کيږو. يشعياه **۵۳**: ۱۱ "په خپل ځان به تکليف تير کړی اؤ هغه به يې ووينی...... دَ خپلې پيژندګلو سره به زما صادق خادم ډير صادقان کړی ځکه چې هغه به دَ دوئ بدی په خپل ځان واخلی".

ايمان زمونږ دَ صادق کيدو وسيله وی. روميان **۵**: ۱ "نو اوس چې مونږ دَ ايمان په وسيله صادق کړے شو".

عملونه زمونږ دَ صادق کيدو ګواهی ورکوی. يعقوب ۲: **۱۴** "اے زما ورونړو! کۀ څوک ووائی چې زۀ ايماندار يم خو عمل نۀ کوی نو فائده يې څۀ؟".

**دَ لوقا په ۱۸: ۱۳، ۱۴ کښې مالک عيسیٰ مسيح وئيلی دی چې کوم ګناه ګار دا دعا غوښتې ده چې "اے خدايه! په ما ګناه ګار رحم وکړه"، نو هغه صادق خپل کور ته تلے دے.**

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۲۱- په معافئ اؤ صادق کولو کښې څۀ فرق دے؟

۴۲۲- دَ صادق کيدو مطلب بيان کړئ.

۴۲۳- دَ صادق کولو په باره کښې دوه خبرې دَ حوالو سره بيان کړئ.

۴۲۴- تاسو دَ هجرت ۲۳: ۷ اؤ دَ اول کورنتيانو ٦: ۱۱ څنګه يو ځائ کولے شئ؟

۴۲۵- دَ صادق کيدو دَ پاره شرط څۀ دے؟ ( درې حوالې ).

۴۲۶- دَ صادق کیدو درې ذریعې \وسیلې بیان کړئ. هرې یوې دَ پاره حواله هم ورکړئ.

۴۲۷- په قیامت اؤ صادق کولو کښې څۀ تعلق دے؟

۴۲۸- تاسو دَ یعقوب ۲: ۲۱ ، ۲۳ اؤ دَ رومیانو ۴: ۳- ۵ څنګه یو ځائ کولے شئ؟

۴۲۹- دَ رومیانو دَ ۵: ۱- ۳ په بنیاد باندې دَ صادق کیدو پنځۀ نتیجې بیان کړئ.

۴۳۰- دَ رومیانو ۵: ۱ څنګه دَ یشعیاه دَ ۵۳: ۱۱ پوره والے دے.

# څلور څلویښتم سبق

# دَ نوی سر نه پیدا کیدل یا نوې مخلوق جوړیدل

## پیژندګلو

* بدلون اؤ نوے پیدایښت جدا کیدے نۀ شی. دَ بدلون مطلب دے دَ ګناه نه توبه کول اؤ دَ مالک عیسیٰ مسیح طرف ته رجوع کول. اؤ دَ نوی پیدایښت مطلب دے دَ روح القدس قدرت سره نوے مخلوق جوړیدل.
* دَ نوی پیدایښت یا نوی مخلوق جوړیدو سره مونږ دَ خدائ په خاندان کښې شاملیدے شو اؤ دَ خدائ په بادشاهئ کښې داخلیدے شو.
*دَ مسیحی جوړیدو صرف یوه طریقه ده یعنې دَ نوی سر نه پیدا کیدل. دَ روح القدس قدرت سره پیدا کیدل.
* نوے پیدایښت دَ خلاصون اؤ آخر آسمان ته دَ تلو دروازه ده.

## ۱- نوے پیدایښت څۀ ته وائی؟

### دَ دې مطلب دے بیا پیدا کیدل یا بیا تخلیق کیدل.

نوے پیدایښت دَ روح القدس په وسیله تخلیق کیدل دی، دَ کوم سره چې انسان په نوی ژوند کښې پیدا کیږی. دې ته "نوے مخلوق" یا "نوے انسان" وئیلے شی.

دَ جسمانی پیدایښت په شان دا هم یو واقعه ده اؤ جاری عمل نۀ دے. البته داسې کیدے شی چې دَ ګناه دَ قائیلیت نه واخلې تر نوی پیدایښت تجربې پورې رسیدو ته دَ انسان یو څو ورځې، هفتې، میاشتې، بلکه کالونه لګیدے شی.

بهرحال لکه څنګه چې یو کس په یو لحظه کښې دَ تیارې نه رڼا ته راځی نو دغه شان دا نوے پیدایښت هم په یو لحظه کښې کیږی، اؤ هم دَ هغه وخت نه نوے ژوند شروع کیږی.

## ۲- دَ نوی پیدایښت ضرورت

**چا ته دَ نوی سر نه دَ پیدا کیدو ضرورت دے؟ آیا تش دَ نیکودیموس په شان نیکو خلقو ته یا تش دَ پولوس په شان دَ جماعتونو ربړوونکو خلقو ته؟ آیا دا معامله زمونږ په مرضئ پریښودلے شوې ده؟**

کلامِ پاک په واضحه طور وائی چې ټولو ته دَ نوی سر نه دَ پیدا کیدو ضرورت دے. دَ خلاصوؤنکی خبرې بالکل آخری اؤ دَ حکم نه ډکې دی.

یوحنا ۳:۳ "ربنتیا ربنتیا درته وایم، تر څو چې سړے بیا پیدا نۀ شی هغه دَ خدائ بادشاهی لیدلے نۀ شی". یوحنا ۳: ۷ "ضروری ده چې تۀ دَ نوی سر نه بیا پیدا شې".

هیڅوک هم دَ دې أصول نه آزاد نۀ دی (دَ خلاصوؤنکی عیسیٰ مسیح نه علاوه). یو کس دَ نسل، عمر، مرتبې یا حیثیت په وجه دَ نوی سر نه دَ پیدا کیدو نه آزادیدے نۀ شی.

دَ نوی پیدا ایښت هیڅ بدل نشته. څوک چې دَ نوی سر نه نۀ پیدا کیږی، نو هغه دَ هلاکت طرف ته روان دے.

- ګلتیان ۶: ۱۵ "ځکه چې ( په مسیح کښې) نۀ سنتیدل څۀ څیز دے اؤ نۀ نا سنتیدل، بلکه نوے مخلوق". دَ نوی مخلوق جوړیدو مطلب دے دَ نوی سر نه پیدا کیدل.
- یرمیاه ۱۳: ۲۳ "که حبشی خپله څرمن یا زمرے خپل داغونه بدلولے شی نو تاسو هم چې دَ بدئ کولو عادت یئ، نیکی کوئ". دَ نوی پیدا ایښت نه بغیر دا خبره ممکنه نۀ ده.
- یرمیاه ۱۷: ۹ "زړۀ دَ ټولو څیزونو نه زیات بخیل اؤ لا علاجه دے. په زړۀ څوک پوهیدے شی؟ صرف خدائ پاک، نوے، پاک اؤ صفا زړۀ ورکولے شی. دا نوے پیدا ایښت دے.

**دَ انسان دَ ګناه نه ډک حالت دَ نوی پیدا ایښت غوښتنه کوی.**

دَ خدائ پاکوالی دَ پاره پکار دی چې انسان دَ نوی سر نه پیدا شی. عبرانیان ۱۲: ۱۴ "دَ ټولو سره دَ صلح کوشش کوئ اؤ دَ هغې پاکیزګئ طلب ګار اوسئ چې بغیر دَ دې نه به څوک مالک لیدے نۀ شی".

جسمانی انسانیت دَ پاکیزګئ نه خبر نۀ دے. دا پاکیزګی صرف دَ نوی پیدایښت سره حاصلیږی.

دَ خدائ پاک ژوند تیرولو دَ پاره ضروری ده چې مونږ ته دَ خدائ فطرت ملاؤ شی یعنې دَ هغۀ پاک فطرت.

## ۳- دَ نوی پیدایښت خوبئ

(۱) نوے پیدایښت بپتسمه نۀ ده. بپتسمه دَ جماعت یو رسم دے چې دا ښکارنه کوی چې دا کس مسیحی دے. دا کس په مسیح کښې مړ شو، ښخ شو اؤ اوس هره ورځ په مسیح کښې را ژوندے کیږی.

نوے پیدایښت اصلاح نۀ ده. دَ اصلاح مطلب دے دَ زوړ فطرت ځنې بدئ پریښودل. نوے پیدایښت دَ خدائ پاک یو ډیر لوئ فطرتی کار دے.

دا روحانی کمے دے. دا انقلاب دے. دا پوره بدلون دے.

(۲) دَ نوی پیدایښت مطلب دے په روحانی طور ژوندی کیدل. دا نوے پیدایښت دے. نوے مخلوق جوړیدل دی.

دَ تخلیق دَ وخت نه واخلې اوسه پورې هر یو څیز دَ خپل نسل په مطابق وده کوی. دَ ګناه ګارانو نه ګناه ګاران پیدا کیږی. مونږ زوړ فطرت بدلولے نۀ شو، نۀ دَ هغې اصلاح کولے شو، اؤ نۀ ورته قوت اؤ تازه والے ورکولے شو. بهرحال مونږ ته دَ نوی پیدایښت ضرورت دے. مونږ ته دَ نوی فطرت، دَ خدائ دَ پاک فطرت ضرورت دے.

- دویم کورنتیان ۵: ۱۷ "دَ دې دَ پاره کهٔ څوک په مسیح کښې وی نو هغه نوے مخلوق دے، زاړهٔ څیزونه تیر شول، وګورئ هغه اوس نوی شول".

- افسیان ۲ : ۲ "تاسو هم دَ خپلو قصورونو اؤ ګناهونو په سبب مړهٔ وئ، کله چې تاسو دَ دې دنیا په کړو وړو لارو روان وئ".

دا دَ مرګ نه ژوند ته بدلون دے. دا دَ یو څیز ټیک کول نهٔ دی، بلکه روحانی قیامت دے.

په اول ځل مونږ په جسمانی طور پیدا شوی وو. خو په دویم ځل پیدا کیدل روحانی دی.

## ۴- دَ نوی پیدایښت وسیلې

(۱) دَ خدائ کلام. یعقوب ۱: ۱۸ "هغهٔ په خپله مرضئ مونږ دَ حق کلام په وسیله پیدا کړلو".

- اول پطروس ۱: ۲۳ "ځکه چې تاسو دَ فانی تخم نه نه، بلکه دَ خدائ دَ کلام په وسیله کوم چې ژوندے اؤ قائم دے، دَ غیر فانی تخم نه بیا پیدا شوی یئ".

په موجوده وخت کښې دَ زیری آؤروونکو دَ وعظ سره ډیر لږ خلق بیا پیدا کیږی. دَ دې وجه دا ده چې دَ هغوئ په وعظ کښې دَ خدائ کلام ډیر لږ وی.

- ګلتیان ۳: ۲ "تاسو دَ شریعت په عملونو روح القدس ومونډلو یا په زیری دَ ایمان راؤړلو په وسیله؟"

دَ خدائ دَ پاک کلام سره ایمان پیدا کیږی اؤ دې سره روح ته خلاصون ملاویږی.

(۲) دَ خدائ روح ... روح القدس

- یوحنا ۳: ۵ "یو سړے به دَ خدائ په بادشاهئ کښې تر هغې داخل نهٔ شی تر څو چې هغه دَ اوبو اؤ روح القدس نه پیدا نهٔ شی".

- یوحنا ۳: ۶ "چې دَ انسان نه پیدا کیږی هغه جسم دے خو چې دَ روح القدس نه پیدا کیږی هغه روح دے."

روحانی ژوند دَ روح القدس نه پیدا کیږی.

- یوحنا ۳: ۸ "..... دغه حال دَ هر هغه چا دے څوک چې دَ روح القدس نه پیدا شوی دی". دَ روح القدس کار دا دے چې اول ګناه ګار کس مجرم کړی ( قائله یې کړی ) بیا یې بدل کړی یعنې هغه دَ خدائ پاک په بادشاهئ کښې داخل کړی.

## ۵- دَ نوی پیدایښت طریقه

(۱) الٰهی حصه. یوحنا ۱: ۱۳ "چې نهٔ له وینې اؤ نهٔ له جسمانی شوق اؤ نهٔ دَ انسانی پلار په ارادې بلکه له خدائ نه پیدا شو".

مونږ دَ خدائ په ارادې سره پیدا شوی یو. بره په څلورم نمبر کښې وګورئ یعقوب ۱: ۱۸. نوے پیدایښت دَ خدائ پاک دَ تخلیق کار دے. دا دَ انسان له طرفه اصلاح کول نهٔ دی.

(۲) انسانی حصه. یوحنا ۱: ۱۲ "خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوئ ته یې دا حق ورکړو چې دَ خدائ اولاد شی یعنې هغوئ چې دَ هغهٔ په نامه ایمان راوړی".

انسانی حصه دا ده چې هغوئ ایمان راوړی اؤ عیسیٰ مسیح خپل خلاصوؤنکے قبول کړی.

- اول کورنتیان **۴: ۱۵** "..... ځکه چې زهٔ دَ زیری په وسیله په عیسیٰ مسیح کښې ستاسو پلار جوړ شوم".

دَ انجیل زیرے دَ خدائ پاک قدرت دے (رومیان **۱: ۱۲**) چې دَ انسانانو ژوندونه بدلولے شی.

دَ نوی پیدا ایښت حاصلولو دَ پاره ضروری ده چې زیرے قبول کړو. دَ خدائ په کلام ایمان راوړو. اول پطروس **۱: ۲۵** "دا هغه دَ زیری کلام دے چې تاسو ته آؤرولے شوے وو".

دَ نوی پیدا ایښت سر چینه خدائ دے. دَ نوی پیدا ایښت وسیله مسیح دے. دَ نوی پیدا ایښت عمل پوره کولو واله روح القدس دے. دَ عیسیٰ مسیح په وسیله دَ خدائ پاک کلام آؤریدو اؤ په هغې ایمان راوړلو سره نوے پیدا ایښت حاصلیږی.

## ٦- دَ نوی پیدایښت ثبوت

(۱) نوے مخلوق دَ صداقت ژوند تیروی. اول یوحنا ۲: ۲۹ "کهٔ تاسو په دې خبر یئ چې مسیح صادق دے نو تاسو په دې پوهه شئ چې هر څوک چې صداقت کوی دَ خدائ بچی دی".

(۲) نوے مخلوق په ګناه کښې ژوند نهٔ تیروی. اول یوحنا ۳: ۹ "له خدائ نه پیدا شوی هیڅ کله هم په ګناه کښې نهٔ اوسیږی، اؤ ګناه کولے نهٔ شی". دَ خدائ نوے فطرت چې په مونږ کښې دے، هغه ګناه کولے نهٔ شی.

(۳) نوے مخلوق دَ مینې کولو حکم پوره کوی. لوقا ۱۰: ۲۷؛ اول یوحنا ۴: ۷ "...... هر هغه څوک چې مینه لری هغه دَ خدائ نه پیدا شوے دے اؤ مینه پیژنی".

(۴) نوے مخلوق فتح مند ژوند تیروی. اول یوحنا ۵: ۴ "دَ خدائ هر یو بچے په دنیا غالب دے".

(۵) نوے مخلوق دا ایمان لری چې عیسیٰ هم مسیح دے. اول یوحنا ۵: ۱ "هر هغه څوک چې دا ایمان لری چې عیسیٰ هم مسیح دے، هغه له خدائ نه پیدا شوے دے".

## ۷- دَ نوی پیدایښت نتیجې

زړهٔ بدلیږی. دَ ګناه نه نفرت پیدا کیږی. ژوند بدلیږی. نوی اؤ پاک خواهشونه را پیدا کیږی. یوحنا ۴: ۱۴.

**دَ نوی ژوند نه مینه څرګندیږی اؤ دَ نورو دَ پاره دَ خیر خیګړې کارونه پیدا کیږی.**

- یوحنا ۷: ۳۸ "اؤ څوک چې په ما ایمان راوړوی، لکه چې صحیفې وائی، دَ ژوندون دَ اوبو سیندونه به دَ هغهٔ نه بهیږی".

## خُلاصه

نوے پیدایښت دَ روح القدس اختیاری کار دے. "هوا (روح) اخوا دیخوا آلوځی". نوے پیدایښت یو راز دے ځکه چې انسان "..... ته نهٔ ده معلومه" یوحنا ۳: ۸. خو بیا وروستو دَ دې اظهار کیږی. هغه په قسما قسم طریقو سره په مونږ انسانانو باندې څرګندیږی. دعا وغواړئ چې په مونږ کښې هر یو کس دَ خپل ژوند نه روزانه داسې ثبوت ورکړی.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۳۱- دَ نوی پیدایښت تعریف څهٔ دے؟

۴۳۲- دَ یوحنا ۳ : ۳ دَ اُصولو درې ممکن استعمالونه بیان کړئ.

۴۳۳- په نوی پیدایښت اؤ بپتسمه کښې څهٔ فرق دے؟

۴۳۴- دَ یوحنا ۳ : ۳ په رڼا کښې دَ دویم کورنتیانو ۵: ۱۷ وضاحت وکړئ.

۴۳۵- ثابته کړئ چې دَ نوی پیدایښت په کار کښې دوه وسیلې کار کوی. دَ هرې یوې وسیلې دَ پاره دوه دوه حوالې ورکړئ.

۴۳٦- دَ یوحنا ۱: ۱۲ ، ۱۳ نه ثابته کړئ چې په نوی پیدایښت کښې دوه اړخونه وی.

۴۳۷- دَ نوی ژوند پنځهٔ ثبوتونه بیان کړئ.

۴۳۸- دَ نوی ژوند پنځهٔ نتیجې بیان کړئ.

۴۳۹- دَ یوحنا په ۳: ۸ کښې عیسیٰ مسیح دَ نوی پیدایښت وضاحت دَ پاره دَ هوا علامت ولې استعمال کړے دے؟

۴۴۰- په یو کاغذ باندې دَ یوحنا ۳ : ۳ په موضوګانو باندې دَ پنځوستو نه تر سلو لفظونو پورې یو پیراګراف ولیکئ.

# پنځهٔ شلویښتم سبق

# بچې جوړېدل

پیژندګلو

* کله چې دَ روح القدس په وسیله روح دَ نوی سر نه پیدا کیږی نو نوے ژوند شروع کیږی.
* دَ صادق جوړیدو تعلق دَ داسې روح په حقله دَ خدائ پاک رویې سره دے.
* دَ بچو جوړیدو سره انسان دَ خدائ پاک په کورنئ کښې داخلیږی، اؤ خدائ پلار ته دَ پلار په طور خوشحالی ملاویږی.
* نوے مخلوق جوړیدل: نوے فطرت، صادق کیدل: نوے مرتبه، پاکیدل: نوے کردار، بچې جوړیدل: نوے حیثیت.
* دَ نوی پیدایښت سره ایماندار دَ خدائ اؤلاد جوړیږی، اؤ بچی جوړیدو سره هغهٔ ته دَ بالغه زوئ حیثیت ملاویږی.
* ماشوم یا نابالغه اوس بالغ جوړیږی.
* ګلتیانو ۴: ۵ "دَ دې دَ پاره چې څوک چې دَ شریعت دَ لاندې وو، په بیعه واخلی اؤ آزاد یې کړی، چې مونږ دَ خدائ زامن شو".
* ګلتیان ۴: ۷ "نو اوس نور تهٔ غلام نهٔ یې بلکه زوئ یې، اؤ چې زوئ یې نو دَ خدائ وارث هم یې".
* دَ زوئ جوړیدو مطلب دے په عیسیٰ مسیح کښې دَ بالغ توب نوے حیثیت حاصلول.
* دلته به مونږ له په دوؤ سوالونو باندې سوچ کول پکار وی:

(۱) آیا دَ ایمان راوړلو په وخت سمدستی مونږ ته دا حیثیت ملاویږی؟

(۲) کهٔ چرې زوئ ورک شی نو آیا هغه دَ میراث نه محرومه کولے شی؟

## ۱- دَ زوئ جوړیدو مطلب

زوئ جوړیدل دَ هندئ لفظ دے. مُتنبی دَ عربئ یو شان لفظ دے چې مطلب یې دے اخستے شوے. پردې زوئ خپلول. دَ دې زوئ دَ پاره دَ یونانئ لفظ دے hyi ot hesi a چې مطلب یې دے "دَ زوئ درجه ورکول".

- رومیان ۸: **۱۵** "تاسو ته ......هغه روح ملاؤ شوے دے چې تاسو بچی جوړوی اؤ مونږ دَ دې قابل کوی چې مونږ ووایو، "آبا" یعنې "اے پلاره".

- افسیان ۱: **۵** "اؤ هغهٔ دَ خپلې مرضئ دَ نیکې ارادې په مطابق مونږ دَ ځان دَ پاره مقرر کړلو چې دَ عیسیٰ مسیح په وسیله دَ هغهٔ بچی شو".

**دَ بائبل مقدس په وخت کښې دَ دې دوه معنی وې.**

(۱) په ذاتی طور باندې یو ماشوم (پردې) دَ خپل زوئ په حیثیت خپل خاندان کښې قبلول.

(۲) په ښکاره، قانونی اؤ رسمی طور باندې زوئ وارث قبلول. مثال په طور لکه دَ زوئ دَ بالغ کیدو خوشحالی وکړے شی.

تر کومې پورې چې دا رسم نهٔ شی مانځلے نو دَ بچی حیثیت په خپل کور کښې دَ نوکرانو نه زیات نهٔ وی.

دې لفظ تعلق خدائ پاک سره زمونږ رشتې سره نهٔ دے، بلکه دَ هغهٔ په وړاندې زمونږ حیثیت اؤ مرتبې سره دے.

زوئ جوړول دَ خدائ کار دے. هغه صادق کړے شوی ایماندار له دَ بالغ زوئ مرتبه اؤ حق ورکوی.

دَ هجرت په دويم باب کښې حضرت موسیٰ دَ فرعون دَ لور ميرنې زوئ جوړ شو. کله چې هغه بالغ شو نو دَ دې مرتبې ټول حقونه اؤ فرضونه هغۀ ته ملاؤ شول.

- دَ عبرانيانو ۱۱: ۲۴ کښې موسیٰ دَ يو ښۀ څيز دَ پاره هغه مصری حيثيت پريښودلو، ځکه "دَ ايمان په سبب چې موسیٰ لوئ شو نو دَ فرعون دَ لور دَ زوی بللو نه يې انکار وکړو".

## ۲- دَ زوی جوړيدو دَ پاره شرط

دَ زوی جوړيدو دَ پاره صرف يو شرط دے، اؤ هغه شرط دے په عيسیٰ مسيح کښې کيدل. هغۀ سره يو کيدل. ګلتيان ۳: ۲۶ "تاسو ټول دَ هغه ايمان په وسيله کوم چې په مسيح عيسیٰ دے، دَ خدائ زامن يئ".

مونږ ته دَ دې انتظار کولو ضرورت نشته چې ټول کال، يا لس کاله به پاک ژوند تيروؤ نو بيا به را ته څۀ ملاويږی، بلکه مونږ سمدستی دَ خدائ وارثان جوړيږو، اؤ مونږ دَ زوی والی په ټولو برکتونو کښې شامليږو.

## ۳- دَ زوی جوړيدو وخت

(۱) دَ دنيا جوړيدو نه مخکښې ( په ازل کښې ). روميان ۹: ۱۱- ۱۲ "دَ هغوئ دَ زيږيدو نه آګاهو ووئيلے شول چې په هغه وخت کښې چې هغوئ لا هيڅ ښۀ يا بد نۀ وو کړی، خو بيا هم دَ دې دَ پاره چې دَ خدائ هغه ټاکلے مقصد تر سره شی کوم چې دَ عمل په وسيله نۀ دے، دَ خدائ په بلنه".

- افسيان ۱: ۴ "هغۀ مونږ دَ دنيا دَ پيدا ايښت نه مخکښې غوره کړو".

زوئ جوړول دَ خدائ دَ فضل کار دے، اؤ بالکل دَ رحم نه ډک کار دے. په مونږ کښې داسې هيڅ خوبی نشته چې دَ هغې په وسيله مونږ دَ خدائ دَ دې مينې حقدار جوړيدے شو.

(۲) دا هغه وخت کيږی کله چې يو کس په عيسیٰ مسيح ايمان راوړی.

- اول یوحنا ۳: ۲ "خوږو دوستانو! مونږ اوس هم دَ خدائ بچی یو".

مونږ دعوې سره دا وئیلے شو چې "زۀ دَ بادشاه زوئ یم". دَ هغۀ غلام نۀ یم بلکه زوئ اؤ وارث یم.

(۳) دَ زوئ جوړولو عمل به په قیامت کښې پوره کیږی کله چې به مونږ دَ خدائ په حضورئ کښې داخلیږو. رومیان ۸: ۲۳ "..... چې خدائ مونږ په خپل زوی والی کښې واخلی اؤ زمونږ ټول وجود آزاد کړی".

په دې دنیا کښې اکثر مونږ دَ خدائ دَ اؤلاد په طور نۀ قبلیږو. په هغه ورځ به مونږ هغه حیثیت حاصل کړو دَ کوم چې مونږ دَ مسیح په وسیله حقدار یو. نن بې شکه چې کۀ مونږ دَ معاشرې کمزوری کسان ګڼلے شو، خو هغه وخت به مونږ دا وجود پریږدو اؤ نوې وجود به حاصل کړو.

## ۴- دَ زوی والی نخښه

دَ زوی والی نخښه دا ده چې مونږ دَ روح القدس دَ هدایاتو په مطابق ژوند تیر کړو. رومیان ۸: ۱۴ "ځکه چې هر څوک چې دَ زوی په هدایت چلیږی، هغه دَ خدائ بچی دی".

دَ روح هدایت دَ زوی والی لار اؤ ثبوت دے.

روح القدس دَ ایماندار لار ښودنه کوی چې هغه دَ خدائ په حقیقت کښې روان وی. یوحنا ۱۶: ۱۳ "خو کله چې دَ حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښائی".

- ګلتیان ۵: ۱۸ "خو کۀ تاسو دَ روح په هدایت روان یئ نو تاسو دَ شریعت ماتحت نۀ یئ". یعنې تاسو دَ غلامئ نه آزاد یئ.

## ۵- دَ زوی جوړيدو آواز..."آبا يعنې اے پلاره"

- رومیان ۸: **۱۵** "...... دَ بچی جوړيدو روح ملاؤ شو اؤ مونږ دَ دې قابل کوی چې مونږ ووايو، "آبا" يعنې "اے پلاره".
- گلتيان **۴**: **۲** "اؤ په دې سبب چې تاسو دَ خدائ زامن يئ خدائ دَ خپل زوی روح زمونږ زړونو ته راوليږلو کوم چې دَ "آبا" يعنې "اے پلاره" غږ کوی".
- مرقوس **۱۴**: **۳۲** په گتسمنې کښې عیسیٰ مسيح دعا غواړی "آبا! اے پلاره" دا دَ مينې اؤ محبت دَ نزدې تعلق لفظونه دی.

"آبا" دَ ارامئ ژبې لفظ دے کومه چې دَ عیسیٰ مسيح دَ ماشوموالی ژبه وه. "پلار" دَ پاره چې کوم دَ یونانئ لفظ استعمال شوے دے نو هغه به دَ عیسیٰ مسيح دَ وخت تعليم يافته اؤ عالمانو خلقو استعمالولو. غلام ته به بالکل اجازت نۀ وو چې هغه مالک ته "آبا" ووائی.

## ٦- دَ زوی والی برکتونه

(۱) څوک چې په زوی والی اخستے شوی وی نو هغه انسان دَ خدائ دَ مينې خاص مرکز جوړيږی. يوحنا ۱۷: ۲۳ "..... لکه څنګه چې تا ما سره مينه وکړئ نو هغوئ سره دې هم وکړه". دا دَ پلار اؤ دَ زوئ دَ مينې ډير ژور اؤ نزدې تعلق دے.

(۲) هغه دَ پلار دَ حفاظت مرکز جوړ شی. لوقا ۱۲: ۳۳- ۳۷ " خدائ پلار دَ هغوئ دَ ژوندونونو دَ ضرورتونو خيال ساتی چې څۀ به خوری اؤ څۀ به څښکی.

(۳) هغوئ ته خاندانی نومونه ملاويږی. اول يوحنا ۳: ۱ "..... مونږ دَ خدائ بچی جوړ شو..... "

(۴) دَ خاندان په شان جوړيږی. روميان ۸: ۲۹ "..... دَ هغۀ دَ زوی دَ صورت په شان شی..... "

(۵) دَ خاندان مينه ورته ملاويږی. اول يوحنا ۳: ۱۴ "مونږ پوهيږو چې له مرګ نه په ژوندون کښې شوی يو په دې ځکه چې مونږ له خپلو ورونړو سره مينه لرو" ( اؤ ورونړه مونږ سره مينه لری).

(٦) دَ پلار روح ملاويږی. روميان ۸: ۱۵ "آبا، پلاره". دَ مور پلار اؤ دَ بچو تعلق.

(۷) خاندانی شراکت ملاويږی. يوحنا ۱۴: ۲۳ "..... اؤ مونږ هغۀ خوا ته راغلو".

(۸) دَ پلار پيژندګلو ملاويږی. عبرانيان ۱۲: ۵- ۱۱ دَ دې نه دا ثابتيږی چې هغوئ رښتينی بچی دی.

(۹) دَ پلار تسلی ملاويږی. دويم کورنتيان ۱: ۴ "هغه مونږ له په ټولو مصيبتونو کښې تسلی راکوی".

(۱۰) دَ پلار ميراث ملاويږی. اول پطروس ۱: ۴ "..... غير فانی، بې داغه اؤ نۀ ختميدونکے ميراث...."

## ۷- دَ زوی والی ذمه واری

دَ آسمان دَ شاهی کورنئ خيال ساتل اؤ هغوئ سره يو ځائ کيدل پکار دی. زمونږ چال چلن دَ دې عزت مندې مرتبې اؤ حيثيت په مطابق پکار دے.

مونږ له يو بل سره مينه ساتل پکار دی اؤ دَ يو بل خدمت کول پکار دی، لکه څنګه چې دَ يو کورنئ خلق دَ ورونړو اؤ خويندو په طور کوی.

- یوحنا ۱۳: ۱۴ "نو کهٔ ستاسو استاذ اؤ مالک ستاسو پښې ووینځلې نو په تاسو هم لازم دی چې دَ یو بل پښې ووینځئ".
- یوحنا ۱۵: ۱۷ "دا زما تاسو ته حکم دے چې دَ یو بل سره مینه کوئ".

خُلاصه

لکه څنګه چې ماشوم په کور کښې دَ آزاد ژوند تیرولو نه مزه اخلی، اؤ لکه څنګه چې هغهٔ ته حق حاصل وی چې کله وغواړی نو په منډه دَ پلار حضورئ ته ورتلے شی، نو دغه شان ایماندار هم دَ خدائ پاک حضورئ ته ورتلے شی.

څوک چې په زوی والی دَ خدائ په کورنئ کښې شامل شوی دی هغوئ دَ روح القدس په هدایت چلیږی.

آیا زهٔ دَ روح القدس په هدایت چلیږم؟ آیا زهٔ دَ ماشوم په شان په پلار اعتماد کوم؟

آیا زهٔ دَ هغهٔ په حضورئ کښې په آزادئ سره دَ حاضریدو نه فائده اخلم؟

آیا زهٔ ورونړو سره یعنې دَ خدائ پاک کورنئ سره داسې مینه کوم لکه څنګه چې پکار ده؟

آیا زهٔ دَ خپل پلار تابعدار زوئ یم؟ آیا زهٔ دَ هغهٔ په حکمونو عمل کول؟

راځئ چې مونږ خپل روحانی ماشوموالے پریږدو اؤ په عیسیٰ مسیح کښې دَ بالغ کیدو مرتبه اؤ حیثیت حاصل کړو.

مونږ له په خپل میراث باندې غالب راتلل پکار دی اؤ دَ خدائ دَ بچو په شان ژوند تیرول پکار دی. مونږ دَ خدائ وارثان یو.

ځنې وخت کله چې یو مور پلار یو ماشوم خپلوی، نو هغوئ دا حقیقت دَ هغه ماشوم نه پټ ساتی، ځکه چې هسې نه چې داسې وشی چې هغه خپل ځان په پوره طور باندې دَ زوی یا لور نه کم وګڼی.

دَ يو ماشوم قيصه بيانيږي چې هغهٔ ته دا معلومه وه چې هغه دوئ خپل زوئ جوړ کړے دے. يو بل ماشوم به هغه په دې خبره تنګولو "تهٔ خو بس پردې ماشوم يې". دَ هغهٔ اشاره به دا وه چې تهٔ ناجائزه اؤلاد يې يا داسې قسمه بل مطلب به يې وو. خو هغه ماشوم ته په زوئ جوړېدو باندې ډير فخر وو. هغهٔ به جواب ورکولو "آؤ. زهٔ پردې يم. زما مور پلار زهٔ غوره کړم. په ډيرو ماشومانو کښې يې زهٔ غوره کړم. خو ستا مور پلار ته چې څهٔ ملاؤ شول نو بس تش هغه يې واخستل".

دا خبره رښتيا ده چې مونږ دَ زوی والی په طور دَ خدائ په کورنئ کښې شامل شوی يو. هغهٔ مونږ غوره کړی يو. دَ هغهٔ دَ نوم تعريف دې وی.

## دَ بيا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۴۱- په نوی پيدايښت، صادق کيدو اؤ په زوی والی کښې فرق بيان کړئ.

۴۴۲- دَ زوی والی جوړيدو دوه مطلبونه چې په فلسطين کښې وو اؤ نن دَ هغې دَ کلام پاک په مطابق مطلب بيان کړئ.

۴۴۳- دَ زوی جوړيدو دَ پاره شرط څهٔ دے؟

۴۴۴- دَ زوی والی جوړيدو دَ پاره درې زمانې اؤ هرې يوې دَ پاره يو يو آيت بيان کړئ.

۴۴۵- دَ دې خبرې نخښه څهٔ ده چې يو کس دَ زوی والی په طور دَ خدائ په خاندان کښې شامل شوے دے؟

۴۴۶- دَ "آبا، اے پلاره" وضاحت وکړئ.

۴۴۷- دَ زوی جوړيدو اووهٔ برکتونه بيان کړئ.

۴۴۸- دَ زوی جوړيدو اؤ دَ عبرانيانو په ۱۲: ۵- ۱۱ کښې څهٔ تعلق دے؟

۴۴۹- دَ يو اخستلې شوی زوی يا لور دَ خدائ په حضورئ کښې څهٔ حق دے؟

۴۵۰- زوی جوړيدو په وجه هغهٔ ته کوم يو مبارک حق حاصل وی؟

## شپږ څلویښتم سبق

## ایمان

### پیژندګلو

* په مسیحی عقیده کښې کردار اؤ ایمان ته بنیادی حیثیت حاصل دے ځکه چې مونږ ته دَ ایمان په وسیله خلاصون ملاؤ شوے دے. افسیان ۲: ۸.

**کله چې عیسیٰ مسیح خلقو سره خبرې کولې اؤ هغوئ له یې شفا ورکوله نو په هر یو کس کښې یې دَ ایمان خاصیت لټولو.**

- (۱) دَ صُور فینکی دَ ښځې مضبوطه عقیده. مرقوس ۷: ۲۲.
- (۲) صوبیدار دَ مضبوط ایمان ښکارنه وکړه. متی ۸: ۸- ۱۰.
- (۳) ړوند سړی زړۀ سواندې ایمان وښودلو. مرقوس ۱۰: ۵۱.
- (۴) دانی ایل دَ بهادرئ ایمان وښودلو. دانی ۲: ۱۰- ۲۳.

* ایمان په خدائ یقین لرل دی. ایمان دَ هغۀ په کلام باندې زمونږ یقین مضبوطوی.

* دَ ایمان په وسیله مونږ مالک عیسیٰ مسیح خپل خلاصوؤنکے قبلوؤ اؤ دَ دنیا په وړاندې دَ هغۀ اقرار کوؤ.

### ۱- دَ ایمان تعریف

دَ لغت لحاظ سره. یقین، بروسه، یو عقیدې یا مذهب سره وفاداری.

دَ بائبل مقدس لحاظ سره. عبرانیان ۱۱: ۱ "پس ایمان دا دے چې په هغه څیزونو باور وکړو چې پرې اُمید لرو، اؤ دَ نالیدونکو څیزونو ثبوت دے".

مونږ خپل ځان سُست پرېږدو اؤ دَ کتلو نه بغير خپل ټول وزن په کُرسئ باندې کېږدو. ایمان وائی چې مونږ به نۀ غورزېږو.

ایمان دومره ساده څيز دے چې ماشوم يې هم لرلے شی، خو دومره لوئ څيز دے چې يو هوښيار کس هم په دې باندې پوره طور سره پوهيدے نۀ شی اؤ نۀ پرې څوک پوهولے شی.

ایمان زمونږ دَ روح ړوند عمل نۀ دے، بلکه په خدائ پاک ایمان لرل په يو غوره ګواهئ بنياد لری، اؤ دا ګواهی دَ خدائ پاک کلام دے چې هيڅ غلطی په کښې نشته.

ایمان دَ کتاب مقدس په خدائ پاک اؤ په عيسیٰ مسيح باندې څوک چې هغۀ را واستولو، يقين لرل دی. دَ ایمان په وسيله مونږ هغه خلاصوؤنکے اؤ مالک قبلوؤ. ایمان مونږ په مينې سره دَ خدائ پاک حکمونو منلو دَ پاره اؤ نيک عمل کولو دَ پاره مجبوروی.

کوم ایمان چې دَ خلاصون وسيله ګرځی نو دا هغه ذاتی ایمان دے چې يو انسان يې په عيسیٰ مسيح باندې لرلے شی.

## ۲- دَ ایمان ضرورت

عبرانيان ۱۱: ۶ "اؤ بغير دَ ایمان نه دَ خدائ خوشحالول ناممکن دی، ځکه چې خدائ ته راتلونکی ته په دې ایمان راوړل پکار دی چې هغه موجود دے اؤ څوک يې چې لټوی، هغوئ ته اجر ورکوی".

تر څو پورې چې دَ نالیدونکی خدائ پاک په وجود باندې يقين نۀ وی، نو هغۀ سره هيڅ قسمه معامله نۀ شی کيدے. مونږ له دا يقين لرل پکار دی چې هغه موجود دے، هغه انسانانو له اجر اؤ بدله ورکوی، دې يقين ته ایمان وئيلے شی.

دَ خلاصون دَ پاره هم ایمان ضروری دے. اعمال ۱۲: ۳۱ "..... ایمان راوړه...... خلاصون به مومې".

## ۳- دَ ایمان خاصیت

دَ خلاصون په طور دَ ایمان دوه قسمونه دی.

(۱) دَ عقل یا ذهن ایمان. دَ تاریخی مسیح علم اؤ بائبل مقدس خاص طور باندې قبلول.

(۲) دَ زړهٔ ایمان. زړهٔ نه ایمان لرل. زړهٔ انسان په ایمان باندې عمل کولو ته تیاروی.

اعمال ۱۲: ۳۱ "هغهٔ ووئیل په مالک عیسیٰ مسیح ایمان راوړه نو تهٔ اؤ ستا کورنئ به خلاصون مومی". یعنې عیسیٰ مسیح مالک قبول کړه. مثال: دَ یو ناروغه کس سره دَ دوایئ بوتل دے. کهٔ چرې هغه دا ایمان لری چې دَ دې دوایئ خوړلو سره به ورته شفا ملاؤ شی نو هغه به په ایمان عمل کوی، اؤ دا دوائی به وڅښکی.

په عیسیٰ مسیح کښې رښتینے ایمان دا دے چې په هغهٔ دومره یقین وکړو چې هغه قبول کړو. یوحنا ۱: ۱۲ ؛ کولوسیان ۲: ۲.

نهٔ علم اؤ نهٔ څهٔ څیز صرف په ذهنی طور باندې قبلول حقیقی ایمان دے. په حقیقی ایمان کښې زمونږ روح هغه مسیح سره یو ځائ کیږی په چا چې ایمان لری.

## ۴- دَ ایمان سرچینه

(۱) **الٰهی حصه**: خدائ پاک ایمان پیدا کوی.

أ- **خدائ پلار**. روميان ۱۲: ۳ "..... لکه څۀ رنګ چې خدائ هر چا ته دَ يو اندازې په مطابق ايمان ورکړے دے..... ". دَ هر يو انسان په زړۀ کښې دَ ايمان راوړلو صلاحيت موجود دے.

- اول کورنتيان ۱۲: ۹ "..... چا ته دَ هغه روح نه ايمان..... " ځنو کښې دَ نورو خلقو په نسبت زيات ايمان وی، ځکه چې ايمان دَ روح القدس يو نعمت دے.

ب- **خدائ زوئ**. عبرانيان ۱۲: ۲ "اؤ دَ ايمان بانی اؤ کاملوؤنکی عيسیٰ ته ګورو". لوقا ۱۷: ۵ "مريدانو مالک ته ووئيل چې زمونږ ايمان زيات کړه". په مونږ ټولو کښې ايمان شته، خو کله چې دا مونږ په استعمال کښې راولو اؤ دعا غواړو نو ايمان زياتيږی اؤ وده کوی.

ت- **خدائ روح القدس**. ګلتيان ۵: ۲۲ "دَ روح ميوه مينه، خوشحالی..... ايمانداری.....".

## (۲) انسانی حصه:

- روميان ۱۰: ۱۷ "ايمان دَ زيری په آؤريدو پيدا کيدل اؤ آؤريدل دَ مسيح په باب کښې دَ زيری ورکولو نه".

کله چې مونږ دَ بائبل مقدس واقعې لولو يا يې آؤرو نو زمونږ ايمان زياتيږی.

کله چې مونږ دَ خدائ پاک دَ کلام خبرې آؤرو نو دې سره زمونږ ايمان نور هم مضبوطيږی.

- اعمال ۴:۴. خلقو دَ خدائ پاک کلام واؤريدو اؤ ايمان يې راوړو. اؤ يقين يې وکړو.

- مرقوس ۹: ۲۴ "زۀ عقيده لرم، زما مدد وکړه ځکه چې زۀ دَ عقيدې کمزورے يم".

افسوس چې مونږ همیشه هم داسې دعا غواړو چې "زمونږ ایمان زیات کړه". (لوقا ۱۷: **۵**).

- متی ۱۷: ۱۹- ۲۱ عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو ته وائی چې ځنې پیریان تش په دعا، روژې نیولو اؤ په مالک خدائ باندې په ژوندی اؤ مضبوط ایمان لرلو سره ویستلے کیږی.

## ۵- په چا ایمان ولرو

(۱) دَ خدائ په کلام. ایمان هیڅ کله هم په یو شک من یا پټ څیز باندې ساتل نهٔ دی پکار، بلکه پکار دی چې ایمان دَ خدائ په کلام باندې وساتو. ایمان دَ بائبل مقدس بیانونه منی اؤ دا قبلوی چې دا دَ خدائ پاک مکاشفه اؤ الهام دے. بائبل مقدس دَ خدائ پاک ربښتینے اؤ دَ حق کلام دے.

(۲) دَ عیسیٰ مسیح په ذات باندې. ایمان په خپله خلاصون نهٔ ورکوی، البته دَ عیسیٰ مسیح په ذات باندې ایمان لرل ضرور خلاصون ورکوی.

ایمان په خپله یو فائده مند څیز نهٔ دے بلکه یو وسیله ده چې دَ دې په وجه زهٔ مالک عیسیٰ مسیح خپل ذاتی خلاصوؤنکے اؤ مالک قبلوم.

## ۶- دَ ایمان اُصول

دَ ایمان اُصول هغه دی په کومو چې مونږ په خپل روزانه ژوند کښې عمل کوؤ. مونږ دَ دوکاندار نه پئ غواړو. نو هغه مونږ له یو پیکټ راکوی. خو مونږ په دې پیکټ کښې دننه نهٔ ګورو چې آیا په دې کښې پئ شته اؤ کهٔ نه. خو مونږ دا پیکټ قبلوؤ. مونږ په لیبل باندې ایمان لرو اؤ دَ هغې په مطابق عمل کوؤ.

ټول کاروبار په ایمان اؤ په نورو باندې اعتماد کولو سره چلیږی، چې انحصار یې دَ نورو خلقو په ګواهئ باندې وی.

دَ ټیکسی ډرائیور دا نۀ وائی چې ما ته اول پیسې وښایه بلکه دَ ایمان په وسیله یقین ساتی چې تا سره پیسې شته اؤ چې کله سفر ختم شی نو تۀ به ورله پیسې ورکوې.

په خدائ پاک باندې دَ ایمان لرلو مطلب دے په هغۀ اؤ دَ هغۀ په کلام باندې اعتماد اؤ یقین ساتل.

## ۷- دَ ایمان نتیجې

(۱) مونږ دَ ایمان په وسیله خلاصون مومو. پیدایښت ۱۵: ٦ "هغۀ (ابراهیم) په مالک خدائ ایمان راوړو اؤ دا دَ هغۀ دَ پاره په صداقت حساب شو". دَ رومیانو ۴: ۳ حواله هم وګورئ.

(۲) مونږ دَ ایمان په وسیله عیسیٰ مسیح قبلوؤ. یوحنا ۱: ۱۲ "..... یعنې هغوئ له څوک چې دَ هغۀ په نامه ایمان راوړی".

(۳) مونږ دَ ایمان په وسیله صادقان جوړیږو. رومیان ۵: ۱ "نو اوس چې مونږ دَ ایمان په وسیله صادق کړے شو....".

(۴) مونږ دَ ایمان په وسیله دَ خدائ زامن جوړیږو. ګلتیان ۳: ۲٦ "تاسو ټول دَ هغه ایمان په وسیله کوم چې په مسیح عیسیٰ دے، دَ خدائ زامن یئ".

(۵) مونږ دَ ایمان په وسیله پاکیږو. اعمال ۱۵: ۹ "دَ ایمان په وسیله دَ هغوئ زړونه یې پاک کړل....."

(٦) مونږ ته دِ ایمان په وسیله حفاظت ملاویږی. اول پطروس ۱: ۵ "دَ ایمان په وسیله.....محفوظ یو...."

(۷) مونږ دَ ايمان په وسيله په آرام کښې داخليږو. عبرانيان ۴: ۳ "مونږ چې ايمان مو راوړے دے په هغه آرام کښې داخليږو....."

(۸) هغه ټول لوئ لوئ کارونه چې دَ عبرانيانو په يوولسم باب کښې ليکلے شوی دی، دا صرف هغه خلق کولے شی په چا کښې چې ايمان وی.

دَ ايمان په وسيله مونږ ته خلاصون ملاويږی اؤ مونږ به دَ تل دَ پاره مالک عيسیٰ مسيح سره په آسمان کښې اوسيږو. کۀ چرې ايمان نۀ راؤړو نو په ګناه کښې به اوسيږو اؤ په آخر کښې به دَ تل دَ پاره دوزخ ته وغورزولے شو.

خُلاصه

متی ۱۷: ۲۰ "هغۀ (عيسیٰ مسيح) هغوئ ته ووئيل، زۀ تاسو ته دا وايم کۀ ستاسو عقيده دَ شړشمو دَ دانې هومره وی نو تاسو دې غر ته ووايئ چې دَ دلته نه هلته لاړ شه، نو دے به وخوزيږی، اؤ هيڅ کار به ستاسو دَ پاره ناممکن نۀ وی".

عيسیٰ مسيح يو قِسم باندې کامل قدرت دَ ايمان سره تړی. دَ ايمان په وسيله به مريدان دِ مالک نه هم لوئ لوئ کارونه کوی. په ايمان کښې زما اؤ ستا دَ پاره دَ طاقت يوه لويه چينه موجوده ده.

- عبرانيان ۴: ۲ "لکه چې مونږ ته زيرے واؤرولے شو هم هغوئ ته دَ خوشحالئ خبر واؤرولے شو، خو آؤريدلی کلام هغوئ ته څکه فائده ور نۀ کړه چې آؤريدونکو په ايمان سره په خپلو زړونو کښې قبول نۀ کړو".

دعا وغواړئ چې مونږ په وعظ کښې، سنډے سکولونو کښې اؤ عامو خبرو اترو کښې چې کوم کلام پيش کوؤ نو هغه دې دَ آؤريدونکو په زړونو

**کښې دَ ایمان سره قائم پاتې شی. خدائ ته خواست وکړئ چې هغوئ له ایمان ورکړی.**

دَ یو مسیحی په وړاندې دَ ټولو نه لوئ سوال دا نۀ وی چې "زۀ څۀ کولے شم؟" بلکه دا وی چې "زما ایمان څومره مضبوط دے؟".

- مرقوس ۹: ۲۳ "عیسیٰ ورته وفرمائیل، چې کۀ تۀ څۀ کولے شې! دَ چا چې عقیده مضبوطه وی دَ هغۀ دَ پاره هر څۀ ممکن دی".

**مالکه خدایه، زۀ ایمان لرل غواړم. زۀ په عقیده کمزورے یم زما عقیده مضبوطه کړه.**

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۵۱- دَ ایمان دَ څلورو قسمونو ذکر وکړئ. (دَ هر یو مثال ورکړئ).

۴۵۲- دَ ایمان دوه حالتونه پیش کړئ (۱) دَ لغت لحاظ سره (۲) دَ بائبل مقدس لحاظ سره.

۴۵۳- ایمان څومره ضروری دے؟

۴۵۴- په ذهنی اؤ دَ زړۀ په ایمان کښې څۀ فرق دے؟

۴۵۵- په ایمان کښې دَ الٰهی حصې په حقله درې آیتونه پیش کړئ.

۴۵۶- دوه آیتونه بیان کړئ چې په ایمان کښې دَ انسانی حصې اهمیت بیانوی.

۴۵۷- دَ دې خبرې وضاحت وکړئ چې "دَ خلاصون دَ پاره ایمان په یو شک من څیز باندې نۀ دے پکار".

۴۵۸- دَ ایمان اُصول څۀ دی؟

۴۵۹- دَ ایمان پنځۀ غټې نتیجې بیان کړئ.

۴۶۰- دَ متی ۱۷: ۲۰ نه مونږ دَ ايمان په حقله څۀ سبق زده کوؤ؟

# اوؤۀ څلویښتم سبق

# توبه

## پیژندګلو

* دَ زړې لوظنامې په وخت کښې کله چې خلق دَ شریعت لاندې وو نو هغوئ به دَ خپلې ګناه اقرار کولو، قربانی به یې کوله اؤ اکثر چې به واپس لاړل نو هغه ګناه به یې بیا کوله.
* دَ انجیل شریف توبه دا ده چې دَ ګناه نه واؤړئ اؤ دَ خدائ طرف ته رجوع وکړئ. اعمال ۲۰: ۲۱ "دَ خدائ په وړاندې توبه ویستل اؤ په مالک عیسیٰ مسیح دَ ایمان راوړلو شاهدی کول پکار دی".
* دې ته " دَ ژوند دَ پاره توبه" (اعمال ۱۱: ۱۸) وئیلے شی، ځکه چې توبه کوؤنکے کس تشه بدی پریږدی نه بلکه هغه ژوند حاصلوی کوم چې په عیسیٰ مسیح کښې دے.
* دې ته دَ خلاصون دَ پاره توبه هم وئیلے شی، ځکه چې هم دا دَ دې مطلب دے. دویم کورنتیان ۷: ۱۰ "ځکه چې دَ خدائ دَ مرضئ په مطابق غم داسې توبه را پیدا کوی چې دَ هغې انجام خلاصون دے اؤ په هغې پښیمانه کیدل نشته". په هغې پښیمانه کیدل نشته، دَ دې مطلب دے چې بیا دَ هغه ګناه طرف ته نۀ ځو. دَ دې مطلب دَ ګناه په حقله دَ بدلې شوې رویې اؤ بدئ اؤ بدکردارئ طرف ته بیا رجوع نۀ کول دی.

## ۱- توبه څۀ ده؟

(۱) منفی. په ګناه باندې تش دَ پښیمانه کیدو نوم توبه نۀ دے. ډیر خلق تش په خپله ګناه باندې ژاړی خو توبه نۀ کوی، بلکه سمدستی هغه ګناه طرف ته واپس ورځی (مثال په طور شرابی اؤ نشه باز).

خپله ګناه رایادول هم توبه نۀ ده، ځکه چې دغه شان ګناه ګار دا ګڼی چې هغه دَ خلاصون قابل جوړ شوے دے. دغه شان اکثر دَ رښتینی توبې په لار کښې خنډ جوړیږی.

یهوداه اسکریوتی اؤ عیساؤ دواړه په خپلې ګناه باندې پښیمانه شول، افسوس یې پرې وکړو خو توبه یې ونۀ کړه.

عبرانیان ۱۲: ۱۷ "اؤ دَ نیت دَ بدلولو موقعه په لاس ور نۀ راغله سره دَ دې چې هغۀ په ویر ژړا په دې پسې ډیر لټون وکړو". اکثر توبې سره پښیمانی اؤ ژړا هم وی خو دا هر څۀ په خپله توبه نۀ ده.

(۲) مُثبت. توبه دَ نیت بدلون دے، دَ څۀ نه چې نوے کردار پیدا کیږی.
متی ۲۱: ۲۸- ۳۲. اول خو هلک دَ انګورو په باغ کښې دَ کار کولو نه انکار وکړو، خو بیا وروستو پښیمانه وو. دَ هغۀ نیت بدل شو اؤ بیا دَ انګورو باغ ته لاړو اؤ هلته یې واقعی کار شروع کړو.

## ۲- دَ توبې ضرورت

(۱) ټولو ته دَ توبې ضرورت دے، ځکه چې دَ خدائ په نظر کښې ټول ګناه ګار دی. دَ بپتسمې اخستلو اؤ په بیابان کښې دَ آزمائیلو نه پس عیسیٰ مسیح چې کوم اولنے وعظ وکړو نو هغه دَ توبې په حقله وو.

متی ۴: ۱۷ "دَ هغې ورځې نه عیسیٰ دا وعظ شروع کړو چې توبه ګار شئ ځکه چې دَ آسمان بادشاهی دربandې راغله".

لوقا ۱۳: ۳ عیسیٰ مسیح وعظ کولو اؤ وې وئیل چې "کۀ چرې تاسو توبه ګار نۀ شئ نو ټول به دغه شان هلاک شئ".

(۲) توبه دَ ایمان راؤړلو نه مخکښې وی. مرقوس ۱: ۱۵ "..... توبه ګار شئ اؤ په زیری ایمان راؤړئ".

(۳) توبه دَ بخښنې نه مخکښې وی. لوقا ۴: ۴۷ "..... په ټولو قومونو کښې به دَ توبې اؤ دَ ګناهونو دَ معافئ وعظ دَ هغۀ په نوم کیږی".

(۴) توبه دَ بدلون نه مخکښې وی. اعمال ۳ : ۱۹ "توبه وکړئ اؤ خدائ ته را وګرځئ".

(۵) خدائ دَ توبه ګار کیدو حکم ورکوی. اعمال ۱۷: ۳۰ "ترڅو چې دَ ناپوهئ دَ وخت تعلق وو نو خدائ ځان پرې ناغرضه کړے وو خو اوس هغه هر چرته ټولو بنی آدمو له حکم ورکوی چې توبه ګار شئ".

## ۳- دَ توبې اهمیت

په کلامِ پاک کښې توبه یوه ډیره څرګنده موضوع ده. په بائبل مقدس کښې دَ دې ذکر دَ سلو ځلو نه زیات شوے دے.

دَ یحییٰ بپتسمه ورکوؤنکی دَ وعظ کولو بنیادی موضوع توبه وه. متی ۱۳: ۲ "په هغه ورځو کښې یحییٰ بپتسمه ورکوؤنکے راغلو اؤ دَ یهودیه په بیابان کښې یې دا وعظ شروع کړو چې توبه ګار شئ....".

کله چې عیسیٰ مسیح مریدان دَ وعظ کولو دَ پاره ولیږل نو هغوئ له یې حکم ورکړو چې دَ توبې وعظ وکړی. مرقوس ۶: ۱۲ "نو هغوئ بهر لاړل اؤ کلام یې آؤرولو چې توبه ګار شئ".

دَ پینتکُست نه پس مریدانو دَ توبې وعظ وکړو. اعمال ۲: ۳۸ "پطروس هغوئ ته ووئیل، توبه ګار شئ".

دَ پولوس رسول هم دا پیغام وو. اعمال ۲۰: ۲۱ (حواله په پیژندګلو کښې بیان شوې ده)

دَ خدایٔ پاک دَ زړۀ بوج هم دا دے چې ټول توبه ګار شی. دویم پطروس ۳: ۹ "..... دَ پاره دَ دې چې دَ چا هلاکت نۀ غواړی بلکه دا غواړی چې ټولو خلقو ته دَ توبې موقعه ورکړے شی".

دَ خدایٔ پاک دَ نافرمانئ نتیجه ابدی هلاکت دے. لوقا ۱۳: ۳ "کۀ چرې تاسو توبه ګار نۀ شئ نو ټول به دغه شان هلاک شئ".

## ۴- دَ توبې خاصیت

(۱) دَ عقل لحاظ سره. متی ۲۱: ۲۹ "هغۀ په جواب کښې ووئیل زۀ نۀ ځم، خو وروستو هغه پښیمانه شو اؤ لاړو". هلک خپله اراده، خیال اؤ نظریه بدله کړه.

توبه یو بدلون دے چې دَ ګناه اؤ صداقت په باره کښې زمونږ رویه اؤ زمونږ سوچ بدلوی.

توبه دا ښودنه کوی چې مونږ دَ ګناه نه نفرت وکړو اؤ پاکوالی سره مینه وکړو.

ورک شوی زویٔ توبه وکړه. هغۀ په لرې وطن کښې دَ اوسیدو په حقله خپله اراده بدله کړه، اؤ فیصله یې وکړه چې دَ خپل پلار کور ته واپس لاړ شی اؤ هلته دَ یو نوکر په طور اوسیږی.

دَ پینتکست په موقعه چې کله پطروس یهودیانو ته دَ توبه ګار کیدو دَ پاره ووئیل نو دَ هغۀ هم دا مقصد وو چې دَ عیسیٰ مسیح دَ ذات په حقله خپل سوچونه اؤ ارادې بدلې کړئ. دَ عیسیٰ مسیح تش انسان اؤ کفر ویونکے اؤ دوکه باز ګڼلو په ځائ هغه دَ خدایٔ زویٔ، وعده کړے شوے مسیح، اؤ دَ دنیا خلاصوؤنکے قبول کړئ.

(۲) دَ جذباتو لحاظ سره. دویم کورنتیان ۷: ۹ "خو اوس زۀ په دې خوشحاله یم چې ستاسو دَ غم نتیجه توبه ګاری شوه ولې چې ستاسو غم دَ خدایٔ دَ مرضئ په مطابق وو".

اکثر زمونږ احساسات دَ توبه ګار کیدو په سلسله کښې ډیر لوئ کردار ادا کوی. توبه کول دَ یو سخت جنګ ګټلو په شان دی.

لوقا ۱۰ : ۱۳ "..... نو هغوئ به (صور اؤ صیدا) دَ دې نه ډیر پخوا ټاټ لنګ کړے وو اؤ په ایرو کښې ناست توبه ګار شوی وو!"

لوقا ۷ : ۴۴ "..... خو دې زما پښې په خپلو اوښکو لمدې کړې". (دَ توبه ګار کیدو اظهار وو).

دَ لوقا په ۱۸ : ۱۳ کښې محصول اخستونکی دَ زړۀ دَ غم اظهار دَ پاره خپله سینه وهله. په عبرانئ کښې چې دَ توبې دَ پاره کوم لفظ استعمال شوے دے نو په دې کښې ډیر دَ فکرمندئ اؤ دَ تشویش پیدا کولو مطلب موجود دے.

زبور ۳۸ : ۱۸ "ځکه چې زۀ به خپله بدی ښکاره کوم اؤ دَ خپلې ګناه به وجه به غمژن یم".

(۳) دَ ارادې لحاظ سره. دَ توبې دَ پاره دَ عبرانئ دَ لفظ مطلب "اؤړیدل" هم دے.

لوقا ۱۵ : ۱۸. ورک شوی زوئ ووئیل "زۀ به خپل پلار له واپس لاړ شم".

توبه یو کمے وی چې په هغې کښې سوچ سمدستی بدل شی. پولوس رسول وښودل چې توبه تش یو عمل نۀ دے بلکه یو تجربه ده. (پاڅیدل اؤ تلل).

توبه ګار کیدل دوه کارونه دی. (۱) دَ ګناه نه اؤړیدل (۲) اؤ خدائ ته را ګرځیدل.

کۀ چرې تش دَ ګناه نه واؤړو اؤ خدائ طرف ته نۀ را ګرځو نو دا به دَ نوی سر نه دَ پیدا کیدو نه بغیر تش یو قسم اصلاح وی.

اول تسالونکیان ۱ : ۹ "تاسو دَ بتانو نه راواؤړیدئ اؤ خدائ ته را وګرځیدئ دَ دې دَ پاره چې دَ ژوندی اؤ حقیقی خدائ عبادت وکړئ".

اعمال ۲۶ : ۱۸ "..... دَ شیطان دَ اختیار نه خدائ ته را واؤړئ".

## ۵- توبه څنګه پيدا کيږی؟

په بنيادی طور باندې توبه دَ خدائ بخښنه ده. اعمال ۱۱: ۱۸ "..... اؤ وې وئيل دَ دې مطلب خو دا شو چې خدائ غير يهوديانو ته هم دَ توبې موقعه ورکړه چې ژوند پرې حاصليږی".

دويم تيموتيوس ۲: ۲۵ "..... کيدے شی خدائ هغوئ ته دَ توبې ويستو طاقت ورکړی اؤ هغوئ حق وپيژنی".

کله چې خلق دَ انجيل شريف پيغام آؤری نو روح القدس هغوئ دَ ګناه په باره کښې قائله کوی. بيا په هغوئ کښې دَ توبه ګار کيدو سخت خواهش پيدا کيږی.

حضرت يونس دَ نينواه په ښار کښې دَ توبه ګار کيدو وعظ وکړو. هغوئ په پيغام باندې يقين وکړو اؤ خدائ طرف ته را وګرځيدل.

روميان ۲: ۴ "..... اؤ دا نۀ منې چې دَ خدائ مهربانی تا توبې ته بيائی".

مکاشفه ۳: ۱۹ "هر چا سره چې مينه لرم هغوئ زۀ ملامت کوم اؤ په ادب يې ساتم، نو ځکه غيرت وکړه اؤ توبه وکړه"

خدائ پاک اکثر ملامتيا اؤ توبه استعمالوی دَ دې دَ پاره چې مونږ دَ خپلو ګناهونو نه توبه وکړو.

## ۶- دَ توبه ګار کيدو نتيجې

(۱) په آسمان کښې خوشحالی کيږی. لوقا ۱۵: ۷، ۱۰ "دغه شان زۀ تاسو ته وايم......چې دَ يو ګناه ګار په توبه ګار کيدو دَ خدائ په فرښتو کښې هم دغه شان خوشحالی کيږی".

(۲) دَ ګناهونو معافی اؤ بخښنه حاصليږی. يشعياه ۵۵: ۷ "بدعمله دې خپله لار پريږدی اؤ بد کرداره دې خپل خيالونه، اؤ خدائ ته دې را وګرځی اؤ هغه به په هغوئ رحم وکړی ځکه چې هغه ډير ګناهونه معاف کوی".

اعمال ۳: ۱۹ "نو توبه وکړئ اؤ خدائ ته را وګرځئ چې ګناهونه به مو معاف کړی. بيا به مالک تاسو ته تازګی درکړی".

توبه ګار کیدو سره چا ته دا حق نهٔ ملاویږی چې معافی حاصله کړی. توبه ګار کیدل دَ معافئ تش یو شرط دے.
توبه انسان دَ معافئ دَ پاره تیاروی، خو دَ معافئ حقدار یې نهٔ جوړوی. (دَ توبې ویستلو نه پس هم مونږ دَ مالک خدائ دَ مینې اؤ معافئ حقدار نهٔ یو).

(۳) توبه کوؤنکی کس له روح القدس ورکولے کیږی. اعمال ۲: ۳۸ ".... توبه ګار شئ.... نو تاسو ته به روح القدس په انعام کښې درکړے شی".

خُلاصه

کله چې ګناه ګار توبه ګار شی اؤ خدائ طرف ته را وګرځی نو دَ یوکم پنځوستم نمبر سبق ټول برکتونه هغهٔ ته ملاویږی. خلاصون موندونکی ګناه ګار له هر وخت دَ توبې ویستلو دَ پاره تیار اوسیدل پکار دی.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۶۱- دَ زړې لوظنامې اؤ نوې لوظنامې په توبه کښې څهٔ فرق دے؟

۴۶۲- دَ دویم کورنتیانو ۷: ۱۰ په مطابق دَ توبې مقصد څهٔ دے؟

۴۶۳- دَ توبې وضاحت وکړئ.

۴۶۴- دَ اول تسالونکیانو ۱: ۹ اؤ دَ اعمالو ۲۶: ۱۸ په مطابق دَ توبې دوه اړخونه کوم کوم دی؟

۴۶۵- دَ توبې ضرورت ثابتولو دَ پاره پنځهٔ خبرې بیان کړئ.

۴۶۶- توبه په عقل باندې څنګه اثر کوی؟

۴۶۷- توبه په جذباتو باندې څنګه اثر کوی؟

۴۶۸- توبه په ارادې باندې څنګه اثر کوی؟

۴۶۹- توبه څنګه پیدا کیږی؟

۴۷۰- دَ توبې نتیجې څهٔ دی؟

# اتۀ څلویښتم سبق

# معافی

## پیژندګلو

* دَ حضرت آدم دَ ګناه کولو په وجه ټول انسانان ګناه ګار شول.
* ګناه یو داسې څیز دے چې انسانان جنت تلو ته نۀ پرېږدی. آسمان پاک ځائ دے. په دې کښې هیڅ قسمه بد اؤ ناپاکه څیز نۀ شی داخلیدے.
* آسمان ته دَ تلو کنجی معافی ده. کۀ چرې خدائ زمونږ ګناهونه معاف کړی نو بیا یو څیز هم مونږ آسمان ته دَ تلو نه نۀ شی منع کولے.
* دَ ګناه ګار انسان دَ پاره دَ ټولو نه لویه مسئله معافی ده.
* په زړه لوظنامه کښې دَ معافئ دَ پاره درې لفظونه استعمال شوی دی. دَ یو مطلب دے "پټول" دَ دویم مطلب دے "لرې کول". اؤ دَ دریم مطلب دے "لرې لیږل".
* په نوې لوظنامه کښې دَ معافئ مطلب دے دَ عیسیٰ مسیح په قربانئ اؤ دَ کامل فضل په بنیاد باندې ګناه ګار دَ ګناه نه لرې کول.

## ۱- دَ معافئ سر چینه: صرف خدائ

ګناه ګار دَ خدائ پاک دَ شریعت نافرمانی کوی نو په دې وجه صرف خدائ پاک هغه معاف کولے شی. کۀ چرې تۀ زما څټک پټ کړې نو صرف زۀ تا معاف کولے شم. خو کۀ چرې تۀ دَ مُلک قانون مات کړې نو بیا زۀ تا نۀ شم معاف کولے.

کله چې تاسو دَ خدائ پاک قانون (شریعت) ماتوئ نو په زمکه باندې یو کس هم تاسو نۀ شی معاف کولے. صرف خدائ پاک تاسو معاف کولے شی.

لوقا ۷: ۴۹ "هغوئ په خپلو کښې ووئیل، چې دے لاڅوک دے چې ګناهونه بخښی؟"

مرقوس ۲: ۷ "دا سړے داسې خبرې ولې کوی؟ دا خو کفر دے! دَ خدائ نه بغیر هم لا څوک دَ چا ګناهونه بخښلے شی څۀ؟"

په دواړو موقعو باندې دَ يهوديانو سوچ ټيک وو، ځکه چې صرف خدائ پاک ګناهونه بخښلے شی. کله چې تاسو دَ خدائ دَ حکم نافرمانی وکړئ نو دَ انسان نه بخښنه مۀ غواړئ. نيغ په نيغه خدائ پاک ته حاضريږئ.

اول يوحنا ۱: ۹ "کۀ مونږ دَ خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار اؤ صادق دے، اؤ هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی اؤ دَ هر قسم بدو نه به مو پاک کړی".

مالک خدائ، خدائ پاک چا چې شريعت ورکړے دے، هغه دَ ګناه ګارو معاف کولو دَ پاره تيار دے.

حالانکه عيسیٰ مسيح خدائ دے اؤ دَ خدائ زوئ هم دے نو په دې وجه هغه دَ ګناه معاف کولو دَ پاره مقرر کړے شوے دے.

اعمال ۵: ۳۱ "دا هغه دے چې خدائ په ښی لاس کښينولے دے اؤ سردار اؤ خلاصوؤنکے يې ګرزولے دے، دَ دې دَ پاره چې بنی اسرائيل توبه ګار شی اؤ دَ ګناهونو معافی ورله ورکړی".

## ۲- دَ معافئ وسيله: عيسیٰ مسيح

اعمال ۱۳: ۳۸ "نو بيا اے زما ورونړو! تاسو ضرور ځان پوهه کړئ چې دا دَ عيسیٰ په وسيله دَ ګناهونو دَ معافئ بيان درته کيږی".

دَ ګناه دَ بوج لاندې را ګير شوؤ انسانانو دَ پاره دا دَ خلاصون يو ښۀ پيغام دے.

دَ لوقا په ۷: ۴۸ کښې خلاصوؤنکی په خپله هغه ښځه معاف کړه "ستاسو ګناهونه وبخښلے شول".

دَ مرقوس په ۲: ۹ کښې هم خلاصوؤنکی په خپله دَ هغه شل سړی ګناهونه معاف کړل. "..... ستا ګناهونه وبخښلے شول".
نن خو عيسیٰ مسيح په جسمانی طور دې دنيا کښې نشته خو هغه په ناليدونکی طور باندې زمونږ هر يو کس دَ معاف کولو دَ پاره تيار دے.

مونږ هم اوس خپلې سترګې پټولے شو اؤ هغۀ ته خپل ټول ګناهونه بيانولے شو اؤ هغه به دا معاف کړی. په يو جماعت، يا رسم ورواج کښې معافی نشته. معافی صرف په مالک عيسیٰ مسيح کښې ده.

## ۳- دَ معافئ بنياد

(۱) دَ معافئ بنياد دَ مالک خدائ په مهربانئ اؤ ترس باندې دے. زبور ۷۸: ۳۸

"خو هغه رحم کوؤنکے دے اؤ بدی معاف کوی اؤ هلاکوی نۀ، بلکه بيا بيا خپل قهر منع کوی".

(۲) دَ معافئ بنياد خدائی انصاف دے. اول يوحنا ۱: ۹ "هغه زمونږ په ګناهونو معاف کولو کښې رښتينے اؤ وفادار دے". خدائ پاک ګناه معاف کولے شی اؤ بيا هم پاک اؤ انصاف کوؤنکے پاتې کيدے شی.

(۳) دَ معافئ بنياد دَ عيسیٰ مسيح وينه ده. افسيان ۱: ۷ "مونږ ته دَ هغۀ په وينه باندې خلاصون يعنې دَ ګناهونو نه خلاصون ملاؤ شوے دے".

دَ وينې مطلب دَ عيسیٰ مسيح دَ کفارې هغه کار دے کوم چې هغۀ په سولئ پوره کړو. په سولئ هغۀ خپله وينه توئ کړه، دَ دې دَ پاره چې زمونږ کامله کفاره اؤ زمونږ دَ تل خلاصون وسيله وګرځی.

دَ خدائ پاک فيصله دا ده چې "څوک چې ګناه کوی هغه به مری" حزقی ايل ۱۸: ۴.

دَ ګناه په وسيله مرګ راغے. اؤ ځکه چې انسان ګناه وکړه نو په دې وجه دا ضروری ده چې هغه مړ شی.

پيدا ايښت ۲: ۱۷ "په کومه ورځ چې تا ترې وخوړه، نو تۀ به مړ شې".

خدائ پاک دَ ګناه کفارې دَ پاره هميشه دَ وينې غوښتنه کړې ده، ځکه چې وينه دَ مرګ علامت دے. دَ حضرت آدم اؤ بی بی حوا بربنډتوب پټولو دَ پاره هم خدائ پاک وينه توئ کړه اؤ دَ څرمنې نه يې هغوئ له لباس جوړ کړو. پيدا ايښت ۳: ۲۱.

دَ هابیل قربانی ځکه قبوله شوې وه چې په هغې کښې وینه شامله وه، اؤ دَ قائن قربانی قبوله نۀ شوه ځکه چې په هغې کښې وینه نۀ وه. پیدایښت ۴: ۳-۵.

احبار ۱۷: ۱۱ "دَ بدن ځان په وینه کښې دے اؤ ما په قربان ګاه باندې ستاسو دَ ځانونو کفارې دَ پاره هغه تاسو له درکړے دے".

## ۴- دَ معافئ کاملیت: دَ ټولو ګناهونو معافی

کله چې به عیسیٰ مسیح ګناهونه معاف کول نو څلورمه حصه یا نیم یا به یې یو کم سل فیصده ګناهونه نۀ معاف کول، بلکه ټول ګناهونه به یې معاف کول.
لوقا ۷: ۴۷ "ځکه زۀ تا ته دا وایم چې هغې ځکه دومره مینه وکړه چې دَ هغې ډیر ګناهونه بخښلے شوی دی".

- زبور ۱۰۳: ۳ "هغه ستا ټوله بدی معاف کوی".
- زبور ۳۲: ۱، ۲ "خدائ پاک ګناه، بدی، قصورونه مطلب دا چې ټول هر څۀ معاف کوی.
- کولوسیان ۲: ۱۳ "..... اؤ زمونږ ټول قصورونه یې معاف کړل".
- متی ۱۲: ۳۱ "نو زۀ تاسو ته دا وایم چې یو ګناه اؤ کفر داسې نشته چې دَ بنی آدم بخښلے نۀ شی".

### دا دَ ټولو نه اهم خبره ده.

کۀ چرې یو ګناه هم دَ معافئ نه بغیر پاتې شی نو بیا هغه کس جنت ته نۀ شی تلے، بلکه هغه به تر ابده پورې په دوزخ کښې وی.

مکاشفه ۲۱: ۲۷ "خو هیڅ ناپاک څیز به ور ننوتے نۀ شی اؤ نۀ پلیت اؤ نۀ دروغژن، خو صرف هغه چې دَ چا نومونه دَ ژوندون په کتاب کښې لیکلی دی"

یو ګناه تاسو اؤ آسمان دَ همیشه دَ پاره پلیتولے شی. صرف دَ یوې ګناه په وجه دَ ټول انسانیت دَ پاره مرګ راغلے وو.

## ۵- دَ معافئ حاصلول۰۰۰مونږ اوس دَ معافئ مالکان یو

ډیر خلق په دې انتظار کښې دی چې دَ مرګ نه پس به پته لږی چې مونږ ته معافی ملاؤ شوې ده اؤ کۀ نه. خو انجیل شریف اوس مونږ له دا زیرے راکوی چې مونږ ته معافی ملاؤ شوې ده.

- افسیان ۱: ۷ "مونږ ته په هغۀ کښې دَ هغۀ دَ وینې په وسیله خلاصون یعنې دَ قصورونو بخښنه..... حاصله ده".
- دَ لوقا په ۷: ۳۶- ۵۰ کښې ښځې ته سمدستی بخښنه ملاؤ شوه.
- اول یوحنا ۲: ۱۲ "زما بچو زۀ تاسو ته لیکم ځکه چې ستاسو ګناهونه دَ مسیح په نوم معاف کړے شوی دی".

مونږ دَ زیری یعنې دَ انجیل شریف ښۀ پیغام ورکوؤ، دَ دې دَ پاره چې انسانانو ته په دې دنیا کښې اؤ هم اوس په یقینی طور معلومه شی چې هغوئ ته معافی ملاؤ شوې ده، اؤ په دې کښې هیڅ شک نشته.

## ۶- دَ معافئ دَ پاره شرطونه

(۱) توبه: اعمال ۵: ۳۱ "...... دَ دې دَ پاره چې بنی اسرائیل توبه ګار کړی اؤ دَ ګناهونو معافی ورله ورکړی".

**توبه**، دَ معافئ نه مخکښې کیږی. توبه دَ ګناهونه نه اوړیدل اؤ خدائ طرف ته دَ را ګرزیدو عمل دے.

- اعمال ۲: ۳۸ "پطروس ووئیل، توبه ګار شئ اؤ په تاسو کښې هر یو دې دَ خپلو ګناهونو دَ معافئ دَ پاره دَ عیسیٰ مسیح په نوم بپتسمه واخلی....."
- دَ لوقا دَ اوؤم باب شپږ دیرشم نه تر پنځوستم آیته پورې واقعه کښې هغه ښځې په ژړا اؤ عاجزئ سره دَ توبې اظهار وکړو.

(۲) ایمان: لوقا ۷: ۵۰ "..... ستا ایمان تۀ بچ کړې". توبې سره ایمان اؤ معافی حاصلیږی.

(۳) اقرار: اول یوحنا ۱: ۹ "کۀ مونږ دَ خپلو ګناهونو اقرار کوؤ نو هغه وفادار اؤ صادق دے، اؤ هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی اؤ دَ هر قسم بدو نه به مو پاک کړی".

دَ کومې ګناه چې اقرار ونۀ شی نو دَ هغې بخښنه نۀ کیږی. راځئ چې مونږ دا دعا وغواړو چې پاک روح مونږ ته زمونږ ګناهونه ځرګند کړی اؤ دَ هغې دَ اقرار کولو فضل راکړی.

زبور **۳۲**: **۵** "ما ستا په حضور کښې دَ خپلې ګناه اقرار وکړو اؤ خپله بدی مې پټه نۀ کړه. ما ووئیل زۀ به دَ مالک خدائ په حضور کښې دَ خپلو قصورونو اقرار کوم اؤ تا زما دَ ګناه بدی معاف کړه".

## دا دَ حضرت داؤد تجربه وه اؤ دا زمونږ تجربه هم کیدے شی.

(۴) نور خلق معاف کول: متی ٦: ۱۵ "کۀ چرې تاسو دَ نورو قصورونه نۀ معاف کوئ نو ستاسو آسمانی پلار به هم ستاسو قصورونه نۀ معاف کوی". دَ لوقا ٦: ۳۷ هم وګورئ.

راځئ چې مونږ دَ افسیانو دَ **۴**: **۳۲** نصیحت یاد وساتو "اؤ هر یو په بل مهربانه اوسئ اؤ یو تر بله نرمی کوئ، اؤ لکه چې خدائ په مسیح کښې ستاسو ګناهونه معاف کړل، تاسو هم یو بل معاف کوئ".

دَ متی په ۱۸: **۲۱**- **۳۵** کښې چې کوم تصویر ورکړے شوے دے نو دَ هغې په مطابق دَ مسیحیانو دَ پاره معاف کول یو آسان کار پکار دے.

## ۷- مونږ ته څو ځله معافی ملاویدے شی؟

مونږ چې هر څومره ځله ګناه وکړو اؤ دَ هغې اقرار وکړو نو دَ دې پاس ورکړے شوؤ شرطونو په مطابق دَ عیسیٰ مسیح وینه زمونږ دَ معاف کولو دَ پاره موجوده ده.

دَ توبې مطلب دے ګناه پریښودل اؤ دَ خداائ پاک په قوت سره دا وعده کول چې بیا به ګناه نۀ کوم.

نو آیا مونږ دې ګناهونه جاری ساتو دَ دې دَ پاره چې فضل زیات شی ځکه چې خدائ خو په هر حال کښې دَ معاف کولو دَ پاره تیار دے؟

دَ رومیانو په ۶: ۱ کښې هم دا سوال شوے دے، اؤ خدائ پاک دَ حضرت پولوس په معرفت دَ دې جواب ورکړے دے. رومیان ۶: ۲ " بالکل نه ځکه چې دَ مالک خدائ په حضور کښې داسې سوچ کول هم لعنت دے".

کۀ څوک ګناه وکړی نو مونږ له هغه څو ځله معاف کول پکار دی؟ مونږ له خلاصوؤنکی دَ متی په ۱۸: ۲۱- ۳۵ کښې دَ دې جواب راکړے دے. اؤیا ځله نه بلکه پرله پسې معاف کوئ.

## خُلاصه

## درې پیغامونه چې خدائ پاک په خپله لیکلی دی:

(۱) لس حکمونه: هجرت شلم باب. شریعت دَ انسانی کردار دَ پاره دَ خدائ پاک معیار دے.

(۲) دانی ایل ۵: ۲۷ "..... تۀ په تله باندې وتللے شوې اؤ کم وختلې". یعنې مجرم اؤ ګناه ګار ثابت شوې. رومیان ۳: ۲۳.

(۳) یوحنا ۱۸: ۱- ۱۱. عیسیٰ مسیح په زمکه باندې په ګوته لیکل وکړل. هغۀ څۀ ولیکل؟ مونږ ته پته نشته. خو زما خیال دے چې هغۀ لیکلی وو "معاف شوې".

راځئ. نن دَ خپلو ټولو ګناهونو دَ پاره پوره معافی حاصله کړو. اؤ په دې خبره عمل وکړو چې "ځه بیا ګناه مۀ کوه".

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۷۱- دَ لوقا په ۷: ۴۹ کښې اؤ دَ مرقوس په ۲: ۷ کښې کټر یهودیان ولې په صحیح طور باندې حیران اؤ خفه شول؟

۴۷۲- دَ یوحنا په نوم دَ اولنی خط په ۱: ۹ کښې دَ لفظ "وفادار" څۀ اهمیت دے؟

۴۷۳- درې حقیقتونه بیان کړئ چې په هغې باندې دَ معافئ بنیاد دے. دَ هر یو دَ پاره یو یو آیت هم بیان کړئ.

۴۷۴- دَ اعمالو په ۱۳: ۳۸ کښې لفظ "هغۀ" (عیسیٰ مسیح) څۀ اهمیت دے؟

۴۷۵- دَ افسیان په ۱: ۷ کښې دَ احبار ۱۷: ۱۱ حواله څنګه پوره کیږی؟

۴۷۶- درې آیتونه بیان کړئ چې دَ هغې نه دا څرګندیږی چې خدائ پاک زمونږ ټول ګناهونه معاف کوی.

۴۷۷- دَ مکاشفه ۲۱: ۲۷ په مطابق دَ څومره ګناهونو په وجه یو انسان جنت ته دَ تلو نه پاتې کیږی؟

۴۷۸- تاسو به دا څنګه ثابتوئ چې نن هم دَ ګناهونو دَ معافئ کامله تسلی حاصلولو ممکن دی؟

۴۷۹- دَ معافئ حاصلولو دَ پاره څلور شرطونه بیان کړئ. دَ هر یو دَ پاره حواله هم ورکړئ.

۴۸۰- مونږ ته څومره ځله دَ معافئ ضرورت وی؟ مونږ له نور خلق څو ځله معاف کول پکار دی؟

# يوکم پنځوستم سبق

# په مالک خدائ باندې ايمان راوړلو سره څۀ کيږی؟

## پيژندګلو

* زما دَ الٰهياتو دَ علم استاذ به وئيل چې کله يو کس عيسىٰ مسيح قبول کړی نو اتۀ ديرش خبرې پيښيږی. خو کيدے شی چې هغۀ ته دَ ګناهونو دَ معافئ يا خوشحالئ يا دَ تسلئ دَ احساس نه علاوه دَ نورو خبرو شعور نۀ وی.

* دَ دې مثال دَ ګاډی چلولو په شان دے. دَ ګاډی سټارټ کولو، ګئير لګولو، اؤ کلچ پريښودلو پورې ډير عملونه کيږی. خو ډرائيور ته تش دا احساس وی چې بس ګاډے روان شو. په حقيقت کښې تقريباً سل خبرې پيښې شی چې په هغې باندې ډرائيور په قلاره قلاره پوهيږی.

* دا ټولې خبرې په مختلفو درجو کښې تقسيم کړے شوی دی.

## ۱- دَ خدائ پلار سره دَ تعلق په حقله

(۱) دَ خدائ فضل ته رسيدل: افسيان ۲: ۱۸ "ځکه چې دَ هغۀ په وسيله مونږ دواړه دَ يو روح په وسيله دَ پلار په حضور کښې داخليږو". اول مونږ په خلاصون کښې داخليږو اؤ بيا په دعا کښې.

- افسيان ۳: ۱۲ "په عيسىٰ مسيح کښې اؤ په هغۀ دَ ايمان لرلو په وسيله مونږ ته زړۀ ورتيا ده چې مونږ په پوره تسلئ سره دَ خدائ په مخکښې حاضريدے شو".

(۲) دَ خدائ دَ بچی په طور دَ هغۀ په کورنئ کښې شاملیدل. ګلتیان ۴: ۵ "دَ دې دَ پاره چې څوک چې دَ شریعت دَ لاندې وو، په بیعه واخلی اؤ آزاد یې کړی، چې مونږ دَ خدائ زامن شو".

(۳) میراث. اعمال ۲٦: ۱۸ "..... دَ ګناهونو نه معافی ومومی اؤ هغه خلقو سره ځائ بیا مومی چې خدائ پاک ګرځولی دی".

(۴) غوره کول. اول پطروس ۱: ۲ "..... اؤ دَ خدائ پلار دَ ازلی ارادې په مطابق.....غوره شوئ".

- افسیانو ۱: ۴ "..... مونږ یې دَ دنیا دَ پیدا ښت نه مخکښې غوره کړی یو".
- یوحنا ۱۵: ۱۲ "تاسو زۀ غوره نۀ کړم بلکه ما تاسو غوره کړئ".
- اول یوحنا ۳: ۱ "پلار مونږ سره څومره زیاته مینه کړې ده چې مونږ ته دَ خدائ بچی ووئیلے شول اؤ دغه شان مونږ هم شو".

(٦) آسمان کښې اوسیدل. فیلیپیانو ۳: ۲۰ "خو مونږ دَ آسمان اوسیدونکی یو اؤ دَ آسمان نه مونږ دَ خلاصوؤنکی مالک عیسیٰ مسیح په ډیر انتظار کښې یو چې راشی".

(۷) دَ خدائ وارثان. رومیان ۸: ۱۷ "اؤ چې بچی یو نو وارثان هم یو . مونږ دَ خدائ وارثان اؤ دَ مسیح په میراث کښې شریک یو".

- ګلتیان ۳: ۲۹ "اؤ کۀ چرې تاسو دَ مسیح یئ نو دَ ابراهیم دَ نسل نه یئ، اؤ دغه شان دَ وعدې په مطابق وارثان یئ".

(۸) نوے مخلوق. دویم کورنتیان ۵: ۱۷ "دَ دې دَ پاره کۀ څوک په مسیح کښې وی نو هغه نوے مخلوق دے، زاړۀ څیزونه تیر شول، وګورئ هغه اوس

نوی شول". مونږ په زوړ فطرت يعني د آدم دَ ګناه نه لړلے شوی فطرت کښې پيدا شوی وو. خو اوس په مونږ کښې دَ خدائ پاک فطرت دے.

(۹) دَ خدائ پاک خادم. روميان ٦: ۲۲ "خو دَ ګناه نه آزاد اؤ دَ خدائ غلامان يئ...... "

- روميان ۱:۱ "دَ پولوس له طرفه چې دَ عيسیٰ مسيح بنده دے....."

(۱۰) دَ خدائ کاهن. اول پطروس ۲: ۹ "تاسو يو غوره کړے شوے نسل، دَ شاهی کاهنانو فرقه.....يئ".

- اول پطروس ۲: ۵ "تاسو دَ ژوندو کاڼو په شان دَ خدائ روحانی کور جوړ شئ چې دَ کاهنانو مقدسه فرقه په جوړيدو داسې روحانی قربانئ پيش کړئ چې دَ عيسیٰ مسيح په وسيله خدائ ته قبولې وی".

(۱۱) دَ خدائ سره صلح. روميان ۵: ۱۰"ځکه چې سره دَ دې چې مونږ دَ خدائ دښمنان وو نو مونږ دَ هغۀ دَ زوئ دَ مرګ په وسيله ورسره پخلا شو اؤ دَ دې نه زيات دَ هغۀ دَ زوئ دَ ژوند په وسيله به بچ شو".

- افسيان ۲: ۱۲، ۱۳ "په تيره زمانه کښې دَ مسيح نه جدا.....د بادشاهئ نه خارج.....اؤ دَ خدائ نه جدا وو. خو..... اوس..... دَ مسيح دَ وينې په وسيله نزدې شوئ" يعني خدائ سره مو صلح وشوه.

(۱۲) پاکيدل. اول کورنتيان ٦: ۱۱ "اؤ په تاسو کښې ځنې هم دغه شان وو خو تاسو دَ مالک عيسیٰ مسيح په نوم اؤ زمونږ دَ خدائ په روح ووينځلے شوئ، بلکه پاک شوئ، صادق هم شوئ".

- اعمال ۲۲: ۱۸ پاکيدل دَ ايمان راوړلو نتيجه ده.

## ۲- خدائ زوئ سره دَ تعلق په حقله

(۱۳) قبلیدل. افسیان ۱: ٦ "دَ هغۀ دَ فضل دَ جلال ستائنه دې وی چې مونږ ته يې په هغه محبوب کښې ويړيا راوبخښۀ.

- دَ عیسیٰ مسیح دَ خاطره مونږ دَ خدائ پاک په کورنئ، حضورئ اؤ میراث کښې په پوره طور سره قبلیږو.

(۱۴) دَ بپتسمې په وسیلې سره دَ عیسیٰ مسیح په بدن کښې شاملیدل. اول کورنتیان ۱۲: ۱۳ "...... ټول په یو روح بپتسمه شو چې دَ یو بدن په یو والی کښې داخل شو". دَ بدن مطلب دَ عیسیٰ مسیح نالیدونکے بدن دے.

- ګلتیان ۳: ۲۷ "اؤ تاسو ټول هر څومره چې د مسیح په یو والی کښې بپتسمه شوی يئ لکه د لباس مسیح مو اغوستے دے."

(۱۵) دَ عیسیٰ مسیح سره ښخیدل. رومیان ٦: ۴ "اؤ په دې بپتسمه مونږ دَ هغۀ سره ښخ کړے شولو اؤ ور سره مړۀ شولو". کولوسیان ۳ : ۳ "تاسو مړۀ شوئ اؤ اوس ستاسو ژوند دَ مسیح سره په خدائ کښې پټ دے".

(۱٦) دَ پلار له طرف نه زوی له دَ مینې تحفه. یوحنا ۱۷: ۹ "زۀ دَ هغوئ دَ پاره دعا کوم..... کوم چې تا راته په حواله کړی دی ځکه چې هغوئ ستا دی".

- مونږ دَ پلار له طرف نه دَ هغۀ دَ زوی مسیح دَ پاره خاص تحفه یو.

(۱۷) په عیسیٰ مسیح کښې خلاصون. اعمال ۱٦: ۳۱ "په مالک عیسیٰ مسیح ایمان راوړه نو تۀ اؤ ستا کورنئ به خلاصون بیا مومی".

- اعمال ۴: ۱۲ "دَ بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چې په ټوله دنیا کښې بل نوم هیچا ته نۀ دے ورکړے شوے چې په هغې مونږ خلاصون ومومو" (دَ مالک عیسیٰ مسیح قیمتی نوم).

(۱۸) عیسیٰ مسیح په مونږ کښې اوسیږی. مکاشفه ۳: ۲۰ "ګوره زۀ په دروازه ولاړ یم اؤ ور ټکوم اؤ کۀ څوک زما آواز واؤری اؤ ور خلاص کړی نو زۀ به ورننوځم اؤ دَ هغۀ سره به ډوډئ وخورم اؤ هغه به یې ما سره وخوری".

- یوحنا ۱۴: ۲۳ "..... اؤ مونږ (مسیح اؤ روح القدس) به هغۀ له ځو چې دَ هغۀ سره اوسو".

(۱۹) دَ تل ژوندون حاصلول. یوحنا ۱۰: ۲۸ "زۀ هغوئ له دَ تل ژوندون ورکوم اؤ هغوئ به کله هم هلاک نۀ شی".

- اول یوحنا ۵: ۱۳ "..... تاسو ته دا یقین درکوم چې تاسو دَ تل ژوندون لرئ".

(۲۰) سلامتی. یوحنا ۱۴: ۲۷ "زۀ تاسو ته سلامتیا پریږدم زما خپله سلامتیا".

- فیلیپیان ۴: ۷ "نو دَ خدائ سلامتی چې دَ پوهې نه بیخی بهر ده، ستاسو زړونه اؤ خیالونه به دَ مسیح په یو والی کښې محفوظ وساتی".

(۲۱) دَ خدائ دوست. یوحنا ۱۵:۱۵ "نو زۀ به تاسو ته بیا غلامان نۀ وایم، یو غلام ته دَ دې هیڅ پته نۀ وی چې دَ هغۀ مالک به څۀ کوی، خو ما تاسو ته دوستان وئیلی دی".

(۲۲) نومونه په آسمان کښې لیکلے کیږی. لوقا ۱۰: ۲۰ "..... یواځې په دې خوشحالیږئ چې ستاسو نومونه په آسمان کښې ولیکلے شول".

- فیلیپیان ۴: ۳ "..... اؤ زما دَ نورو دَ خدمت ملګرو سره خواری وکړله دَ چا نومونه چې دَ ژوندون په کتاب کښې لیکلی دی".

- دَ مکاشفې ۱۳: ۸ حواله هم وګورئ.

(۲۳) په آسمانی مقامونو کښې عیسیٰ مسیح سره کښیناستل. افسییان ۲: ٦ "اؤ خدائ مونږ دَ مسیح سره راژوندی کړلو اؤ په آسمان کښې یې دَ هغۀ سره کښینولو".

(۲۴) مبارک اُميد. تيطوس ۲: ۱۳ "اؤ دَ هغه مبارک اُميد، يعنې دَ خپل لوئ خدائ اؤ دَ خلاصوؤنکى عيسىٰ مسيح دَ جلال دَ ظاهريدو په انتظار شو".

- مکاشفه ۲۲: ۲۰ "اؤ څوک چې دَ دې خبرو شهادت ورکوى، هغه وائى، هو، زۀ زر درځم". آمين، اے مالک عيسىٰ مسيح زر راشه.

(۲۵) دَ تثليث سره شراکت. اول يوحنا ۱: ۳ "..... تاسو را سره شراکت ولرئ اؤ مونږ دَ خدائ پلار اؤ دَ هغۀ دَ زوى عيسىٰ مسيح سره شراکت لرو".

(۲٦) دَ جلالى کور ملکيت. يوحنا ۱۴: ۲ "زما دَ پلار په کور کښې دَ اوسيدو ډير ځايونه دى. کۀ چرې داسې نۀ وے نو بيا به ما تاسو ته وئيلى وو. ځکه زۀ ځم چې هلته ستاسو دَ پاره ځائ تيار کړم".

## ۳- خدائ پاک روح سره دَ تعلق په حقله

(۲۷) دَ نوى سر نه پيدا کيدل. يوحنا ۳ : ۳، ۷ "..... بيا پيدا کيدل ضرورى دى".

يوحنا ۳: ۵ "..... تر څو چې يو کس دَ اوبو اؤ روح القدس نه پيدا نۀ شى نو هغه دَ خدائ په بادشاهئ کښې داخليدے نۀ شى".

- اول پطروس ۱: ۲۳. روح القدس دَ خدائ پاک دَ کلام په وسيله انسان له نوے پيدا ايښت ورکوى.

(۲۸) دَ روح القدس نازليدل. اول يوحنا ۲: ۲۷ "خو روح القدس چې په تاسو دَ هغۀ نه نازل شو، کۀ هغه په تاسو کښې اوسى نو تاسو ته دَ بل استاذ حاجت نشته". يوحنا ۱۴: ۲٦، ۱٦: ۱۳.

(۲۹) دَ روح القدس دَ استوګنې ځائ. اول کورنتیان ۶: ۱۹ "آیا تاسو نۀ یئ خبر چې ستاسو بدن دِ روح القدس کور دے چې په تاسو کښې اوسی اؤ تاسو ته دِ خدائ له طرف نه درکړے شوے دے".

(۳۰) روح القدس روحانی نعمت ورکوی. اول کورنتیان ۱۲: ۱۱ "خو دا ټول تاثیرونه هغه یو روح کوی اؤ چا ته چې یې غواړی هغۀ ته یې ورکوی".

(۳۱) روح القدس په مونږ کښې اوسی. رومیان ۸: ۱۶ "په دې وئیلو دَ خدائ روح زمونږ دَ روح سره هم دا وائی دَ دې ګواهئ دَ پاره چې مونږ دَ خدائ بچی یو".

(۳۲) دَ روح القدس مهر. افسیان ۱: ۱۳ "اؤ تاسو هم دَ هغۀ خلق جوړ شوئ، کله چې تاسو دَ حق کلام واؤریدو..... خدائ دَ خپلې وعدې په مطابق په تاسو دِ روح القدس مهر ولګولو".

## ۴- دَ ګناه لحاظ سره

(۳۳) معافی ملاؤ شوه. لوقا ۷: ۴۸، هغۀ "هغه ښځې ته ووئیل، ستاسو ګناهونه معاف شول". اوؤۀ څلویښتم آیت هم وګورئ.

- افسیان ۱: ۷ "مونږ ته دَ مسیح دَ وینې په وسیله خلاصون، یعنې دَ ګناه معافی..... حاصله ده".

(۳۴) صادق کړے شو. رومیان ۵: ۱ "نو اوس چې مونږ دَ ایمان په وسیله صادق کړے شو..... دَ خدائ سره صلح لرو".

- رومیان ۴: ۵ "..... خو کۀ څوک بغیر دَ عمل نه تش په هغۀ ایمان ولری څوک چې بې دینه صادقوی نو بې شکه چې دَ هغۀ ایمان په صداقت حساب دے".

(۳۵) فديه ورکړے شوه. مکاشفه ۵: ۹ "..... تا خپل ځان قربان کړو اؤ دَ خپلې
وينې په وسيله دې..... خلق په بيعه واخستل".

اول پطروس ۱: ۱۸، ۱۹ "ستاسو خلاصون دَ فانی څيزونو، سرو يا سپينو زرو په وسيله ونۀ شو، بلکه دَ يو بې عيبه اؤ بې داغه ګډوری، يعنې دَ مسيح دَ قيمتی وينې په وسيله".

## ۵- دَ شيطان لحاظ سره

(۳٦) عيسیٰ مسيح زمونږ مدد ګار دے. اول يوحنا ۲: ۱ "..... پلار سره زمونږ
يو شفاعت کوؤنکے دے، يعنې عيسیٰ مسيح چې صادق دے".

(۳۷) په ګناه باندې فتح. اول يوحنا ۵: ۴ "ځکه چې دَ خدائ هر يو بچے په
دنيا غالب دے. کومه فتح چې دنيا ته شکست ورکوی، هغه زمونږ ايمان دے".

## ٦- دَ نورو سره دَ تعلق لحاظ سره

(۳۸) استازی. دويم کورنتيان ۵: ۲۰ "نو بيا مونږ دَ مسيح استازی يو".

- په ايماندار باندې په خپله دا ذمه واری راځی چې هغه دَ دنيا په وړاندې دَ مسيح ګواهی ورکړی.

**خُلاصه**

ايمان راوړونکی ته ټول روحانی برکتونه ملاويږی. افسيان ۱: ۳ "زمونږ دَ مالک عيسیٰ مسيح دَ خدائ اؤ دَ پلار ثنا دې وی څوک چې مونږ ته دَ مسيح په وسيله په آسمانی ځايونو کښې هر قسم روحانی برکتونه راکوی".

- زبور ۲۳: ٦ "يقيناً چې نيکی اؤ رحمت به ټول عمر ما سره وی اؤ زۀ به هميشه دَ مالک خدائ په کور کښې اوسيږم".

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۸۱- آیا دا ممکنه ده چې دَ ایمان راوړلو سره دَ کومو خبرو احساس وی، نو دَ هغې نه دې زیاتې خبرې پیښې شی؟ مثالونه ورکړئ.

۴۸۲- آیا دا ټیک ده چې کله یو کس عیسیٰ مسیح دَ خپل خلاصوؤنکی په طور قبلوی نو صرف اتهٔ دیرش خبرې پیښیږی؟

۴۸۳- دَ خدائ پلار حوالې سره دولس خبرې ورکړے شوی دی. نو کله چې تاسو ایمان راؤړو نو په دې کښې څومره خبرې پوره شوې؟

۴۸۴- په دې اتهٔ دیرش خبرو کښې کومه یو خبره تاسو دَ پاره زیاته اهم ثابته شوه؟ ولې؟

۴۸۵- دَ ایمان راوړلو سره دَ خدائ پلار په حقله پیښیدونکې اوؤهٔ خبرې ولیکئ.

۴۸۶- دَ ایمان راوړلو سره دَ خدائ زوی په حقله پیښیدونکې اوؤه خبرې ولیکئ.

۴۸۷- دَ ایمان راوړلو سره دَ خدائ روح القدس په حقله پیښیدونکې پنځهٔ خبرې ولیکئ.

۴۸۸- دَ ایمان راوړلو سره دَ ګناه په حقله پیښیدونکې درې خبرې بیان کړئ.

۴۸۹- دَ ایمان راوړلو سره دَ شیطان په حقله پیښیدونکې دوه خبرې بیان کړئ.

۴۹۰- دَ ایمان راوړلو سره دَ انسان په حقله پیښیدونکې یوه خبره ولیکئ.

# پنځوستم سبق

# دَ خلاصون تسلی

## پیژندګلو

* کۀ چرې يو ايماندار دَ نورو روحانی کسانو مدد کول غواړی نو هغۀ له اول په خپله دَ خلاصون تسلی حاصلول پکار دی.
* دَ يو پادری وينا ده چې "زما په جماعت کښې ځنې خلق دا ګڼی چې هغوئ مسيحيان دی. ځنې اُميد لری چې هغوئ مسيحيان دی. ځنې وائی چې هغوئ مسيحيان دی، اؤ ځنې يو څو کسانو ته معلومه ده چې هغوئ ته خلاصون ملاؤ شوے دے".
* آيا تاسو وادۀ کړے دے؟ آيا تاسو ته دَ دې يقين دے؟ تاسو وادۀ کړے دے کۀ نه. په دې کښې مينځنئ خبره ممکن نۀ ده. دغه شان يو کس يا خو خلاصون موندلے دے اؤ يا يې خلاصون نۀ دے موندلے. يا خو هغه په مسيح کښې دے اؤ يا دَ مسيح نه بهر.
* خلاصون يو معجزانه بدلون دے. آيا دا معجزه شوې ده؟ آؤ، يا نه؟
* کۀ چرې مونږ په مسيح کښې يو نو پکار دی چې مونږ ته دَ خلاصون پوره تسلی حاصله وی. جماعت ته دَ راتلونکو ډيرو خلقو دا خيال دے چې دَ خلاصون تسلی حاصلول ناممکنه ده، بلکه دَ هغوئ په خيال کښې داسې دعوه کول دَ خدائ پاک سپکاوے کول دی. ايمان په خدائ يقين ساتی.

* کۀ چرې خلاصون تش په عملونو وے، نو بيا به دَ دې خلقو خبره ټيک وه ځکه چې په دغه حالت کښې به بيا انسان له پرله پسې کار کول وو، اؤ دَ دې نه علاوه دا کارونه به په يو معيار پوره راتلل ضروری وو.

* خو خلاصون يو بخښنه ده (افسيان ۲: ۸). مونږ دا بخښنه قبلوؤ. نو دغه شان خلاصون بيا زمونږ جوړيږی.

## ۱- دَ خلاصون دَ تسلئ تعريف

دَ خلاصون دَ تسلئ مطلب دے چې مونږ دا پوخ يقين ولرو چې مونږ خلاصون موندلے دے. کۀ چرې مونږ اوس مړۀ شو نو مونږ به نيغ جنت ته ځو.

دَ خلاصون دَ تسلئ مطلب دے چې مونږ ته دَ دې خبرې تسلی ده چې مونږ ته خلاصون ملاؤ شوے دے. اؤ مالک عيسیٰ مسيح زمونږ دے.

خلاصون دَ تل ژوندون دے. دا دَ خدائ ژوند، الٰهی ژوند دے.

کۀ چرې ما سره دَ تل ژوند شته، نو بيا ما ته خلاصون ملاؤ شوے دے. دَ اوس نه واخلې تر ابده پورې ما ته خلاصون ملاؤ شوے دے.

يوحنا ۱۰: ۲۸، ۲۹ "زۀ هغوئ له دَ تل ژوندون ورکوم اؤ هغوئ به تر ابده پورې کله هم هلاک نۀ شی اؤ نۀ هغوئ زما نه څوک په زور اخستے شی".

## ۲-چا ته دَ خلاصون تسلی ملاويدے شی؟

(۱) چا چې مالک عيسیٰ مسيح خپل ذاتی خلاصوؤنکے قبول کړے دے. يوحنا ۱: ۱۲ "چا چې هغه قبول کړو هغوئ ته يې دا حق ورکړو چې دَ خدائ اؤلاد شی".

(۲) چا چې په مالک عیسیٰ مسیح ایمان راوړے دے. یوحنا ۳: ۱٦ "هر هغه ځوک چې دَ هغهٔ په نامه ایمان راوړی هلاک به نهٔ شی خو دَ تل عمری ژوندون به بیا مومی".

- یوحنا ۳: ۳٦ "ځوک چې په زوی ایمان راوړی نو هغه دَ تل عمری ژوندون بیا مومی".

## ۳-دَ خلاصون دَ تسلئ بنیاد

آیا احساسات بنیاد کیدے شی؟ نه. بالکل نه. شیطان زمونږ احساسات په خپل اختیار کښې ساتلے شی، یا په هغې باندې اثر کولے شی. زمونږ صحت، ماحول، موسم اؤ حالات زمونږ په احساساتو باندې اثر کولے شی.
دَ ځنې خلقو دَ پاره خلاصون موندل یو جذباتی تجربه وی، خو دَ ځنې خلقو په احساساتو اؤ جذباتو باندې هیڅ اثر نهٔ کیږی.

**خدائ پاک مونږ ته درې خبرې کړی دی په کومو باندې چې زمونږ دَ خلاصون دَ تسلئ بنیاد دے:**

(۱) دَ روح القدس ګواهی: رومیان ۸: ۱٦ "دَ خدائ روح زمونږ دَ روح سره هم دا وائی دَ دې ګواهئ دَ پاره چې مونږ دَ خدائ بچی یو".
دَ خلاصون موندلو نه مخکښې پاک روح مونږ دَ ګناه اؤ صداقت اؤ عدالت په باره کښې مجرموی. دَ خلاصون موندلو نه پس دَ هغهٔ دَ فضل نه ډک کار بدل شوے دے. اوس هغه دا ګواهی ورکوی چې مونږ دَ خدائ بچی یو اؤ دَ دې تصدیق کوی.
دَ ایماندار زړهٔ له روح القدس دَ آرام اؤ تسلئ خبر ورکوی اؤ دَ زړهٔ سکون ورکوی، چې هغهٔ له دا یقین ورکوی چې اوس زهٔ واقعی دَ عیسیٰ مسیح یم.

- ګلتیان ۴: ۲ "اؤ په دې سبب چې تاسو دَ خدائ زامن یئ خدائ دَ خپل زوی روح زمونږ زړونو ته راولیږلو کوم چې دَ "آبا" یعنې "اے پلاره" غږ کوی".

"آبا" دَ ډیرې نزدې رشتې ښکارنه کوی.

روح القدس ډیر په نرم آواز سره زما روح ته وائی "تهٔ دَ خدائ بچے یې".

(۲)دَ خدائ کلام: په زیاتو وختونو کښې روح القدس دَ لیکونکی کلام په وسیله ګواهی ورکوی.

- اول یوحنا **۵**: ۱۰ "هر هغه څوک چې دَ خدائ په زوی ایمان لری نو دا ګواهی به دَ هغهٔ په خپل زړهٔ کښې وی".
- اول یوحنا **۵**: ۱۳ "دا خط تاسو ته دا یقین درکوی چې تاسو دَ تل ژوندون لرئ ځکه چې تاسو دَ خدائ دَ زوی په نامه ایمان راوړئ".

شرط: ایمان راوړل... نتیجه: معلومیدل.

کهٔ چرې شیطان دَ خلاصون په حقله ستاسو په زړهٔ کښې شک پیدا کړی نو په دې آیت باندې ګوته کیږدئ اؤ دَ مالک عیسیٰ مسیح په نوم باندې شیطان ورټیږ، نو هغه به ستاسو نه وتښتی.

شیطان ته ووایئ چې دَ خدائ پاک کلام وائی چې "کهٔ چرې زهٔ په عیسیٰ مسیح ایمان لرم نو دَ تل ژوندون زما دے. ما په فلانکی تاریخ باندې په عیسیٰ مسیح ایمان راؤړو، نو په دې وجه دَ تل عمری ژوندون مالک دے. ما خلاصون موندلے دے. زما ګناهونه معاف شوی دی. اوس زهٔ آسمان ته روان یم".

دَ خدائ پاک په کلام باندې دَ خلاصون دَ تسلئ مضبوط بنیاد کیږدئ.

بیا به نور خلق تاسو خواته راځی چې تاسو په اختیار سره دَ ابدی څیزونو خبرې کوئ.

دَ کلامِ پاک نور آیتونو په کومو باندې چې دَ خلاصون دَ تسلئ بنیاد قائم دے.

- یوحنا **۵**: **۲۴** "زهٔ تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چې کوم سړے زما خبرو ته غوږ ږدی اؤ په هغه چا ایمان لری چې زهٔ یې را استولے یم هغه تل عمری ژوندون لری اؤ په هغهٔ به دَ سزا حکم ونهٔ شی ځکه چې هغه دَ مخکښې نه دَ مرګ نه ژوندون ته آؤړیدلے دے".
- (یقین ـ دَ تل ژوندون دَ هغهٔ دے).

- اعمال ۱۳: ۳۹ "اؤ هر څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راؤړی، دَ هغهٔ په وسیله یې هره ګناه معاف کیږی". ( څوک چې دَ ایمان راؤړلو شرط پوره کوی نو دَ هغهٔ هره ګناه معاف کیږی ).
- لوقا ۷: ۴۸ "اؤ (عیسیٰ مسیح) هغه ښځې ته ووئیل ستاسو ګناهونه معاف شو" (کله چې ګناهونه معاف شی نو آسمان ته دَ تلو لار کولاؤ اؤ صفا شی).
- رومیان ۱۰: ۱۳ "هر څوک چې دَ مالک نوم اخلی نو خلاصون به مومی". (کهٔ چرې ما دَ مالک خدائ نوم اخستے دے نو خلاصون مې موندلے دے".

(۳) بدل شوے ژوند. زمونږ ګیر چاپیره خلق په مونږ کښې بدلون لیدل غواړی.

دې سره هم مونږ ته دا یقین کیږی چې مونږ خلاصون موندلے دے، دَ خدائ حقیقی بچی یو، اؤ واقعی چې بیا پیدا شوی یو.

- اول یوحنا ۳: ۱۴ "مونږ پوهیږو چې له مرګ نه په ژوندون کښې شوی یو په دې ځکه چې مونږ له خپلو وروڼو سره مینه لرو". دا دَ خلاصون کلک ثبوت دے.

مسیحیان په مسیح کښې نوے مخلوق دے. (دویم کورنتیان ۵: ۱۷) اؤ دَ دې څرګندونه دَ نوی ښهٔ سلوک سره، نوې خوښې سره، نوې ناخوښې سره، نوې مینې سره اؤ نوی نفرت سره کیږی.

زما دَ بدو عادتونو موجودګی اؤ قوت په ختمیدو شی، اؤ دغه شان دا تصدیق کیږی چې مونږ خلاصون موندلے دے.

## ۴-دَ خلاصون دَ تسلئ په حقله مشکل

خدائ پاک اؤ روح القدس ډیر په واضحه طور سره وائی چې تسلی پکار ده، نو بیا ولې دومره لږ خلق دی چا ته چې تسلی حاصله وی؟

دا ځکه چې ځنې خلق دَ ابلیس الزام ته غوږ ږدی.

لاندې ورکړے شوی دوه سوالونه دَ امتحان آخری درجه ده:

(۱) آیا ما مالک عیسیٰ مسیح خپل ذاتی خلاصوؤنکے قبول کړے دے؟

(۲) آیا زۀ په رښتینی زړۀ سره په مالک عیسیٰ مسیح ایمان لرم؟

کۀ چرې زۀ دَ دې دواړو سوالونو په جواب کښې په یقین سره "آؤ" ووایم نو بیا دَ خدائ پاک دَ کلام په بنیاد باندې ما خلاصون موندلے دے. دَ خدائ پاک په کلام باندې شک کول ډیره لویه ګناه ده. داسې کولو سره مونږ دَ خدائ پاک دَ بائبل مقدس سپکاوے کوؤ.

دَ خدائ پاک په کلام باندې ایمان لرل دَ وهم یا ګمان خبره نۀ ده، بلکه دَ یقین خبره ده، اؤ دې سره دَ خدائ پاک عزت کیږی. اؤ دَ هغۀ زړۀ خوشحالیږی.

## ۵- دَ خلاصون دَ تسلئ په لار کښې خنډونه

(۱) دَ خدائ پاک په کلام باندې یقین نۀ کول. کۀ چرې ما واقعی

خلاصون حاصل کړے وی نو ما له دَ خدائ پاک نه دعا غوښتل پکار دی چې هغه زما ایمان نور هم زیات کړی اؤ ما له توفیق راکړی چې دَ بائبل مقدس په خبرو یقین وکړم.

دَ آزادې مرضئ تعلیم اکثر په بائبل مقدس باندې ایمان لرلو جرړې کمزورې کوی. دعا غواړئ چې داسې رویه ختمه شی اؤ خدائ پاک په خپل کلام باندې ما له دَ پخوا په شان دَ ایمان لرلو طاقت راکړی.

(۲) روحانی غفلت. په کتاب "مسیحی سفر" کښې مونږ لولو چې مسیحی

اودۀ شو اؤ دَ هغۀ پروانه ورکه شوه. په زیاتو وختونو کښې مسیحیان هم اودۀ کیږی اؤ دَ خلاصون خوشحالی اؤ تسلی بائیلی.

کۀ چرې داسې شوی وی نو دَ اول یوحنا ۱ : ۹ په مطابق دَ خپلو ګناهونو اقرار وکړئ اؤ دَ نوی سر نه خپل سفر جاری وساتئ.

(۳) دنیاداری. دَ دنیا مینه دَ خدائ دَ پاره زمونږ خواهشات ختموی. دَ کلام لوستلو اؤ دَ دعا غوښتلو خواهش ختم شی.

(۴) دَ روح القدس دَ معمورتیا کمے. یوحنا ۷: ۳۷- ۳۹. دَ دې وجه اکثر دا وی چې مونږ خپل ژوند په پوره طور سره روح القدس ته نۀ حواله کوؤ.

**علاج**: دَ دوؤ مالکانو دَ خدمت کولو کوشش مۀ کوئ. خپله مرضی دَ خدائ تابع کړئ. هغه به تاسو ته هدایت اؤ ستاسو رهنمائی کوی.

(۵) په عقیدو باندې دَ ضرورت نه زیات زور اچول. مثال په طور تقدیر، غوره کیدل، یا نفسانی یا دَ تل حفاظت وغیره عقیدو باندې زیات زور اچول.

(٦) ګناه اؤ دوباره په ګناه کښې اخته کیدل. علاج: اول یوحنا ۱: ۹.

**خُلاصه**

اے مالکه! زما دَ زړۀ اندازه واخله اؤ وګوره چې ما ته خلاصون ملاؤ شوے دے اؤ کۀ نه. وګوره چې آیا عیسیٰ مسیح واقعی په ما کښې اوسیږی اؤ کۀ نه.

کۀ چرې ما ته واقعی خلاصون ملاؤ شوے وی نو زما مدد وکړه چې دَ بائبل مقدس په رښتینو اؤ خالص بیانونو باندې کله هم شک ونۀ کړم.

**اے مالکه! کۀ چرې ما ته خلاصون نۀ وی ملاؤ شوے نو زما نه دَ دروغو دا احساس لرې کړه چې زۀ محفوظ یم.**

**زۀ حقیقت پیژندل غواړم.**

**خبردارے**: دَ خلقو په قائله کولو کښې احتیاط کوئ چې هغوئ خلاصون موندلے دے. دا دَ روح القدس کار دے. صرف هغه زړونه پیژنی اؤ دَ هغې اندازه اخلی.

دَ خلاصون تسلئ زه مضبوط مسیحی جوړ کړم. دَ خلاصون په تسلئ کښې دَ تکبر یا بې ځایه دَ توکل کولو هیڅ خبره نشته بلکه دا دَ خدائ پاک په کلام باندې په سادګئ سره یقین کولو سره پیدا کیږی.

دې وئیلو دَ پاره ډیره عاجزی اؤ حلیمی پکار ده چې "ما ته پته ده چې ما خلاصون موندلے دے". ځکه چې داسې صرف دَ هغهٔ په فضل اؤ رحم سره ممکنه ده. هغه ما بچ کوی، زما خیال ساتی اؤ ما به آسمان ته بوځی.

## دَ بیا کتلو دَ پاره سوالونه

۴۹۱- دَ خلاصون دَ تسلئ تعریف څهٔ دے؟

۴۹۲- دَ خلاصون څهٔ مطلب دے؟

۴۹۳- دَ خلاصون تسلی چا ته ملاویدے شی؟

۴۹۴- دَ خلاصون دَ تسلئ بنیاد په کومو دریوؤ خبرو باندې دے؟

۴۹۵- پنځهٔ آیتونه بیان کړئ چې دَ خلاصون دَ تسلئ ښودنه کوی.

۴۹۶- کله چې په یو انسان کښې مسیح راشی نو دَ هغهٔ په ژوند کښې دَ ټولو نه لوئ بدلون څهٔ راځی؟

۴۹۷- ځنې خلقو ته دَ خلاصون تسلی ولې نهٔ ملاویږی؟ پنځهٔ خبرې.

۴۹۸- آیا دا وئیل دَ تکبر خبره ده چې "ما خلاصون موندلے دے"؟ ولې؟

۴۹۹- دَ خلاصون دَ تسلئ په لار کښې دَ پنځو خنډونو ذکر وکړئ.

۵۰۰- آیا یو زوړ کس له نوې کس یعنې نوې مرید دې وئیلو دَ پاره مجبوره کول پکاره دی چې ما خلاصون موندلے دے؟ ولې؟